301

إن الدين عند الله الإسلام

# اسلامي تهذيب او تمدن

ډاکټر مصطفی سباعي

4162

ژباړن

ری زاهدي احمدزی

Marfat.com

اِنَّ الدِّینَ عِندَ اللّٰہِ الاِسلَام

# اسلامی تہذیب اور تمدن

تاج

اسلامی تہذیب اور تمدن

مصنف

ڈاکٹر مصطفیٰ سباعی

ترجمان

مولوی زاہد احمد زئی

Marfat.com

87446

| | |
|---|---|
| نوم | اسلامی تهذیب او تمدن |
| مصنف | ډاکټر مصطفی سباعی (رح) سموریه |
| ژباړن | زاهدی احمد زی ، افغانستان |
| ناشر | انجنیر احمد شاه احمد زی افغانستن |
| د پښتو د لمړی چاپ | ۱۳۶۲ کال د غوائی میاشتی اتمه |
| | د ۱۴۰۳ هـ کال د رجب المرجب څو ارلسمه |
| | د ۱۹۸۳ع کال د اپریل اته ویشتمه |
| د چاپ شمیر | ۳۰۰۰ دری زره ټوکه |
| د یوی ټوکی بیه : | |

Marfat.com

# لړلیک

مضمون — صفحه

د ژباړن سریزه

د لیکونکی پیژند نه ولادت ، زد کړه مبارزه او دعوت

د اخوان المسلمین له ګوند سره پیژند ګلوی او غړی توب

فراغت درس او بلنه

د دمشق په پوهنتون کښی لمړی د ښودونکی او بیا

درئیس په توګه

د شام په پارلمان کښی دوکیل او سکرتر جنرال په توګه

وسلوال جهاد

اروپائی او نورو هیوادونو ته علمی سفر

تصانیف او ژرنالیزم

رنځورتیا او وفات

د مصنف سریزه(۱) دا کتاب

(۲) د لویدیځ تهذیب سیلوی

(۳) د مذهب ناکامی

(٤) په حقیقت باندی اعتراف

(٥) د وخت اصلی اړتیا ـــــ اسلام

(٦) زمونږ ثقافتی ګاندی

د دی کتاب د چاپ او خپرونی موخه

Marfat.com

| صفحه | مضمون |
|---|---|
| | لمړی باب |
| | لمړی خصوصیت |
| | دویم او دریم خصوصیت |
| | څلورم خصوصیت |
| | پنځم خصوصیت |
| | د زمانې انقلابو نه دی |
| | د استخفاف لامل |
| | دویم باب |
| | (۱) گروهه او دین |
| | (۲) علوم او فلسفه |
| | (۳) لغت او ادب |
| | (٤) قانون جوړونه |
| | (٥) حکومت او سلطنت |
| | دریم باب ـ ـ بشر دوستی |
| | د اسلامی مساوات عمومیت |
| | د اسلام د نظر لوړ والی |
| | د نظر د لوړتیا وسعت او کمال |
| | ایا دا اعلانونه د پیل غاښونه دی |
| | لمړی گواهی |
| | دویمه گواهی |
| | دریمه گواهی |

Marfat.com

مضمون صفحه


څلورمه گواهي

پنځمه گواهي

شپږمه گواهي

ؤمه گواهي

اتمه گواهي

نهمه گواهي

ې سیاله دی

لسمه گواهي

یوو لسمه گواهي

څوک خو د یو مثال هم داسی وړاندی کړی

دلی ډلی

څلورم باب مساوات

دا یواځې د خولې خبره نوه

څوک داسی کولای شی ؟

یو مثال

دا کوم یواځینی مثال ندی

دویم مثال

د رنګ تور والی او سپین والی نه بلکه د عمل سپین والی او تور والی معتبر دی

پرمخ تللی جاهلیت هم د سبق ته اړتیا لری

هنداره در واخلاست

دا امریکا دی


Marfat.com

| مضمون | صفحه |
|---|---|
| ټول بدن داغ داغ دی | |
| يواځې غولونه ده | |
| د ښېلی کورنی غړی پری گواه دی | |
| او دا دی هم واوری | |
| دا هم وګوری | |
| دوه نور گواهان | |
| يوه بل نوونکی پيښه | |
| او زموږ تهذيبي روايات داسی دی | |
| پنځم باب ـــ مذهبي پېرزوينه | |
| د مذهب د پيرزوينی اصول او مبادی | |
| د حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم په ژوند کښی | |
| د راشده خلفاؤ په دور کښی | |
| نه يواځې دا چی هيڅ ډول تثبث ندی شوی بلکه.... | |
| په قسطنطنيه کښی د سلطان محمد فاتح هر اړخيزه پيرزوينه | |
| د يوحنا په کليسا کښی يو منظر | |
| د بنو اميه د خلافت په دور کښی له مذهبي تو پير څخه پرته پوستونه وويشل شو | |
| د عباسيانو منصبي بخښنې | |
| د نا مسلمانو اديبانو او شاعرانو برم او درناوی | |
| د اسلامی مشرانو له اغيار سره په عمومی ډول چلن | |
| د مامون په علمی غونډو کښی | |


Marfat.com

مضمون | صفحه

په عمومي غونډو کښې هم دا حال وو
په کهول او کورونو کښې
د نورو مذهبونو په اخترونو او نورو میلوکښې په خاصه
لیوالتیا او سنه ګډون
حیرانوونکې پیرزوینه
د لویدیځو څیړونکو اعترافات
د آرنلډ ګواهي
د تفصیلي خبروا ترو کولو لامل
مګر دوی نه شرمیږي
وروستئ ګواه
د لیبان منصفانه اعتراف
شپږم باب ـ ـ ـ زمونږ جنګي اخلاق
د اسلامي تهذیب برکت
د څواک د وسائلو برابرول د څه لپاره ضروري دي
د جنګ اهداف
یو بل څلیدونکی اړخ
جنګ له چا سره او په څومره اندول ؟
د جنګ په هکله څولار ښودنې
دغه ټول یواځې دعوې او نظریه نه بلکه په عملي ډګر
کښې ئې ښودلې دي
د نبوي صلی الله علیه د وسلم دور شواهد
د راشیدینو خلفا وو دریځ هم همدغه وو

Marfat.com

مضمون　　　　　　　　　　　　　　　صفحه

والی د مجبوریت له مخی خپله پریکړه بدله کړه
اوله سونږ سره د انګریزانو او فرانسویانو سلوک دا دی
ایا په کوم تهذیب کښی د دی مثال شته ؟
د ژمنی او شرافت د لحاظ یوه لوړه نمونه دا هم ده
علامه ابن تیمیه(رح) د یهودیانو او مسیحیانو د خلاصون
لپاره را مخ ته کیږی
د مسیحی بریخو بربریت
د صلاح الدین ایوبی زړه سوانده نوښت
د سلطان محمد ثانی له عاطفی څخه ډک چلن
د عثمانی حاکمانو چلن
د اروپا د مسیحیانو له خپلو مذهبی ورونو سره سلوک
د مسیحیانو د خپلو مسیحانو څیرونی ته لیوانتیا
د اندلس او هسپانیه یو قصه
د پنځ غوښتنه ئی هم داده
په اوسنی رڼا کښی ئی ؤ ګوری
ووم باب. . . . په خارویو باندی زړه سوی او مهربانی
خاروی او حیوانات هم یو عالم دی
خاروی هم د مینی او زړه سوی مستحق دی
سزا او جزا
په خارویو باندی د هغوی له خواک څخه زیات کار کول
نا روا دی
دا لاندنی چاری ممنوع دی
بی سیاله ښودنی

Marfat.com

مضمون | صفحه

ځو فقهي احکام
د نیک چلن ځونور مثالونه
د اسلامی حکومت مسئولیتو نه او د ندی
د ځارویو د پالنی لپاره اوقاف
د زړه سوانده چلن پی میاله او عجیبه مثالونه
په تیرو زمانو کښی له ځارویو سره چلن
د یهودی شریعت ځینی مادی
د یونان په لرغونی او په خوانی قانون کښی
د په خوانیو رومیانو قانون
په پخوانی فارس کښی
د اروپائی ملتونو قوانین
ځینی کوائف
د ځو مقدمو د تطبیق په هکله بیان
وروستنی تکی
اتم باب . . . د ټولنیزی سوکالی اداری مرکزونه
دا مقام هغه چا ترلاسه کړ چی بیائی ؤ موند
یو بل ممتازونکی ارخ
د ټولنیزی سوکالی په هکله د اسلامی تهذیب بنسټیز تصورات
د دی بنودنی نتیجه او اغیزه
په اسلام کښی لمړنی وقف
د وقف ډیروالی

Marfat.com

مضمون | صفحه

دوه ډوله وقف

د تولنیزی سوکالی ځو مرکزونه

نهم باب. . . . مدارس ښوونځی او علمی اداری

اسلامی مدارس

ښوونځی

مدارس

زما د باغ له بڼ زما پسرلی ؤ پیژنه

د ښوونکو حالات او د هغوی تنخاوی

د ښوونی او تدریس د نده ځنګه خلکو په غاړه لرله

د ښوونکی کالی

د استاذانو انجمن

ځو مشهوری مدرسی او د هغوی بنسټ کیښودونکی

د مدرسو لپاره د اوقافو ځو مثالونه

د حلب « د ښار » د نوری روغتون اوقاف په لاندی
ډول وو

د مختلفو علومو او فنونو لپاره ځانګړی مدرسی

په هغه وخت کښی د اروپا څه حال وو ؟

لسم باب. . . . روغتونونه او طبی مدرسی

عربوان د جاهلیت له زمانی ځخه د طب زد کړه ترلاسه
کوله

له تولونه لمړی روغتون

دوه ډوله روغتونونه


Marfat.com

صفحه | مضمون

مختلف ډوله روغتونونه
د لمړنی طبی مرستی مرکزونه
تولنیز روغتونونه
له پوهنځیو سره د روغتیا اړیکی
ډاکټرانو ته به له بریک ورکولو څخه وروسته د تداوی
کولو اجازه ورکول کیدله
په روغتونونو کښی د طب د پوهنی کتابتونونه
پرته له اجرت څخه
(۱) د بغداد عضدی روغتون
(۲) نوری روغتون
(۳) منصوری ستر روغتون
د منصوری روغتون وقف نامه
(٤) د مراکش روغتون
د یوو المانی متشرق د سیالی هوس
د پاریس د یو ستر روغتون ویجاړ حالت
د موازنی نتائج
یوولسم باب. . . . ځانګړی او عمومی کتابتونونه
له کتابونو سره مینه
کتابونه چی سلامت وی بل هیڅ غم نشته
د کتابونو په پیرو دلو او ډیروالی کښی سیالی
د کتابتونونو ډیروالی
د کتابتونونو ډولونه

Marfat.com

مضمون　　　　صفحه

په قاهر کښې د فاطمي خلفاوو کتابتون
دارالحکمت په قاهره کښې
په بغداد کښې د بیت الحکمت کتابتون
په اندلس کښې د حکم کتابتون
په طرابلس کښې د بنی عمار کتابتون
شخصي کتابتونونه
له دغو کتابتونونو سره د دښمنانو چلن
په حق باندې اعتراف
دولسم باب . . . علمي او عرفاني غونډې او مجلسونه
مختلف ډولونه
د بنو امیه د دورو غونډې
د عباسي خلافت په دور کښې علمي غونډې
د فاطمیانو د خلافت د زمانې غونډې
د وزیرانو او امیرانو علمي مجلسونه
د عامو علمي پوهانو غونډې
خو کتاب پلورونکي
په تفریحي غونډو کښې هم علمي بحث او څیړنه
دیارلسم باب . . . پای تخت او ستر ستر ښارونه
له ؤ سې پیړۍ نه د لسمې پیړۍ انګلستان
او د اسلامي نړۍ د ښارونو څه حال وو
قرطبه
د قرطبه د الزاهراء مانۍ
غرناطه

Marfat.com

| صفحه | مضمون |
|---|---|
| | اشبیلیه |
| | مصنوعات |
| | بغداد |
| | زما سپرلی زما په بڼ ؤ پیژنه |
| | پای |

Marfat.com

Marfat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

## د ژباړونکي سريزه

د وياړ ځاى دى چې د اسلام سپيڅلى او ژوند ښېونکى او انسان جوړونکي دين په هره پيړى او زمانه کښې په خپله دوران جوړوونکي علمي او عرفاني مدرسه کښې داسې توکونه او وګړى روزى او روزلى ئې دى چې هغوى په خپل علمي څواک او اسلام پاله مينه له خپلې متافزيکې ګروهې څخه په دفاع برسېره د اسلام د ځليدونکي او تولنيز ثقافت او عرفان او د هغه د ښې سيالې او سرلوړې بازغ تهذيب په هکله بشرى نړى ته په علمي ډګر کښې په خپلو ليکنو کښې دا جوته کړې ده چې که وګړ واله نړى خپل سعادت نيکمرغى پر مختيا او برياليتوب غواړى نو دغه وزړه بايد په اسلامي ثقافت او تهذيب کښې ؤ لټوى . او يواځې اسلامي تمدن او تهذيب دى چې بشرى توکم ته په بشپړه توګه داسې فورمولونه او ضابطې له ځانه سره لرى چې د هغو په پلى کولو انسانيت د سوکالى هوساينې داډ او پرمختګ معراج ته رسيږى او يواځې همدغه تهذيب او تمدن کولاى شي چې انسان ته د هغه د خپلې اصلي بنې شرافت او امتياز درس ورکړى .

د اسلام د مدرسې دغو شاز لميانو د خپلو ليکو په ترڅ

Marfat.com

کښې اسلام دښمنه ښکیلاک هغو پرېڅو ته چې د اسلامي تهذیب او تمدن په هکله غلیمانه سمپاشي کوي او د دغه عظیم تهذیب د بدنامولو بې ځایه او بې ګټې هلې ځلې کړې او کوي ئې ، داسې علمي او ادبي غاښ ماتوونکي تاړا کونه ورکړي دي . چې اوس ئې هم باداران په تکورولو او د رسل کولو باندې مصروف او لګیا دي .

چې په شلمه پېړۍ کښې د اسلامي له دغو شاړلمو څخه یو هم ښاغلي او مرحوم ډاکټر مصطفی سباعي دی . نوموړی په خپل عصر کښې د علمي او ادبي نړۍ یو ځلانده ستوری او د اخوان المسلمین د دوران جوړوونکي ګوند یواتل او مجاهد غړی وو . نوموړي یو خوراستر مسلمان تیورسین یو زړور واعظ او د اسلام په لاره کښې یو بې ساری مجاهد وو . مصطفی سباعي مرحوم د عالم پوهې او لیکوالی په څنګ کښې په سیاسي ډګر کښې هم په سوریه دښې خورا لوړ شخصیت تیرشوی دی. نوموړی د سوریه له اوسنی کمونستي انقلاب څخه په وړاندې رژیم کښې د سوریه د پارلمان غړی او بیا له هغه څخه وروسته د خپل خدای ورکړي سیاسي استعداد ظرفیت او لیاقت په توسه د سوریه د حکومت د صدارت مرستیال وو ، او همدارنګه د سوریه د پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي دنده ئې هم په غاړه لرله او ډیره زمانه د اخوان المسلمین د ګوند د سوریه د څانګې رئیس او مسئول وو . نوموړی ته خدای پاک داسې کرکټر او استعداد ورکړی وو چې د هرې د ندې وړوو . نوموړی د دې ټولو مصروفیتونو په څنګ کښې له لیکنې سره خاصه مینه لرله او

Marfat.com

له هغه وخت څخه را پدې خوا چې ده خپل اسلامي رسالت او مسئوليت احساس کړېيانۍنو دژوند تروړستيو شيبو پورې قلم په مځکه کښې نښود او د نورو خدمتونو پر څنګ کښې ئې د اسلامي نړۍ د نوی توکم د تنویر او ويښتيا په تکل ډير اثار او کتابونه ليکلي دي . چې د هغو له جملې څخه ئې هم يو دا کتاب دی ، د دی کتاب عربي نوم « من روائع حضارتنا» يعنې زمونږ د تهذيب او تمدن ځوږانګې ، دی .

مصطفی سباعي مرحوم پدی کتاب کښې د اسلامي تهذيب او تمدن او له پوهی او علم سره د مسلمانانو هغه بې کچه مينه په عملی ډګر کښې داسې ثابته کړی ده چې د نورو ختيځو او لويديځو بلاکونو د مذاهبو او مسلکونو تهذيبونه د هغه په پرتله هيڅ شميرل کيږي. ده پدی کتاب کښې اسلام دښمنو ډلګو ته دا ثابته کړی ده چې اسلامي تهذيب او روزنه خپلو پيروانو ته چې کوم اخلاق اجتماعي او مدني د رسونه ورکوی د هغه معيار په بل هيڅ مسلک او مذهب کښې نشته او نه به پيدا شي ، ده د مثالونو په وړاندې کولو سره دا ثابته کړی هغه وخت چې په بشري نړی اسلام حکومت کاوو د بشری ډلګو په منځ کښې ئې د مساوات عدالت ورورولی ، له اسکيرلو او بې وزلانو سره مرسته د مستضعفانو لاس نيوی او د لږکيو د حقوقو تحفظ ول داسې انځور کړی دی چې مثال ئې هيڅوک هم د بشر په تاريخ کښې نشي وړاندې کولای. نوموړی په دغه اثر کښې د ځوشالونو په وړاندې کولو سره د غربي تهذيب په ځيني ابعادو هم څرګنده رڼا اچولی او د هغوی د ټولنيز نياوله دروغژنی دعوه او غولونکی تورمخ څخهئې د تګې او لوټ مارې ماسک لری کړی دی .

Marfat.com

گوا کې د مصطفی سباعي مرحوم دغه اثر د اسلام دښمنو پرګنو لپاره د عبرت درس او د اسلامي نړۍ د نوي توکم لپاره د بیدارۍ او پاڅون یواځینی دی ترڅو د دغو ځو مثالونو په مطالعه کولو سره دوی د خپل دین ، تهذیب او تمدن په ارزښت پوه شي او له هغه څخه د دفاع په خاطر د هغه د بیارا ژوندی کولو او پلی کولو په تکل پاڅون وکړي او د خپل مسئولیت په احساس د جهاد او نه ستړي کیدونکي مبارزې ډګر ته ور دانګي. نظر په پورتني لامل موږ د دغه ژباړه ضروري وګڼله ترڅو زموږ پښتانه ورونه او خوېندې هم د مرحوم له دغه ارزښتناک او ګټور اثر څخه په مطالعه کولو خپل مسئولیت ته متوجه شي او د ختیځ او لویدیځ دتش په نوم اوسني تهذیب له سخا ږدي او هلا کونکي منګ څخه دخلاصون په تکل په خپل پتمن اسلامي تهذیب منګولې ور لګوي.

د اسلام په بشپړه نړۍ د بریالیتوب او حاکمیت په هیله :

جان محمد زاهدي احمد زی ، لوګر، افغانستان

د ۱۳۶۱ د مرغومي د میاشتي لسمه نیټه د جمعې

شپه د ۱۴۰۳ ه کال د ربیع الاول ۱٤ د ۱۸۷۲ع

کال د دسامبر ۳۱ نیټه

### د مصنف لنډه پیژندنه

ډاکتر مصطفی سباعي مرحوم په ۱۹۲۱ مسیحي کال له ۱۳٤۲ هجري قمري سره سم د سوریه د هیواد په ارغوني ښار حمص کښې په یوه دیني او علمي کورنۍ کښې پیدا شو ، د مرحوم سباعي کورنۍ له پیړیو پیړیو را پدې خوا د عرفان یوهې

Marfat.com

رياضت او تقوى ځانګو وه او د ده نيکونه د حمص د جامع جمات خطيبان او امامان تيرشوى دى چى پدى اساس د ده پلار علامه حسنى السباعى د همدغه جمات خطيب په خپل چا پريال کښى ممتاز عالم او عابد وو چى له دى امله د حمص په خلکو کښى د ډاکټر مصطفى سباعى مرحوم د رناوى او احترام يوه طبيعي‌خبره وه. سباعى‌مرحوم له کوچنى والى څخه دلوړو اخلاقو او ممتازو محامدو څښتن وو ، ده د نورو کوچنيانو په څير له لوبو او عبث څغاستو سره مينه نه درلوده بلکه هغه وخت چى په ښه او بد پوه شونو پلار ئى د قرآن او فقه زد کړى ته متوجه کړ، له ځان سره به ئى جمات ته بوته ترڅو له طفوليت څخه د ده په زړه او دماغو کښى د الله تعالى د عبادت مينه پيدا شى. ډاکټر سباعى د خپل پلار د نيکى روزنى له امله له ديانت او تقوى سره دومره مأنوس شو چى هغه ئى د خپل روح او بدن لپاره يوه ضرورى غذا ګڼله. لکه څنګه موچى وړاندى يادونه وکړه د ده پلار مرحوم په خپل چا پريال کښى خورا ستر دينى عالم په هر ځاى کښى به چى فقهى او علمى مناظره د دينى مسائلو په هکله څيړنه او مباحثه‌وه دى به ئى غوښت او که به چى دى دګډون لپاره ورته‌ته نوخپل دغه کوچنى زوى به ئى هم له ځان‌سره بو وو ترڅو له مناظرى او بحث سره تعارف او اشنائى ترلاسه کړى او هم پدى ترڅ کښى دينى مسائل زده کړى. ۱

---

۱- نوموړى د خپل کوچنى والى هغه خوږى او شيرينى‌خاطرى چى د دينى عالمانو له بحثونو څخه ئى اخستلى وى په خپله په تفصيلى توګه بيان کړى دى. د زيات معلومات لپاره

Marfat.com

مصطفیٰ سباعی مرحوم لمړی زدکړه په خپل کور کښې له محترم پلار څخه سرته ؤ رسوله او د ثانوی زدکړې لپاره د حمص په رسمي مدرسه «المعهد الشرعیه» کښې داخل شو. مصطفی سباعی مرحوم په دغه مدرسه کښې دهغه استعداد او الهی فیضان له اسله چې ده ته خدای پاک ورکړی وو د خپل صنف په شاګردانو کښې به هر کال لمړی بریالی کیده. ده تر دو لسم ټولګي پورې په نوموړې مدرسه کښې خپل ثانوی لوست پای ته ورسول او د نورو بریالیو شاګردانو په پرتله ده په ممتازه توګه د بکلوریا بری لیک ترلاسه کړ او په مجموعی ډول د بریالیو شاګردانو په منځ کښې دویم نمره بریالی شو. د مدرسې ټولو استاذانو د ده د صداقت ځیرکتیا او علمی استعداد ستائیه کوله. د ثانوی زدکړې له پای ته رسونې څخه وروسته د خپل محترم پلار په مشوره او خوښه د عالی زدکړې په تکل د مصر جامع ازهر ته لاړ او هلته ئې په درس پیل وکړ. په همدغه وخت کښې په مصر کښې د اخوان المسلمین دوران جوړوونکی ګوند جوړ شوی او خپل اسلامی ټولنیز جهاد ئې پیل کړی وو. او د دغه ګوند بنسټ کیښودونکی او مرشد عام شهید امام حسن البناء په خپل مقناطیسی جاذبیت او دینی هیجان سره د مصر په منورو او سواد لرونکو ځوانانو کښې د اسلامی مبارزې دینی حمیت او خپلواکی انګیزو، دینی دعوت او د تبلیغ هلی ځلی پیل کړی وی او په ډیر لږ وخت کښې ئې د مصر دوګرو په ټولوپاټکیو کښې

دی. د ده رسالی حضارة الاسلام فلسطین ته مراجعه وکړای شی.

Marfat.com

داسی انقلابي ځوانان ؤ روزل چې په هر وخت کښې هغوی د خپل هر څه قربانولو ته چمتو وو. د اخوان المسلمین د نهضت غړی د مصر د نورو علمي او اداری ځانګو په څیر په جامع ازهر کښې هم ډیر وو او د خپلو زدکړو په ترڅ کښې به ئې د دغه پوهنتون زدکونکی او ښودونکی په عمومی توګه د هر هیواد او هر ځای به چې وو ، د دغه ځوان تحریک غړی توب ته دعوت کول. لد مصطفی سباعی مرحوم سره هم دهغه‌په تولګی‌کښې داخوان المسلمین‌دګوندیو غړی وو. دی ئې دعوت کړ او هغه ته ئې د نهضت دبیعت هغه لسګونی اصول او ۳۳ دغړی مسئولیتونه ورکړل چې د اخوان المسلمین بنسټ کیښودونکی لیکلی او دهغوی د عالی شوری له خوا منل شوی او د توزیع ا اره چاپ کړای شوی وو. ډاکټر سباعی مرحوم له دی امله چې دهغه په زړه کښې ان په وړ وکوالی کی داسلامی مبارزی او جهاد څپو غور ځنګو نه و هل د بیعت د پورتنیو اصولو له ژوری سطالعی څخه ئې دغه دعوت او بلنې ته د زړه له کومی هرکلی ووایه او هغه ئې قبول کړ . او کله ئې چې د امام حسن البناء شهید په یوځو غوندو کښې ګډون وکړ او د هغه زړه وړونکی مقالی او لیکچرو نه ئې و اوریدل نو د دغه تحریک د داعی په توګه ئې هغه ته ځان پشنهاد کړ او هغوی هم په لست کښې ؤ نیو. مصطفی سباعی لکه څنګه چې په علمي څواک او اسلامی مینه کښې ممتاز وو . د وعظ او تبلیغ په د نده کښې ئې هم ساری نه لیدل کیده. ده چې کله د اخوان المسلمین د نهضت په دعوت پیل وکړ نو په خپلو فصیح او بلیغ وعظونو

Marfat.com

ئې په سلګونو ځوانان د دغه نهضت غړي وګرزول .۱

په مصر کښې په همدغه زمانه کې د اخوان المسلمين په رهبري په مصري ټولنه کښې د عمومي اصلاح او د انګريزانو او د هغوی د ګوډاګيانو په خلاف د ازادي تحريک خپل وروستني پړاوته رسيدلی وو ، او خلکو هره ورځ د انګريزانو په خلاف د مصر په ګوټ ګوټ کښې مظاهرې کولی او له انګريزانو څخه ئې مصر ته د خپلواکۍ او ازادۍ د حق ور کولو غوښتنه کوله . په دغو مظاهرو کښې ډاکټر مصطفی سباعي مرحوم هم بلا ناغه ونډه اخستله .ډېرو ډېرو غونډو ته به ئې بيانئې ورکولی او له انګريزانو څخه ئې د مصر په ګډون د ټولو اسلامي هيوادونو د پرې ښودلو غوښتنه کوله چې د دغو ليکچرونو او مظاهرو په نتيجه کښې نوسوړې هم د نورو خپلو اخواني ورونړو په ګډون د مصر په يوه نظامي چوڼې کښې د څو مودې لپاره بندي کړای شو . د مصطفی سباعي مرحوم په مصر کښې په بندي کيدلو لمړی د ده پلار مرحوم خبرنو و بيا يو و ديني عالم علامه محمد الحامد (رح) چې د ده خاص ملګری وو دی د سباعي له بندي کيدلو څخه خبر کړنو دی

---

۱- د اخوان المسلمين د ګوند د بيعت اصول او د غړي مسئوليتونه د امام حسن البناء د مجموعة الرسائل په لمړي رساله کښې په عربي ژبه په خورا بلاغت ليکل شوي او د هغوی پښتو او دري متنونه د افغانستان اسلامي جمعيت چاپ او په لکونو شمېر ګنې ئې توزيع کړی دی .

87446

Marfat.com

په مسکا شو او داسي ئې ورته وويل : زما زوی په اسلام بندي شوی څه پاک لري چي بندي کړای شوی ، بندي خانه خو د نرانو ځای دی .

**«درس او دعوت»**

مصطفی سباعي مرحوم کله چي په ازهر کښي خپله زده کړه پای ته ؤ رسوله او دګري ئې تر لاسه کړه نو د امام حسن البناء په هدايت خپل هيواد سوريه ته لاړ او هلته ئې په درس او تدريس وعظ او تبليغ پيل وکړ . سوريه د شاه سليمان په وخت کښي د عثماني ترکانو د خلافت يو ايالت ګرزول شوی وو خو پدغه وخت کښي چي مصطفی سباعي مرحوم د زده کړې له پای ته رسولو څخه وروسته خپل هيواد ته راستون شو ، نو د ښکيلاکي ځواکونو په تحريک او لمسه په درسته عربي نړۍ کښي د ترکي سلطنت په خلاف د کرکي او نفرت غور ځنګونه پيل شول چي د هغو له امله ګرده عربي نړۍ له ډول ډول ستونځو اضطراب او پريشاني سره مخامخ شوه ، خو د دغه ښکيلاکي يلان ډير زور په لبنان او سوريه باندي وو چي د هغو په نتيجه کښي سوريه له ترکي سلطنت څخه جلا او د فرانسي په ناولی غيږکي ور واچولای شوه .

مصطفی سباعي مرحوم په دغه وخت کښي خو را هلي ځلي وکړې دعوتي حوضي ئې جوړې کړې او په خپل معجزو وعظونو ئې د سوريه ډير زر او ښځې د اخوان المسلمين له دعوت سره منسلک کړل ؛ او د امام حسن البناء له خوا دی د دغي څانګي د رئيس او مسئول په توګه ؤ ټاکل شو . له دی

Marfat.com

امله چې اخواني نهضت او اسلامي رسالت د مصطفى سباعي مرحوم په ووږو خورا ستر مسئوليت کيښودلای وو. ده ټواځې د خپل ښار حمص د خلکو په اصلاح کفايت ونکړ او د اخوان المسلمين د لا پياوړتيا په خاطر له خپل ښار حمص څخه دغه هيواد مرکزي ښار دمشق ته لاړ، او هلته ئې دځوانانو دروزنې د خلکو د اخلاق او فکري اصلاح په خاطر د اخوان المسلمين د نورو مکتبونو او مدرسويه څنګ کښې په دمشق کښې د يو مدرسې بنسټ کيښوده چې نوم ئې «المعهد الاسلامي العربي» ؤ تاکل شو چې تر اوسه پورې هغه په دمشق کښې موجوده ده.
او د دغې مدرسې او ښونځي روزل شوي شاګردان په تقوی، ديانت اخلاقو او ايډيالوژيکي روزنه کښې د سوريه د ټولو ښوونځيو او پوهنځيو په شاګردانو کښې ممتاز وو. مصطفى سباعي مرحوم دنهضت د لاچټکتيا او پياوړتيا په خاطر د پورتنې مدرسې پرڅنګ کښې د المنار په نـــوم يوه علمي ديني او سياسي ورځپانه هم و ويستله او د هغې په چلولو ئې پيل وکړ. دغه ورځپانه هم له دې امله چې د اخوان المسلمين د نهضت د ارمانونو او اهدافو ښکارندويه وه د اخوان المسلمين د نورو ديني او علمي خپرونو په څنګ کښې په اسلامي نړۍ کښې دمقبوليت او امتياز وزين او شامخ مقام ترلاسه کړ. نوموړې به پدغه ورځپانه کښې داسې ديني علمي او سياسي سرمقالې او مضامين ليکل چې لوستونکي به ئې په ټوسټلونه مرېدل. او د دې پرڅنګ کښې مصطفى سباعي مرحوم د دمشق د ښار د الدرويشيه کوڅې د جمات په صحن کښې د اخوان المسلمين د سوريه د څانګې

Marfat.com

مرکزی دفتر جوړ کړ چی نوم ئی : «شبان المسلمین»
پری بـاندی کیښود. او پـه دغه دفتر برسیره نـوسوړی
پـه خپلو نـه ستړی کیدونکو هلـو ځلـو د سـوریه
په ټولو سترو او کوچنیو ښارونو لکه' حماء ، حمص ، حلب او
دمشق اوان په کلیو او بانډو کښی تر خپلی څارنی لاندی د
اخوان المسلمین د دعوت او اصلاح مرکزونه جوړ کړل. لنډه
دا چی مصطفی سباعی مرحوم خپل هر څه د اخوان المسلمین
پیاوړتیا او بریالی توب او عمومیت ته وقف کړی وو ، څکه چی
په شلمه پیړی کښی یواځی همدغه نهضت وو چی د اسلام د
ترجمان او نماینده په توګه ئی پاڅون وکړ په مسلمانانو کښی
ئی د اسلامی جهاد خپلواکی او حریت روح را ژوندی کړه، هغوی
ئی دغلیمانو او ښکیلا کی بلاکونو هغو سهنکو او طغوتی پلانونو
ته متوجه او خبر کړل چی د اسلام او مسلمانانو د له منځه
وړلو لپاره ئی جوړ کړی وو. اخوان المسلمین لکه څنګه ئی چی
نوم دی د ټولو مسلمانانو د ګډ جهاد او مشترکی مبارزی په
خاطر منځ ته راغلی دی. دغه نهضت نه یواځی د عربی نړی
او نه یواځی د مصر ، شام ، لبنان ، اردن ' یمن ' سعودی او
الجزائر او داسی نورو ترپولو پوری محدود دی، او نه ددغه نهضت
په اصولو کښی داسی خصوصیت لرونکی مادی لیکل شوی دی
چی هغه د یوو خاص قام او تو کم په عنعناتو ' کلچر او دو
دونو پوری اړه لری بلکه دا د ټولی اسلامی نړی او مسلمان
ملت نهضت دی. څکه دغه نوضت چی امام حسن البناء د کوم
موخی لپاره جوړ کړی هغه د ټولو مسلمانانو په منځ کښی شریک

Marfat.com

او یوه موخه ده.

په دمشق کښې د اخوان المسلمین د مرکزی دفتر د جوړولو او د معهد اسلامی مدرسی په تاسیس او د المسلمون جریدی په خپرونه په سوریه کښې د اخوان المسلمین نهضت دومره پرمختګ او چټکتیا پیدا کړه چی په ډیر لږ وخت کښې په زرګونو استاذان پروفیسران دینی عالمان ډاکټران نظامی او ملکی ماموزین نر او ښځې له دغه نهضت سره بیعت وکړ او د هغه د غړی توب افتخار ئې تر لاسه کړ. اوس نو د هری څانګی لپاره مصطفی سباعی مرحوم مسئولین او په تنظیمی ډول ئې هر یوو ته څانګړی څانګړی د ندی ؤ سپارلی ترڅو دغه نهضت په عوامو کښې هم اکثریت ترلاسه کړی.

**مطالعه او ریسرچ :**

ښاغلی مصطفی سباعی مرحوم له پورتنی تبلیغی او د دعوت له ستونځو سره سره بیاهم د خپلی علمی تندی او زیات عرفانی رشد خړوبول هیرنه کړل او له لږڅه سکون او ارامی څخه وروسته ئې په علمی مطالعه پیل وکړ . که څه هم نوموړی د زده کړی او طالبی په زمانه کښې د خپلو دامی زده کړو په څنګ کښې مطالعه هم کوله او دغه مطالعه د ده هغه وخت لا زیاته شوه کله چی دی د لوړ و تحصیلا تو او زده کړی په تکل د مصر په جامع از هر کښې داخل شو په فروعی دینی مسائلو کښې دی حنفی مذهبی وو ، خو کله چی دی از هرته لاړ هلته ئې د نورو فقهی مذاهبو مطالعه هم په پراخه سطحه وکړه او د ټولو اسلامی مذاهبو فقه او اماما نوته ئې په

Marfat.com

خوړا درناوی او احترام کتل ، چې پدی اساس ویلای شودی
که حنفي هم وو خو داسی پټ سترګی او متعصب حنفي نوو چې
نور مذاهب ئې ناحق ګڼل او د هغو په مقلدينو پسی ئې اقتدا
ناروا ګڼله ، بلکه پدی هکله د نوموړی پالیسی او دریځ هغه وو
کوم چې د اخوان المسلمين بنسټ کېښودونکی امام حسن البناء
شهید او د دغه ګوندنو رو برجسته رجالو لاره . او هغه دا هره
مسئله او هر فقهي حکم چې له قرآن او سنت سره مطابق وی
که د هرچا وی هغه حق دی ، او هر هغه حکم چې له دغو
دو سماوی ماخذونو څخه مخالف وی هغه رد او که د هرچا وی
د قبول او منلو وړندی . ډاکټر سباعی مرحوم په از هر کښې
د دینی او مذهبی کتابونو د مطالعی په څنګ کښی د لویدیځو
او ختیځو غیر اسلامی مسلکونو د نظریاتو مطالعه هم کوله
او په همدغه وخت کښی دی د اروپائی مستشرقینو یعنی ختیځ
پیژندونکو له هغو کتابونو سره هم آشنا شو چې په عربی ژبه
ترجمه شوی وو او پدی لړکښی ده د ډاکټر احمد امین
مصری هغه د وه کتابونه هم چې یوئی «فجر الاسلام» او بل ئی
«ضحی الاسلام» نومیږی ښه دقیق مطالعه کړل په دغو کتابونو
کښی احمد امین مصری د غربی مستشرقینو هغه ټول انتقادات
راوړی او بیائی استدلالاً رد کړی وو چې هغوی په اسلامی
احکامو باندی نیولی وو او بیا په خاصه توګه د مصطفی سباعی
مرحوم توجه د نامتو او مشهور ژورنالست او یهودی ختیځ‌پوهنکی
«ګولډ زیهر» د هغه مضمون په لور شوه چې نوموړی د نبوی
حدیثو په هکله لیکلی وو . مصطفی سباعی مرحوم که چې پورته

Marfat.com

مضمون ولیدنو له ډېرې غصې څخه تک سور و اوښت او له هغه وخت څخه د اورته ثابته شوه چې دغه طاغوتي بريځي د پوهانو او څېړونکو په نوم څومره د اسلامي نړۍ او د اسلام د مقدساتو د له منځه وړلو په لټه کښې دي. او له همغې شيبې څخه ئې له ځان سره دا پريکړه وکړه چې دي بايد د هغو ټولو غربي مختورنو او اسلام دښمنو ختيځ پېژندونکو هغه څېړنې او ريسرچونه مطالعه کړي کوم چې هغوی د اسلام قرآن او سنت په هکله کړي دي . او بيا له مطالعې څخه وروسته د هغوی د خرافاتو د ترديد په لړکښې څه ؤ ليکي . خونوموړی ته پدې هکله په زړه پورې زمينه برابره نشوه ترڅو چې ده په دمشق کښې د اخوان المسلمين مرکز جوړ کړ او هلته ډير داسې پوهه او عرفاني وګړي د دغه بختور نهضت غړي شول چې هغوی کولای شول په نبسې ډول د اخوان المسلمين ځينې مبرمې اصلاحي او تنويري او اداري د ندې د ده په غياب کښې هم تر سره کړي ، همغه وو چې مصطفی سباعي له دغې زمينې څخه په استفاده په نوموړي موضوع کښې زياته مطالعه وکړه او بيائې له ازهر څخه د خپلې د ډا کټرۍ د برې ليک د لاس ته راوړو په تکل په پورتنې موضوع کښې بوخورا ضخيم کتاب ؤ ليکه او نوم ئې «السنة ومكانتها في التشريع الاسلامی» يعنې د سنتو قانوني حثيت کيښوده او خپله ډا کټرۍ ئې پرې واخستله . نوموړی پدغه کتاب کښې د خپلونورو تصانيفو په لړکې د ختيځ او لويديځو طاغوتي ځوا کونو هغه مذبوحانه هلې ځلې په ډاګه کړي دي چې هغوی ئې د اسلام په خلاف کوي او بيائې غابښ

Marfat.com

ماتوونکي خوابونه هم ورکړي دي .

**د دمشق په پوهنتون کښې د ښودونکي په توګه :**

د دمشق په پوهنتون کښې د «Law College» يعنې د قانون پوهنې په پوهنځي کښې د مدنې قانون ښوونکي ته د سوريه د زړ کړي او روزنې د وزارت اړتيا پيدا شوه او له ډيرې لټونې څخه وروسته ئې ډاکټر مصطفى سباعي مرحوم په نظر کښې ؤ نيوو او مسئولو مقاماتو دا پريکړه وکړه چې د دغې په سرته رسولو کښې له مصطفى سباعي مرحوم څخه پرته بل هيڅوک نشي برياڼی کيدلاى همغه وو چې دي د معارف وزارت ته ؤ غوښتل‌شو او له ده څخه هيله وکړاى شوه چې دغه د نده قبوله کړي . مصطفى سباعي مرحوم د هغوى هيله ؤ منله او په نوموړي پوهنځي کښې د مدنې قانون د ښوذونکي په توګه ؤ ټاکل شو . د مدنې قانون په هکله د ډاکټر مصطفى سباعي د عرفانې تنقيدي او تحقيقي نظرياتو له کبله د دغه پوهنځي د زد کونکو په افکارو او دماغونو کښې پدي هکله ګټور معلومات تزريق کړاى شو . مصطفى .سباعي به هر درس چې ورکاوونو دهغه ټول ابعاد،يعنې ديني اجتماعي سياسي او اقتصادي اړخونه به ئې د قرآن او نبوي سنتو په رڼا کښې څيړل . او د درس ورکولو په څنګ کښې نوموړي د سوريه د مدني قانون يوه شرحه هم په دوسترو ټولو کښې او ليکله چې د دغه قانون په هکله د دائرة المعارف حثيت لري او د دغه کتاب دواړه ټوکه تر ۱۹۷۲ مسيحي کال پوري د حکومت له لورى درې واري چاپ شوي دي . د ړورتنې کتاب نوم «شرح قانون

Marfat.com

الاحوال الشخصیته» دی.

**ډاکټر سباعي د وکیل په توګهٔ :**

د مصطفی سباعی مرحوم علمی استعداد، ځیرک ذهانت، له بلاغت او فصاحت ځنخه ډک بیان ، د قرآن او سنت د حاکمیت په خاطر د ده هلی ځلی او بی ریایورنے د شام په خلکو داسی تاثیر کړی وو چی نر او ښځی لویانے او کوچنیانے بی سواده او پوهان ټول د ده په شخصیت تقوی او مبارزی معترف وو . او همدغه عامل وو که چی په ۱۹٤۹ مسیحی کال کښی د شام دولسی جرګی انتخابات پیل شول نو د شام عوامو مسلمانانو او هم د اخوان المسلمین رهبری کدرونو له ده څخه هیله وکړه چی د پارلمان لپاره د وکیل په توګه په انتخاباتو کښی ګډون وکړی ، ځکه چی د اخوان المسلمین د نهضت اصلی سوخه هم دادی چی د خدای پرځمکه د خدای پربندګانو اسلامی قانون اوقرآنی حکومت نافذ کړای شی. او دا هغه وخت کیدای شی چی د دولت په دری ګونۀ قواوو کښی یعنی په مقننه ، قضائیه او اجرائیه کښی داسی دردمند توکونه او عناصر ځای پرځای کړای‌شی چی‌هغوی په یوو آواز د وخت له واکمنی پاتکی څخه د قرآن او نبوی سنتو د حکومت د نفاذ غوښتنه وکړی. نو نظر په دغه هیله د عوامو او اخوان المسلمین د رهبری کدر له خوا ډاکټر مصطفی سباعي د دینی عناصرو په نمایندګی د وکالت لپاره ودرول شو چی د خدای په مرسته په ټول هیواد کښی په دویمه نمره بریالی شو. اوبیا په ۱۹۵۰ مسیحی کال کښی‌د پارلمان د وکیلانو په اکثریت د شوری «امین عام» د سکرتر جنرال یعنی‌عمومی منشی په توګه وټاکل شو. نوسوړی د

خپل وکالت په دوران کښې په وکیلانو کښې لمړی داسې وګړی د ځان پلویان کړل چې هغوی په هیواد کښې د اسلامی نظام غوښتونکی او یا پلویان وو. او له هغو ځخه ئې یوه جرګه ګی جوړه کړه چې ټولو په اتفاق له پارلمان ځخه دا غوښتنه وکړه چې په هیواد کښې اسلامی قانون نافذ کړای شي،چې ددغو هلو ځلو په نتیجه کښې شورې د رأیو په اکثریت دا پریکړه وکړه چې د هیواد د قانون اصولی مأخذ د اسلامی فقه وی. دا فیصله د ۱۹۵۰ مسیحی کال دستامبر په شمله نیټه اعلان کړای شوه او په همدغه نیټه مصطفی سباعی مرحوم د شورې په تالار کښې داسې جذاب تقریر وکړ چې اسلام دښمنه ډلې ټپلی او د هغو ښکیلاکی او طاغوتی باداران ئې هک حیران کړل. نوموړی له دې ستر بریالی توب ځخه وروسته په پارلمان کښې وویل : اوس چې د خدای په مرسته مونږ تاسی پدې باندې بریالی شو چې د قانون مأخذ د اسلامی فقه وی. د دې ارمان د پوره کولو لپاره دا ضروری ده چې په پوهنتون کښې دې د شرعیاتو د پوهنځی په نوم یوه پاکټه جوړه کړای شي ترڅو په هغې کښې داسې علماء فقهاء ؤ روزل شي چې په بشپړه توګه په علم تفسیر علم حدیث او اسلامی فقه کښې وارد وی او د دې پرځنګ کښې له اروپائی قانون، او د هیوادونو له زوال عروج او د مختلفو قامونو له غوښتنو او افکارو او هم د عصر له مزاج او غوښتنی او.د اسلام له روح او تمایل سره ښه تره آشنا وی . ترڅو هغوی خپل قانونی مسئولیتونه او دستوری د ندی په سمه توګه تر سره کړای شي . او له د یادونی سره سم دغه اتل مجاهد او د اسلام د مدرسی

و پارلې بچي په پارلمان کښې پدې هکله تحریک پیل کړاو جرګې ته ئې د دمشق په پوهنتون کښې د مکتبة الشرعیه ، په نوم خپل تجویز وړاندې کړ . مسلمانو وکیلانو په ډیره خوښې د ډاکټر سباعي پورتنې تجویز ته هر کلې ووایه خو ملحد و کمونستو او د عربي قام ناسیو نالستو وکیلانو د ډاکټر مصطفی سباعي مرحوم له پورتنې تجویز سره مخالفت وکړ ، او هغوی د مصطفی سباعي او د هغه د پورتنې تجویز د ناکامولو په تکل ځانګړې باند جوړ کړ ، د ډاکټر مصطفی سباعي د بدنامولو په خاطر ئې مسموم تولنیز تبلیغات پیل کړل په هغه باندې ئې د غداری خیانت ، نفاق اچونې امریکائي او فرانسوي اسلام غوښتنې د بدیانتې او داسې نور ډول ډول ناروا تورونه ولګول او دوی په دغو زهر جنو تبلیغاتو یوشمیر علماء وزیران ملکي او نظامي مامورین هم د مصطفی سباعي په خلاف راوپارول ، خو دغه مبارز او زړور شخصیت له دغو طوفانونو او سیلیو سره په خلاصه تتې مقابله وکړه او د هغه وخت د شام جمهور رئیس مرحوم هاشم الاتاسي ته ئې د شرعیاتو د پوهنځي د تجویز او د هغه د ملي او نظامي ضرورتونو په یادولو یو پشنهاد وړاندې کړ او له هغه څخه ئې هیله څرګننه کړه چې د دغه دیني او ملي ضرورت د پوره کولو او اجراء منظورې په خپل قلم لاس لیک کړې ، جمهور رئیس هم د ډاکټر تجویز ته هرکلی ووایه اوهغه پشنهادئې لاس لیک کړ او د ۱۳۸۳ هجري قمري کال د رمضان د مبارکې میاشتې په ۲۸ نیټه د سوریه پارلمان په خپل قانون کښې د دمشق په پوهنتون کښې د شرعیاتو د پوهنځي

Marfat.com

د پرانستلو او قیام ماده تثبیت او تصویب کړه. (۱)

او دا داسې پوهنځی دی چې په اسلامي نړۍ کښې سیال نلري. او کله چې د شرعیاتو د پوهنځي د جوړوني اعلان وکړای شونو له پارلمان څخه بهر هم په ټوله سوریه کښې د اسلام دښمنه گوندونو او وګړو په زړونو کښې د عناد او کینې هغه اور بل شو کوم چې د دغه تجویز له لمړي. ورځې څخه د دوی په زړونو کښې را پیدا شوی وو. چې د دوی ټولو په سرکښې د عربي قام د ناسیونالستي مفکوري دښمنه کښېودونکی «میشل عفلق» مسیحي وو. نوموړی یو کاتولیک مسیحي رو دی په فرانس کښې زیږدلی او لوی شوی او روزل شوی وو او بیا د مسلمانانو د گمراه کولو لپاره سوریه ته د استاذ په توګه را لیږل شوی وو. دی لمړی د سوریه په دمشق کښې د یوی لیسې د تاریخ استاذ وو اوبیائی د زمانې په تیر دلوسره په دمشق کښې د مسلمانانو د گمراه کولو په خاطر د «البعث العربي» په نوم یو گوند جوړ کړ او مشر ئې یو کمونست ؤ تا که چې هغه اصلاً د شام نه بلکه د کردستان وو او نوم ئې خالد بکداسي دی. که څه هم د بعث د گوند مشر په ظاهري بکداسي وو خو قومانده تدبیر او هر ډول ابتکارونه د همدغه کاتولیکي مسیحي

---

۱- پدې هکله تفصیلي بحث د ډاکټر مصطفی سباعي مرحوم هغه تقریر دی چې د ۱۹۵۵ کال د مارچ په شام کښې ئې کړی وو نوموړی په خپل تقریر کښې ووئیل چې د شام په ۱۹۵۰م تصویب شوی قانون کښې نوی ۱۳مه ماده د شرعیاتو د پوهنځي د تاسیس په هکله تصویب کړای شوه.

Marfat.com

په لاس کښې وو. ده په خپل دغه گوند یعنې بعث کښې ټول
ځوانان ملحد او کمونستان کړل او غوښتل ئې چې له شام څخه د
اسلام لمن ټوله کړي او هغه په بشپړه توگه یو کمونستي هیواد شي.
خو خدای پاک دخپل دین په خپله ساتندوی دی، او ددغه الحادي
طوفان د مخنیوي لپاره ئې اخوان المسلمین منځته راووست او بیا ئې
د ډاکتر سباعي او ډاکتر سعید رمضان په څیر په اسلام مین
وگړي په دغه گوند کښې ؤ روزل او د میشل عفلق شیطاني
هلې ځلې ئې نه خاورو سره خاورې کړې . نوموړي مسیحي او
د هغه د گوند ملحدو عناصرو ډیرې هلې ځلې وکړې چې د
سباعي دغه اسلامپال ابتکار په شاؤ تمبوي او ډیر تبلیغات ئې
وکړل، دده گمارل شو یو تالي څټو بعثي کمونستانو به په هرځای
کښې او هر چا ته دا ویل چې دا چیرته کیدلای شي چې په
یوو عصري او مدرن پوهنتون کښې ډیرور او د پگړي او څپني
ارتجاعي عناصر د قرون وسطی له خصوصیاتو سره منځته راشي او
د مترق او مهذبو «یعني خدای نه منونکو» ځوانانو د پرمختگ
په لاره کښې د خنډ واقع شي. خو د دغو تالي څټو گوډا گیانو
او هم د هغوي د ابلیس بادار هلو ځلو کوم ځای ؤ نه نیوو او
ډاکتر مصطفی سباعي مرحوم په ډیره میړانه د ١٩٥٥ مسیحي
کال د سټامبر په ١٨ نیټه د دمشق په پوهنتون کښې د كلية
الشریعیه یعني د شرعیاتو د پوهنځې بنسټ کیښود او په خپله ئې
د هغه افتتاح وکړه او له همغې ورځې څخه دیني زده کړه پکښې
پیل شو.

Marfat.com

**وسلوال جهاد :**

ډاکټر مصطفی سباعی لکه څنګه چی د ژبی او قلم په جهاد او مبارزه کښی د اسلام د مدرسی د اخوان المسلمین د نهضت درهبری کدرتر بولی لاندی یواتل او سرتیری مجاهد وو، همدا ډول په وسلوال جهاد کښی د نورو اخوانی ورونو یو زړور مبتکر او شجیع قومندان هم وو .

د فلسطین د سقوط فاجعه د مسلمانانو لپاره هغه دردونکی پېښه ده چی د شلمی پیړی په تاریخ کښی ساری نلری . دفلسطین د ازادولو په هلو ځلو کښی له هر چانه زیات د اخوان المسلمین نهضت وړاندی وو. له همدی امله اخوان المسلمین جهاد ته د مسلمانانو د چمتو کولو لپاره د ډاکټر مصطفی سباعی په قیادت په دری ډوله هلی ځلی وکړی . لمړی دا چی عربی نړی او د سوریه حکومت ته ئی پدی هکله د یهودیانو انګریزانو او نورو راپوروونه وړاندی کړل . دویم دا چی په کلیو بانډو او ښارونو کښی ئی عمومی غونډی وکړی ترڅو خلک د قضی په اصلی اړخونو خبر کړی او پدی هکله د هغوی مسئولیت ورته څرګند کړی . دریم دا چی مصطفی سباعی مرحوم داسی ځوانان ؤ روزل چی هغوی هر ډول قربانی ته تیار وو. نوموړی د خپلو ځوانانو یوه ډله د،سرابیاو تولو ښارونو ته لکه یافا ، تل ابیب، حیفا او بیت المقدس ته ؤلیږله ترڅو هغوی د یهودیانو حالات او پلانونه له نیږ دیځخه مطالعه کړی. او کله چی په۱۹٤۸ مسیحی کال کښی د فلسطین دویش سانحه منځته راغله نو مصطفی سباعی مرحوم د شام د اخوان المسلمین د څانګی د مجاهدینو د قومندان په توګه ؤ تاکل شو او له ډیری کمی وسلی سره د جهاد ډګرته

Marfat.com

لاړل سباعي مرحوم د يهوديانو په مقابل کښي په ډيره‌ميړانه ؤ جنګيده او خوواری تيي شو خو خدای پاک به له مرګ خخه وژغوره او په دښمن ئی دامي غور څنګونه وکړل چي لار ئی ور څخه ورکه کړی وه .

**اروپائی او نورو هيوادونو ته سفر :**

هغه وخت چي ډاکټر مصطفی سباعي د دمشق د پوهنتون د قانون دڅانګی استاد وو حکومت غوښتل چي دی د يوی لنډی دوری په خاطر اروپا ته واستوی ترڅو هلته د مختلفو هيوادونو د پوهنتونونو او نورو علمي مرکزونو له تعليمی نصاب او درسی متداوله نورو عرفانی چارو سره بلد شي . خو ډاکتر مرحوم د خپلو دعوتی او اصلاحی مصروفيتونو په وجه دا کار په خپله تعويق کړ. او بيا د ۱۹۵٦ مسيحی کال د مارچ په دريمه نېټه د دغه سفر لپاره ؤ ووت. په دغه سفرکښي ټولو اروپائی هيوادونو ته لاړ او د هغوی ټول علمي مرکزونه او ثقافتی اداری ئی له نيږدی څخه ؤ ليدلی د هغوی له مسئولينو سره ئی ليده کاته وکړل او له هغوی سره ئی آزادانه خبری وکړی د هغوی نيمګړتياوی ئی ورته په ګوته کړی او د اسلام په مقابل کښي ئی د هغوی په عداوتی دريځ د هغوی په وړاندی انتقادونه وکړل او هغوی ټولو ته ئی په ډيره ميړانه دعوت او بلنه ورکړه چي هغوی اسلام په پاک ذهن سره مطالعه کړی او بيا د هغه په برخه عادلانه قضاوت وکړی. په همدغه سفرکښي ده له مستشرقينو «ختيځ پيژندونکو» سره هم ؤ ليدل او له هغوی سره طولانی بحثونه وکړل او له هغوی څخه‌ئی ؤغوښتل چي دوی بايد د هغه نيمګړی او غلط او معالدانه ريسرچ په هکله چي دوی د

Marfat.com

اسلام د سپیڅلي دین او د هغه د قوانینو په کړی دی له اسلام او مسلمانانو څخه بښنه وغواړی او بیا د دویم ځل لپاره په بې طرفانه ډول خپلې څیړنې پیل کړي. (۱)

ډاکټر سباعی مرحوم په خپل دغه سفر کښې د اروپائی هیوادونو د سیاسی او علمی وګړو د اسلام او مسلمانانو په هکله د هغوی د دریغ خورا ترخې خاطرې له ځانه سره راوړې او هم ئې د هغوی هغه خرافات وحشت او بربریت هم له نیږدې څخه ؤ لید چې په هغه تهذیب تا په لګوی او اسلامی هیوادونو ته ئې صادروی.

همدار نګه کله چې په ۱۹۰۱ مسیحی کال کښې د پاکستان حکومت یو نړی وال اسلامی کنفرانس جوړ کړ په دغه کنفرانس کښې د ګډون لپاره د سوریه د حکومت د ګډونکوونکي ډلې قیادت ډاکټر مصطفی سباعی ته ؤ سپارل شو او نوموړی په دغه کنفرانس کښې اسلامی ملت ته دور پیښو شوو ستونځو په هکله یو داسې مؤثر او جذاب تقریر وکړ چې د کنفرانس د ټولو ګډونکونکو له خوا په خاصه توګه تقدیر او وستایل شو او بیا هغه وخت چې د ۱۹۰٤ مسیحی کال د اپریل په ۲۲ نیټه د

---

۱- د دغو ګمراه او طاغوتی ختیځ پیژندونکو په هکله ډاکټر مرحوم یو بل کتاب لیکلی چې نوم ئې المستشرقون والاسلام دی پدی هکله د زیات معلومات د ترلاسه کولو لپاره دی هغه ته مراجعه ؤ شی د هغه پښتو ژباړه هم ژباړونکي کړې ده.

Marfat.com

لبنان په بحمدون نومی ځای کښې د منځنی ختیځ د ور پیښو لانجو په هکله عمومی غونډه جوړه شوی وه په هغې کښې هم د سوریه له خوا ډاکټر مرحوم خاص استاذی او ویاند وو .

**تصانیف او ژرنالیزم :**

لکه څنګه موچې وړاندې یادونه کړې ډاکټر سباعی مرحوم یوستر اسلامی مفکر لیکوال او په سیاست پوه ژورنالست او پیاوړی مصنف او واعظ وو ، نوموړی د اسلامی نړی د نوی توکم د تنویر او بیداری په خاطر ډیر تالیفات کړی دی . هغه یو ویرندوکی لیکوال نوو بلکه د حق کلمه ئې هر چا ته په ځغرده ویله . سباعی مرحوم په ۱۹٤۸م کال کښې په دمشق کښې دالمنار په نوم ورځپاڼه وویستله چې مسئول مدیرئ دی په خپله وو. دغه ورځپاڼه تر۱۹۵۰ع پوری وه خو کله چې د اخوان‌المسلمین د شام د څانګې له مرکز څخه د «الشهاب» په نامه ورځپاڼه پیل شوه د خپله ورځپاڼه بنده کړه او خپل ټول قلمی فکری او ابتکاری څواک ئې الشهاب ته په لاس کښې ورکړ. نوموړی به پدغه خپله ورځپاڼه‌کښې په خورا جرأت سره په حکومت باندی داسې انتقادی سر مقالی او مضامین لیکل چې په هغوی کې دحق له وینا څخه پرته د هیڅ ډول غوړ مالی تظاهر او مداهنت نښه نه لیدل کیده .

همدارنګه کله چې په ۱۹۵۷ع کال کښې د سوریه د بهائی حکومت له خوا د اخوان المسلمین وزینه مجله «المسلمون» مصادره شوه او د هغې مسئول مدیر شاغلی ډاکټر سعید رمضان له هیواد څخه تبعید کړای شو. نو سباعی مرحوم د دغی خلا

Marfat.com

د ډکولو په هڅه يو مجله پيل کړه چې نوم ئې «حضارة الاسلام» وو او ددې دچلولو په امر او اجازه اخستلو کښې نوموړی ډير ؤ کړيده خو په پای کښې خدای پاک بريالی کړ او اجازه ئې واخستله . او د هغې په چلولو ئې پيل وکړ چې مسئول مدير ئې دی په خپله وو .

همدارنګه د ده بل اثر «المستشرقون والاسلام» دی ، پدې اثر کښې نوموړی د ختيځ پيژندونکو هغه ټولی اسلام دښمنه ما نوری په ډاګه کړی دی چې هغوی ئې له پيړيو پيړيو را پدې خوا د اسلام او مسلمانانو په خلاف کوی .

بل کتاب ئې «السنة و مكانتها فى التشريع الاسلامى» دی او بل ئې شرح قانون الاحوال اشخصيه» يعنې د مدنی قانون شرح او بل ئې من روائع حضارتنا يعنې همدا کتاب چې ستاسی په لاس کښې دی اؤ پنځم کتاب نوم ئې: المرأة بين الفقه والقانون يعنې ښځه په شريعت او قانون کې دی . نوموړی ښائی نور هم ډير اثار ؤ لری خو ماته ندی معلوم .

**«رنځورتيا او وفات»**

ډاکټر مصطفی سباعی مرحوم ته په ۱۳۷۷ هـ کال کښې د فالج ناروغتيا پيدا شوه او د بدن کينه خوانی شله شوته شوه ده د خپلې ور پيښې شوی ناروغتيا ډير دارو درمل وکړل خو په زړه پوری نتيجه ئې ورنکړه او پوره ۷ کاله په دغه رنځ کښې ؤ خوريده . نوموړی په دغو ۷ کالو کښې خپل ټول اثار را غونډ کړل او هغو ته ئې کتابی بڼه ورکړه . وائی چې په نوموړی به کله دګوذڼ ځپه راغله او درد به ئې ډير شو نو خدای پاک ته به

Marfat.com

په سجده پری ووت ژړا او انګولا به ئی کوله او د خپلو ګناهونو ښښنه به ئی غوښتله. نوموړی په همدغه ناروغتیا کښې حج ته لاړ حج ئی وکړ مدینې منورې ته لاړ او بیرته خپل ټاټوبی ته ستون شو. د دویم ځل لپاره ئی بیا د حج اراده وکړه او داواری ئی غوښتل چی له حج څخه وروسته مدینې منورې ته لاړ شي او خپل پاتی ژوند هلته تیر کړی ، خو متاسفانه د ده دا ارمان پوره نشو او د ۱۳۸٤ هجری کال د لمړی خور یعنی جمادی الاولی په وو یشتمه نیټه د همیش لپاره له دی فانی دنیا څخه رخصت شو. (انا لله وانا الیه راجعون)

اللهم اغفره واغفرلی ولو الدی ولجمیع المومنین. امین

«زاهدی احمد زی»

Marfat.com

د مصنف سریزه

بسم الله الرحمن الرحیم

# دا کتاب

او سنئ پیړی د خپل مادي پرمختګ او علمي اکتشافاتو له نظره له تیرو ټولو پیړیو څخه لو به ګڼلی ده ، خو له دی سره سره د ټولنپوهنی «علم اجتماع» فکری پوهی «روان شناسی» او درمل پوهنی «علم طب» متخصصین د دی پیړی د اعصابی ناروغیو درنځورانو اندیښمن ډیر والی حیران کړی دی ـ او له همدی امله په ټوله بشری نړی باندی د ویری، او پریشانی داسی فضا خپره شوی ده چی په هغی کښی ټول بشریت خپل راتلونکی تیاره وینی او بیا په خاصه توګه د دغه نوی تهذیب بنسټ ایښودونکی د هوسایني او مزو چړچو «عیش و عشرت» د لوازمو د ... وو په ډیر والی کښی هیڅ ډول خوند او مزه نه احساس ... ـ چی پدی اساس ویلای شو . د نو لسمی پیړی پوهانو او مفکرینو د سائنسی ایجاداتو او اکتشافاتو په اتکاء چی د بشریت د نیکبختی کوم تخیل او فکر پــه خپلــو اذهانو کښی میشته کړی وو ، هغه په بشپړه توګه ابته او اضغاث الاحلام» ګرځیدلی دی .

داسی ښکاری څومره چی وسائل پرمختګ کوی ، په همغه اندول اضطراب او پریشانی مخ پــه زیاتیدو ده ـ پــه دوسو

Marfat.com

هیوادونو کښې چې د ژوند معیار لوړ دی هلته دنورو هیوادونو په پرتله دروحې ناروغیو تناسب هم زیات دی . او زموږ پدې خبره په خپله د امریکا د حکومت له خوا د پورتنې ډول ناروغانو د شمیر خپرونه گواهي کوی . دا پریښانی او اضطراب یوازې د لمړی او دویم نړی وال جنگ له پیښې دلو او یا د دریم نړی وال جنگ د منځته راتلو له ویری څخه ندی پیدا شوی ، بلکه دغه ناروغی اصلاً له هغی روانی فضا څخه پیدا شوی کوم چې نـوی تهذیب د خپلو شا زلمیانو لپاره تهیه (برابره) کړی ده . که څه هم بنکیلا کی ځواکو نه په خپله داسی حالات را پیدا کوی ترڅو د هغوی په توسه تر خپلی سلطی لاندی محکوم قامونه په اضطراب مبتلا کړی .

خو موږ چې د کومې هراړ خیزی پریشانی یادونه کوو هغه په هغو قامونو باندی هم خپره شوی چې تر اوسه پوری د استعمار له گورت څخه په ظاهر کښې بهر دی . او دغی پریشانی هغه قامونه هم په خپله لمن کښې را نغښتلی دی چې هغوی د استعمار گڼی ټولی کړی دی ـ او دغه اضطراب موږ په گردو هغو ټولنو کښې مومو چې هغه له نو یو اجتماعی نظریاتو لاسی روزل شوی او را ټوکیدلی دی ـ او همدغه پریشانی موږ ه گ د خنیځ او لویدیځ کښې احساسوو ، ان چې د روس په ... نظام کښې هم موږ ته په سترگو کښې همدغه ... خپیږی .

زموږ د دی خبری څرگند ثبوت د ځان وژنی «خود کشی» ... ارتکاب دی چې زیات تره په همدغو پرختللو

ناسونو کښی پیښیږی ـ او په دوی ټولو کښی زیاتی حیرانوونکی د ځان وژنی هغه پیښی دی چی په سکنډی نیوی، هیوادونو کښی پیښیږی.

پداسی حال کښی چی دغه هیوادونه له اقتصادی او تمدنی نظره د نورو په پرتله زیات پرمختللی هیوادونه شمیرل کیږی ـ خو عجیبه خبره دا ده چی د دغو هیوادونو میشته وګړی د مزو چرچو له ژوند تیرونی ښځه ستومانه او د ځان وژنی مرتکب

نو له دی ښځه دا خبره څرګندیږی چی د نوی تو کم دغه پریشانی او اخلاقی انحراف چی له هغه ښځه په لویدیځ کښی خپل مور او پلار ستومانه شوی او کوکاری وهی، په خپله د همدغه نوی تهذیب او تمدن زیګنده ده او د هغو نظریاتو نتیجی دی چی د دغه تهذیب تر شا ولاړی او فعالیت کوی.

۲، د لویدیځ تهذیب سیلوی: «روح»

لکه څنګه چی معلومه ده، نوی لویدیځ تهذیب. له اسلامی تهذیب او له هغو عربی هیوادونو سره د ځینو هغو لویدیځو هیوادونو د ګوناګوی نوب په توسه منځته راغلی دی چی په اسپانیه نا نورو اسلامی هیوادونو کښی جوړ شوی وو ـ په هغه وخت ]ی اسلامی فیلسوفانو او متکلمینو له یونانی فلسفی

---

۱ـ یعنی په ناروی، سویډن او ډانمارک کښی.

۲ـ په دغو هیوادونو کښی د ځان وژونکو شمیر له نورو لویدیځو هیوادونو ښځه زیات دی. ژباړونکی.

سره خور امینه ثابته کړی وه ـ او له همغو عربونه لویدیځو ذهنو زد دوونکو او طالبانو یونانی فلسفه زد کړه ، او د هغوی کتابونه ئی په خپله ژبه ؤ ژباړل او د کلیسا له سخت مخالفت سره سره د هغو په لوستلولګیا شو.

بیانو کله چی د لویدیځ ذهن خلاص او ؤ غوړیده او هغوی هغه حقایق ترلاسه کړل کوم چی د کلیسا له وړاندی کړو علومو او عرفان سره په بشپړه توګه مخالف وو. نو نتیجه ئی دا شوه چی د ساینس او کلیسا تر منځ یو طویل کشمکش پیل شو . چی په پای کښی په پاپ باندی له بندی کیدنو وهلو ټکولو ، د تکفیر له فتوی ور کولو او له نورو ډول ډول دړا وونو زغملو او تیرولو څخه وروسته د فلاسفه او مفکرینو بریالی توب په برخه شو ـ او بیا کله چی د لویدیځ د نوی ژوند د ترلاسه کولو غور څنګ په پښو ؤ دریده نو په هغه باندی د دوشیانو مارک په څرګند ډول لګیدلای وو .

۱ـ لمړی له هغی یونانی فلسفی سره مینه چی د هغی تړنګ «ترکیب» له خالص مادی او بت نمائځونکو تصوراتو څخه تر سره شوی وو .

۲ـ دویم له دین او مذهب څخه بیزارتیا او د هغه له پالونکو سره دښمنی او بغاوت ـ او د پورتنیو د وو عواملو او اصولو په بنسټ دا تلسمی او نولسمی مسیحی پیړیو د لویدیځو مفکرینو نظریات ؤ روزل شول ، او د همدغو اصولو په رڼا کښی د لویدیځ ټول فیلسوفانه او اخلاق مکتبونه جوړ کړای شول او وده ئی وکړه چی تر اوسه پوری په لویدیځ ذهن او

Marfat.com

زړه باندی مسلط دی.

پس هغه پښتونه چی په هغوی باندی لویدیځ تهذیب ولاړ دی ، ساذج ، «سوچه» مادی دی له دین روحانیت او متافزیکی تاثیراتو څخه ډیر لری دی .

او لکه چی لیدل کیږی په لویدیځو هیوادونو کښی دین او مذهب ورځ په ورځ خپل اقتدار او غلبه له لاسه ورکوی ، او اوس لویدیځ توک «انسان» خپل ځان د یوی خو را ژوری کندی په لورتلونکی وینی چی له دی امله سخت پریشان او اندیښمن دی . د هغوی مفکرین او بصیرت لرونکی وګړی د دین او روحانی شعائرو د بیا منځته راوړو په لټون کښی دی ، خو دا به دوی ته نه کوم ځایه لاس ته ورشی ؟ اوس د الحاد او مادیت چټله او خبيثه و نه خپله ترخه او وژونکی میوه ورکوی او د هغی جرړی تینګی لګیدلی دی .

تاسی که له سماوی مذاهبو څخه هر یو مطالعه کړی او هغه ؤ ګورئ نو د هغه له خصوصیاتو څخه یو دا دی چی هغه په وګړ واله ټولنه کښی نیاو «عدالت» او انصاف ته و ده ورکوی ، زړه او سیلوی ته ډاډ بخشی او د تکلیف داندیښنی په کمولو سره د ژوند دروند پیټی سپکوی - او د دی په څنګ کښی «مذهب» نفسانی غوښتنی او طاغوتی دنی «تیټ» احساسات لهیخ اوریښی څخه باسی . اسلام د خپل عروج په زمانه کښی همدغه کارتر سره کړی وو . خو کله چی زمونږ په ټولنیز ژوند کښی د اسلام دغه الهی د نده پای ته ؤ رسولای شوه د فرد او ټولنی «د فاسدو» غوښتنو د له منځه وړلو په تکل ، د عزایمو دراویښولو د ایثار او شفقت د احساساتو درا پارونی وسله

Marfat.com

بخه شوه نو سونږ د هر ډول هغو بد مرغیو مزه ښه تره ؤ
څکله چی د هغو اسباب لویدیځ تهذیب د خپلو بچونو لپاره را
ټول کړی او تیار کړی وو .

### ۳- د مذهب ناکامی

پدی ځای کښی زمونږ د بحث او څیړنی هدف دا ندی چی
د لویدیځ تهذیب او د هغه مذهب تر منځه تضاوت وکړو له
کوم مذهب څخه چی دغه تهذیب په خپلو لمړنیو پړاوونو
کښی د مقابلی او جګړی په نتیجه کښی نجات او خلاصون
ترلاسه کړی دی .

سم لاسی زمونږ لپاره دا کفایت کوی چی مونږ د دغه
تهذیب د هغو عواملو او اسبابو د افلاس او غربت په لور
اشاره وکړو ، چی د هغو په توسه دغه تهذیب انسان ته د زړه
په ډاډ ورکولو کښی عاجز او ناکام شوی دی. دا عامل اوسبب
هغه دی د کوم په توسه چی دغه تهذیب له مذهب څخه
پرته د ځان لپاره یوه نوی لاره پیدا کړه چی د هغه په توسه ئی
له مذهب سره جنګ کړی وو او بیا ئی دا مفروضه ورته تیاره
کړه چی دی «یعنی تهذیب» کوم دین ته له مراجعت څخه
پرته او یواځی هم خپل داسی سفرته ادامه ورکولای شی چی
د ده د سیلوی په لنده او تازه او د ده د ضمیر په ژوندی
ساتلو کښی له ده سره مرسته وکولای شی.

خو دا یوه خام خیالی وه. څکه اوس مونږ ګورو چی
د لویدیځو هیوادونو د مختلفو حکومتونو او کلیسا ګانو ترمنځ
د نوی تهذیب د ترخو تباهیو د کمولو په تکل د زړه له کومی
یو له بل سره د مرستی هیلی ؤ ده کوی ، زه چی هر لویدیځ

هیواد ته تللی یم ، نوما هغه داسی ډیری نښانی او شواهد لیدلی دی چی د پورتنی موخی «هدف» تر لاسه کولو په خاطر له مختلفو وسائلو او طریقو څخه استفاده کولای شی.

په یقینی توګه هغه چاچی پدی نیږدی وخت کښی سویزر لینډ ته سفر کړی وی ، نوهغوی به هلته هرو مرو د هری یکشنبی په ورځ د نظامی موزیک غږوونکو سپاپانو په څیر د موزیک غږوونکو یوه ډله وګړی لیدلی وی چی هغوی په چمن او سیل ځایونو کښی د موزیک غږولو په حالت کښی ګرځیږی، «دا یوه مذهبی ډله ده» او د دی مذهبی مظاهری اهتمام د کلیسا له خوا کولای شی په دغه ډله کښی هغه سپین ږیری ځوانان کوچنیان او پیغلو ګی جینکی وی چی له ساز او ټنګ ټکور سره د کلیسا سندری وائی او خلک د ځان لورته متوجه کوی ' چی پدی ډول دوی ته ډیرو ګړی را ټول شی او بیانو که څوک هر څه ویل و غواړی هغه او رولای شی . همدا ډول که څوک د لندن هائیډ نومی پارک ته تللی وی نو هلته به ئی لیدلی وی چی هلته هم د یکشنبی په ورځ په خاصه توګه آزادنه تبلیغات او تقریرو نه کیږی ' په د غووینډویانو کښی د کلیسا واعظین هم وی ، چی هغوی دا هڅه کوی چی په خپل فصیح او بلیغ تقریر او د وینا د خپلو مؤثرو اسلوبو په ځواک دبڼ د سیلانیانو د اکثریت فکر ځان ته واړوی ، همدا ډول هغه سیمی چی د سینما ګانو له یاره ټاکل شوی دی ، هلته هم د خلکو د شور او غوغا په منځ کښی لیدل کیږی چی یو سړی د ؤ سپنی په یو دنګ ستیږ باندی د ریږی، چی د هغه بل ملګری ورته نیولای وی . بیانو دا سړی خلکو ته وعظ او بنود نه

Marfat.com

نوی او د دین خبری ورته کوی. یوه مشپه ما یو سړی ؤ لیده چی د سینما د دروازی په مخ کښی ولاړدی او وعظ کوی ، او په زوره زوره ناری وهی او خلک د سینما له زړه وړونکو مګر اخلاق فاسدوونکو اړخونو څخه ویروی ، او دا ټول کار د پولیسو په وړاندی کیده او پولیسو هیڅ ډول مزاحمت او مخنیوی نه کاوو . ځینوو ګړو د ده خبرو ته غوږهم نیوو ، خو ما د هغوی له جملی څخه یو هم داسی کس ؤ نه لید چی د دغه واعظ خبرو کوم تاثیر پری باندی کړی وی او سینما ته نوی تللی .

په امریکا او اروپا کښی دا خبره عامه ده چی له هری کلیسا سره په څنګ کښی یو انجمن وی چی په هغه کښی ځوانان او پیغلی ګډا او نڅا کوی سندری وائی او په خپل منځ کښی یو له بل سره ټوق ټکالی کوی . هغوی یو ځای اوګډ سفر کوی او غونډی هم جوړوی . او پدغه ډول یوه انجمن کښی زما د ګډون تصادف ؤ شو ، او ما چی ؤ لیدل نو پدغه غونډه او انجمن کښی له ګډانڅا سندرو ، ویلو او ډانس کولو څخه پرته بل هیڅ مشغله د غونډی د ګډو نکونکونوه . ما د غونډی له ناظم څخه داسی پوښتنه وکړه : «آیا تاسی د انجمن ګډونکونکو ته وعظ او نصحیت هم کوی» هغه ماته منفی یعنی په نه ځواب راکړ ، ما بیا پوښتنه ورڅخه وکړه چی بیا نو کلیسا ولی ددی اهتمام کوی اوټول مصارف ئی ګالی پداسی حال کښی چی دغه انجمن هغو انجمنونو ته ورته دی کوم چی له کلیسا سره هیڅ ډول اړیکی هم نلری ، هغه په ځواب کښی راته وویل : «آیا دا ګټه لږده چی د دغه انجمن په غونډه کښی

Marfat.com

د کډون کولو لپاره څوانان او پېغلې د کليسا په احاطه کښې د روسي او تېرېږي چې پدې توګه دوی ته کليسا هم ورپه ياديږي !» . د اروپا په ځينې هوټلونو کښې دا په خپلو سترګو ګورې چې د هرچا له پالنګ سره نيږدې د انجيل يوه هغه نسخه پرته وی چې «جمعيت محبان انجيل مقدس ئی» تهيه کوی ، اوله د کار څخه د دوی هدف دادی چې مسافر هغه د بيده کيدلو او راويښيدلو په وخت کښې مطالعه کړی او خپل ديني عقائد له سره نوی کړی . همدا ډول د اروپا په زياترو پوهنتونونو کښې د «کسچن‌ستوډنټس يونين»، «يعنې د کليسائي محصلينو اتحاديه» په نوم تنظيمونه جوړ شوی دی ، چې د هغو په او نه ئيزو «هفته وار» غونډو کښې د کليسا عالم وينا کوی او د دين مبادی او اصول بيانوی چې پدغو غونډو کښې ځينې زډ کونکي هم برخه اخلي .

په لويديځ المان کښې «د هغه ځای» حکومت د کليسا په نوم ځانګړی پانګه ټولو له ترڅو هغه د مسحيت په خپرونه او دعوت کښې مرسته وکولای شي ، يو ځل ما د المان د پوهنتون په روغتون کښې ؤ ليدل چې زما د بستر خونې ته مخامخ په د يوال باندی د زيړو «برنجي» يو ستر صليب نصب کړای شوی دی . او بيا وروسته ما وليدل چې دروغتون په هره خونه کښې ، اوان د ډاکټرانو په کار ځايونو «دفترونو» او د ناستې په خونو کښې هم دغه ډول صليبونه موجود وو . کله چې ما د دغو صليبونو د نصب کولو د فلسفې پوښتنه وکړه ، نوماته داسې ځواب را کړای شو، چې دا د کليسا د فعاليت او هلو ځلو ښکارندوئ دی چې د دی په ليدلو سره د

Marfat.com

وګړو په زړونو کښې د مذهب یاد تازه کیږی . او سره له دی چې دغه روغتون نیغ په نیغه له پوهنتون سره اړوند وو ، او له کلیسا سره نیغ په نیغه د هغه هیڅ ارتباط او تړون نه وو . او پدی لړ کښې زه د هالی ووډ په پراخه پیمانه هغه مذهبی فلمونه نشم هیرولای ، کوم چې د مذهب په لور د خلکو دنظر اړولو په خاطر تیارکړای شوی وو. نه ما نه به ډیرو نوروهم د هغو «مارل ای آر مومنټ» ، «اخلاق وسله بندۍ» تنظیمونو په هکله هرو مرو او ریدلی وی کوم چې د اروپا په زیاترو هیوادونو کښې جوړ شوی دی. د هغو استاذو «نمایندګانو» د منځنی اولری ختیځ ، د مثال په ډول د قاهری دوری هم کړی دی . ما په سیوسز رلینډ کښې د هغوی مرکز لیدلی دی چې سوزان ته‌نیږدی پروت دی. دغه تنظیمونه په بنکاره ډول د اخلاق فضائلو عاطفی او انصاف په پلی کولو ډیر ټینګار کوی .

دغه ټول د هغو ډلو ځلونډ غوندی معلومات دی چې لویدیځ هیوادونه نی د دین او اخلاقو د بیارا ژوند کولو په نکل کوی . او دا پدی خبره په ځرګنده توګه دلالت کوی چې لویدیځ قاموته د خپل تهذیب او تمدن د زینونو د کمولو په خاطر له مذهب او اخلاقو څخه د استفادی سوو احساس کړی دی خو له دی سره سره سوز دا په ټینګار سره ... چې اوس د چارو واګی د مذهبی لارښودونکو او د اخلاقو او ټولنپوهنی د عالمانو له لاسه وتلی دی . زمینه نی له لاسه ورکړی دردونه او کړاوو نه ورځ په ورځ زیاتیږی او دغه تهذیب به خپل طبیعی پرواته رسیږی.

او دا هم یو حقیقت دی چې په اروپا کښې د عوامو دی

Marfat.com

را گرزولو او د هغوی د روحانی سطح د لوړولو په تکل کوم وسائل چی په کار اچول شوی دی . د هغوی په ذریعه په ټولنه کښی د کمونیزم د پلی کولو او د هغه د بریالی توب خطر هم ګډون لری ـ خو په اروپا کی مذهب د خپل حثیث د کمزورتیا په وجه اوله لویدیځو فاسفو څخه د را پیدا شوی ارتیاب اوشک په لاسل هغه له کمونیزم «سور» سیلاب سره د ډغری وهلو او مقابلی ځواک نلری ـ له همدی امله د کمونیزم د مخنیوی لپاره ټولنیز او اقتصادی تدابیر خورا ضروری دی . مادی عقل هم ، د لویدیځ عقل په څیر پرته له مادی څخه د بل هیڅ شی ادراک نشی کولای ، او نه په بل شی باندی راضی او خوښیږی ـ دا ځکه چی کمونیزم هم د لویدیځ تهذیب دونی یوه څانګه ده او د هغی له میوو څخه یوه میوه ده ـ او دا «یعنی کمونیزم » هغه شی دی چی دلویدیځ تهذیب شناعت «بدوالی» ئی څو چنده زیات کړ دی او د هغه زیانونه ئی عام کړی دی .

په اتلسمه پیړی کښی دمارکس او انګلس دفلسفه له منځته راتلو سره له بڅوا څخه نورهم حالات زیات خوا پسی خراب شول ځکه چی دغی فلسفی دانسان او دهغه دقلبی او روحانی سکون ترمنځه یوستر خلیج پیدا کړ ـ په خدای پاک باندی ایمان لرل او د آخرت دموجودیت عقیده د خلکو له زړونو څخه لاړه او د اخلاقو هغه بنسټونه منهدم او له بیخه ؤ نړول شول په کومو چی د تاریخ له لمړی ورځی څخه تراوسه پوری بشری ټولنو په خپل ټولنیز امن او امان بروسه او انحصار کاوو ـ په دنیا کښی د کمونستی اصولو مدعی لمړی حکومت پیدا شو او هغه زیاروویست چی هغه د خپل ملت حالت اصلاح اوسم کړی ـ خو هغه داسی ؤ نکړای شو او هغه

Marfat.com

هیڅ کله دم د خپلی مادی فلسفی د غوښتنو په اساس داسی نشوای کولای چی د خپلو وګړو د ژوند هر ډول تولنیز او انفرادی کړسی او پریشانی لری کړای شی ، او د هغوی ذهنی ویره او ډار له هغوی څخه پورته کړای شی .

بلکه د دی په خلاف دغه کمونستی ریاست په خپلو هیواد والو باندی زیات نور خطرونه هم ؤ تپل «مسلط کړل» چی یو د هغو له جملی څخه هیواد والو ته دا چیلنج ورکول دی چی که هغوی چیرته د حکومت په پالیسی او لارو چارو باندی انتقاد وکړی نو هغوی به له خورا ناوړه نوښت «عکس العمل» سره مخاسخ شی. او بیا هغه ویره او سودا چی د کمونستی ګوندونو «احزابو» په خپلو غړو باندی طاری وی، ـ هغه له هغو پریشانیو او خوفونو څخه څو چنده زیاته وی کومه چی د عوامو په اذهانو او فکرونو باندی مسلط دی ـ «او هغه دا چی» د ګوند پر هر غړی باندی لازم دی چی هغه دی یـا خو د خپلو رهبرانو او د کدر د غړیو هر ډول پریکړه او نظر د ګرمو احساساتو په بدرګه کولو تائید وی او له هغوی څخه د په پټو سترګو تقلید او دفاع کوی او یا د دی هم د هغه نوښت انتظار وکړی کوم چی د نورونه منونکو لپاره مقدر او تاکل شوی دی .

پس کمونیزم له خدای پاک او د هغه له دین څخه په انکار کولو سره د انسان هغه وروستنی متکاء او بروسه پای ته ؤ رسوله په کومی چی بشر د ویری ، مصیبت ، محرومی او ظلم په خلاف پیاوړتیا ترلاسه کوله ـ کمونستی رژیم په هر ځای

Marfat.com

کېږي چې جوړ شوي دي ، هغه د استبداد ویرې او ډار او د وینوتو یو لو په مرسته د بشري ټولنې وګړي د ګډو «ګوسفندان» اوازو «بز» او نورو ځارویو په داسي رمو تبدیل کړي دي چې په بشپړه توګه له حپل واک او ارادي څخه محروم کړای شوي دي او له هغوی، څخه ئې هغه لوړ بشري موقف سلب کړي دي چې هره بشري ټولنه د هغه د لاس ته راوړو تکل کوي.

لنډه دا چې د لویدیځ تهذیب او تمدن دوارو څانګو ، پانګه والی او کمونیزم ، د بشر هر ډول ډاډ او اسن له هغه څخه لوټ کړي دي او د هغه ټول لوړ اهداف ئې له پښو لاندي کړي دي ـ د دې لامل دا دی چې دغه تهذیب یواځې مادي خوښې او هوساینې خپل موخې ګرځولي دي ـ او بیا نو کله چې دغه هدف ته په رسیدلو کښې ناکام شو نو حالت ئې دا شو چې بد مرغه پاته شو ، او که ئې احیاناً په کوم ځای کښې بریالی توب هم ترلاسه کړي وي نو له خواشینې او ستوماني څخه پرته ئې نور هیڅ لاس ته ندي راوړي او د دغې ستوماني او خواشینې نتیجه له ځان وژنې «خودکشي» څخه پرته بله هیڅ راوز نه وتله.

**٤ـ په حقیقت باندي اعتراف :**

په هر حال اوس نو لویدیځ د خپلې اخلاق او روحاني بې وزلي او مفلسي په احساس پیل کړي دي او د هغه ځای زیاترو وګړو خپلې سترګې د ختیځ لورته نیولې دي چې بنائې د هغه ځای له عقایدو او مذاهبو څخه هغه څه د دوی لاس ته

Marfat.com

ور شی چی د هغوی روحانی خلا ډکه کړی او هغوی له انسانی کرامت او شرافت څخه برخمن ؤ گرځوی . اوس نو که دغه هیوادونه او بیا په خاصه توگه امریکا دا وینی چی د هغه ځای ځینی وگړی هندوئیزم ، بهائی ایزم او اسلام قبلوی ، نو په هیڅ ډول دا د حیرانتیاوړ خبره نده - په هغوی کښی اسلام راوړونکی دوه ډلی دی یوه ډله هغه ده چی په فکری او عقلی توگه اسلام خوښوی او دویمه ډله هغه ده چی د خپلی سیلوی «روح» او وجدان له نظره په هغه مطمئن او ډاډه دی یوځل ماته یو انگریز ختیځ پیژندونکی «مستشر» چی نوی مسلمان شوی وه او اسلامی نوم ئی ابوبکر[١] دی د مسلمانیدلو خپله قصه کړی وه - لمړی هغه د قاهری په «جامعه فواد» نومی پوهنتون کښی د انگریزی ژبی ښودونکی پروفیسر وو او همغلته ئی اسلام راوړی وو ، او لن سبا هغه د لندن د قامی کتاب تون «کتابخانی» د ختیځی وڼډی سکرتر دی. هغه ماته د اسلام د قبلولو د خپلی قصی د بیانولو په ترځ کی اصلی عوامل او اسباب بیان کړل او داسی ئی ؤ فرمایل. لویدیځ تهذیب د انسانی شرافت بنائست اوښه والی دواړه له پښولاندی

---

١ـ له دی امله چی زه دغه سریزه پداسی حال کښی لیکم چی له ما سره خپله د یاداشتونو کتابچه نشته او خپل ټول یاد لیکونه له ما څخه لیری دی نو د هغه انگریزی نوم له مانه هیر دی خو د قاهری د پوهنتون استاذان هغه په بشپړه توگه پیژنی.

Marfat.com

کړی دی ـ ماورته وویل : د انسانی شرف د ضیاع اوابته کولو په هکله د تاسی له وینا سره زه هم توافق لرم ، خو د هغه دښه والی او ښائست دله منځه وړلو په هکله ستاسی دا نظر څه وړدی؟ په داسی حال کښی چی پدی هکله لویدیځ تهذیب ډیر فعال او زړه وړونکی ګڼل کیږی ـ په هغه کښی د فطری مناظرو ښائیست، د لباس ، هستوګنځی ، او کور کهول ښائیست ، نسوانی حسن ، لنډه دا چی په هغه کښی د هر ډول خوند او ښایست په هکله رعایت ته ځای ورکړه ای شوی دی» ـ هغه ماته په ځواب کښی وویل : «دغه تهذیب» د روح ، وجدان او اخلاقو ښائیست او ښه والی لوټ کړی دی» .

د ۱۹٥٦ مسیحی کال په ؤ وړی کښی ما د پاریس په جامع جمات کښی یوه وینا کړی وه ـ او په هغه کښی ما دمیلاد النبی په هکله داسلام له عادلانه او مینه ناکی دندی څخه یادونه کړی وه او داسی ویلی وو چی د اسلام دغه صفت د هغه په ګردو فتوحاتو او حکومتی دورونو کښی هم ځلیدونکی دی ـ پدی لړ کښی ماهغه عام‌تاریخی قتلان ته هم څرګنده اشاره وکړه کوم‌چی په الجزائر کښی «دصلیبیانو له خوا» منځته راغلی وو. له دغی وینا څخه وروسته له کومو غزت مندو «حضراتو» سره چی زما پیژند ګلوی وکړای شوه ـ د هغو له جملی څخه یو رومانی نسل نوی مسلمان شوی مصطفی ولسن هم وو ـ نوموړی په پاریس کښی د اټالیا په قونصل ګری کښی د هغه هیواد د حکومت قونصل وو . بیا هغو اسلام قبول کړ او خپله سفارتی د نده ئی پری ښودله . او اوس هغه د فرانسی د مسلمانو

Marfat.com

زلمیانو د یو داسی گوند مشر او رهبردی چی دزړه له کومی ئی اسلام غوره کړی دی ـ که څه هم تر اوسه پوری د هغه گوند په بشپړه توگه نوم ورکښی او نا اشنا دی ـ د دغه گوند ټول غړی په هره اونی کښی د خپل لاربښود او مشر په کور کښی سره ټولیږی . هغوی ټولو ختیځ دوده لباس اغوستلای دی او له هغوی څخه ځینو غړو له زلمی توب سره سره ښی سپیڅلی ږیری پری ښو دلی دی .

په دغه غونډه کښی د قران مجید تلاوت او د اسلام په هکله مطالعه کیږی ـ ښاغلی مصطفی ولسن ماته وویل : تاسی «چی په خپله وینا کښی داسلام د فتوحاتو د رحمت او نرمی په اړخ کومه رڼا واچوله ، ما هغه په غور سره و اورید له ـ غالباً ښائی تاسی په خپله دغه وینا سره د لویدیځو لیکوالانو هغو افترا گانو ته ځواب ویل غوښتل چی هغوی لیکلی دی» چی مسلمانانو په خپلو جگړو او جنگونو کښی بی رحمی او قساوت روا گڼلی دی ـ تاسی پدی هکله هیڅ فکر مکوئی ـ دهر قام لپاره یو داسی اخلاق مابه الامتیاز» خصوصیت هرو مرو وی چی د هغه په توسه هغه پېژندلای شی . د لویدیځو ملتونو له ټولو څخه څرگنده اخلاق نخښه دا ده چی هغوی د نرمی او مهربانی «شفقت» په خپلو ټولو دعوو کښی په بشپړه او غوڅه توگه درواغ جن او منافق دی .»

یوو عرب مسلمان دغونو یو فرانسوی مسلمانانو ته د اسلام د عظمت او پرمختگ په هکله خبری کولی ـ هغه په خپله وینا کښی دومره مخ په وړاندی لاړ چی تا به ویل دی په کوم

Marfat.com

عربي هیواد کښې د څواک او دبدبې د لاس ته راوړو په هکله وینا کوی . نوموړی وایاند په خپله وینا کښې دا خبره بیا بیا کوله چې اسلام خلکوته د جنګې څواک د پیدا کولو ، شوبلو «ټانګونو» جوړولو ، الوتکو «هوائی جازونو» او د نورو هر ډول ایجاداتو تیارو لو په لور دعوت او بلنه ورکوی - د ده دوینا په ترڅ کښې له دغو نو یو مسلمان شویو څخه یوکس ورته وویل : «زما وروره ! مونږ خوله لویدیځ تهذیب څخه د اسلام په لور یواځې له د امله راغلی یاستو چې هغه تهذیب د جنګونو او جنګې الاتو د جوړولو په توسه زمونږ اعصاب شل شوټ کړی دی - هغه زمونږه روح مړه کړی او د ماده پرستی په ذریعه ئې زمونږ شهوتونه ژوندی او تازه کړی او زمونږ انسانیت ئې پای ته رسولای دی - مونږ ته اوس ته اسلام د هغه روحانیت په هکله څه ووایه ، چې په هغه‌کښې مونږ انسانی شرف او روحانی ډاډ ترلاسه کړی او موندلای دی .

همدا ډول د سویس یوی پیغلې ، چه په پاریس کښې هستېږی او د روان شناسی یه علم کښې ئې د اختصاصی دګری اخستلو هلې ځلې کړی وی ، دی د یوی وینا په ترڅ کښې ماته داسی وویل : «زه یوه بې وزلې جیلی یم او زما د کورنی غړی ماته دومره پیسی نه را لیږی چې په هغو باندی زما پدی سوداګر او فاجر ښار کښې ګذاره وؤشی او خپل وخت پری باندی واړوم - پدی ښار کښې خو تاسی ګورئ چې له انسان څخه یو بد نفسئی څاور جوړیږی - ماله څان سره دا فکر او پریکړه وکړه چې په‌کوم‌کهول‌کښې مزدوری وکړم ترڅو زه‌خپلی

Marfat.com

ارتیاوی‌په واده زره پوره کړای شم - چې په نتیجه کښې زه د
ځان د مزدورۍ لپاره د یوې ختیځې کوږنې په لټه کښې شوم
ترڅو هلته په روحانی فضا کښې زما شرافت او انسانیت خوندی
پاته شي - همغه وو چې اوس ماته په یوه هندوه کورنۍ کښې د
څو ساعتونو لپاره مزدورۍ پیدا شوه خوزه په ډیره خواشینۍ
سره دا ویلای شم چې ما په دغه کور کښې هم خپل ورک
شوی شی پیدا نکړای شو - دا ځکه چې ما د هغوی روح هم
له شرافت نه خالی وُلیدله !»

دغه وو یو څو هغه مثالونه چې د لویدیځ توک د روحانی
ژوند د پلټون قصې پکښې بیان کړای شوی دی ، داسې روحانی
ژوند چې په هغه کښې له خپل مادی تمدن او تهذیب څخه د
را پیدا شو یو هغه ستړیا ، حیرانتیا پریشانی او اختناق څخه
خلاصون پیاؤ سوند لاى شي چې د هغوی جرړی د دغه مادی
تهذیب په توسه د دوی باطن ته هم رسیدلی دی ، او که تاسی
پدی هکله له یو داسی لویدیځ توک سره خبری وکړی چې هغه
د متوازن فکر اخلاق او روحانی شعور څښتن وی نوبیا به دغه
پورتنی حقیقت تاسی په خپله محسوس کړی .

**٥ - د وخت اصلی ارتیا—اسلام :**

ترکومه ځایه چې د مادی ژوند جوړول دی ، نو په دی هکله
لویدیځ تهذیب خپل ځان د کمال معراج ته رسولی دی -
خولکه څنګه چې تاسی وُ لیدل ، د ابواځې د مادی خوشحالیو
له واک ندی پوره چې انسان له بریالی توب او نیکمرغی سره
یوځای کړای شی - بلکه د دی لپاره یوبل داسی تمدن او تهذیب

ته اړتیا پاتی ده چی په هغه کښی له مادی پرمختګ سره څنګ په څنګ د توازن له په نظر کښی نیولو سره د روحانی پرمختګ او پیاوړتیا لپاره هم هلی ځلی روانی وی او له د غو د واړ واړ خونو څخه یو هم له خپلی پولی څخه تیری ؤ نکړی ترڅو په هغه بل باندی ناوړه اغیزه ؤ نکړی ـ ایا د دی ډول تمدن وجود ممکن دی او ایا داسی یوقام موجود دی چی دغه وجیبه پرځای کړای شی ؟ دلویدیځی نړی لپاره خودا ممکنه نده چی هغه د دغی مطلوبی د ندی په سرته رسولو کښی بریالی شی ـ ځکه چی هغه خواوس د خپل مادی ځواک او خپلو فتنو جوړولو د کار په اوج کښی ده ، خومګر سباته ئی چی ځواک مات شی د کوم امن ډاډ عزت او شرف د پاځون په خاطر چی کوم نړی وال قیادت ته اړتیاوی، دهغه اهلیت او صلاحیت به په لیویدیځو توغ پور ته دونکو کښی مفقود وی . پاتی شوه کمونستی نړی نو هغی ته خو د دی د ندی پرځای کول نور هم زیات ګران دی ـ ځکه چی هغه خزله سره تر پښو پوری په مادیت کښی ډوبه ده او هغی خوله همدی امله د روحانی ، دینی او اخلاقی شعائرو په خلاف د جنګ اعلان کړی دی ـ کمونستی تهذیب به هم لویدیځ تهذیب ته په لاس ورکولو سره د بشری نړی بدمرغی او سرګردانی نوره هم زیاته کړی ـ ان تردی چی یوه ورځ به د دغه تهذیب بلډنګ له خپلو ختیځو او لویدیځو معمار انو او اوسیدونکو سره ؤ نړیږی اوله خاور سره به خاوری شی .

او ترکومه ځایه چی د ختیځ د بت پالونکو او شرکی مذاهبو خبره ده ، هغوی هم دا خدمت نشی تر سره کولای ـ

څکه چی تهذیب همیشه پداسی یو صحیح فکری او علمی بنسټ دریدلای شي چی له او هاسو او خرافاتو څخه پاک او بېزاروی او بت پرستی خوپه خپل ذات کښی د پورتنیو شرائطوپه خلاف ده او برسیره پردی نن چی بشری نړی د کوم مطلوب تهذیب په لټه کښی ده او هغه چی د کوم روحانیت لپاره تږی ده هغه یو داسی ایجابی او بنسټیز روحانیت دی چی د انسان په وړاندی والی او پر مختګ کښی مرستیال او ممد ثابت شي - د دی په خلاف دلویدیځ ثنویت یو داسی سلبی او سنفی شي دی چی له ژوند څخه د تیښتی د لاری ښودنه کوی د حقوقو او وجیبو له پرځای کولو څخه ژغورنه کوی او د بشر سادی پرمختګ یو داسی نجاست ګڼی چی له هغه څخه ځان پاک ساتل او د هغه په خلاف جنګ کول واجب بولی ، په او سنی زمانه کښی له اسلامی آمت څخه پرته بل هیڅ داسی یو آمت نشته چی هغه مطلوب ثقافتی کردار ادا کړای شي او د راتلونکی «مستقبل» تهذیب توغ پورته کړای شي - او د دی لا ملونه په لاندی ډول دی -

لمړی : سونږ یوه داسی ګروهه «عقیده» لرونکی یو چی هغه د تهذیبو نو په منځته راوړلو او په ګروهیو «عقائدو» کښی له ټولو څخه زیاته یر مختللی ده .

او داپه نهائی درجه سپیڅلی ، روښانه ، لوړه او د بشپړ توحید ګووهه ده داګروهه د عقل د رڼاوی کوی او هغه د ورېږه پیاوړی ده چی مجهول حقایق‌ئی د معلوماتو په ډله کښی شمیرل کیږی ـ دا یوه داسی معتدله عزت منده د بشری اخلاقو

Marfat.com

گروهئی ده چی په نرمی او مهربانی کښی له افراط څخه ، په انصاف او نیا و کښی له تفریط څخه انسان ژغوری او همداډول هغه د محبت او د ندی پیژندلو په منځ کښی توازن پیدا کوی.
داگروهه د داسی قوانینو ماخذ دی چی د هغو مقصد تنگسه نه بلکه اسانی ده او په حکمت او مصلحت باندی مبنی ده - فردی مصلحت نه قربانوی - او په هغی کښی - په مجموعی حثیت انسانی مصلحت پرته له دی چی ملی او د چاپریال خصوصیات او ثابت ترجیحات پورته او برباد کړای شی، په نظر کښی ینول کیږی .

دویم : مونږ د یو و ایجابی او بنسټ لرونکی روحانیت وارثان یو - او دا یو داسی الهی روحانیت دی چی له یو سپاهی سره د جنگ په ډگر کښی ، له یو و کارگر سره په کارخانه کښی له عالم سره په مطالعه کښی ، له فلسفی سره په څیړ نه کښی ، له قاضی سره په محکمه کښی ، له مزدور سره په مزدوری کښی او له رئیس سره په ریاست کښی موندلای شی - د اله هر انسان سره وی - برابره خبره ده که هغه په فکر کولو کښی لگیا وی او که په توقو تکالو کښی - په حرکت کښی وی او که په سکون کښی ، په شپه کښی وی او که په ورځ کښی ، په تنگسه کښی وی او که په راحت کښی ، په روغتیا کښی وی او که په ناروغی کښی - مگر په هیڅ حالت کښی هم د هغه په لاره کښی بندیز او خنډ نه پیدا کوی ، بلکه هغه له یو و کمال څخه بل کمال «بشپړ والی» ته رسوی - دا روحانیت انسان ته خپل هغه خدای ورپه یادوی چی دی ئی پیدا کړ او هغه ته ئی مځکه پیدا کړه چی پری گرځیږی، دهغه بشریت خدای

چې دی ورسره هستیږی او ژوند کوی ، د هغو کائناتو رب چې دی د هغه یوه برخه ده او هغه رب العلمین چې دی ئې بنده او غلام دی .

دریم : سونږ وراندی هم دا ثابته کړی ده چې سونږ د دامی دوول تهذیب د پیدا کولو څواک لرو . زمونږ د تهذیب د بنه او له هغه څخه د منکرو له لوری برابره خبره ده که هر څه دوی ویلی وی ، خوله دی خبری څخه د انکار کولو څواک نلری چې هغه تهذیب داو سنی تهذیب په مقابل کښې دانسانانو لپاره څو چنده زیات درحمت او سعادت باعث ثابت شوی وودهغه له حقانیت څخه سترگی پټی کړی. زمونږ تهذیب داخلاقو په لوړتیا، عدل او انصاف په حکومت کولو' دروح په تازه ساتلو او د بشریت په دورونو او زمانو کښې یو بهترین ایډ ال ثابت شوی دی - نو کله چې سونږ په علمی او فکری اعتبار په تیرو وروسته پاتی زمانو کښې خوا کمن شوی یو چې داسی حیرانونکی تهذیب پلی کړای شو ، د او سنی علمی پرمختگ په دور او د انکشافاتو او ایجاد و نوپه زمانه کښې خو سونږ د دا دوول تهذیب په پلی کولو کښې له په خوا څخه ډیر څواک او اهلیت لرو .

سونږ کله چې د دغه سترگی ورته په لاره تهذیب واگی په خپل لاس کښې واخلو نو خلاته پرواز او پورته کیدل له الله تعالی څخه د انکار کولو دلیل نه گڼو . او دلویو وچو په پولو نصب شوی د توغند یو مرکزونه او تو غندی د بشری قاسونو دډارولو او دخپل نفوذ په دائره کښې دهغوی در اوستلو توسه نگرزوو. سونږ به بیار اډیو دگمراهی او سینما د دوکی ورکولو وسیلی وونگرروو، سونږ به بیابنځه د جنسی غریزو دتسکین وسیله

Marfat.com

ونګرزوو ، سونږ به یاد تهذیبي پرمختګ په نوم په قاموسونوک لوټ او تالان نه کړوو او نه به دهغوی پت عزت او شته له خاورو سره یو کړو ـ دا پورتنی هغه عوامل او یا د هغوی له ډیرو څخه یو دی چی هغوی سونږه داسی یو ځان ګړی آمت جوړ کړی یو چی د دی خبری وړ یو چی دلویدیځ تهذیب له ناکامی څخه و روسته د یو داسی نوی تهذیب توغ پورته کړو چی دانسان بد مرغی پای ته ورسوی او هغه ته دډاډ امن او تسکین او کراری یو ستره خوند وره ونډه ور کړای شی .

کله چی سونږ د خپلی ګروهی بنسټ په غور سره څیړو نوسونږ ګورو چی زمونږ اسمانی کتاب په ډاګه دی خبری ته اشاره کوی چی سونږ د بشر په قاموسونو کښی یوا ځی داسی امت یو چی د بشریت لپاره د مطلوب تهذیب د نده تر سره کولای شو . او دغه امتیاز او غور والی په توکم او یا جنس باندی مبنی ندی ، ځکه چی اسلام دا ډول څټیات «خرافات» د دوی ورځی لپاره هم ؤ نه منل ـ بلکه دغه پورتنی امتیاز په لمړی او د ویم عامل باندی مبنی دی لکه چی قرآن مجید سونږ ته وائی :

کنتم خیرا آمة آخرجت للناس تامرون بالمعروف و تنهون عن المنکر و تؤمنون بالله ه ۱

ترجمه : تاسی یو غوره امت یاست ویستل کړای شوی یاست د ګردو وګړو لپاره خلک نیکی ته دعوت کوی او له بدی

---

۱ـ د آل عمران سورة : ۱۱۰ آیات ، ٤ سپاره ، ۱۲ رکوع د سورة شمیره ۳ .

Marfat.com

ښځه ژغورنه کوي او په خدای پاک ايمان راوړي.

دغه پورتني آيات زمونږ د هغې ګروهې او اخلاقو په لور اشاره کوي کوم چي په مونږکي د غوره والي دامت صلاحيت پيدا کړي دي.

په بل آيات کښي دي چي :

«الذين ان مكنهم في الارض اقاموا الصلاة واتوا الزكوة وامروا بالمعروف ونهوا عن المنكر...(۲)

ترجمه : هغه وګړي چي که مونږ دوی ته په ځمکه کښې ځواک «حکومت» ورکوونو دوی لمونځ کوی او زکات ورکوي په نيکيو حکم او له ناوړو ښځه ژغورنه کوي.

پدې آيات کښي هم زمونږ د هغه تهذيب د خصوصياتو ذکر دی کوم چي هغه غوره انساني تهذيب ګرزولای دی.

قرآن کريم په يوبل ځای کښي فرمايلي دي :

«وكذلك جعلنكم أمة وسطا لتكونوا شهداء على الناس ويكون الرسول عليكم شهيداً...(۳)

ترجمه : او تاسي مونږ له دی أمله منځني است ؤ ګرزولی ، ترڅو تاسي په وګړو باندی ګواه شي او زما استاذی «رسول» پرتاسي باندی ګواه شي .

چي پدی ډول دغه آيات مونږ د يوی د ندی د توغ پورته کونکی ګرزولی يو، او هغه د نده داده چي مونږ د ګرد بشريت

---

۲- د حج سورة : ٤١ آيات ، ١٧ سپاره ، ٦ رکوع د سورة شميره ۲۲ .

۳- د بقری سورة : ١٤٣ آيات ، دويمه سپاره ، ١٧ رکوع د سورة شميره ۲ .

Marfat.com

قیادت اومشری وکړو اوهمیشه موئږ هغوی ته د حق اونیکمرغی په لور لارښود نه وکړو ، دغه مسئولیت ترکومی تاکلی زمانی او یا تاکلی توکم پوری محدودندی.

هغه وخت چی موئږ د فطرت ژغ ته د منلو سرۀ غخاوه او د دغی دندی توغ سوپورته کړنو موئږ بیا د امن ، هدایت او د رڼا د پړاو په لور بشریت ته لارښودنه وکړه ، خو بیا موئږ د دغی و جیبی څخه په لاس اخستلو تیښته وکړه ، خو دغه سبارک آیات موئږ بیا هڅوی چی دغه توغ د دویم ځل لپاره پورته کړو او د دویم ځل لپاره بیا هغه روښانه څراغ پورته کړو چی د هغه په توسه هغه قاسونو خلاصون تر لاسه کړی چی د ځان غوښتنی ، پریشانی ظلم او د مهلکو مایوسیو په تیارو کښی تندکونه خوری او له ځان وژنی څخه پرته د نجات بله هیڅ لاره نشی پیدا کولای . وکړی یا په عادی وسایه او یاد زهرو په گوټ کولو خپل ځان وژنی او قاسونه دا توم اوهائیدروجن بمونو په شکل کښی د ځان وژنی وسائل تهیه کوی .

٦- زموږ ثقافی ګاندی : «مستقبل»

زموږ له خوا څخه د یوو نوی تهذیب د دندی پرځای کولو کومه نظریه چی ما وړاندی کړه بنائی هغی ته دوه ډلی په سپک نظر ؤ گوری ، لمړی هغه ډله ده چی هغه لویدیځ تهذیب د خپل ځان غلامه گرزولی ده او هغوی د خپل ملت په هکله دومره اعتماد هم نه لری چی له لویدیځ سره سیالی وکړی د اخولا څه کوی چی، دګر د بشریت لوړ قیادت سمبال

Marfat.com

کړی . دا هغه وګړی دی چی د هغوی په توسه زمونږ امت له بی شمیرو کړاوونو او فکری عیبونو سره مخامخ شوی دی .

خو مونږ د الله تعالی مننه او شکر کوو چی زمونږ د امت دغه پاتکی «طبقه» د خپل شمیر له لحاظه ورځ په ورځ قلج او مخ په ورکیدو ده «او د دی پاتکی د ورکیدو» ځینی بواعث اوعوامل د او سنی تهذیب خپلی ناپوهنی او هغه جنایتو نه دیٔ چی د خپلو پیروانو او د کمزورو قامونو په خلاف د هغو مرتکب شوی دی. او دویم تریوو ځایه زمونږ د امت هغه فکری او سیاسی ویښتیا ده چی د امید لرونکو نتائجو خبر را کوی ، د لویدیځ ښکیلاک د سیاسی مری توب دوران اوس پای ته رسیدلای دی ، او له هغه سره یو ځای زمونږ د هغو سیاسی مشرانو دوران هم پای ته رسیدلای چی هغوی د ښکیلاک «استعمار» پای ته رسیدل ناممکن ګڼل ، چی پدی دول د «مهذب» لویدیځ تهذیبی مری توب هم په ډیر نږدی کښی پای ته رسیدونکی دی او مونږ به د راړه او په خوانی طرز له «منورو او آزاد خیالو» لیډرانو څخه هم خلاصون تر لاسه کړو ، چی هغوی په حقیقت کښی د ناپوهی ، مری توب د پخ ذهنی له شرموونکو ښکارندو یو څخه پرته بل هیڅ شی نوو .

دویمه ډله هغه ده چی هغه دا خبره خوښنی چی لویدیځ تهذیب به د خپل شر او فساد د ډیروالی له امله هرو مرو له منځه ځی ، خو هغوی زمونږ په خیر دا اسکان نه منی چی مونږ کنبی د یو نوی تهذیبی یون بنسټ کیښودلای شو ، دا ځکه چی زمونږ او د پرمختللو متمدونو تولنو په منځ کښی ډیر توپیردی .

نو له دی امله د هغوی په وړاندی د تهذیبی قیادت خبری د «این خیال است و محال است مترادف دی».

خو سونږ کله چی د دی موضوع په هکله خبری کوونو دا دعوه نکوو چی په لسویا شلویا د مثال په ډول په راتلونکو پنځوسو کالو کښی به د لویدیځ تهذیب د پای ته رسیدلو او سونږ ته د تهذیبی قیادت د لیږدی د لو معامله د بشپړیدلو پړاوته ؤ رسیږی ، ځکه د تهذیبونو د نړیدلو او قیام ځینی فطری پیاوړی قوانین دی چی پرخپل خپل ځای ټینګ ولاړوی «چی د هغو له منځه تلل او راتلل ډیره موده انتظار غواړی» خو بیاهم هغه لکه د هغی پیاوړی کلا په څیر دی کله چی د هغی په بنسټ کښی کوم زیان راشی نو هغه له ډیری مودی پوری لیدونکو ته دا ښئی چی هغه په بشپړه پیاوړتیا او ټینګښت سره ولاړه ده ، پداسی حال کښی چی هغه له دغی ظاهری پیاوړتیا سره سره نړیږی او نړسوده نوی تیره شوی چی په کنډواله بدله شی .

سونږ له خپل لمړنی دوران څخه تراوسه پوری څوپړاوو نه تیرکړی دی چی په فطری ډول د هغو د هرنوی پړاو زمانه له په خوانی څخه کمه وه . او کله چی سونږ په هوښ کښی راغلو نو خپل ځان مود یو خورا ناوړه ښکیلاک په پنجه کښی ښکیل شوی ؤ موند ، سونږ ډیر هیوادونه له استعمار څخه خلاص کړل ، او انشاء الله نور پاتی هیوادونه به هم ډیرژر له هغه څخه آزاد کړو . اوس سونږ هغه لاری او گودری زدکړی او له هغو سره موسم د خپل ژوند تنظیم کول پیل کړی دی کومی لاری گودری چی نوی تهذیب ضروری گڼلی دی او دا هغه تهذیب دی چی پرون ئی خپل ځان زمونږ د تقدیر مالک

ګانه او زمونږ هیوادونه ئې د تیری په صورت کښې ترخپلی سلطی لاندی وروستلی وو . بیا نو مونږ د څواک د تر لاسه کولو په لاره چټک ګامونه اخستیل پیل کړل ، او د خپلو طبیعی وسائلو د په کار اچولو په ذریعه مو د دی زیارو ویست چی په تصنعی شیانو کښې مونږ باید لویدیځ ته د ګدائی لاس اوږد نکړو ، اوس زمونږ هلی ځلی دادی چی مونږ د مهذبو ملتونو په وروری کښې ګډاو له هغوی سره په اقتصادی څواک کښې برخمن شو. پدی مرحله کښې مونږته لازمه ده چی مونږ د ځان لپاره یوداسی تهذیبی معیار ؤ ټاکو چی په هغه کښې نوی تمدنی کړاوو نه او زمونږ ځان ګړی حالات او ارتیاوی دواړه په نظر کښې نیول شوی وی .

همدا ډول زمونږ لپاره دا هم ضروری ده چی مونږ د دی پړاو له پای ته رسیدلو څخه وړاندی د خپلو راتلونکو پړاوو نو خپلی عملی کړښه او تګلاره ؤ ټاکو ، آیا مونږ په راتلونکی کښې هم د اوسنی تهذیب له سیوری لاندی ژوند وکړو او په هغو وګړو پسی به منډی وهو چی څو سوه کلونه له مونږ څخه مخکښې شوی دی ، تر څو پدی ډول بې وزلی او وروسته پاتی کیدل زمونږ چاپریال راته احاطه کړی او زمونږ هیله دیواځی‌همدومره‌وی چی‌مونږدی په دغونوپریو مختللوهیوادونو کښې شمیر او د هغو په څیر شو؟ او یا مونږ باید د ځان لپاره د عمل یوه داسی لاره ؤ ټاکو چی هغه هم زمونږ د پرمختګ له پاره د پوړی کار ورکړی او هم مونږ د اوسنیو سهذبو ملتونو له ربړونو کړاونو انحطاط او اضمحلال څخه وژغوری ؟

مونږ د واقعی امر له نظره پدی باندی قدرت نلرو ، چی

Marfat.com

مونږ د په راتلونکو څوکالو کښې د مادي ځواک له نظره هغه معيار ته ؤ رسيږو ، کوم ته چې اوس لويديځ رسيدلای دی ، او دا کومه اسانه خبره نده چې په همدی وخت کښې د مصنوعي سپاري او ياد ستروو چوله پولو څخه او وبنتونکی توغندی له مونږ سره وی ، او بالفرض که مونږ بياهم په څوکالو کښې دا بريالی توب تر لاسه هم کړو ، نو بيا به هم لويديځ له مونږ څخه نور هم وړاندی تللی وی ، پس صحيح طريقه داده چې مونږ د خپل ځواک د پياوړتيا په خاطر د خپل هاند «توان» په اندول زيارهم ؤ باسو او له د سره سره د خپل ځان او ټول بشريت لپارهٔ يو نوی تهذيبی معيار هم جوړ کړو ، حقيقت خو دا دی چې مونږ د تهذيب د ډول په انتخاب کښې بشپړه آزادی کولای شو او له مونږ سره د اوسنی تهذيب په ناخوالو ، مشکلاتو اوخطرونو کښې د فکرکولو او تحليل زيات وخت دی. زمونږ له دا ډول دريځ غوره کولو څخه هدف داندی چې مونږ د په اوسنی پړاو کښې داوسنی تهذيب له تسلط څخه ځان خلاصی کړو ، ځکه چې دا کار هيڅ چاره نلری ، بلکه زمونږ هدف دا دی چې مونږ په راتلونکی پړاو کښې له دی بلا څخه ځان خلاص کړو او د هغې له زيان څخه محفوظ پاته شو ، او د دی هدف د تر لاسه کولو لاره زمونږ لپاره بيخی آواره ده ، خو پدی شرط چې مونږ په خپلی گروهی او اصولو ايمان ؤ ارو او په خپلو هغو موازينو او شعائرو باندی زمونږ يقين وی چې د هغو ريښتين والی صحت او حقانيت ازموينو هم ثابت کړی دی ، او چې له هغو څخه زمونږ د تهذيبی بهيرترنگ صورت مومی ، زمونږ په

خو واسترا است کښې لا تر اوسه د همت او رفعت د سکروټو وړانګې او شغلې ندي سړې شوي ، او په هغه کښې د سرپلورنې او سرتيرې بل شوي اور ندي سوړ شوي ، او د يرغلګرو له پرلپسې ګذارونو خوړلو او د تيګانو د تپونو له زغملو سره سره هغه د ظلم او استکبار په وړاندې د تسليم سرکښته نکړ.

نو که چيرته سونږ دغه ارزښتنا که دنده تر سره کړه بيابه نو سونږ ؤکتل شو چې د بشريت د تاريخ دنوي دوران مخ سونږ يوو خورا ارزښتناک لورې ته اړولي دي - چې پدې تو ګه داسيا او افريقا په دو وچولويو «براعظمونو» بهسونږ د خپلې روحانې او اخلاق د بدې داسي ثابت رول و لوبوو چې هغه به د نورو هيوادو نو په پرتله زيات نيمکرغه دامن او ډاړ زيات وړؤ ګرځوو او يا به هغه وخت هغه سترې او ستومانه لويديځ همزمونږ لور ته هروسړو خير شي چې سمه لاره ئې ورکه کړې ده او له سونږ څخه به هغه شي زده او ترلاسه کړي چې د هغه په توسه خپله بد مرغي او غم نصيبې څه ناڅه له ځان څخه سپکه او کمه کړي - او هغه ورځ چې د قيادت واګې زمونږ لاس ته راشي ، او مخکښې له دې چې څوليونې وګړې بشريت پاې ته ؤرسوي، مونږ به د بشريت په ګرځولو کښې بريالي شو .

خو له دې ټولو خبرو سره سره زما په زړه کښې هميشه دا خبره چورليږې چې د تاريخ د حوادثو او پيښو روان بهير له هغه ترتيب سره سم نوې کوم چې ليکوالا نو په خپل ذهن کښې جوړ کړې وي - څوک پوهيږې چې سبابه څه کيږې ؟

ځکه چې دا دنيا له ناڅاپې څخه ډکه ده - د مځکې په يوو

گوته کښی یوه واقعه پیښیږی او هغه د مځکی د بل گوټ او سیدونکی متاثر کوی ـ خو دا خبره د دی مانع نده چی مونږ د د مستقبل په هکله اندیښنه او فکرو کړو ـ الله تعالی تاریخی پیښی د مفکرینو له نظریاتو او د مصلحینو له دعوت سره سمی منځته راولی.

په هر حال ددی کتاب موضوع هغه ویناوی او تقریرونه دی چه ما د دمشق د راډیو له استیشن څخه د ۱۳۷۵ھ کال د محرم د میاشتی په ۲۰ د ۱۹۵۵ کال د ستامبر له اتمی نیټی سره سم او د همدغه هجری کال د ربیع الثانی په ۲۳ د ۱۹۵۵ع د دسامبر له ۱۵ سره سم خپری کړی وی ـ او په هغو کښی ما د خپل اسلامی تهذیب د څو ځلیدونکو اړخونو څو زړه وړونکی ځونی وړاندی کړی وی دا یو داسی اړخ دی چی د هر منصف مزاج د نظر څښتن زړه پورته کوی.

ما د خپلو دغو وینا وو په ترڅ کښی نه د دغو تهذیبی ښکلاوونه په ټولو ابعادو رڼار اچولی او نه می د عملی تحلیل او تجزئی هڅه کړی ده ـ دا ځکه چه زه داسی اوریدونکو ته مخاطب وم چی په خپل منځ کښی د هغوی ذهنی او فکری سطح یو له بل څخه مختلفه وه ـ له دغو وینا وو څخه زما هدف دا وو چی هغه وگړی په دغو وینا وو خپل غوږونه خلاص کاندی چی خبره اوری او یا د هغی غوره اړخ منی ـ او بیا په خاصه توگه هغه نیکمرغه او بختور ځوان او د فکر څښتن چی هغه په الله تعالی ایمان لری او په خپل تاریخ و یاړ او یقین کوی ـ خو ما خپلی دغه وینا وی جاری ونه ساتلای شوی ځکه چی په هغه

Marfat.com

وخت کښي ما لویدیځو هیوادونو ته دیو و عملي سفر لپاره تیاري کا وو چي له همدی امله بیا په ۱۹۵٦ مسیحی کال کښي هغه پای ته ورسیدل ـ که نه نو ما غوښتل چي دغه ټول ډیری خوښونکې پیښي بیان کړم. دا زمونږ په تاریخي تهذیب کښي د بشریت هغه نموني دي چي په مثبت روحا نیت ګاڼلي شوي دي ـ او دا په الله تعالی باندی د ایمان لرلو ، د حق د پلوی توب ، د نفس د سپیڅلتیا ، د روح د تنویر ، د ښه خوی ' د انساني همدردی اؤ عادلانه حکمراني جلیل القدر مثالونه دي. او دغه ټول صفتونه په هغوی کښي له دي سره سره وو چي هغوی د تهذیب او تمدن په هلوځلو کښي بشپړه ونډه اخستلي او د ژوند په ډګر کښي ئي په بشپړ ډول کار کړی دی. له هغو څخه ځیني پادشاهان هم وو ، عالمان هم وو ، فلاسفه او رهبران هم وو ، سوداګران او حاکمان هم وو ، سړی هم وو ، او ښځي هم وي' سپین ږیری هم وو ، او ځوانان هم ، بې وزلي هم وو او بډای «غني» هم وو ـ دا د بشریت د کمال داسي نموني وی چي د فیلسوفانو او پوهانو د تخیل د دنیا خیالي کردارنه وو بلکه هغوی د ځمکي پرمخ له ځکه والو سره ژوندیدل.

دا دي مثبت روحانیت داسي زړه وړونکي مثالونه دي چي د هغو په توسه زمونږ تهذیب له ګردو او سنیو او په خوائیو تهذیبونو څخه ځانګړی او ممتاز دی ـ د ارښتیا ده چي تاریخ له داسي یو ځو روحاني وګړو سره اشنادی چي هغه په مختلفو قامونو او بیا په خاصه توګه په لري لمرختیځ کښي پیدا شوي دي۔ او اوس هم داسي وګړي موجود دي چي پرهغوی باندي د روحانیت

Marfat.com

یو سپیڅلی تمایل غالب دی - خو د تهذیب په هکله د هغو ټولو دریغ منفرد او منفي وو. ځکه چې هغوی له ژوند څخه د نفرت او له تهذیب او تمدن څخه د تیښتي د هنگامی په نتیجه کښې پیدا شوی دی. د هغوی ژوند په بت خانو د غرونو په سمڅو او پـه د ښتو کښې تیر شـوی دی - زمونږ د تاریخی تهذیب نمونی هغه دی چې هغوی د ژوند په شخړه کښې ننوتل او د هغه د ښائسته کولو او جوړیدلو هلی ځلی ئې وکړی. او په دغو هلو ځلو کښې ئې د ځان او مال هر ډول قربانی ورکړی دی. او د تهذیبونو په تاریخ کښې زمونږ د حیرانونکو نمونو د حسن او جمال اصلی راز همدغه دی.

## د دی کتاب د چاپ او خپروني موخه

اوس د هغو تقریرونوله خپروو څخه 'زمونږ' هدف دادی چې سترگی د هغو زړه خوښوونکو نمونو لوری ته واړ ولای شی ، چې د هغوی شته والی ددی خبری دلیل دی چې په مونږ کښې له او سنی تهذیب څخه د لوړ او بشپړ تهـذیب د جوړ ولو صلاحیت موجود دی ، او د خپلی توانی نوی .تو کم ته په هغه ډول د یوو تهذیب د پلی کولو ښودنه وکړو کوم چې د دوی پلرونو او نیکونو جوړ او پلی کړی وو . او دا وخت ددی یادونی لپاره خو را سوزون دی ځکه چې زمونږ ملت په پوره جوش او خروش او په ډیره مینه او لیوالی سره د تاریخ په یوه نوی دروازه کښې قدم ږدی ترڅو هغوی یو نموره او لوړ راتلونکی جوړ کړای شی. په مسلمان امت کښې تر او سه پوری ګله چې د خپلو پلرونو مشرانو د شرف، لوئی او سر لوړیا خبری

و اوريدل شي نو په هغوى کښې سخت پياوړې حرکت پيدا کيږي او هغه په ډيرى تيزى سره د عمل لپاره چمتو کيږي.

ځوانانو ته زما د درد خدايه خبر ورکړه

او بيا دغو دشاهين‌بچو ته پراووزر ورکړه

لويه خدايه زه له تانه دغه غواړم

چې زما رڼا دسترګو عمومي لکه د لمر کړ

د دغو زړه خو ښوونکو مناظرو له وړاندې کولو څخه زما هدف دا ندى چې زمونږ د تاريخ هر څه ځليدونکى ښايسته او روښانه وو، ځکه داسى هيڅ يو تاريخى تهذيب نشته چې دهغه له توغ پورته کوونکو څخه لغز شونه نوى شوى - بلکه له دى کار څخه زمونږ هدف يواځې د دى خبرى ثابتول دى چې د پاينبت لرونکى بشريت د څرګندو نى اړخونه زمونږ په تهذيب کښې زيات پياوړى او له نورو څخه غوره دى. او همدارنګه له د کار څخه زمونږ دا هدف‌هم دى چې د هغونقادانو د الزامونو غندنه هم وکولاى شي چې زمونږ په تهذيب کښې هغوى ته له عيبونو او زيانونو څخه پرته بل هيڅ شي په نظر نه ورځي او هغوى دى خبرى ته ملانړلى ده چې په غوځه توګه زمونږ تهذيب د تهذيبونو له لړى څخه ؤ باسى. او يو هدف مى داهم دى چې د هغو وګړو غولوونکى چلونه ناکام کړاى شي چې هغوى هڅه کوى زمــونږ د نوى توکم له سترګو څخه تاريخى نښانى غيبى کړى ترڅو هغوى زمونږ نوى توکم هم له خپل ځان سره ډوب او لاهو کړى.

ځکه چې هغوى خپل کوم تهذيب ته زمونږ د نوى توکم

Marfat.com

د جذبولو په لته کښې دی د هغه وژونکی څپې په بشپړه توگه څرگندی او راپورته شوی دی او د دغه تهذیب که په کومه یوه پانه‌کښې فضائل او ښیگڼې وی نوپه زرگونو نوری پانی‌ئی له زیانونو او رذائلو څخه‌ډکی‌دی - د استعمار او د هغه د تالی څټو کوډا گیانو هغه اصلی سوځی د کوم لپاره چی دوی هلی ځلی کوی دا دی چی هغوی همیشه د لویدیځ تهذیب د تعمیم او پیاوړتیا سندری ووائی .

ما پیل کړی دی تامی ئی بشپړ کړی .

ما پدی کتاب کښې د خپل تهذیب د غوره کړای شویو برخو یو ځی څو ټونی وړاندی کړی دی ! خوږه هیله لرم چی زمونږ د تهذیب د تاریخ مطالعه کونکی به ، دغه لمړنی سوغات په پوره تفصیل او توضیح سره د بشپړوالی پړاوته ؤ رسوی - ترڅو زمونږ نوی تو کم ته هغه تهذیب د خپلی حقیقی ښی له ښکلا او بشپړ سینگار سره وړاندی شی چی په تیره زمانو کښی ئی دنور وړانگی او پلوشی هر لورته خپری شوی وی او په منځنیو پیړیو کښی ئی د ژوند سیوی پو کړی وه - کوم ملت چی د خپلی ماضی له عظمت سره سره له خپلی ماضی څخه نا خبره او سیری هغه هیڅ ندی او کوم ملت چی له خپلو خصوصیاتو او فضائلو څخه اجنبی وی ، هغه بیخی مستقبل ناری ، ځکه د کوم ملت او تهذیب چی خپلی ماضی سره اړیکی ټینگی وی نو د هغه بنسټیز خصوصیات د یو بل تهذیب د جوړولو سبب گرځیږی - د دامی بی غوره ، تمبلو او بی کاره توکونو دا کاروی چی هغه له خپلی ماضی څخه ځان خبروی او د هغی په یادولو سره ویره

ژړا او انګولا کوي ـ او دا خبره هیروي چي دخير او برکت له سر چینې والې سره سره له خپلې ماضي سره د تجاهل او سپکاوي دریغ لرل د ناپوهانو او کینه‌کښو خوی دی ـ خير او برياليتوب پدی کښي دی چي مونږ په خپل اوسنی تعمیر کښي له خپلو په خوانیو خزانو ښځه استفاده وکړو ترڅو زمونږ پاڅون بريالی وی ـ او زمونږ راتلونکی سرلوړی او ګټو روی او د اُمت دبقا او پاته کیدلو اسباب په دغه هر اړخيزو هلو ځلو کښي برخمن او ګډوی ـ چي پدی توګه زمونږ په خواني عظمت او شرف له راتلونکی عظمت سره په یو ځای کولویو رنګ او یو مزاج شی ـ او همدغه ډول زمونږ بهیر د خپل پړاو په لوری تلونکی وی ـ د ماضي او مستقبل کړی یوه له بلې سره جخته وی او عمارت مخ په بشپړتیا روان وی ـ او حقیقت دا دی چي د ارادو بشپړتیا د خدای پاک په رضا پوری تړلی ده او هماغه توفیق ورکونکی‌دی.

مصطفی حسنی السباعی

Marfat.com

# لمړی باب

## زموږ د تهذیب خصوصیات

ځینو لیکوالانو د تهذیب تعریف دا ډول کړی دی چې هغه یو داسې ټولنیز نظام دی چې له بشر سره د ثقافتي کټو په لاس ته راوړو کښې په زړه پوری مرسته کوی - تهذیب له دغو څلورو بنسټیزو غړو څخه ترکیب شوی - بلکه والی «اقتصادی» ذرائع ، سیاسی نظم ، او د اخلاق پټیو ، ضوابطو ، علومو او فنونو پیاوړتیا - همدا ډول د تهذیب د تنظیم او پرمختګ لپاره ځینې جغرافیوی ، اقتصادی او روانی عوامل هم ضروری دی - دمثال په ډول لکه دین ، ژبه زد کړه او روزنه - او همدارنګه د تهذیب د زوال او ړنګیدلو لپاره هم ځینې لاملونه شته چې د هغو مثبتو عواملو په خلاف دی کوم چې دهغه دټینګتیا او قیام لپاره دی. له دغو ړنګونکولا ملونو څخه ځینې دا دی . اخلاق او فکری انحطاط ، د نظم او قانون پریشانتیا ، د ظلم او بې وزلې خپریدل - د بد مرغی او بې پروائی عمومیت او د مخلصو او لائقو لارښودونکو نشت والی - د تهذیب قصه له هغه وخت څخه پیل کیږی کله چې انسان په مځکه کښې مشت والی تر لاسه کوی - د تاریخ کړنی «حلقې» پراپسې یوه پربلی پسې تړلی دی چې هغه هر ملت له خپل ځان نه وروسته راتلونکو ملتونو ته لیږ دوی - تهذیب په هر تو کم او پړی کښې له پوړتنیو عناصرو څخه منځته را دروسی - او بنائی هیڅ داسې یو امت هم تیر شوی نوی چې هغه د تهذیب په تاریخ

Marfat.com

کښې څه نا څه پانې نوې اضافه کړې ـ خو کوم شی چې یو تهذیب له بل څخه ممتازوي هغه د هغو بنسټونو پیاوړتیا ده چې په هغو باندې دې ولاړوي او هغه ګټې لښې نښانې دې چې د همدغه تهذیب په توسه ټول بشریت ته رسیږي ـ کوم تهذیب چې په خپله د نده او پیغام کښې زیات ټولنیز او عالمګیر' او په طبیعي توګه زیات بشر مل او په تمائلي توګه زیات اخلاقي وي او هر څومره چې د خپلو اصولو له نظره زیات حقیقت پال وي، همغو مره به په تاریخ کښې په ر ...ې زیات درنښت او نه فنا کیدونکې میښت والی ترلاسه کړي .

زمونږ تهذیب هم د بشري تهذیبونو د څنځیر یوه کړې ده . له هغه نه وړاندې هم تهذیبونه تیر شوي دي او له هغه څخه وروسته به هم جوړ او پلې کیږي ـ زمونږ د تهذیب د جوړ ښت هم څو عوامل وو او د هغه دانحطاط هم څو لاملونه دي، خولا ملونه او عوامل د دغو وینا وو له لړې سره کوم اړوند نلري ـ ځکه چې زما وینا پدې دائره پورې محدوده ده چې کله هغه جوړ شو نو څه وو ؟ خو څرګنده ده چې زه د دغه تهذیب په جاذبیت او مقبولیت باندې رڼا واچوم ، ماته ښائي چې د بشریت د پرمختګ په تاریخ کښې دتهذیب چې کومه ستره ونډه اخستلې ده ، د عقائدو او علومو، ادب او فنونو د حکمرانی او جهان جوړوني په ډګرکښې ده په بشري ملتونوچې کوم همیشني احسانونه کړي دي ، پدې ځای کې د هغو په هکله هم څه یادونه وکړم چې له همدې کبله ویلای شم چې زمونږ د تهذیب له ټولو څخه څرګند خصوصیات چې د مطالعه کونکو نظر خپل ځان ته اړوي په لاندې ډول دي :

Marfat.com

**لمړی خصوصیت :**

دا تهذیب د توحید د گروهی په بنسټ ولاړ دی ـ او دا په گردو کښې لمړنی تهذیب دی چې خلکوته دیو الله(ج) په لور بلنه او دعوت ورکوی، دهغه الله(ج) په لور چې له هغه سره د هغه په پادشاهی او حکومت کښې هیڅوک شریک ندی ـ یواځې باید د هغه عبادت و کولای شی او یواځې هغه خپل موخی او د پناه ځای وګرځولای شی «ایاک نعبد وایاک نستعین»۱ او همغه ذات دی چې عزت او ذلت ورکوی ، ښېنه او عنایت د هغه په لاس کښې دی .

په اسمانونو او مځکه کښې هیڅ یو داسی شی نشته چې د هغه له قدرت لاندی او د هغه په گورت کښې نوی ـ په زړه او دماغ کښې د توحید د مقتضا او مفهوم په پرځای کولو کښې دا فلسفه ده چې د انسان مقام ئې لوړ کړ او وګړی ئې د سلاطینو او امیرانو ، پاپائیت او برهمنیت له پنجو څخه ازاد کړل ـ د حاکم او محکوم خپل منځی اړیکی ئې سمی کړی او سترګی ئې د هغه یو الله (ج) لوری ته واړولی چې د گردو مخلوقاتو خالق او د ټول جهان رب دی .

په اسلامی تهذیب کښې ددی گروهی ډېره زبردست تاثیر پر ووت دی چې هغه له مځکښې نیو او وروستنیو ټولو تهذیبونو څخه ممتاز کړای شو او په خپلو عقائدو ، نظم او ډسپلین شعر او ادب کښې د بت پرستی له گردو ادابو او مظاهرو څخه

---

۱ـ ترجمه : خاص تا ته مونږ عبادت کوو او خاص له تا څخه مرسته غواړو

Marfat.com

سپیڅلی گڼل کیږي. سره له دې هم، په اسلامي ټولنو کې د ...  بخلی کړای شو ـ او همدغه لامل دی چی مسلمانانو دا لیدلي دي
او د یونان د نورو مشرکانه ادب دپټیو له ژباړنی څخه ژغورنه
وکړه او د ډول او سنگار، او د تجملی شیانو د جوړولو او د
تعمیر په فن کښی له مهارت لرلو سره سره ئی د بت جوړونی او
تصویرونو په معامله کښی ئی پرمختگ ونکړه. اسلام دبت پرستی په
خلاف په ډاگه د جنگ اعلان وکړ او د بت پرستی د هر
ډول مظاهرو لکه د لیډرانو، صالحینو انبیا وو او فاتحینو د
مجسمو جوړولو اجازت ئی ورنکړ ـ پداسی حال کښی چی دا ډول
مجسمی په وړاندی او نیو اوسنیو تهذیبونو کښی په څرگند و
بنکارندویو «مظاهرو کښی شمیرل کیږی ـ دا څکه چی له دغو
تهذیبونو څخه یو وهم په توحیدی گروهه کښی د اسلام
مرتبه او مقام ندی ترلاسه کړی.

د توحید دغی گروهی د وحدت هغه رنگ ترلاسه کړ چی
د هغه سمبول زمونږ د تهذیب په گردو اثارو عواملو او
تفصیلی مظاهرو باندی لگیدلای دی ـ له همدی امله دلته په
پیغام او نصب العین کښی وحدت دی ـ په قانون جوړونه
کښی وحدت دی ـ په ټولنیزو اهدافو کښی وحدت دی ـ د
ژوند په مجموعی هئیت کښی وحدت دی دژوندون په وسائلو کښی
وحدت دی ـ په فکری ډول وحدت دی، ان تر دی چی د
اسلامی فنونو مطالعه کوونکو د مسلمانانو په مختلف ډول فنی
تخلیقاتو کښی په ذوق اسلوبو کښی هم د وحدت او گډون
مشاهده کړی ده.

د اندلس د پیل د غاښ جوړه کړای شوی توته، په
مصر کښی جوړ کړای شوی رخت، په سوریه کښی له ختو

Marfat.com

څخه جوړ کړای شوی لوښی «ظروف» او د ایرانی زیر موزنګ وهلی جوړی کړای‌شوی ګانی. دا ټول سره له دی چی دشکل او صورت له نظره متنوع دی مګر په هغو ټولو باندی یو ډول لګول شوی چاپ معلومیږی .

دویم خصوصیت :

زمونږ د تهذیب د ویم خصوصیت دا دی چی هغه د تمایل او رجحان له نظره په ګر د بشریت چور لیدلی او حاوی دی او د خپلی د ندی او پیغام له نظره جهانی او عالمګیر دی لکه چی قرآن مجید د نسل ، کورنی او هیوا د له‌تنوع سره سره د بشری وحدت اعلان پدی الفاظو کښی کړی دی .

یآیها الناس انا خلقنا کم من ذکر و انثی وجعلنا کم شعوباً و قبآئل لتعارفوا ان اکرمکم عندالله أتقکم .

۱ - د حجرات سورة ۱۳ ــ ایات ۲۶ سپاره د سورة شمیره ۴۹ رکوع ۳

ای خلکو ! ما تا سی له یو نر او یوی ښځی څخه پیدا کړی یاست او بیاسی تاسی په قامونو او قبیلو د دی لپاره و ویشلی چی یو بل سره ؤ پیژنی او که نه نو د خدای پاک په وړاندی له تاسی څخه خو راستر او الله ته نیږ دی هغه څوک دی چی تقوی‌ لری »

قرآن مجید که چی پدغه پورتنی اعلان سره د بشری نړی د وحدت بنسټ په حق ، خیر او تقوی‌» له خدای څخه په ویره» باندی کینښو د نو د هغه د تهذیب په مزی کښی د ګردو ټولنو او قامونو ذهین او خیرک وګړی ؤ ویډل چی پرهغوی

باندی اسلام د خپلو فتوحاتو توغ ؤرپاوو همدغه لامل دی چی نور تهذیبونه هر یو یواځی د یو و توکم او د یو و اُمت په نومیالیو ویاړ کولای شی ، مگر اسلامی تهذیب د هغوگر د و تولنو او قامونو په شازلمیانو ویاړ کولای شی چی هغوی په گډه سره د تهذیب د دغی مانی په جوړولو کښی یو له بل سره مرسته کړی ده ـ ابوحنیفه ـ مالک ـ شافعی ـ احمد ـ خلیل سیبویه ـ کندی ـ فراء ـ فارابی ـ ابن رشد او د دوی په څیر نور مشاهیر سره له دی چی قامونه ئې جلاو وخو د اتول د اسلام هغه بچونی وو چی د هغوی په توسه اسلامی تهذیب د بشریت په وړاندی د سلیم فکر غوره نتائج او گټی وړاندی کړی دی .

دریم خصوصیت :

زمونږ د تهذیب دریم خصوصیت د ادی چی هغه اخلاق اصولو ته په خپل بشپړ نظام او تولو مصروفیتو نو کښی لمړی مقام ورکړی دی او له د غواصولو څخه هیڅکله هم مخ اړونه نده شوی او هغه هیڅ کله هم د حاکمانو ، تولنو یا وګړو د مادی گټو ذریعه ندی گرځیدلی ـ حکومت په علومو او فنون ، قانون جوړونی ، سوله او جګړه ، مدنی او اقتصادی معاملا تو کښی ، همیشه د اخلاق اصولو تطبیق په نظر کښی نیو لای دی ـ بلکه پدی هکله چی اسلامی تهذیب د کمال کوم پراو ته رسیدلای دی ـ هغه ته هیڅ یو نوی تهذیب ندی رسیدلای او پدی ترڅ کښی دغه تهذیب چی کوم اثار پری ښودلی دی هغه حیرانوونکی دی، بلکه دا یو داسی ځانگړی

Marfat.com

تهذیب دی چی د بشریت لپاره ئې د سوچه نیکبختۍ او سعادت تضمین کړی دی او هغه ئې د بد مرغۍ او بدبختۍ له سیوری څخه هم ژغورلای دی.

څلورم خصوصیت:

د دې تهذیب څلورم خصوصیت د ادې چې دغه تهذیب د پوهې په ریښتینو اصولو ایمان لری او سپېڅلی اصول او عقائد خپل چورلیځ «محور» گرځوی - دغه تهذیب عقل او زړه دواړو ته په یو وخت کښې خطاب کړی دی، افکار او احساسات ئې د واړه یو ځای راپورته کړی دی - د نظر له مخې هغه بې سیاله دی او پدغه خصوصیت کښې هم هیڅ یو تهذیب له هغه سره شریک ندی - اوله تولو څخه زیات زمونږ د تهذیب یو بل خصوصیت د ادې چې هغه په نیاو «عدل» او حق باندی مبنی د ریاست یو داسې نظام جوړ کړی دی چې هغه پرته له دې چې د دین او ریاست د پرمختګ او د تهذیب د ودې په لاره کښې کوم خنډ شی، په دین او ګروهې باندی ولاړدی - بلکه دین د دغه تهذیب د پرمختګ د مهمو عواملو له جملې څخه یو ستر عامل دی - د بغداد - دمشق - قاهری - قرطبه او د غرناطه د جماتو نو له د یوالو نو څخه د پوهې او علم چې کومې وړانګې تیتې شوی وی، هغوی د نړی څلور واړه ګوټو نه روښانه کړی وو - اسلامی تهذیب هغه یو اځنی تهذیب دی چې دین له ریاست څخه نه ګوښې کوی، خو د دغو د واړو له ګډون او پیوستون سره سره له هغو خرابیو څخه یوه هم نه پکښې پیدا کیږی، له کومو سره چې په منځنیو پېړیو کښې اروپا مخامخ شوی وه - خو حاکمیت ئې دځان لپاره نه بلکه د حق د پلې کولو لپاره دی -

Marfat.com

پدی کی خوشک نشته چی د ریاست مشراو چلونکی د مسلمانانو خلیفه او امیر دی او قانون جوړونه د شریعت د ماهرینوکار دی او هغه د پوهنی هری پاټکئی «طبقه» ته ورسپارل شوی خدمت دی ـ مگر د قانون په وړاندی ټول سره برابر دی ، او غوره والی په تقوی او د خلکو په خدمت پوری موقوف دی لکه چی یو ځل «په محمدی عدالت کښی» په فاطمه ١ نومی یوی ښځی باندی د غلاکولو په جنایت کښی مقدمه دائره کیږی او د هغی د خلاصون لپاره سپار ښتنه کیږی نو حضرت محمد صلی الله علیه وسلم سخت په غصه کیږی او داسی فرمائی «په خدای می د سوگند وی چی که فاطمه بنت محمد هم دا غلاکړی وای نو مابه د هغی لاس هم ور ځخه غوڅ کړای وای» یو ځل حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ؤ فرمایل «الخلق کلهم عیال الله فاحبهم الیه انفعهم لعیاله . »رواه البزار«

١ ـ د ابنځه د بنی مخزوم د قبیلی له یوی ستری کورنی ځخه وه د دی سپار ښتنه حضرت اسامه بن زید کړی وه چی هغه حضرت رسول اکرم ص پدی کار ؤ راته . د تفصیل لپاره د مراجعه وو شی بخاری او مسلیم ته . ژباړونکی .

ټول مخلوق د الله تعالی کهول دی ـ پس له ټولو ځخه زیات الله تعالی ته هغه څوک گران دی چی خپلی کورنی ته له ټولو ځخه زیاته گټه و رسوی .

دا هغه دین دی په کوم چی زمونږ تهذیب جوړ شوی دی ، پدی کښی د هیڅ یوو رئیس ، هیڅ یوو دینی لارښود او هیڅ یوو شتمن او خاندانی وگړی لپاره هیڅ ډول ځانگړی امتیاز نشته.

Marfat.com

«قل انما انا بشر مثلکم». ۱

ورته وو آیه چی زهم ستاسی په څیر یو انسان یم.

پنځم خصوصیت :

د دی تهذیب کوم وروستنی خصوصیت چی د یادونی او ستاینی وړدی هغه دا چی دغه تهذیب داسی حیرانوونکی پیرزوینه لری چی هغه په بل هیڅ داسی یوو تهذیب کښی نه موندل کیږی چی په دینی بنسټونو ولاړوی ، البته هغه تهذیب چی په الله تعالی او د هغه په هیڅ یوو دین باندی ایمان نلری دا امکان لری چی دغه ډول تهذیب ټولو مذاهبو ته په یوه سترگه ؤ گوری او د هغوی له پیروانو سره په یوو ډول دریځ ؤ لری ، خو د دین پیروان چی هغوی پدی باندی ایمان ؤ لری چی د هغوی دین حق دی او د هغوی گروهه له ټولو څخه زیاته صحیح او ریښتینی ده او بیا هغوی ته د توری پورته کولو ، او هیوادونو فتح کولو او پرهغوی باندی د حکومت کولو او دنیاو «عدالت» په کرسی د کښیناستلو زمینه برابره شي او بیاهم د ده دین او گروهه «عقیده» ده ته د دی خبری اجازه ورنکړی چی هغه دی په حکومت کولو کښی له استبداد او ظلم کولو څخه کټه واخلی او د انصاف او نیاو له لاری څخه دی منحرف وی او خلک دی د خپل دین منلوته اړباسی ، نو دا ډول وگړی به د تاریخ خورا عجیب او غریب وگړی ؤ گڼلای شی ، نو له همدی امله به داسی حالت څومره

---

۱- د کهف سورة : ۱۱۰ آیات ، ۱۲ رکوع ، ۱۶ سپاره د سورة شمیره ۱۸ .

Marfat.com

عجیب او منفرد وی چي په تاریخ کښې د داسي یو بشړ تهذیب موجود وی چي هغه دی په دیني بنسټونو «اساساتو» جوړ کړای شوی او ولاړوی او د هغه په اصولو دی هغه تعمیر شوی وی، خو له دی . ره سره دی بیاهم هغه په وګړوال تاریخ کښې له ټولو ښخه زیاته پیرزوینه انصاف او د انسانیت دریغ غوره کړی وی ؟ همدغه کارنامه زمونږ اسلامی تهذیب تر سره کړی ده ، او په راتلونکی کښې به زه چي کومي ویناوی وړاندی کړم په هغو کښې به پدی هکله په شلګونو مثالونه تاسی ته وړاندی کړم ، مونږ ته یواځي دومره پوهیدل کفایت کوی چي پدی هکله زمونږ تهذیب هیڅ داسی ساری او سیال نلری چي هغه خو دی جوړ کړی یوو دین وی مګر د هغه له ګټواو برکتونو ښخه دی ګرد مذاهب ګټور او پستفید کیږی.

**د زمانی انقلابوله دی :**

زمونږ د تهذیب په تاریخ کښې دغه ځینی خصوصیتونه او امتیازونه دی ، چی د نړی والو لپاره د حیرانتیا وړدی او د هر ملت او مذهب د ذهینو او غورکونو وګړو لپاره د کشش باعث وو ، او هغه وخت «چي دغه تهذیب ځوان وو» نوهغه ورځ دی غالب وو ، حکم چلوونکی وو ، د دنیا د مغ ځرخونکی وو نړی ښودونکی او روزونکی وو ، خو کله چي دغه تهذیب زوال ؤ موند او له ده ښخه وروسته د بل تهذیب جوړونه پیل شوه نو زمونږ د تهذیب د ارزښت او قدر په هکله «د وګړو اوپرګنو په‌منځ» کښې مختلف نظریات منځته راغلل، ځینو هغه ته په سپکاوی سره ؤ کتل او ځینو هغه تقدیر کړ ، ځینی د هغه ښې ګټی بیانوی او ځینی نور د هغه په کمیو او زیانونو

Marfat.com

کښې مبالغه کوی ، د لویدیځ د نده لرونکی حضرات زمونږ د تهذیب په باره کښې دغه ډول مختلف نظریات لری ، د دغو وګړو دا حق نوو چې دوی زمونږ د تهذیب د څرنګوالی په هکله قاضیان او پریکړه صادروونکی ؤ ګرځی ، خو څه به وګړو نن سبا خو پیمانه ددوی په لاس کښې دی او د دوی نظر منل کیږی ، هغه خلک نن غالب دی او د هغوی په لاس کښې د تهذیب واګی دی اوهغوی چې د کومو خلکو او د هغوی د تهذیب په هکله حکم کوی هغوی داسې کمزوری دی چې ځوا کمنو وګړو هغوی ته سترګی برندی کړی دی تر څو له هغوی څخه هغه کم او توم هم ولجه کړی چې ورسره پاتی دی او د هغوی په هیوادونو باندی په خپل تسلط سره د خپل حرص او ملیتاریزم او رمز کړی ، بناٸی د یوو پیاوړی دریځ د کمزوری په مقابل کښې همدا وی چې هغه تحقیر او تنقیص کاندی ، د تاریخ په هر دور کښې ځواکمنو له لاس لاندی خلکو سره همدغه څه کړی دی ، پرته له مونږ څخه څکه هغه وخت چې مونږ ځواکمن وو نو له پیاوړی او کمزوری تولو سره مو برابر انصاف کړی دی ، او د افضل په فضیلت مو برابره خبره ده که هغه په ختیځ کښې وو او که په لویدیځ کښې اعتراف کړی دی. «چې پدی توګه ویلای شوچې» په عادلانه حکومت کولو د اهدافو په سپیڅلتیا او د ضمیر په ټینګتیا «استقامت» کښې له مونږ سره د بشریت په تاریخ کښې څوک سیالی نشی کولای ؟

دا د خواشینی وړ خبر ده هغه تعصب چې ځوا کمنانو

زمونږ په خلاف پیل کړی دی او هغه غیر منصفانه نظر چې دوی زمونږ د تهذیب په هکله قائم کړی دی مونږ له هغه څخه په بشپړه توګه خبر نه یو ، له هغوی څخه د ډیرو سترګی یا خو د مذهبی تعصب په څیره تړل شوی دی ، چې له دی امله هغوی د حق له لیدنی څخه عاری دی اویا هغوی ته د هغو ملی عصبیت او قامی غرور د دی اجازه نه ورکوی چې د کوم بل ملت په فضیلت باندی اعتراف وکړی ' خو زمونږ د تهذیب په هکله د هغوی له نظر ورکولو څخه زمونږ متأثره کیدل فکر نه منونکی خبره ده ، مونږ نه پوهیږو چې زمونږ د ملت څینی وګړی ولی خپل هغه تهذیب ته په سپک نظر ګوری چې د هغه په پښووباندی څوپیړی ګرده نړی پرمخی پری وتی وه.

**د استخفاف لامل :**

کوم وګړی چې زمونږ د تهذیب د درناوی او ارزښت استخفاف کوی ، بنائی د هغوی دلیل دا وی چې د نوی تهذیب د ایجادونو او عملی بریالی توبونو په وړاندی زمونږ تهذیب درند ښت نه لری ، مګر دا خبره که د دوی رښتیا هم وی نو د هغوی له امله په د ووجو زمونږ د تهذیب استخفاف نه را درومی، لمړی وجه دا ده چې هر تهذیب له دو عناصرو څخه ترنک «ترکیب» مومی ، یو اخلاق او روحانی عنصر او دویم مادی عنصر ، د مادی عنصر په وجه په رښتیاهم راتلونکی نوی تهذیب په وړاندنی زوړ تهذیب باندی فوقیت تر لأسه کوی ، په ژوند او د هغه په وسائلو کښی پر مختګ او لوړوالی ئی له الهی قانون سره سم وی ، او دا خبره په بشپړه توګه ښی ځایه اوعبث ده هغه څه چې نوی تهذیب له دغه عنصر څخه ترلاسه

Marfat.com

کړی دی ، نو له په خوانی تهذیب څخه د هم د هغه هیله وکړای شی ، او که چیرته داسی دریخ جائز او معقول وای بیانو زمونږ لپاره په هم دا روا وای چی له خپل‌تهذیب نه‌وړاندی گردو تهذیبونو ته مو په سپک نظر کتلی وای ، څکه چی زمونږ تهذیب هم د ژوند داسی ښی شمیره وسائل او مظاهر ایجاد کړی دی چی له هغو سره هیڅ یو تهذیب هم آشنانوو ، نو پړی اساس مادی عنصر د تهذیبونو په منځ کښی نه خو کوم دائمی او ابدی رول لری او نه د هغوی د بقا لپاره کوم صحیح بنسټ دی .

پاتی شو اخلاقی او روحانی عنصر دا هغه خصوصیت دی چی تهذیب د همیش لپارهٔ ژوندی ساتی او دا هغه عنصر دی چی د هغه په توسه بشریت له نیکمرغی سره غاړه غړی کیږی او له هر ډول کړاوونو او خطرو څخه ژغورل کیږی ، پدی ډگر کښی له ټولو په خوانیو او وروستینو تهذیبونو څخه زمونږ تهذیب د لو ښی میدان گټلی او هغه پړاو ته رسیدلای دی چی د هغه ساری د تاریخ په هیڅ دور کښی نه موندل کیږی ، او زمونږ د تهذیب د ژوندی ساتلو لپاره همدغه یوعنصر کفایت کوی ، د تهذیب اصل هدف همدغه دی چی انسان د برکت او سعادت‌هسکی څوکی ته پورته شی او د دی مقصد لپاره چی زمونږ تهذیب کوم خدمت تر سره کړی دی هغه په ختیځ او لویدیځ کښی یوو تهذیب هم ندی تر سره کړی .

بله وجه داده چی د تهذیبونو ترمنځه په مادی معیارونو موازنه نشی کیدلای ـ څکه چی ظاهری ډول او سنگار او مادی بقایا د تقابل لپاره بنسټ ندی ـ تکافی خوړل څښل او په ساټ و

Marfat.com

و باټ ژونـد تیرول د تهـذیبي فوقیت لپاره هیڅ دلیـل نشي کیدلای - پدې هکله د فضیلت صحیح پیمانه داده بايد ؤکتل شي چې تهذیب د بشریت په تاریخ کښې څپلې کومې نښې او تاثیرات پرې ښودلي دي - د جنګونو او سلطنتونو په هکله هم همدغه معیار دي - د هغوی په سنځ کښې هم پدې پیمانه موازنه نشي کیدلای چې د کوم سلطنت سیمه زیاته دهٔ او یا په کوم جنګ کښې ډیرو جنګیالیو ګډون و کړ - په وړاندني تاریخ او منځنیو پیړیو کښې چې کوم جنګونه شوي دي که له دویم نړۍ وال جنګ سره دلښکرو او جنګي وسائلو له نظره د هغوی مقابله و کولای شي نو هغه ټول جنګونه د دغه یوجنګ په پرتله هیڅ ثابتیږي - مګر سره له دي هم هغه زاړه جنګونه هم د تاریخي قدر او قیمت له نظره دستر اهمیت وړدي - ځکه چې د هغوی څنګه سیدونکي نتائج د بشریت په تاریخ باندې مترتب شوي دي د «Cannque» کاني جنګ چې په هغه کښې „د مشهور پادشاه» کارتیژ خورا پیاوړي او نومیالي قومندان هني بال رومیانو ته سخته ماتي ورکړي وه ، هغه د هغو جنګونو په فهرست کښې دي کوم چې تراوسه پورې دارو پا په حربي پوهنځیونو او مدار سو کښې لوستل کیږي - حضرت» خالد بن ولید د عراق او شام په فتح کښې چې کوم جنګونه کړي دي ، د هغو په هکله دلوید یځ د حربي فنونو پوهان تر اوسه پورې مطالعه کوي او د هغو په هکله د خپلو حیرانتیا وو څرګندونه کوي او دغه جنګونه زمونږ د فتوحاتو یوزرین باب دي - د کاني، بدر ، قادسیه او د حطین جنګونه د قدامت په وجه له سترګو څخه نشي غور

Marfat.com

ځول کیدلای څکه چې داد بشریت د تاریخ د کاڼوکر نبی دی -

زمایقین دی چې اوس به زما پدی لنډی وینا سره زمونږ د تهذیب د هغو وړانگو دلیدلو په تکل سترگی پورته کړای شوی وی دکوموچې زه وړاندی کول غواړم - که څه هم په هغه ډول لکه څنگه چې زه غواړم ،خیړنه و کړم دلته هغسی نشی کیدلای خواوس ز ما لپاره دا کفایت کوی چې ز په خپلو را تلونکو وینا وو کښې د خپل لر غونی تاریخ زړه و ړونکی اړخونه وړاندی کړم او په هغوی سره د هغه تهذیب په همیشه پاته کیدلو استدلال و کړم کوم چې هغه د اسی یو امت تینگ او پیاوړی کړی دی چې هغه ته داحکم الحاکمین له دربار څخه د یوداسی خیر «غوره» امت خطاب ؤ شوی او بیا د بشریت د سمون لپاره میدان ته را و ویستلای شو.

Marfat.com

# دویم باب

## «زمونږ د تهذیب تاریخی آثار»

ماپه خپله تیره وینا کښی د خپل تهذیب د څو ځرګند و خصوصیاتو د یادونی په ترڅ کښی وویل چی په بشری تاریخ کښی تهذیبونه په خپل فکری ، اخلاق او مادی اعتبار هرخومره چی زیات پاتی کیدونکی آثار پریږدی په همغه اندول دی په خپله هم خلو د او دوام ترلاســه کولای شی - د بشریت د پرمختګ په تاریخ کښی زمونږ تهذیب خورا ستره ونډه اخستلی او د عقایدو نظریاتو ، علم او فن ، ادب او فلسفی، او د حکومت کولو په تولو ډګرونو کښی ئی پیاوړی یادګارونه ترلری. پوری تلونکی آثار پری ښودلی دی - را ځی چی و ګورو چی هغه آثار او یادګارونه څه دی او د هغو ارزښت څه دی ؟

### ۱- ګروهه او دین :

د اسلامی تهذیب د مبادی او اصولوډیر ژور تاثیر په هغو اروپائی اصلاحی تهذیبونو باندی غور ځیدلای دی کوم چی له او و می مسیحی پیړی څخه را پدی خوا ترنن پوری هلته را پورته کیږی - اسلام هغه یواځینی دین دی چی هغه بشریت ته د الله تعالی د توحید درس ورکړ او دائی ورته وویل چیّ د هغه په حاکمیت او اقتدار کښی هیڅوک شریک ندی ، او هغه له ظلم ، زیان «کمی» ، او جسم لرلو څخه منزه دی - اسلام

Marfat.com

داخبره هم په ډاګه ابلاغ کړې چې الله تعالی ته په عبادت کولو او له هغه سره داړیکو پیدا کولو او د هغه د قانون د پوهې او زد کړې په خاطر د هیڅ ډول او هیڅ ډاتکې لکه پاپانو او نور و عزت مندو وګړو او معبود انو واسطه کولوته اړتیا او ضرورت نشته دی - د ملتونو د اذهانو د تنویر او هغو پیاوړو اصولو ته د هغوی په لارښودنه کښې اسلام دیو پیاوړې عامل په توګه کار کړی دی - له اسلام څخه په خوا بشري ټولنې په داسې یوډول سخت مذهبي استبداد او د پیشوائیت په تسلط کښې ښکیل شوې وې چې هغه ددوی په افکارو او نظریاتو باندې بنـدیز لګولی وو ، او د هغوی مال او ځان ئې په خپله پنجه کښې مروړلی نیولی وو - کوم فتوحات چې اسلام ته په ختیځ او لوید یځ کښې ورپه برخه شو ، د هغو دایوه طبیعي نتیجه وه چې له هرځه نه وړاندې د هغوی په شاوخوا کښې میشته ملتونه دې د اسلامي عقائد و او نظریاتو له تاثیر لاندې راشي. او همداسې و وُهم شو- لکه چې په وومه مسیحي پیړۍ کښې دار و پاپـه ګیــده کښې د ریفارمرانو «مصلحینو» داسې یوې ډلې پاڅون وکړ چې له بت پرستي او تصویر پرستي څخه مخالف وو ، له هغوی څخه وروسته نور داسې وګړي را پورته شول چې هغوی د الله تعالی او د هغه د بندګانو ترمنځ دوسیلې له لټوني او نیوني څخه انکار وکړ او خلکوته ئې دعوت ورکړ چې باید د پاپانو او پادریانو له احتیاج او اړتیا څخه پرته په خپله خپل مقدس کتابونه زده اوپر هغوی بانـدې ځانونه پـوه کړي - ډیرو ریسرچ «تحقیق» کونکو په ټینګه سره ویلي دي چې مارټن لوتر د خپل اصلاحي غور ځنګ «تحریک» په جوړولو

Marfat.com

کښې د اسلامي پوهانو او عربي فلاسفه وو د ديني عقائد و له تاثير لاندې راغلي وو.

په يوه موده کښې د اسلامي حکما وو تصانيف په لاطيني ژبه ژباړل «ترجمه» شوي وو او د لوتر په زمانه کښې د اروپا پوهنتونونو د هغو په زد کړه او ښودنه اکتفاکو له او د هغو په محتوي ئې بشپړ اعتماد کا وو - او زه دا هم ويلای شم چې د فرانسې په انقلاب کښې، د مذهب او حکومت يو له بل سره د جلاکولو د قانون په خلاف چې کوم غورځنګ پيل شوي وو هغه د هغو پياوړو فکري تحريکا تو زيګنده وه چې درې سوه کاله يا له دې څخه هم زياته زمانه په خوا په ګرده اروپا کښې پيل شوي وو د صليبي جنګونو او د اندلس په واسطه زمونږ تهذيب په دغو غورځنګونو تاثير غور ځولای وو.

**۲- علوم او فلسفه:**

د طب، رياضي، کيميا، جغرافيه او فلکيا تو په ډګر کښې هم زمونږ تهذيبي اثار څرګند دي. هغه علمي ويښتيا چې په اروپا کښې پيدا شوه هغه د هغه درس او تدريس نتيجه وه - چې اروپايانو زمونږ د عالمانو او حکما وو په وړاندې د اشبيليه، قرطبه، او غرناطه په جماتونو کښې د ادب په ګونډې و هلو سره ترلاسه کړي وو - د لويديځ زده کونکي او طالبان به کله چې د زد کړې مرکزونو ته ننو تل نو هغوی به د خبرې ته سخت حيران پاته شول چې د لته خود هر ساکښن «متنفس» او ژوندي سرې پرمخ د علومو او فنونو د زد کړې دروازې پرانستې دي - او هر څوک په ازاده فضاکې په بشپړ انهماک او ولولو سره له دغو علومو او فنونو څخه ګټور کيدلای شي -

Marfat.com

دا ځکه چې د دې مثال د دوی په هیواد کښې موجودنوو ـ او هغه وخت چې زمونږ پوهانو په خپلو غونډو او خپلو تالیفاتو کښې د ځمکې په چورلیدو «گردش» د هغې په کرویت «غونډ والی» او د سماوی اجرامو په حرکت بحثونه او څیړنې کولې ، په هغه وخت کښې ددې مسائلو په هکله دارو پایانو مغز له او هاسو او خرافاتو څخه ډک وو ـ او له همدغه وخت څخه په لاطینې ژبه د عربي کتابونو د ژباړنې تحریک پیل شو او د اروپا په پوهنتونونو کښې زمونږ د پوهانو د لیکنو او تصانیفو لوست او زد کړه پیل شوه ـ په طب کښې د ابن سینا «القانون» په د ولسمه مسیحی پیړۍ کښې په لاطینې ژبه ؤژ باړل شو ـ د دیار لسمې مسیحی پیړۍ په وروستي برخه کښې د امام رازی تصنیف «الحاوی» وژ باړل شو چې د ابن سینا له «القانون» څخه ضخیم او زیات مفصل دی ـ او تر شپاړ سمې مسیحی پیړۍ پورې د اروپا د پوهنتونونو د طب ځانگی یواځې د همدغو دو کتابونو په لوست او زد کړه اکتفاکو له ـ او د فلسفې د کتابونو لوست او زد کړه خو له دې څخه هم ترزیاتي زمانې پورې جاری وه او له یونانې فلسفې سره د اروپایانو پیژندگلوی زمونږ د ژباړو او تالیفاتو په ذریعه ؤ شوه ـ همدغه وجه ده چې د لویدیځو مصنفینو زیاتره برخه پدې خبره اعتراف کوی چې په منځنیو پیړیو کښې لږ تر لږه شپږ سوه کاله مونږ د اروپا استاذ وو ـ بناغلی «ډاکټر» گوستاولوبون ویلی دی «پنځه شپږ سوه کاله د اروپا په پوهنتونونوکی عربي کتابونه په عمومی توگه او علمی تصانیف په خاصه توگه د تدریس یواځینی ماخذ وو. او زه د اویلای شم چې تر اوسه پورې مونږ د عربو له ځینې علومو څخه د مثال په ډول لکه

Marfat.com

طب کته اخلو د ابن سینا د کتابونو تشریح د تیری پیری په وروستی برخه کښی په مانی بیا کښی وکړ ای شوه - همدغه «اروپائی» عالم لیکلی دی «راجر بیکن ، لیونارډ ، ارلو فیلقونی ، ریمون لول ، سان توماس ، ألبرټ ازنونش او هم تشقالی «دغو ټولو په خپلو تصانیفو کښی» یواځی په عربی کتابونو کښی اکتفا کړی ده او موسیورینان لیکلی دی چی «البرټ اعظم د ابن سینا د احسان ممنون دی او سان توماس په فلسفه کښی د ابن رشد د احسان مرهون دی» - مشهور ختیځ پیژندونکی «مستشرق» سیډ یو لیکلی دی چی» په منځنیو پیړیو کښی یواځی عرب د تهذیب د توغ پورته کولکی وو» هغه شمالی قبائل چی اروپا لوټ او پای مال کړی ، د هغوی وحشت عربو ورشخه لری کړ - عربو «د علمی هلوځلو په ترڅ کښی «د قدیم یونان فلسفی ته ځان ورسا وو او بیا ئی یواځی د هغی په اکتساب او پیژندلو اکتفاؤ نکړه بلکه هغی ته ئی وسعت ورکړ او د کائناتو د .طالعی په هکله ئی نوی بابونه پرانستل، همدارنګه نوموړی ویلی دی «کله چی عربو د هیئت په علم کښی مهارت پیدا کړلو ریاضی علوم ئی د خپلی توجه خاص مرکزؤ ګرځا وو- او دوی په دغو علومو کښی بی ساری کمال ته ورسیدل چی پدی اساس ویلای شم هغوی پدی ډګر کښی په حقیقی توګه زمونږ استاذان دی» ده ویلی دی هغه څه چی په لومړی دور کښی لاطینیانو له عربی څخه اخستلی وو ، سونږ کله چی د هغو پلټنه کوو نو پکښی ګورو چی د ۹۷۰ او ۹۸۰ مسیحی کالو لو په منځنیی زمانه کښی د جربرټ سلفستر دویم په نوم یوه دروازه جوړه او پرانستل کیږی ، چی د هغی په ذریعه هغه ټول علوم اروپا ته

Marfat.com

ننووځی کوم چی هغه په اندلس کښی زدده کړی وو، او بیا د ۱۱۰۰ او ۱۲۰۰ مسیحی کالونو په منځنی زمانه کښی انګریزی عالم بناغلی اُوهیلاړ ، د مصر دوره کړی او بیا هلته اقلیدس «الارکان» نومی کتاب له عربی ژبی څخه په خپله ژبه ژباړی چی له هغه څخه تر دغه وخته پوری ټول لویدیځ نابلده او ناخبره وو، همدا ډول یو بل 'اروپائی' عـالم د افلاطون تیقولی ، تیوډ سیوس «الاکر» نومی کتاب له عربی څخه ژباړی - رودلف بروجی د مځکی په هکله د بطلیموس «المعمور» نومی کتاب چی په جغرافیه کښی ئی تصنیف کړی وو له عربی څخه ژباړی - لیونارډ پیز د الجبر زده کړه له عربو څخه وکړه او بیا ئی ۱۲۰۰ مسیحی کال نه په نیږدی زمانه کښی په الجبر کښی یوه رساله ؤلیکله پټه د یار لسمه مسیحی پیړی کښی کنبانوس نیوی په عربی ژبه کښی درسب اړای شوی کتاب اقلیدس له عربی څخه په خپله ژبه په خو رانبو مطلبو ژباړلی دی - هیدا ډول په د یار لسمه مسیحی پیړی کښی فیستلون بولونی دحسن بن هیثم له «البصریات» نومی کتاب څخه د استفادی په کولو د فلکیاتو علم په لویدیځ کښی خپور کړ - په ۱۲۵۰ مسیحی کال کښی از فونش قشقالی د هغی فلکی زائچی «نقشه» د خپرونی حکم صادر کړ، چی د هغه په نوم بادی ده - په همدغه دور کښی لمړی راجر په صقلیه کښی له یوو پلاره د عربی علومو او فنونو او بیا په خاصه توګه دا دریسی د کتابونو د لوست فرمان صادر کړ او له بلی خوا فریډرک ثانی د علومو او ادابو د زده کړی بی کچه تینګار وکړ - او د ابن رشد زوی به همیشه د هغه په دربار کښی ووسیده او هغه ته به ئی د نباتاتو او حیواناتو د طبیعی تاریخ زده کړه .

Marfat.com

تعایم ورکا وو ـ هو میله د سائنس په هکله په خپل کتاب کښی
لیکلی دی چی «هغه یواځی عرب دی چی هغوی له ټولو څخه
وړاندی د کیمیاوی درمل جوړونی سیستم ایجاد کړ او له همدغی
لاری څخه دلته لمړی پیاوړی از سوینی او مشوری راغلی چی
لمړی د سالرم مدرسی او ښوونځی هغه واخستلی او بیا څه زمانه
وروسته په جنوبی اروپا کښی تیت شوی . او همدغه مشوری»
د درمل جوړونی او د هغو طبیعی عناصرو چی پر هغوی پوری
درمل جوړونه اړه لری او هم د نباتاتو او د کیمیا د مطالعی
باعث وُ گرځیدلی ـ چی پدی ډول دغه دواړه چاری په یو وخت
کښی او په دو مختلفو لارو چلیدلی او پدی توگه د عربو له
خوا د دغه علم د نوی دور دروازه پرانستل شوه . د نباتاتو د
نړی په هکله د عربو د پراخه معلوماتو د ثبوت لپاره دا کفایت
کړی چی دوی «د زلیفوریدس» په معلوم کړای شویو جړو
بوټیو باندی دوه زره نباتات نورهم اضافه کړل .

د هغوی په درمل جوړونه کښی داسی ولی او بوټی وو
چی یونانیانو ته د هغوی بوی هم نوو وړلگیدلای ـ بیدیو» د
رازی او ابن سینا په هکله ویلی دی چی دغه دواړه د خپلو
کتابونو په توسه ډیره زمانه په گرده اروپا باندی مسلط وو ، او
بیا په خاصه توگه ابن سینا چی په اروپا کښی د طبیب په توگه
پیژندلی شوی وو او پوره شپږ سوه کاله د اروپا په ښوونځیو
کښی د ده تصانیف لوستل کیدل ـ د ده «القانون» لومړی کتاب
په پنځو توکو کښی وُ ژباړل شو او څو ځلی چاپ شو ، ځکه
چی د فرانسی او اتالیا په پوهنتونونو کښی د طبي» زد کړی او
تعلیم دارو مدار په همده باندی وو .

Marfat.com

**۳- لغت او ادب :**

د لویدیځ گرد اوسیدونکی او بیا په خاصه توگه د اسپانیا شاعران له عربي ادب څخه خورا ګټور «مستفید» شوی دی - لویدیځ ادب ته شهسواري ، شجاعت ، مجاز او استعاره ، او په لوړ سبک د مضامینو لیکل د عربي ادب له لاری ننوتلی دی.

د اسپانیا مشهور لیکوال «ابانیز» لیکلی دی اندلس ته د عربو له‌ننوتنی او په جنوبي اروپا کښی د هغوی د آسونو دغوجلو او سپرلیوله ئی تیدلو څخه وراندی اروپا د - اسونو له سپریدنی «شهسواری» او د سپرانی له ادابو سره بیخی اشنانوه .

«روزی» د اسلام تر عنوان لاندی چی کوم کتاب لیکلی دی په هغه کښی نوموړی د هسپانوی خطاط «الغارو» یو لیک نقل کړی دی چی په هغه کښی ده د اروپایانو له لا طینی ژبی سره د زړه سوړ والی او له عربي ژبی سره د مینی د ارلو په دریځ خپل سخت خواشینی څرگند کړی دی چی له هغه څخه دا خبره څرگندیږی چی په هغه زمانه کښی د لویدیځ ادیبان څومره زیات د عربي علم او ادب له تاثیر لاندی راغلی وو - نوموړی ویلی دی «په ذهینو او ذوق لرونکو وګړو عربي ترانو جادو کړی دی» همدغه لامل دی چی هغوی لاطینی ته په سپکه گوری او نوری تولی ژبی ئی پرڅای پری ښودلی دی‌او دڅوا کمنو «قدرت سندانو» په ژبه لیکنی کوی. زمونږ یو متعصب او معاصر هیواد وال «یعنی شامی مسیحی» پدی هکله ډیر افسوس کړی‌او خپل حواشینی ئی څرگند کړی داسی ئی ویلی دی چی «زمونږ مسیحی ورونه په عربي قصو او اشعارو مین او زړه بایللی دی او دوی هغه کتابونه گوری او مطالعه کوی ئی چی هغه مسلمانو

Marfat.com

فیلسوفانو اوفقها ؤ لیکلی دی. ددغو کتابونو مطالعه‌دوی د تغلیط او غندنی «تردید» په خاطر نه بلکه د عربی د فصیحو اسلوبو د زد کړی‌په تکل کوی. اوس له مذهبی وګړو څخه پرته بل څوک دی چی تورات اویا انا جیل مطالعه کوی؟ اوس څوک دی چی دانا جیلو او د رسولانو صحیفی اولی ؟ افسوس دی چی د مسیحیانو نوی تو کم «نسل» له عربی ادب او عربی ژبی څخه پرته دبلی هیڅ ژبی په لټریچر «خپرونو» سم نه پوهیږی. داوګړی له عربی ژبی څخه تنویر کیږی او د عربی ژبی له کتابونو څخه د ځانونو لپاره د ډیری لوړی بیی لرونکی کتابتونونه جوړوی او په هر ځای کښی د عربی زیرمو «ذخیر» د تعریف او توصیف سندری وائی. او که چی دوی د مسیحی لټریچر په هکله څه اوری نومخ اړوی او پوزه را کاږی او د استهال کوی چی دا شی چندان د نظر وړندی. هی افسوس : مسیحی قم خپله ژبه هیره کړی ده . په دوی کښی به تاسی په زرو کښی یو کس داسی موندہ نکړی چی خپل دوست ته په خپله ژبه «انګریزی» خط ؤ لیکی . او که چیرته د عربی ژبی په هکله شی نو څومره ډیر وګړی دی چی هغه په یو و خورا غوره استایل «یعنی موقف» کښی وړاندی کوی ، او پدی (عربی) کښی داسی بیتونه «اشعار» جوړوی چی په خپله د عربی شاعرانو د شعرونو په صحت او بلاغت باندی هم لوړ او پورته دی.

په څوار لسمه مسیحی پیړی کښی او لـــه هغی څخـــه وروسته په اروپا کښی داسی بی شمیره نومیالی ادیبان تیر شوی دی چی د هغوی په ادب او انشاء باندی په ځانګړی توګه د عربی ادب تاثیر شوی دی ، په ۱۳٤۹ مسیحی کال کښی

Marfat.com

«بوکاشیو» یوه «لس سهاره» نومی افسانه لیکلې ده چې په هغې کښې ئې د الف لیله نه تتبع کړې ، شکسپیر د خپلې یوې ډرامې موضوع له «الف لیله څخه اخستلې ده ، د المان ډرامه لیکونکی «لسنگ» د خپلې ډرامې «ناتان حکیم» تمثیلی مسوده له الف لیله څخه مستعاره کړې ده . په انگریزی کښې د نوی شاعری او شعر ویلو بنسټ کیښودونکی «چاسر» خپله زد کړه له تولو څخه زیاته له بوکاشیو څخه کړې ده ، د دغو دوارو په اتالیا کښې یو له بل سره لیده کاته شوی وو او له هغه څخه وروسته چا سر د حکایاتو خپل مشهور کتاب «کنتر بری تیلز» ؤ لیکه ـ همدا ډول د ډانتی «شاعر» هغه مشهور نظم «ډیوائن کامیډی» چې په هغه کښې نوموړی د یوو بل عالم د سفر داستان بیان کړی دی ، د هغه دا نظر دی چې د دغه نظم د لیکلو په وخت کښې د ابوالعلاء المعری «غفران» نومی رسالې او هغه څه چې ابن عربی د پریانو په هکله لیکلې دی ، د دغو دوارو تاثیر او اغیزې د ډانتی په مغزو کښې کار کاوو ـ او د دې لاسل دا دی چې هغه د دویم فرډرک د سلطنت په زمانه کښې په صقلیه کښې هستیده ، نوموړی پادشاه د ثقافت عاشق وو او یواځې په عربی ژبه کښې د تهذیبی خبرونو د مطالعې شوق وو او د دوی دواړو په منځ کښې د ارسطو د نظریاتو په هکله بحث او څېړنه کیدله ـ او د هغه د نظریاتو د معلومولو ذریعه یواځې عربی کتابونه وو ـ دډانتې په کتاب کښې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم د طیبه سیرت ، د معراج اواسراء او داستانونو په هکله چې کوم تفصیلی روایتونه بیان

Marfat.com

کړای شوی دی له دی ټولو ښخه‌نوموړی خبر او په هغو پوه وو.

د کار دینال د ژوندون هغه زمانه وه په کومه کښې چې په فرانسه او اتالیا کښې عربی ثقافت ښندل شوی وو . نوموړی د مونیبیه او پاریس په پوهنتونو نو کښې زد کړه کړی وه او دغه دواړه پوهنتونونه د اندلس د پوهنتونونو فاضلانو جوړی کړی وو ـ او په هغوی کښې عربی تالیفات لوستل کیدل ـ په منځنیو پیړیو کښې چې په عربو کښې ځینی قصی او حکایتونه دود «رائج» شوی وو اروپا په خپل دویم تجدید «احیاء» کښې د هغو اثر منلی دی چې په هغوی‌کښې دا تلوالی «داس ځغاونی داستانونه او نوری هغه یادونی او کارنامی شاملی دی چې هغه د عربو نوسیالیو د مجد او عظمت په خاطر کړی وی ـ پدی لړ کښې د الف لیله نومی عربی کتاب دوسی ترجمی چې په دو لسمه مسیحی پړی کښې په اروپائی ژبو شوی دی د هغوی اغیزه په نهائی ډول ښرگنده شوی ده ـ او هغه دا چې په ټولو اروپائی ژبو کښې دغه کتاب تر اوسه پوری له دری سوه واری ښخه زیات چاپ شوی دی ، ان تردی چې د اروپا د بی شمیرو ناقدینو دا نظر دی چې دی «سوفټ» سفرنامه ، د ډیفو «رابنسن کروسو» نومی سفرنامه دغه دواړه د الف لیله، او د عرب فیلسوف ابن طفیل د«حی بن یقضان» نومی تصنیف داحسان مرهونی دی ـ هیڅوک هم پدی‌کښې شک نشی کولای چې د الف لیله له ډیری خپرونی ښخه دامی ښرگندیږی چې هغې د ټولو اروپایانو پا ملرنه خپل ځان ته اړولی ده ، او له هغې ښخه متاثره شوی دی .

پدی ځای کښې د دی خبری یادونی ته دومره اړتیا نشته ، چې د اروپا په مختلفو ژبو کښې د ژوند د اړتیاوو په

هکه زیات شمیر عربی توری او الفاظ په خپل اصل شکل رائج د نمونې په ډول په انګریزی کښی ، کاټن ، مسقس ، مسک لیمن ، زیرو ، په اصلی عربی کښی قطن ' حریر ' مشقی ' مسک' لیمون او صفر «تکی» دی ـ پدی ډول نور ېی شمیره الفاظ هم شته «پدی لړ کښی له تفصیل ورکولو څخه پرته د ښاغلی مائیکل د قول راوړل کفایت کوی «چی ویلی ئې دی» اروپا په خپل زړه وړونکی او لطیف ادب کښی د عربی هیوادونو احسان منده ' ده ـ همدا ډول په منځنیو پیړیو کښی په اروپا کښی چی کوم فکری بدلون راغلی وو' او دهغه ترشا چی دوسوخوا کونو کارکاوو ' د هغو په پلی کولو کښی هم د عربی قامونو زیات لاس وو .

### ٤ـ قانون جوړونه :

هغو اروپائی زدکونکو چی په اندلس کښی ئې تحصیل‌کاوو، هغوی د مسلمانانو له فقهی او تشریعی لټریچر څخه یوه زیاته برخه په خپلو خپلو ژبوؤ ژباړ له ـ او په هغه وخت کښی په اروپا کښی نه څوکوم پیاوړی سیاسی نظام وو او نه د کوم ډول منصفانه قوانینو ترویج وو ـ او هغه وخت چی نپولین مصر فتح کړ نو د مالکی فقه ټول مشهور کتابونه ترجمه کړای شول ـ چی په هغوی کښی له ټولو څخه دمخه دخلیل بن اسحاق کتاب ؤ ژباړل شو او دا هغه کتاب دی چی د فرانسی د قانون لپاره ئې د تخم کار ورکړ ـ چی پدی اساس په هغه وخت کښی د فرانسی قانون تر ډیره ځایه مالکی فقه ته ورته وو ـ سیډیو ویلی دی «زموږ نظر د خپل چلن په ځای کښی په مالکی فقه

Marfat.com

دريږي، څکه چې له افريقا سره زمونږ اړيکې ټينګې دي او د فرانسي حکومت پيرانو او دا کترانو ته هدايت ورکړي وو چې هغوی دي د خليل بن اسحاق يعقوب» المتوفی ۱۴۲۲ مسيحی» لند فقهي کتاب په فرانسوی ژبه کښې وژباړي .

## ۵- حکومت او سلطنت :

په منځنيو او په خوانيو پيړيو کښې د عوامو دا حق نه منل کيده چې هغوی دي د خپلو حاکمانو د کړو وړو محاسبه وکړي ـ په هغو وختونو کښې د حاکم او محکوم اړيکې دمړنۍ او بادار د اړيکو په څيروی ـ حاکم به مطلق العنان او ټولواک وو هغو به چې هر څنګه ؤغوښتل له رعايا وو سره به ئې په همغه ډول چلن او سلوک کاوو ـ مملکت يو موروثۍ جايداد ګڼل کيده چې د نورو ميراثۍ مالونو په څير به د وارثانو په منځ کښې له يوو څخه بل ته ليږ ديده ـ ان تردې چې که يو شهزاد ګئ به د تخت وارثه کيد له او د هغې واده به په يوو بل هيواد کښې کيده نو د دواړو سلطنتونو ترمنځه به د تاج او تخت د ويش په مسئله جنګ کيده .

او بيا به که د دواړو خواو ترمنځ جنګ کيده نو د بريالی لوری لپاره د ماتې خوړلی لوری سر او شته ، عزت او ناموس او مړنۍ توب دا هر څه مباح وو ـ دغه ډول حالت تر يوی زمانی پوری دوام وکړ تردې چې د اسلامی تهذيب بريالی او نيکمرغه دور پيل شو، او هغه د خپلو نورو ژوند ښېونکو اصولو داعلان په لړ کښې خپل دا اصل هم اعلان کړ چې ملت د خپل حاکمانو په اعمالو د تنقيد او محاسبې حق لري ، او حکومت

Marfat.com

چلونکی یواځې امانت ساتونکی او اجراآت دی د هغوی کار یواځې دا دی چی په پوره امانت او دیانت سره د ملت د ګټو څارنه وکړی .

لکه چی د بشریت په تاریخ کښې د لمړی ځل لپاره داسې یو تمثیلي صورت پیښ شو چی محکوم له حاکم څخه په یوه ستره غونډه کښې داسې پوښتنه وکړه دغه لباس چی ده اغوستلی دی دا له کومه شوی دی؟ او حاکم دغه پوښتونکی نهخو په دارکړ او نه ئې هغه بندی کړاونه ئې تبعید «جلا وطن» کړ بلکه حاکم هغه ته په ځواب کښې اصل حقیقت څرګند کړ او دحقیقت په څرګندولو هم پوښتونکی او هم نور ګرد وګړی ډاډه شول ۱

۱ ـ پدی ځای کښې هغې مشهوری پیښې ته اشاره ده چی یوه ورځ حضرت عمر رضی الله عنه» د خپل خلافت په زمانه کښې په جمات کښې د خطبې ویلوپه خاطر ممبر ته وو ختوت او ده د خبروپه پیل کښې وویل چی ای خلکو هغه څه چی زه تاسی ته وایم وائی وری او اطاعت «منئه» ئې وکړی» د ده له دی وینا سره یو اعرابی په خپل ځای کښې پاڅید او داسې ئې ورته وویل چی «موږ ترهغه وخته پوری نه ستا خبره او رو او نه ئې منو ترڅو چی ته مانه د دی خبری ځواب را نکړی دغه کمیس چی تا اغو ستلای دی د دی رخت خودو مره نوو چی ستا د قد اندول کمیس ور څخه جوړ شوی وای ـ ځکه چی داخو

Marfat.com

په‌بشری تاریخ کښې دلېږی ځل لپاره دا پیښه هم منځته راغله چې د ملت له وګړو څخه یوو کس د مملکت رئیس ته داسې خطاب وکړ «السلامُ علیکم ' ای مزدوره» د ده دا خبره امیرؤ منله چې هغه په رښتیا هم یو مزدوردی او د اخستونکی کاریګر په څیر د زړه له کومې د ملت خدمت کول او په خیر خواهی سره د مات حق ادا کول د هغه دنده ده ـ اسلامی تهذیب د دغو اصولو اعلان وکړ او هغه ئې په عملی ډګر کښې نافذ تطبیق او پلی کړل .

دا د فکر او ضمیر د ازادی هغه سیلوی «روح» وه چې په هغه

د هغه رخت ټوټه ده چې دواړې »غنیمت« په مال کښې راغلې وه اوپه سونږ ټولو برابره ویشل شوی وه ، او د تا په برخه کښې دو مره رسیدلی وه لکه څو مره چې سونږ ته رسیدلی وه بیا نو په دغه ټوټه کښې د و مره وږدکمیس څنګه جوړ شو ؟

حضرت عمر رضی الله عنه باندېچې ته د ځواب ورکولو په خاطر خپل زوی حضرت عبدالله رضی الله عنه ته وکتل او هغه په خپل ځای کښې پورته شو داسې ئې وویل : د هغه رخت ما خپله برخه هم ده ته ورکړی وه ، او هغه د واړه برخې ئې سره یو ځای کړی اوکمیس ئې ور څخه جوړ کړ ـ اعرابی چې دا ځواب وا ورید نوبیائی حضرت عمر رضی الله عنه ته وویل »اوس ووایه سونږ به ئې واورو او اطاعت به ئې وکړو« .

Marfat.com

کړ د و ملتو نو کښې پو کړای شوه کوم چې د اسلامي ټولنې په چاپېریال کښې وو سیدل ـ او بیا هغو ټولو کرار کرار ساوا خستله ، وو خوځیدل ، او د بدلون لپاره چمتو شول او په پای کښې د بندیزو نو له زولنو څخه ازاد شول ـ او په ټوله اروپاکې داسې ووشو په صلیبي جنګو نو کښې کله چې اروپائي وګړي شام ته ننوتل او له هغه څخه وړاندې ئې د اندلس په خلافت کښې هم دا خبره لیدلې وه چې مات په خپلو حاکمانو تنګ نظر اری ، او حکومت چلوونکي د بل هیچا نه بلکه د خپل مات په وړاندې مسئول او ځواب ویونکي دي ـ د اروپا حاکمانو هلته دا په خپله ولیدل چې مسلمان حکام په هره زمانه او هر د ور کښې د اسلام دښمنو ملتونو او د هغوی د واکمنو د فرد یا پاتکئي «د طبقې» د محکومیت پرځای د اسلام او خپل ټول مسلمان ملت په وړاندې مسئول دي او د دې، پر خلاف هغوی د روسي سلطنت محکوم دي او ترکومه وخته چې هغوی د روم دیني سیادت وونه منې نو راتلونکي ورځ هغوی «هرو مرو» له ناکامۍ سره مخامخ کیدونکي دي ـ همغه وو کله چې دغه حاکمان خپلو هیوا د ونوته ستانه شول نو د روسي اقتدار په خلاف ئې بغاوت وکړ ، ترڅې چې هغوی ازاد شول او بیاله دوی څخه و روسته د زیاتو پادشاهانو خپلو ملتونو د هغوی په خلاف پاڅون وکړ او خپلې سرئې ئې د غلامي له کړې نه ازادي کړې ـ او بیا له هغه څخه و روسته د فرانسي انقلاب منځته راغی او هغه هیڅ د داسې نو یو اصولو اعلان ونکړ ، د کومو چې زموږ تهذیب دولس سوه کاله په خوا نړۍ وو .

Marfat.com

زمونږ تهذتب چې د جنګ په هکله د کومو اصولو اعلان
کړی وو هغه دا دی چې د ژمنی «ترون» به د رناوی کوی ،
عقائدو ته به آزادي ورکوئی ، عبادت ځایو ته به عبادت کونکو ته
وریرېږدی ، د وګړو په شخصی آزادی عزت او ناموس به تعارض
نکوی «دا هغه اصول» دی چې د دوی په نتیجه کښې په هغو
ملتونو کښې چې د اسلامی حکومت تر قیادت لاندی راغلی
وو د عزت او ځان ساتنې روح پیدا شوه او په هغوی کښې د
انسانیت او شرافت روحیه ژوندی شوه ، او تاریخ د لمړی ځل
لپاره دا منظر وایده چې د رعیت یو نامسلمانه فرد ، د مملکت
رئیس ته ورځی او دا شکایت ؤ رته کوی چې ستا دوالی زوی
په ناحقه زما زوی په سربانډی وهلی دی ، د مملکت رئیس د دی
خبری په اوریدلو سخت غصه کیږی ، او سم له لاسه د
والی له زوی سره محاسبه کوی ، او له هغه څخه کسات اخلی ،
بیا همدغه خپل والی توهین او تنبیه کوی او داسی ورته وائی
«تاسی له کله راپدی خوا خلک خپل مری یونه ګرزولی دی
پداسی حال کښې چې هغوی خپلو میندو آزاد زیږه ولی وو.(۱)
دا یوه نوی سیلوی وه چې زمونږ د تهذیب په توسه په
وګړو او ملتونو کښې پوکړلای شوه ، اوکه نه د کوم زوی پلار

---

۱- دغه د مملکت رئیس حضرت عمر رضی‌الله عنه وو، اوچا چې
ده ته شکایت کړی وو هغه یهودی وو او هغه والی چې
د هغه د زوی د تیری په هکله ئې شکایت کړی وو هغه
حضرت عمرو بن العاص(رض) د مصر والی وو.

Marfat.com

چې دغه شکایت کړی وو هغه زمونږ له تهذیب او حکومت څخه په خوا په وهلو زمونږ د دې شنی کړی وی ، زمونږ شمه ئې لوټ کول او د گروهې «عقیدې» په هکله ئې په مونږ نېرې کاوو خو د دې تولو ناخوالو سره سره بغاوت خو پرېږده چې احتجاج او دې درد و غم څرګند و نه سوهم نشوای کولای، او دا خولا پرېږده چې د عزت النفس احساس هم پکښې نه سونده کېده ، خو کله چې پرهغه باندې زمونږ تهذیب طلوع وکړه نو د هغه ژغ پورته شو او هغه امیر المؤمنین ته په خطاب کښې داسې وائی : «زه په الله تعالی باندې ستا له ظلم څخه پناه غوارم» دا ظلم څه وو ؟ نه دوینی تو یو نه وه ، نه د عصمت لوټ کونه وه، نه د مذهب په هکله زور اوجبر وو او نه دی جایداد غصب کول وو ، یواځې دومره خبره وه چې یوو هلک بل هلک دوه قمچینی وهلی وو .

زمونږ له تهذیب سره د لوېدیځ د هستوګنو پېژند ګلوی په منځنیو پېړیو کښې د شام او اندلس په توسه ؤ شوه ، او له هغه څخه په خوا پادشاه د دینی رهبرانو په خلاف او ؤلس د پادشاه په خلاف سا نشوای ویستلای ، په هغوی کښې د دې خبرې پوهه او احساس هم نوه ، چې د حاکم محاسبه او له مظلوم سره مرسته د هغوی بنسټیز حق دی ، د هغوی خو دا حالت وو چې د ګروهې او مذهب د اختلاف له کبله یوو به د بل مرې داسې غوڅو له لکه څنګه چې قصاب څاروی ذبح کوی ، خو کله چې د هغوی اړیکی له مونږ سره پیدا شوی نوپه هغوی کښې د حریت او بیداری هغه جذبه پیدا شوه کومې چې په پای کښې دوی آزاد کړل ، آیا له دی

Marfat.com

ځخه وروسته به هم د آزادي انسانیت او اصالت په ډګر کښې چې زمونږ تهذیب کوم رول لوبولای دی له هغه ځخه انکار ممکن دی ؟ دا که د ژوند په پنځو مختلفو سترو سترو ځانګو «شعبو» کښې زمونږ د تهذیب ځو همیشه پاتی کیدونکی آثار دی ، خو د ملتونو او تهذیبونو په ژوند کښې حورا ځرګند مظاهر دی ، اه دی امله مونږ دا ویلای شو زمونږ تهذیب چې په نوسو ملتونو کښې د آزادي ورسي خپری لو تیتې کړی دی هغوی زمونږ د احسان ممنون دی ، خو مونږ د احسان بدله په دروغژن ویاړ او د باطلو هیلو په ذریعه نه اخلو ، مونږ یواځې د دی غوښتونکی یو چې دریغه په مونږ کښې د ننه د ځان پیژندنی روحیه پیدا شوی وای ترڅو مونږ د خپل تهذیب له ارزښت او د خپلې ورثې له اهمیت ځخه خبر شو او په مونږ کښې د دویم ځل لپاره بیا د «است وسطا» د جوړیدلو صلاحیت پیدا شی ، ترڅو په دنیا کښې د حق د ګواهي «شهادت» د نده تر سره کړو او نړی والو ته د نیکمرغی ، صداقت او شرافت لاروښیو ، او که خدای کول ، نوهیله ده چې مونږ به داسی وو هم کړو .

«وما توفیقی الا بالله»

Marfat.com

# دریم باب

## بشر دوستی

زموږ د نه فانی کیدونکی تهذیب او د هغه د آثارو هیڅ یو څیړونکی شخص د دی. تهذیب له یوو دامی خصوصیت څخه مخ اړونه نشی کولای، چی په هغه سره دی له نورو ګردو تهذیبونو څخه ممتاز دی او هغه دی محبت، او یو له بل سره مینه او محبت دانسان صفت دی. زموږ تهذیب بشری نړی ته له ترکی، دینی تعصب او تفرق څخه نجات ورکړ او هغه نه ئی د مینی، ګډه ژوندون سرستی او مساوات درس ښودلای دی، له اسلامی اصولو سره سم نسلی، طبقاتی او یا قامی لوړتیا هیڅ ارزښت نلری، دغه اصول زموږ د تهذیب تر اساساتو جزئیاتو او تفصیلاتو پوری په ځرګند ډول فعالیت کوی.

ترکومه ځایه پوری چی د اسلامی اصولو او مبادیو خبره ده پدی هکله اسلام اعلان کړی دی چی ګرد انسانان له یوو ځان څخه پیدا شوی دی:

«یاایها الناس اتقوا ربکم الـذی خلقکم من نفس واحدة وخلق منها زوجها وبث منهما رجالاً کثیراً ونساءج. . .»(۱)

ترجمه: ای خلکو له خپل هغه رب څخه ویره وو کړی چی تاسی ئی له یوو کس څخه پیدا کړی او له هغه څخه ئی د هغه ملګری پیدا کړه او له دغو دواړو څخه ئی په ګډه سره ډیر سړی او ښځی پیدا کړی.

---

۱- د نساء سورة: لمړی آیات، ٤ سپاره، ٤ سورة.

پس د ټول بشریت اصل یو دی . او له دغه ګډ توکم څخه وګړی په قامونو ، قبیلو ، هیوادونو او جنسونو باندی ویشلی دی . د دی مثال داسی دی لکه چی په یوو کورکښی له یوی مور او یوو پلار څخه مختلف ورونه او خویندی وی .
پدی اساس کله چی حقیقت دا دی نو بیا د قامونو او جنسونو د تنوع نتیجه یواځی دا کیدای شی چی هغه په خپل منځ کښی د پیژندنی او یو له بل سره په نیکی باندی د مرستی کونی ذریعه وی .

لکه چی قرآن فرمایلی دی :

«یاایها الناس انا خلقنکم من ذکرو انثی وجعلنکم شعوباً وقبائل لتعارفوا . . . »(۱)

ترجمه : ای خلکو ما تاسی له یوو نراوښځی څخه پیدا کړی یاست او د دی لپاره می تاسی مختلفی څانګی او قبیلی وو ګرزولی چی په خپل منځ کښی یو بل سره وو پیژنی .

له دی نه وروسته په ژوند کښی ځینی وګړی مخ په وړاندی د رومی او ځینی نور وروسته پاته کیږی . ځینی بډای او شتمن کیږی او ځینی نور بی وزلی او محتاج کیږی ، یوشخص حاکم کیږی او یو ملت محکوم کیږی . د ځینو قامونو رنګ سپین وی او د ځینو نورو پستوکی توروی .
دا خو د فطرت دوی «قانون» او د ژوند نه بدلیدونکی نظام دی مګر د دی دا مطلب ندی چی دغه ډول لوړتیا

---

۱- د حجرات سورة : ۱۳ آیات ، ۲۶ سپاره ، ۲ رکوع د سورة شمیره ۴۹ .

Marfat.com

اوتیټ والی په انسانیت باندی په اغیزه سره دی هغه د امتیاز او تفرق سبب وګرځیږی ! د شتمن په بې وزلی ، د حاکم په محکوم او د سپین پوستی په تور پوستی باندی هیڅ فضیلت نشته دی . د انسانیت او سړی توب له مخی ټول یو ډول دی . ته لوړ والی او فضیلت دی نو یواځی د تقوی په اساس باندی دی :

«ان اکرامکم عند الله اتقکم . . .» . (۱)

ترجمه : په یقینی توګه په تاسی کښی . د لوړ عزت څښتن هغه څوک دی چی له ټولو څخه زیات متقی وی .

د دوی «قانون» له مخی ټول سره برابر دی او دوی په دوی ټولو په یو ډول حاوی او اوچت دی .

د دوی په منځ کښی به تو پیر یواځی د حق په اساس وی :

«فمن یعمل مثقال ذرة خیراً یره · ومن یعمل مثقال ذرة شراً یره» . (۲)

ترجمه : پس هغه څوک چی یوبخړکی نیکی هم وکړی هغه به په خپله ؤګوری اوکه څوک یو پوټي بدی هم وکړی نو هغه به ؤ ګوری .

ه ټولنیزه توګه ټول مساوی درجه لری . د هغوی

---

۱- د حجرات سورة : ۱۳ آیات ، ۲۶ سپاره ، ۲ رکوع د سورة شمیره ۵۹ .

۲- د زلزال سورة : ۷ - ۸ آیاتونه ، ۳۰ سپاره د سورة شمیره ۹۹ .

Marfat.com

خوا کمن کمزوری ته لاس ورکوی چی پدی توگه گرده تولنه د هر یو وگړی خدمت کوی.

په حدیث کښی راغلی دی :

«مثل المؤمنین فی توادهم وتراحمهم کمثل الجسد الواحد اذا اشتکی منه عضو تداعی له سائر الاعضاء بالحمی والسهر».

«رواه مسلم و احمد»

ترجمه : مسلمانان په خپل منځ کښی د مینی اومهربانی له کبله د یوو جسد مثال لری که د جسد یو اندام ناروغه کیږی نوټول بدن له هغه سره په تبه او بی خوبی کښی گډیږی.

پدی ډول اسلام پرلپسی دا اعلان کوی چی بشریت یو وحدت دی او گواکی د هغه وگړی د یو مور او پلار اولاد دی . د بشری تولنی مثال د یوی ونی په څیر دی چی که باد چلیږی نو د هغی ټیټی او لوړی څانگی تولی له کوم تو پیر څخه پرته ښوریږی . او له دی څخه هم دا خبره په آسانی فهمید لای شی قرآن چی په کثرت سره د یاایها الناس ـــ او د یابنی آدم ـــ په الفاظو خطاب کړی دی هغه د دی په خاطر چی په اذهانو کښی د بشری وحدت تصوړ پیدا او غښتلی وی . دغه ډول د اسلام د «سپیڅلی» دین پیروانو ته ئی په یاایها الذین آمنوا ـــ او ایها المؤمنون ـــ سره خطاب کړی دی. او په هغه کښی لسلی او طبقاتی تو پیرلدی ملحوظ کړای شوی.

Marfat.com

**د اسلامي مساوات عموميت :**

زمونږ د تهذيبي قوانينو په ټولو اړخونو کښې بشري مساوات جاري ساري او موجود دي - په لمانځه کښې ټول و ګړي د خداى پاک په حضور کښې په يوډول در يږي - د کوم پادشاه ، سردار يا عالم لپاره خاص ځاى ندى ټاکل شوى - د رمضان په روژه کښې ټول خلک په يوځيروږي وى - په هغى کښې هم د امير او بداى لپاره تخصيص نشته - په حج کښې ټول حاجيان يوډول لباس اغوندى او په يوو ډول د خداى پاک په حضور کښې دريږي ، او د حج مناسک ټول په يوډول پرځاى کوي - په هغوى کښې دلرى او نيږدى ، غښتلى او کمزورى د خواصوا وعوامو په منځ کښې هيڅ توپيرنوى - او له دى نه وروسته که مونږ دفترى قوانينوته پاملرنه وکړو ، نومونږ هلته ګورو چې له ګردو وګړو سره په حق او انصاف چلن کيږى - د قانون جوړونى اصلي موخه انصاف او نيا و د "عدل" دى- دوى "قانون" دظلم د سخنيوى په خاطر د مبارزى توغ پورته کوي - ترڅو ګرد محروم او اسکيرلى وګړى د هغه سيورى ته پناه يوسي - او بياګله چې مونږ جزائي قانون مطالعه کوونو داراته معلوميږى چې د هر جنايت کوونکى شخص لپاره يوډول مجازات او سزاده - ځوک چې ناحقه خون وکړى هغه قتل کولاى شي، ځوک چې غلاکوى "له قانون سره سم" مجازات کيږى، ځوک چې تيرى و کړى هغه تاديب کولاى شي - خون کونکى که عالم وى که ناپوه او مقتول اميروى که بي وزلى "اوپر هغه چاچې تيرى شوى وى هغه عربي وى که عجمى،

Marfat.com

د ختیځ وی او که د لویدیځ ټول د قانون په وړاندی برابر دی.»

الحر بالحر و العبد بالعبد و الانثی بالانثی[۱] . . . ۱

د ازاد شخص له ازاد ښځه او د مریی له مریی ښځه او د ښځی له ښځی ښځه کسات واخلی ـ

**د اسلام د نظرلوروالی :**

د اسلام دوی له دی ښځه هم له زیاتی لوړ نظری ښځه استفاده کوی او هغه له دین، توکم اورنگ ښځه په صرف نظر کولو ټول بشریت ته درناوی بخښی ـ

و لقد کرمنا بنی ادم . . . . . ۲

دغـه درناوی او تکریم د ټولوتو کونو «انسانانو» یوفطری حق دی او هغه د گروهی «عقیدی» زدکړی «علم» او دژونـد تیرونی په لحاظ ټولوتو کونوته پـه یوډول زمینـه برابر وی ـ اسلامی ریاست دادنده «وجیبه» لری چی پرته له تو پیر ښځه په یوډول د دغو چارو کفالت و کړی ـ اسلامی شریعت په دی ښځه هم زیاتی هسکی ځوکی ته خیژی او فرمائی چی د خدای ... په وړاندی به د ثواب او عذاب پریکړه «فیصله» د انسانانو په ظاهری کړو «اعمالو» باندی نه بلکه د هغوی له نیتو ... ره نسمه کیږی :

---

۱ـ د بقره سورة ۱۱۸، آیات ۲ سپاره ۲۲ رکوع ۲ سوره.

۲ـ د اسراء سورة ـ ۷ ـ آیات ۱۰ سپاره ۷ رکوع ۱۸ سورة او په یقینی توگه مونږ بنی آدم «انسان» ته عزت بخښلای

ان الله لاینظر الی صورکم ولکن الی قلوبکم .

(رواه مسلم)

« په یقینی توگه خدای پاک ستاسی صورتونوته نه بلکه زړونوته گوری »

د جزا او سزا اصل انحصار په نیت باندی دی لکه چی د سنت امامانو پدی هکله لاندنی حدیث روایت کړی دی :

انما الاعمال بالنیات و انما لکل امری مانوی ـ

«په یقینی توگه ټول عملونه په نیت پوری اړه لری او د هر چا لپاره هغه څه دی چی د هغه په نیت کښی وی.»

او ددی پرځنگ کښی الله تعالی داهم فرمایلی دی چی د الله تعالی په وړانـدی مقبول نیت دادی چی د خیر او گټی رسونی او د خدای پاک د رضامندی نیت وکړای شی «او په ځان گړی ډول» د سوداگری او کومی مادی گټی لاس ته راوړل په نظر کښی وونه نیول شی ـ

. . . و اعبدوا ربکم و افعلو الخیر لعلکم تفلحون٥ ۱

دغه ښیگڼه چی یواځی د الله تعالی د رضامندی په خاطر کولای شی لـه هغی څخـه لـه گټی اخستونکی وگړی څخه د کوم اجر او بدلی هیله لرل ښه کارندی.

و یحبون الطعام علی حبه مسکیناً و یتیماً و اسیراً ٥ انما

---

۱- د حج سورة : ۷۷ آیات ۱۷ سپاره . ۱ رکوع ۲۲ سورة «او د خپل رب عبادت وکړی او دښیگڼی کار وکړی ترڅوتاسی بریالی شی»

Marfat.com

نطعمکم لوجه الله لانرید منکم جزآء ولاشکورا۲

«او هغوی د خـــدای په مینـــه بې وزلو او یتیمانو او بندیانوته ډوډی ورکوی، اووائی» په یقینې توگه مونږ خوتاسی ته یواځې د الله تعالی د رضامندی په تکل ډوډی درکوو ، له تاسی څخه د بدلی او منې هیله مندنه یو .»

**د نظر دلوړتیا وسعت او کمال:**

اسلامی قانون جوړونه خپل د بشر دوستی د کمال وروستنی پړاوته هغه وخت رسېږی که چی هغه انسان، څاروی، نباتات، جمادات ، مځکه او اسمان د الله تعالی د عبودیت او د فطرت د قوانینو د اطاعت په سزی کښی یوپړبل پسی سره وو پی ئی - قرآن څنگه په کښلی انداز کښی هر مسلمان ته د لما نځه په هر رکعت کښی ور په زړه کوی :

الحمد لله رب العلمین ٥ الرحمن الرحیم ٥ ۳

۳- د فاتحه سورة -۱ -۲- ایاتونه

گردثنا او صفت یواځې او یواځې هغه الله تعالی لره دی، چی د ټولونړی والو رب او پالونکی دی، هغه الله چی خورا مهربان او زیات رحم کوونکی دی .

او په دی ډول هغه له هر مسلمان څخه غوښتنه کوی چی باید هغه هره شیبهاو گړی د اخبره په پام کښی وولری چی دی د هغه کائناتو یوغړی دی ، چی هغه د داسی هستی مخلوق دی چی خورا مهربان او نهایت رحم کونکی دی او چی د هغه رحمت هر شی ته رسیدونکی او گردوته شامل «گډ» دی، له دی امله

Marfat.com

هر مسلمان ته لازمه ده هغه چې په کومو کائناتو کښې هستیږي او چې ورته اړتیاهم لري نو د هغو تولو پــه هکله باید د هغه الله د رحمت ښکارندوی شي چې د هغه صفتونه رحمن او رحیم دي، پداسي حال کښې چې خدای پاک ددوی دالوږول دریغ او کارته هډوارتیا نلري.

اپادا اعلانونه د پیل غابنونه وو؟ :

د اخوز سونږ د تهذیب د بشر دوستۍ هغه مظاهر وو چې د هغه په اساسي تصوراتو کښې هم رول لري او فعالیت کوي او د هغه په قوانینو کښې هم له هغه وخت څخه څرګندي .

کوم وخت چې هغه خلکو ته اعلان کړای شو ـ اوس دا پوښتنه پیدا کیږي هغه وخت چې ده د فاتح حثیت ترلاسه کړ او د حکمرانی د درجې په لاس ته راوړو بریالی شو ایا په ریښتیا او حقیقی توګه هم د هغه تکلاره همدا ډول وه؟ او که د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو د هغه میثاق په څیر دیوی معاهدی په توګه پاتې کړای شو چې د هغه د اعلان ورځ د ګردو حکو متونو له خوا نمانځلی کیږي خو په حقیقي تو ګه هغه د نړی ستر ستر حکومتونه هر وخت هره ورځ او د هر کال له میاشتو څخه په هر میاشت کښې ، له پښو لاندې سروي ؟ او بله دا چې دغه اصول یواځې د هغو هیوادنو تربولو محددو کړای شو په کومو کښې چې د دوی اعلان و کړای شو ـ لکه څنګه چې د فرانسی د انقلاب أصول تر فرانسی پوري محدود کړای شو او د فرانسی تر حکومت لاندي په هیوادونو ، او د اکتشاف او ترانتداب لاندی سیمو دروازی د هغوی پرمخ

Marfat.com

ترلی پاتی شوی ـ د ازادی هغه مجسمه چی د نیویارک په ساحل باندی نصب کړای شوی ده او هر هغه څوک چی امریکا ته ننو وځی هغه گوری ـ ایا د نړی په کومه بله برخه کښی هم دغه ډول کومه مجسمه نصب کړای شوی پداسی حال کښی چی له امریکا څخه په بهرنړی کښی په خپله دامریکایانو له پلوه ډول ډول مانورو پهصورت کښی دحال په ژبه په ازادی باندی ملنډی وهل کیږی او په هغی پوری پسخند کولای شي ـ د حریت او ازادی په مینا لو باندی د ظلمونو غرونه چپه کولای شي.

نه ، بلکه هغه څه چی زمونږ تهذیب وویل هغه په عملی ډگر کښی وو ښودل ـ مونږ پدی هکله باید تاریخ وو پوښتو څکه چی تاریخ ریښتونی گواه دی ـ مونږ ته لازمه ده چی مونږ د خپل تهذیب د بشر دوستی په اړخ نظر واچوو او مونږ باید د خپلو حاکمانو او وگړو هغه کړنلاره و گورو چی د عالم په جریده کی ثبت ده او د دوی هغه چاری چی د تاریخ په سینی کښی محفوظی دی هغه په خپلو نارو سورو کښی د کوسو او ځرنگ حقائقو اعلان کوی ؟

لمړی گواهی :

حضرت ابو ذر رضی الله عنه چی د غفار له قبیلی څخه وو په څه خبره باندی د حضرت ابوبکر رضی الله عنه ازاد کړی سړی «غلام» ته په غصه کیږی ـ او دوی دواړه د حضرت صلی الله علیه وسلم له یارا نو څخه وو د دوی دواړو ترمنځ پیښه شوی شخړه وویده شوه او حضرت ابو ذر د زیاتی غصی له امله حضرت بلال ته وویل «ابن السودا» «یعنی د توریوستکی

Marfat.com

زوره» حضرت بلال حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته پدی هکله شکایت وکړ ، نبی علیه الصلوة و السلام حضرت ابو ذر ته وویل «ایا تا ده ته د ده دی مورپیغور ورکړی دی ـ معلومیږی چی په تا کښی اوس هم څه نا څه جاهلیت سوجود دی» حضرت ابو ذر دا فکر وکړ چی ښائی جاهلیت کومی جنسی اخلاق ناوړ تیا ته ویل کیږی او په هغی باندی خو یواځی څوانان اخته کیږی ـ له دی امله هغه وویل نه یا رسول الله پدی زړ بودی کښی ؟» حضرت ورته وو فرمایل «هو د استاورور دی» دحضرت له دی وینا څخه وروسته حضرت ابوذر حضرت بلال ته په خپله کړی خبره ډیر» پښیمانه شو، تر به ئې وویسته او خو را ندامت ئې څرگند کړ او په ډیره عاجزی باندی ئې حضرت بلال ته وویل چی زما خو له په لغته ووهه. ۱

دویمه گواهی :

د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی یوه پیښه و شوه او هغه دا چی د بنی مخزوم د قبیلی یوی ښځی غلا وکړه. هغه ئې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته راوستله ترڅو هغی ته سزا ورکړی ـ په قریشو باندی دا خبره سخته تمامه شوه او هغوی په خپل منځ کښی دا فکر او پریکړه وکړه چی څوک مخور پیدا کړی ترڅو هغه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته د دغی ښځی د سزا معاف کولو سپارښتنه وکړی ـ تصویب پدی وو شو چی اسامه بن زید ، حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته

---

۱ـ دا حدیث په بخاری مسلم او نوروکتابونوکښی روایت کړای شوی دی.

Marfat.com

ډیر گران دی ، هغه دا کار کولای‌شي ، هغوی لاړل او حضرت اسامه ئې د سپارښتنی لپاره چمتو او رضا کړ ـ هغه لاړ او پدی هکله ئې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته خبره وکړه. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سخت په غصه شو او آسامه ته ئې وویل «ته د خدای پاک په حدودو کښي سپارښتنه کوی ؟» او بیا ئې وروسته له دی خلک را تول کړل او د یوی له بلاغت نه ډکی خطبی څخه وروسته ئې خلکو ته وویل «له تاسی څخه دوړاندی ملتونو د هلاکت له عواملو څخه یو دا وو هغه څوک چی د هغوی په وړاندی به شریف وو له هغوی څخه به که کوم یو وغلا وکړه نو هغه ته به ئې هېڅ نه ویل او که‌کوم خوار او بې وزلی به غلا وکړه نو په هغه به ئې حد جاری کا وو ـ زما دی په الله تعالی سوگند وی چی که دغه غلا فاطمه بنت محمد صلی الله علیه وسلم هم کړی وای نو ما به د هغی لاس پری کا وو.

**دریمه گواهی :**

قیس بن مطاطیه چي یو منافق وو ، یوه ورځ داسی یوی غونډی ته ځی چی په هغی‌کښي سلمان فارسی، صهیب رومی۲ او

۲ـ دغه دری واړه حضرات د جاهلیت په زمانه کښي مریونه وو خو کله چی د اسلام ځلیدونکی او ازادی ښونکی لمر طلوع وکړه دغه دری واړه قدر من ازاد کړای شو او د مسلمانانو په افتخاری مشرانو کی شمار شول . ژباړونکی.

بلال حبشي ناست وو ـ قیس ته وویل «اوس او خزرج خو د دی سړی محمد صلی الله علیه وسلم» مرسته او ملاتړ وکړ خو پدی

Marfat.com

نپوهیږو چې دغه وګړي یعنې د بلال، صهیب او سلمان له ده سره ، څه کوي؟» حضرت معاذ بن جبل هم پدغه غونډه کښې موجود وو هغه له خپل ځایه څخه راولاړ شو او قیس ئې له ګریوان څخه ؤ نیوو او په څکولو ئې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته ورووست او هغه ته ئې عرض وکړ چې ده داسې ویل -

د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مبارکه څیره له غصې څخه تکه سره شوه او خپل مبارک څادرئې په ولې واچاوو او نبوي جمات ته ئې تشریف یووړ - اعلان وکړای شو چې الصلوة جامعة «یعنې لمونځ دریدونکی دی په هغه وخت کې کله به چې کومه ضروري غونډه وه نو دا ډول اعلان به ئې کاوو خلک را ټول شو ، حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خطبه ایراد کړه او داسې ئې وو فرمایل : «ای خلکو ! پوه شئ چې ستاسې خدای پاک یو دی ستاسې غور نیکه یو دی او ستاسې دین هم یو دی -» ۱

## څلورمه ګواهي :

حضرت عدي بن حاتم طائي له اسلام راوړلو څخه وراندې مدینې منورې ته‌دروسی، او هاته ګوري چې په نبوي جمات کښې

---

۱- پورتني حدیث ابن عساکر له زهري څخه روایت کړی دی د حدیث پاتې برخه دا ده چې «عربیت د پلار له ملیا او د مور له سینې څخه چا ته نه ترلاسه کیږي ، بلکه دا خویږه ژبه ده او څوک چې دا ژبه وائي هغه عرب دی .

Marfat.com

په څلور طرفه د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یاران غونډ شوی او ناست دی ، او په همدغه شیبه کښې له کوم جنګ څخه راستانه شوی زغره او خول او د جنګ نور سامان ئی لا تراوسه ندی لری کړای - او کله چې پدوی باندې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هیبت او له هغه سره د دوی بې ټچه سینه وینی نو عدی بن حاتم ډیر مرعوب کیږی- په همدې وخت کښې د مدینې یوه بې وزله ښځه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته راځی او ورته وائی «ای د خدای رسوله زه له تاسره په ګوښه کښې څه خبره کول غواړم حضرت صلی الله علیه وسلم ورته فرمائی ډیره ښه ده د مدینې هری کوڅې ته چې وائی زه له تاسره د خبری دا وریدلو په خاطر تلوته تیاریم - بیا حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له د سره ولاړیږی او لږ څه لیری دواړه لاړل او هلته ئی تر ډیره وخته د هغې خبری اوریدلی او بیا بیرته راغی ، حضرت عدی کله چې دا منظر ؤ لیده نو د بشر دوستی دغه بې سیاله او نه تصور کیدونکی دریځ په د خورا اثر وکړ او مسلمان شو.

**پنځمه ګواهی :**

هغه وخت چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له یویشت کلن کشمکش او هلو ځلو څخه وروسته مکه فتحه کړه او هغه څوک چې د ده د رسالت او دعوت تکذیب ئی کړی وو ، حضرت ئی له کوره ویستلای وو ، او له ده سره جنګیدلی وو ، په دغه ورځ هغوی ټول ماتی خوړلی د ده په وړاندی را ټول اوؤ درول شول ، نو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دوی ته هماغه دعوت ورکړ او هماغه اصول او قوانین ئی ورته

Marfat.com

وړاندی کړل د کوسو اعلان ئی چی له د ښځه مخکښی د همدغی مکی په لوړو ژورو کښی لو ځی پیښی کړی وو او یائی د یوو حکمران په حیثیت په مدینه منوره کښی کاوو، او د اسلام په تاریخ کښی په بشپړه او ځان ګړی توګه ئی دیوو نوی تهذیب بنسټ کیښود ـ اوس هم ده د هماغو اصولو د نفاذ اعلان وکړ د کومو د پلی کولو چی ده تر هغه وخته پوری تبلغ کاوو چی ده ته وروستنی فتح او بریالی توب حاصل شوی نوو ـ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د فتح په ورځ د بیت الله په دروازه کښی و دریده او داسی ئی وفرمایل: ای قریشو اسلام نن ستاسی د جاهلیت غرور او نخوت او ستاسی د پلرونو افتخار او مباهات پای ته ورساوو «او د هغو جرړی ئی له بیخه وویستلی ـ پوه او خبر شئ! ټول بشریت دا دم اولاد دی او ادم له خاوری ځخه تخلیق سیندلای وو» هغه قریش چی تراوسه پوری د نورو عربو مشران وو او په ټولنه کښی ئی خپل ځان لوړ ګاڼه سرونه کښته او په پټه خو له د حضرت صلی الله علیه وسلم ارشادات آوری ـ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بیا د دوی په وړاندی د قرآن مجید دا آیات تلاوت کړ چی ده به همیشه لوست :

یاایها الناس انا خلقنکم من ذکر وانثی وجعلنکم شعوباً وقبائل لتعار فوا ان اکرمکم عند الله اتقکم . . . (۱)

ای خلکو : ما تاسی له یوونر او یوی ښځی ځخه پیدا کړی یاست او ماتاسی د دی په خاطر په ډلو او قبیلو کښی

---

۱ـ د حجرات سورة ۲۶ سپاره ۱۳ـ ایات لمړی رکوع ۹٤ سورة

Marfat.com

ویشلی یاست ترڅو یو بل سره ووېیژنی . په یقینې توګه له تاسی څخه هغه څوک خدای پاک ته ډېر نیږدی دی چی تقوی لرونکی وی .

**شپږمه ګواهي :**

او کله چی د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه د خلافت دوران را دروسی نودی (رض) دیو داسی حاکم په حثیت ډګرته را ووزی چی د هغه زړه او سیلوی «روح» له بشر دوستی څخه ډکه وی. او هغه داسی چی کله دئی خلیفه کیږی نو پدی وخت کښی هم دی (رض) د کوڅی هغو جینکیوته ورځی چی دهغوی پلرونه په جنګونو کښی شهیدان شوی وو او د هغوی میږی او بیزی ورته لوه سی او فرمائی چی «زه هیله لرم چی د خلافت دنده او مسئولیت ما له هغه حسن خلق څخه وو له ژغورل کوم چی ما په و خوا له دڅخه تر مره کاوو».

**دوهمه‌ګواهی :**

او بیا له هغه څخه وروسته حضرت عمر رضی الله تعالی‌عنه د یو شوکت لرونکی خلیفه په توګه را دروسی ، د کمزورو مرستیال دی . په حق باندی تینګ درېږی ' تول وګری د هغه په وړاندی په بشپړه توګه برابر دی ' خپل ځان وړی پریږ دی ترڅو نور ساړه کاندی ، خپل ځان محرموی ترڅو نوروته ئی ور کړی ' دی په خپله کورونو او هستو ګنځیوته د روسی او د خلکو احوال معلوموی او پدی هکله د ده حالات خو را مشهور دی ، د مثال په ډول ده یو ځل په بازار کښی یو سپین ږیری سړی ؤ لید چی ګدائی ئی کوله او خیر ئی غوښت. حضرت

Marfat.com

عمر (رض) له هغه ښځه پوښتنه وکړه چې دی څوک دی ؟ هغه په ځواب کښې ورته وویل چې زه سپین ږیری یم ، د جزئی دور کولو او د خپل ژوند د اړتیا وو د پوره کولو په خاطر دا گدائی کوم ، نوموړی د مدینې منوری د یهودیانو له جملې ځخه وو . وو گوری حضرت عمر (رض) ! هغه عظیم انسان کله چې دا خبره اوری نو څه ورته وائی ؟ حضرت عمر (رض) ورته فرمائی چې ای سپین ږیریه سونږ له تا سره انصاف ندی کړی ځکه هغه وخت چې ته زلمی وی نو مونږ له تا ځخه جزیه واخستله او په زړبو دی کښې مو په ناوړه حالت اخته پری ښودلی ، بیا ئی هغه له لاسه وونیو او له ځانی سره ئی بوته ، هغه ته ئی په خپل لاس ډوډی تیاره کړه او بیا ئی په خپل لاس ورکړه او د بیت المال خازن ته ئی فرمان صادر کړ چې د سړی او د ده په څېر نورلو وگړو ته دوسره روزینه «ورځینی خرڅ» وو ټاکه ، چې د دوی او د دوی د کهول د غړو لپاره کفایت وکړی .

**«الیمه گواهی» :**

یو ځل حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د مدینې منوری په یوه کوځه کښې تیریده چې هلته ئی یو خواره او نری جیلکی و لیده ، چې غورځیده او ولاړیده به او په لاره کښې روانه وه . حضرت عمر (رض) نوروته وویل «د دی خورا گوتی ځومره سخت ناوړه حالت دی ، دا څوک ده ؟ له تاسی نه څوک هغه پیژنی ؟» حضرت عبدالله بن عمر (رض) په څنگ کښې ورسره ولاړ وو او داسې ئی خپل پلارته وویل : «امیر المومنین ! تاسی

Marfat.com

هغه نه پیژنی» . حضرت عمر (رض) ورته ؤ فرمایل چی نه» .
حضرت عبدالله ورته وویل دا خو ستاسی خپله لور ده» ده پوښتنه ورځخه وکړه چی زما کومه یوه لور ده؟ عبدالله بن عمر ورته وویل داز ما پلانی لور ده یعنی ستانسی «حضرت عمر (رض) ورته وو فرمایل چی د اولی داسی ده ؟» عبدالله ورته وویل : «له تا سره چی څه دی هغه کله ته مونږ ته را کوی ؟ بی وزلی او فقر زما لور پدی حالت کړی ده . حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته ؤو فرمایل : زما د په خدای پاک سوگند وی د عامو مسلمانانو له وظیفی څخه زیات له ما سره ستاسی لپاره هیڅ نشته ' هغه که د تاسی ارتیاوی پوره کوی او که نه - زما او ستاسی په منځ کښی د خدای پاک کتاب پریکړه کوونکی دی - «یعنی قضاوت کونکی» .

**تهمه گواهی :**

یو ځل مدینی منوری ته د سوداگر و داسی یو بهیر راغی ، چی په هغه کښی هلکان او ښځی هم وی. حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عبدالرحمن بن عوف ته وویل ، ایا ته نن شپه د هغوی ساتنه کولای شی ؟ همغه وو چی حضرت عمر او هغه په گډه سره هغه شپه په ویښه د بهیر د حفاظت په گزمه کښی تیره کړه - او په همدغه حالت کښی دوارو د تهجد لمونځ هم وکړ - حضرت عمر رضی الله عنه په دغه شپه کښی د کاروانیانو د یوو کوچنی ماشوم ژړاترغوږ شوه - هغه ته نیږدی لاړ او د هغه مورته ئی وویل چی له الله تعالی څخه ویره وکړه په خپل زوی پا ملرنه وکړه «او بیا بیرته ور څخه لاړ خوشیبی و

Marfat.com

روسته ئې بيا د هغه کوچنی ژړا و اوريد له ، دی بیاد کوچنی مورته لاړ او ورته ئې وويل له الله څخه ووېرېږه، او په کوچنی پا ملرنه کوه ـ او کله چې د شپې وروستنی برخه راغله نو کوچنی بيا ؤ ژړل ، حضرت عمر رضی الله عنه د هغه مورته لاړ او ورته‌ئې وويل ـ «ډير افسوس د تا په حالت ته خو ډيره بد مرغه مور راته معلوميږی ، څه لامل دی چې ستا کوچنی ټوله شپه په کراری ويده نشو ـ ښځې ته څه معلومه وه چې هغه له امير المؤمنين سره خبری کوی ، هغی ورته وويل «أی د خدای بنده تا خوزه گرده شپه له خوب نه وو يستمه ، زه هغه په زور له‌تی څخه بيلوم ، خو هغه نه جلا کيږی» . حضرت عمر رضی الله عنه ورته وويل چې داسی ولی کوی ؟ هغی ورته وويل» : له دی أمله چې عمر يواځې هغه کوچنی ته ورځنی خرڅ مقرروی چې هغه له تی څخه جلا شوی وی» . حضرت عمر رضی الله عنه پوښتنه ور څخه وکړه چې دغه کوچنی د څومره مودی دی ؟ ښځې په ځواب کښې‌يو څومياشتې ورته وو ښودلې، بيا حضرت عمر رضی الله عنه دغې ښځې ته وويل له تی نه د کوچنی په بيلولو کښې دومره بيړه مکوه ـ بيا حضرت عمر رضی الله عنه د گهيځ لمونځ خلکوته پداسی حالت کښې ور کړ چې د ډيری ژړا له کبله خلکو قرأت وانوريدلای شو. له سلام گرځولو څخه وروسته ئې وو فرمايل : هلاک دوی عمر «رضی الله عنه» چې د مسلمانانو کوچنيان ئې قتل کړل «بيائې وروسته له هغه ډنډورچی «منادی» ته وويل چې په ښار کښې دا اعلان وکړه چې خلک د يواځې د ورځې‌خرڅ دپاکاو په خاطر کوچنيان له‌تی څخه نه‌بيلوی

Marfat.com

نه نن نه وروسته به دهر کوچنی لپاره روزینه مقررولای شی» لنډه دا چی د هبواد پهټولو سیمو کښی ددی فرمان اعلان وکړای شو.

ی سیاله :

په خدای دی زما سوگند وی ! په ګرد بشری تاریخ کښی د دی په څیر عظمت لرونکی پیښه په نظر نه را درومی : دنړی په ګردو تهذیبونو کښی هیڅ داسی یو تهذیب نشته چی د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په څیر داسی مثال وړاندی کړای شی، ی د خو دی په خپله ویښ وی او د بوډیر پیره د کوی او اروانیان د ټول ویده وی پداسی حال کښی چی دی پدغه وخت کښی امیر المؤمنین وو ، یعنی د هغه ستر اقتدار څښتن چی هغه د قیصر او کسرئ په څیر په سترو سترو سلطنتونو بریالی شو خوله دی سره سره هغه داسی کارو کړ چی د نن سبایو عادی ۔ چاهی به هم داسی ؤ نکړی چی د یوو کاروان په څارنه دی ماسور وی ، «او بیا د ټوله شپه ویښ او د کوچنی په غم کی وی او تهجد د هم وکړی» حضرت عمر رضی الله عنه دری خلی د کوچنی مور متوجه کړه چی کوچنی کرار کړی - اوس څوک داسی دی چی د مسافرو له کوچنیانو سره د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په څیر سلوک وکړی ؟ د بشری تاریخ له سترو شخصیتونو څخه څوک دی چی د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د دغه بشری شعور ګرد ته هم وو رسیدی لای شی ؟

نسمه ګواهی :

او واوری زمونږ په تهذیب کښی له د څخه هم زیاتی عظمت لرونکی پیښی «واقعات» موجودی دی ، د حضرت عمر

رضی الله تعالی عنه خدمت گار اسلم وائی چی زه یوه شپه له حضرت عمر رضی الله تعالی عنه سره وو تم ، مونږ دواړه له مدینې څخه لرې لاړو ، مونږ د لرې او نیږ دی کورونو په هکله معلومات تر لاسه کول ، د سفر په دوران کښې په یوو لرې ځای کښې داور رڼا زمونږ په نظر شوه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه راته وویل «ماته ښکاری څوک لاروی د سړو او شپې له امله هلته پاتې شوی دی ، څه چې مونږ هم هلته ور شو» ، مونږ په ګړندی «چابک» قدم اخستلو سره هلته وورسیدو، مونږ هلته یوه ښځه وولید له چې یو څو کوچنیان هم ورسره ناست دی او کټو ئ په نغری باندی ایښی ده ، کوچنیان چیغی وهی او ژاړی ، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه تور سری ته سلام وا چا وو او ښځه ئ ؤ پوښتله چی څنګه چل دی او تاسی دلته څه کوئ ؟ ښځی وویل د سړو او شپې له امله مونږ دلته پاتې شوی یو ، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه پوښتنه ور څخه وکړه «دا کوچنیان ولی ژاړی» ښځی په ځواب کښې وویل چی «له لوږی څخه» هغه پوښتنه ور څخه وکړه ، «په دی کټوی کښې د څه بار کړی دی ؟» ښځی ورته وویل «په هغی کښې تشې او به دی چی د کوچنیانو د پاد ګیرنی لپاره می په اور کیښودلی ده تر څو ماشومان کرار او ویده شی او زما او د عمر رضی الله تعالی عنه په منځ کښې به الله تعالی فیصله کوی» د ښځی هدف دا وو چی عمر رضی الله تعالی عنه له ما سره بې انصافی کوی ، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته وویل : (ای د خدای بنده عمر ستا په حال څه خبر دی)؟ هغی وویل کله چی هغه زمونږ له حال څخه غافل دی نوپیائی ولی خپل ځان دوخت

Marfat.com

خلیفه تاکلی دی ، اسلم وائی چی حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ماته وویل څه چی څو ورورہ ، سونږ له هغه ځایه ډیرګړندی روان شو.د ذوړو زیر می (ګودام) ته لاړو او حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دوړو یوه توبره او د غوړو یو کوتی را واخستل او ماته ئی وویل چی دغه دواړه زما په اوږه را کښیږده، ما عرض ورته وکړ چی زه به ئی پر خپله اوږه کښیږدم حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په غصه را باندی را برند شو او راته ئی وویل : (ایا د قیامت په ورځ به هم ته زما پیټی (بار) پورته کړی) ؟

همغه وو چی ما هغه دواړه د ده په اوږه کیښودل ، او بیا مونږ دواړه ډیر ګړندی روان شو (او د ښځی دمه ځای ته ؤ رسیدو) حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اوړه او غوړی ښځی ته په مخکښی کیښودل له بوجی څخه ئی لږ څه اوړه را وویستل او ښځی ته ئی وویل چی هغه لانده کړی اوزه به تر هغو پوری اور تیز بل کړم.

له دی خبری سره سم حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د نغری اورته پوکی پیل کړ ، د ده ږیره مبارکه ډیره ګڼه وه ما لیدل چی د ده د ږیری له ویښتو څخه لوګی بهر کیده ـ تر دی چی غذا پخه شوه ، بیا کټوی حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په خپلولا سوکښته کړه او هغی ښځی ته ئی وویل چی کاسه یا کوم بل لوښی راوړه ، هغی یو لګن را واخست حضرت عمر رضی الله تعالی عنه کوټوی په هغه کښی چپه کړه او هغی ښځی ته ئی وویل چی ته ئی کوچنیانو ته ورکوه اوزه به بوزی (پکی) ورته

Marfat.com

و همه چی سره شی ' پدی ډول تر هغه وخته پوری دی همغلته ناست وو چی هغوی ټول ماړه شول او ډوډی خوړل ئی بس کړل ' او زیاته غذا چی پاتی شوه هغه ئی په لګن کښی پری ښودله ـ بیا له دی نه وروسته حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ولاړ شو اوزه هم ورسره ولاړ شوم . دغی ښځی ورته وویل : الله تعالی د له تا سره ښه وکړی له امیر المؤمنین څخه خوته د خلافت زیات وړئ. (حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ورته وو فرمایل :) ته له خولی څخه د نیکی او خیر خبری وو باسه ' سباته کله چی ته امیر المؤمنین ته راشی نو انشاء الله چی هلته به ما بیا موسی. (له دی نه وروسته بیا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه له هغه ځایه یوه ټوټه لری لاړ او بیا بیرته راستون شو او د هغوی تم ځای ته نیږدی غلی او پټ کښیناست ـ ما ورته وویل چی دا کار ستاسی وړندی ، خو هغه ماته هیڅ ځواب را نکړ ـ مونږ ورته کاته چی هغو کوچنیانو په خپل منځ کښی لوبی کولی ' او بیا ګردویده شول ـ حضرت عمر رضی الله تعالی عنه الحمد لله وویل او پاځیده او ماته ئی مخ راواړا وو او راته ئی وویل) اسلم ! هغوی لوږی خوړ ولی وو هغوی ژړل او ویده کیدلای نشوای ' او زما زړه تر هغه پوری نه ښی غمه کیده چی دوی سی د ارام او سکون په حالت کښی نوای لیدلی ـ له همدی امله ما هغوی په پټه سره وو څارل چی اوس دوی څنګه دی ؟ (او تاهم ولیده چی هغوی ټول په ډاډه زړه ویده شول .

**یوو لسمه ګواهی :**

د غم شریکی او مساوات په هکله د بشری تاریخ په نه

Marfat.com

هیریدونکو پیښو کښې یوه هغه پیښه هم ده چې حضرت عمر رضی الله عنه ته «دخلافت په دوران کښې» یوه سپه پیښه شوه. د ده دا خوی وو چې د شپې له مخې به گرزیده او حالات به ئې معلومول ، پدې لړ کښې دی یوه شپه له مدینې سنوری څخه ووت او په یوه ژوره کښې روان وو چې ناڅا به ئې ژړاتر غوږ شوه ' او د ژړا دغه ژغ له داسې یوې خیمې څخه راته چې د هغې په دروازه کښې یو سړی ولاړ وو . حضرت عمر رضی الله عنه هغه ته سلام واچا وو او پوښتنه ئې ورڅخه وکړه چې هغه څوک دی ، سړی ورته وویل زه یو اطراف هستوگنی یم او دلته «مدینې ته» له امیر المؤمنین څخه د مرستې د غوښتلو لپاره راغلی یم ، حضرت عمر رضی الله عنه پوښتنه ورڅخه وکړه چې دغه ژغ څنگه او ولې را د رومې ' سړی حضرت عمر رضی الله عنه ته وویل چې څه ورورو خپله لاردی وعه له کوم شی سره د چه کار نوی د هغه لټون مکوه ، سړي خوار ته څه معلومه وه چې دی له امیر المؤمنین سره خبری کوی حضرت عمر رضی الله عنه په خپلی پوښتنې ټینگارو کړ سړی مجبور شو او ورته ئې وویل چې زما ماندینه «ښځه» ده او دی زیگندی دردو نه ئې دی او له هغې سره هیڅوک هم نشته. د دی خبری په اوریدلو حضرت عمر رضی الله عنه په بیره خپل کورته لاړ او خپلی میرمنی حضرت أم کلثوم بنت علی رضی الله عنه ته ئې وویل : «آیا ته له هغه ثواب گټلو سره مینه لری کوم چې الله تعالی تاته تیار کړی دی ؟» بی بی پوښتنه ورڅخه وکړه «هغه څه شی دی؟» حضرت عمررضی‌الله عنه

Marfat.com

تولہ قصہ رته نیره کړه او هغی ته ئی وویل چی له ده سره لاړه شی او له ځان سره د نوی پیدا کیدونکی ماشوم لپاره اغوستونکی او د زچه لپاره د اړتیا تول شیان له ځان سره واخلی او له د سره سره د خوړلو او څښلو شیان او غوړی‌هم له ځان سره واخلی. هغی هم تول شیان را واخستل. حضرت عمر رضی الله عنه هغه ټول سره واخستل او خپله بی بی ئی په ځان پسی روانه کړه. خوشبختی ورورسته دواړه خیمی ته ورسیدل، حضرت عمر رضی الله عنه ام کلثوم «خپلی بی بی ته» وویل چی د ننه خیمی ته لاړه شی. او دی له هغه سړی سره د باند کښیناست او اورئی بل کړ د هغو راوړو شیانو په پخولو ئی پیل وکړ. خو تر اوسه دغه اطراف سړی ته دا معلومه نده چی دی د دنیا له یوه عظیم شخصیت سره ناست دی.

په همدی وخت لښی کوچنی د ننه په خیمی کښی پیدا شو. ام کلثوم له خیمی څخه د ننه ژغ وکړ چی. امیر المؤمنین! خپل دوست ته د زوی د پیدایښت مبارکی وو آیاست. دغه اطراف سړی کله چی دام کلثوم د ژغ الفاظ واوریدل نو پوه شو چی ده خو خوشبختی وړاندی امیر المؤمنین ته ترخه خبره کړی وه او اوس له هغه سره ناست دی، په ده باندی د ویری غوندی حالت راغی او په کرار د حضرت عمر رضی الله عنه له څنګ څخه لری شو.

حضرت عمر رضی الله عنه هغه ته وویل ویریږمه بی تکلف کښینه حضرت عمر رضی الله عنه په خپله کټوی پخه کړه او ام کلثوم ته ئی وویل دا کټوی د رواخله او زچه ته خواړه

Marfat.com

ورکړه ، کله چې زچه خواړه ؤ خوړل او سړه شوه نو هغه پاتې ئې د سړي مخې ته کېښودل او حضرت عمر رضی الله عنه ورته وویل چې واخله ؤ خوره تووله شپه دې په ویښه تیره کړه او تکلیف دې ؤ گاله . او بیائې وروسته ورته وویل چې سباما ته راشه ، زبه ستا د اړتیا وو د پوره کولو فرمان صادر کړم ، کله چې سبا دغه سړی د خلافت دربار ته لاړ نو حضرت عمر رضی الله عنه د ده دوچنی زوی ته ورځینی خرڅ مقرر کړ او ده ته هم ئې ډیره بخششی ورکړه.

**څوک خو د یو مثال هم داسي وراندې کړي :**

ترکومه ځایه چې زه معلومات لرم نو په وثوق سره دا وایم چې د بشري تاریخ د نومیالیو شخصیتونو د ژوند په سوانحو کښې ما خود پورتنې پیښې په څېر داسې څرګنده او د پاملرنې وړپیښه چې دور ورولی له احساساتو څخه ډکه وي نده لیدلې . امریکا ته د نجات ورکوونکې جارج واشنګټن دا واقعه مشهوره ده چې نوموړي یوځل په یوو واټ «سړک» باندې تیریده ، هلته ئې ؤ لیدل چې څوکسه عسکر د یوې ډبرې د پورته کولو هڅه کوي خو پورته کولای ئې نشي ، د دوی څارونکې له دوی سره ولاړ دی خو مرسته نه ورسره کوي ، ابراهام ورته وویل ورورا ته هم له دوی سره مرسته وکړه ، مگر هغه انکار وکړ او په ځواب کښې ئې ورته وویل چې داسې کولی زما له حثیت څخه ټیټ کار دی . واشنګټن خپل څادر لرې کړ او په خپله ئې له هغوی سره د ډبرې په پورته کولو کښې مرسته وکړه ، تر دې چې هغوی ډبره پورته کړه او بیا ابراهام هغوی

Marfat.com

ته ورپل هر وخت چې تاسې ته داسې اړتيا پيښيږي نو د ابراهام د نور پوښتنه کوي . په يقيني توګه هم دا يوه نادره پيښه ده چې د اخلاقو په لوړ والي دلالت کوي خو دا د حضرت عمر رضي الله تعالى عنه له پورتنۍ پيښې سره څنګه برابر پيدلای شي ؟ چې هغه د شپې خپل خوب . او ارامتيا پرې ښودل ، او د خلکو د حالاتو د معلومولو لپاره له کور څخه ؤ وت او که چې هغه ته معلومه شوه چې يوه بلار به ښځه د زيګندې په درد اخته ده او هيڅوک هم د هغې مرستيال نشته نو دی بېرته خپل کورته راځي او خپله ميرمن له ځان سره بيائي ، په خپله د خوراک څښاک شيان اخلي ، او ميرمن ئې جامې او نور د اړتيا وړشيان اخلي ، او په توره شپه کښې دواړه د هغه سړي کورته د رومي «د چاچې ميرمن ناروغه وه» او هلته د حضرت عمر رضي الله عنه ميرمن چې زمونږ په اصطلاح کښې ملکه ده ، دوينځې د نده تر سره کوي او په خپله حضرت عمر رضي الله عنه اشپزي کوي . آيا په بشري نفس کښې داسې کوم لوړ مثال شته ؟ چې هغه ته تر اوسه پورې د ګردې نړۍ ، د سلطنت کوم رئيس رسيدلای نشي .

دا د حضرت عمر رضي الله عنه له عظمتونو څخه يوعظمت دی او دا زمونږ د تهذيب يو روښانه اړخ دی چې د حضرت عمر رضي الله عنه په څېر يو باديه نشين انسان ئې د يو داسې شخصيت په صورت او قالب کښې واچا وو چې اوس هم هغه د بشري ټولنې په نوميالیو وګړو کښې له ټولو څخه هغه ډول لوړ مقام لري لکه څنګه چې زمونږ د تهذيب مقام د ګردو

Marfat.com

تهذیبونو د ډلیک په سرلنبی ځای نړای شوی دی.

**دلی دلی :**

په دی ځای کښی د دی خبری یادونه هم ضروری ده باید ووایم چی زمونږ تهذیب یواځی حضرت عمر رضی الله عنه د یو بشپړ او خورا مشفق شخصیت په شکل کښی ندی وړاندی شوی ' بلکه د حضرت ابوبکر صدیق ' د حضرت عثمان او د حضرت علی رضوان الله علیهم ' ژوند هم له دغه ډول رحمت او شفقت څخه معمور ' او د بشپړ انسانیت په قالب کښی ئی اچولی وو ' همدارنګه د حضرت عمر بن عبدالعزیز ، صلاح الدین ایوبی او نورو سترو شخصیتونو ، علماوو فقیها وو ، فلاسفه وو او رهبرانو په ژوند کښی هم زمونږ لپاره داسی بی شمیره مثالونه موجود اولاس ته راد رومی ، چی په هراړ خیزه توګه هغه زمونږ د تهذیب ځلیدونکی ګواهان دی.

Marfat.com

# څلورم باب

**مساوات :**

زموږ د نه زوال مېندونکی تهذیب دا دویم اړخ دی، چې هغه د توکونو ترمنځه د ریښتینی مساوات بنسټونه د دې تکی له په نظر کښی نیولو څخه پرته ټینګ او پلی کړل چې د چارنګ څنګه دی او څوک نه چا سره اړیکی لری؟ لکه چې قرآن مجید له د اعلان څخه وروسته «چې فرمایلی ئی دی» :

«ان اکرامکم عندالله اتقکم...» . (۱)

ترجمه : په یقینی توګه له تاسی څخه د خدای پاک په وړاندی ډیر عزت مند هغه څوک دی چې ډیر پرهیزګاروی .

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د حجة الوداع «یعنی خپل وروستنی حج» په ژوندی او چاودانه خطبه کښی و فرمایلی :

«الناس من آدم وآدم من تراب . لا فضل لعربی علی اعجمی ولا لابیض علی اسود الا بالتقوی».

ترجمه : ټول انسانان د آدم اولاد دی او آدم له خاوری جوړ شوی وو . عربی په عجمی هیڅ فضیلت نلری او نه سپین پوستکی په تور پوستکی مګر په تقوی سره .

---

۱ـ د حجرات سورة : ۱۳ آیات ، ۲۶ سپاره ، ۹٤ سورة .

Marfat.com

دا یواځې د خولې خبره نه وه:

دا مساوات ځوم داسې مساوات نوو، چې د یو څو رسمي غونډو په وخت کښې یواځې د هغه اعلان وکړای شو. لکه څنګه ئې چې ن سبا په عمومي ډول د لویدیځ د تهذیب بچیان کوي. بلکه دا یوحقیقي او د ژوند په مختلفو حالاتو کښې تطبیق کیدونکې داسې بشپړ مساوات وو، چې د ورځینو چارو په څیر ئې کار کاوو چې نه خو د هغه په تطبیق چا حیرانتیا ښکاره کوله او نه په هغه کښې کوم ډول تصنع اوجعل کړون لاره. او لکه څنګه چې دغه مساوات د هغه جمات په انګړ کښې قدم ټینګوده. په کوم کښې چې خاک د الله تعالی د بندګي او د هغه په وړاندې دی ئې وزلې انکسار په خاطر سره ببدل. «حاضریدل» په هغوی کښې به د هر رنګ او توکم وګړي وو او ټول به په یوو فرش باندې یوو بل ته وو په لګولی د الله تعالی په عبادت او هغه ته په عاجزی او زاری کولو باندې لګیا وو، او هیڅ یوو سپین پوستکې به په خپل ځان کښې له د اساه کوم ډول زړه تنګی نه احساسو له چې د هغه په څنګ کښې، یو تور پوستی حبشي ولی ولاړدی. په همدی ډول دغه مساوات خپله لمن حج ته هم وو غځوله. او هغه وخت چې د مختلفو پاټکیو «طبقو» سپین پوستي وی او که تور پوستي په بیت الله کښې سره ټولیدی نو ټول په یوو ځای د حج مناسک پرځای کوی. یو ډول لباس اغوندی. او په هیڅ ډول د سپین او تور په منځ کوم تو پیر نوی او نه خو کوم سپین نه په تور باندی لوړوالی او امتیاز وی. او د زمانی

سترګو د دې مساوات دا منظر هم لیدلای دی چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ، د مکې د فتح په وخت کښې حضرت بلال حبشي ته حکم کوی چې د حق د اعلان په خاطر د کعبې بام ته ؤو خیږی او اذان وکړی ، د غور او فکر دونی وړخبره ده کعبه ، د الله تعالی هغه کوردی ' چې هغې ته په جاهلیت کښې هم د مقدس حرم مرتبه ورکړای شوی وه او په اسلام کښې هم د قبلې جوړیدلو لوړ مقام ورکړای شوی دی ، خو سونږه ګورو چې یو حبشي مرئی «غلام» د هغې بام ته خیږی او دغه سپېڅلی مقام د هغه تربښو لاندی کېږی . دا یو داسی مثال دی چې د هغه په هکله ؤ سنی مهذبه نړۍ هم فکر نشي کولای . د مثال په ډول لکه امریکا ، چې هلته د سپین رنګو او تور پوټکو پاټکی اوس هم جلا جلادی ' مګر اسلام اوس نه بلکه څوارلس سوه کاله وړاندی هغه په عملی ډګر کښې شودلی دی . د حضرت بلال حبشي رضی الله عنه کعبې ته ختل ، په حقیقت کښې د دې خبرې اعلان وو چې انسان ته د کائناتو په هر شي باندی فضیلت او لوړتیا ورکړای شوی ده . او انسان په خپل ایمان ، په خپل علم ، په خپلو نیکو اخلاقو او په خپل عقل د دغه عزت او تکریم وړګرځی نه په خپله غوښه پوست یا رنګ او توکم .

له همدی امله هغه انسان چې خپل ناوړه عملونی شاته غور ځولای وی د هغه ښائسته رنګ هغه مخ په وړاندی نشی بیولای . او هغه تور پوستی چې عقل فراست او اجتهادی پیاوړتیا هغه وړاندی بیولای وی د هغه تور پوست هغه په شانشی نیولای .

همدغه وجه وه حضرت ابو ذر غفاری رضی الله عنه سره له دی چی یو جلیل القدر اصحابی وو . مگر هغه وخت چی ده یوه ورځ د غصی په حالت کښی حضرت بلال رضی الله عنه ته وویل چی : «ای د حبشی ښځی زویه ، نو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ده دا خبره ؤ نه زغملای شوه او هغه ئی تهدید کړ او داسی ئی ورته وو فرمایل چی : «په تا کښی اوس هم د جاهلیت بوی پاتی دی چی تا ده ته د ده د مور د تور پوستوالی پیغور ورکړ او د ده خجالت کول د غوښتل ؟» .

دا هغه مقام دی چی د جهل اوعلم په منځ کښی بیاونکی کرښه ده . او په نورو الفاظو کښی دا د ریښتینی بشری تهذیب او د جاهلی تهذیب په منځ کښی بیلونکی پوله ده.

یو مثال :

هغه وخت چی مسلمانانو په مصر باندی یرغل وکړ او هغوی په مصر کښی تر ډیر لری لری ځایونو پوری ؤ رسیدل تر دی چی هغوی د بابلیانو تر کلا پوری ځانونه ؤ رسول ، نو د مصر والی مقوقس له مسلمانانو سره د روغی جوړی د خبرو اترو کولو په تکل یوه ډله هغوی ته ؤ لیږله ځو پوښتنه وو کړه و کړی چی دوی څه غواړی؟ او هغه دا هیله هم څرګنده کړه چی مسلمانان هم باید یو وفد هغه‌ته ؤلیږی ـ همغه وو چی د مسلمانانو سالار او عمومی قوماندان عمرو بن العاص رضی الله عنه هغه ته هم څېرمه یوه لس کسیزه ډله ؤ لیږله او مشر ئی حضرت عباده ابن الصامت رضی الله عنه وټاکه او هغه ته ئی له مقوقس سره د خبرو کولو صلاحیت ورکړ ـ د حضرت عباده

Marfat.com

رنگ خوراتک توروو او دنگ لوړ قد ئی لاره ، کله چی دغه لس کسیزه ډله د مقوقس هستوګنځی ته ؤ رسیدله او حضرت عباده ور وړاندی شونو د هغه د څیری او قامت په لیدلو سره په مقوقس باندی ویره او هیبت راغی ' او د مسلمانانو د هیئت نورو غړو ته ئی وویل : «د خدای په خاطر دغه تور پوستی دما له مخی لری کړئ ' او له ما سره د خبرو واترو کولو لپاره کوم بل سړی له خپل منځ نه ؤ ټاکی ـ» د هیئت ګرد وغړو په یو خل او یوو اوازو رته وویل : «دی له سونږ څخه په علم او بصیرت» فکر او پوهه کښی په هر لحاظ غوره دی ـ دی زمونږ مشر دی ـ مونږ ټول د ده د خبری او رأی په لور رجوع کوو او بل دا چی زمونږ امیر ده ته یو لړ خاص هدایات ورکړی دی او مونږ ته هغه دا حکم کړی دی چی باید مونږ د ده له نظر او رای څخه مخالفت ونکړو» مقوقس د هئیت غړو ته وویل: «ناسی د خبری ته څنګه تیا ریاست چی یو تور پوستی د ستاسی مشر شی پداسی حال کښی چی دی باید ستاسی تر حکم لاندی وای» د هئیت غړو په ځواب کښی ورته وویل : «اوه دا کله کیدلای شی ؟ پداسی حال کښی چی دی په مونږ ګردو باندی په علم او شرف ، بصیرت او رأی کښی هم باندی او غوره دی. پاتی شو تور والی . دا خو زمونږ په وړاندی کوم عیب ندی ـ» د دوی په د خبره مقوقس پړ او لاجواب شو او حضرت عباده رضی الله عنه ته ئی وویل چی : ای تور پوستیه را وړاندی شه خو خبری به لږ په کراری او نرمی سره کوی ' ځکه چی یو خو ستا له تو روالی څخه زما بدن رپیږی ، او که

Marfat.com

نه په کرخته سره خبری وکړی نو زما په ویره کښی به لازیات والی راشی» کله چی حضرت عباد بن الصامت د مقوقس ویره له نه څخه ؤ لیدله‌نو ورته ئی وویل : «ای وروره ! زمونږ په لښکر کښی یو زر کسه داسی تور پوستکی موجود دی چی له ما څخه زیات تکتور دی ـ»

**دا کوم یواځینی مثال ندی :**

تاسی فکر وکړی چی د اسلامی تهذیب دا اړخ څومره روښانه دی او پدی تهذیب کښی د انسان مقام څومره لوړ دی ـ گردو وگړو تور والی ډیر ستر عیب گانه او هغوی ته د علم او نظر او رأی لوړ مقام ورکول او هغوی تنویر او پرسخ بوول خو پرځای پریږ ده باکه تور پوستکی ئی په انسانانو کښی نه شمیرل ـ خو کله چی زمونږ تهذیب منځته راغی نو هغه ددغو ټولو باطلو معیارونو جرړی وویستلی او باطلو افکارو ته ئی په توهین سره نظر وکړ او حالت داسی شو چی که د تور پوستکو د علم نظر او زړورتیا او میړانی حشیت مخ په وړاندی تلای شوای نو اسلامی ټولنی د هغه په پرمختگ باندی هیڅ کم نیتی نکوله ـ حضرت عباده بن الصامت رضی الله عنه کوم داسی یواځینی مثال نوو چی هغه اسلامی تهذیب د زعامت او مشر تا به مقام ته ؤ رساوو بلکه د هغه په ډول په سلگونومثالونه اسلامی تهذیب وړاندی کولای شی .

**دویم مثال :**

عبدالملک بن مروان به «د خپل خلافت په دوران کی»

د حج په موسم کښی اعلان کاوو چی له عطا بن رباح څخه پرته

Marfat.com

د بل هیڅوک فتوی نور کوی ، او نوموړی د مکی معظمی امام عالم او مفتی وو . ایا تاسی پوهیږی چی عطا بن رباح د توم رنگ او څنگه بدن څښتن توک وو ؟ هغه یو تور پوستی ، گوډ ، پیت پوزی کونړ سترگی او د غوټه لرونکو ویښتانو والا داسی انسان وو چی له هغه سره په څو شیبو کښینا ستو هم ویره راتله ـ او که به چی هغه د زرگو نو شاگردانو په منځ کښی د درس په کړی «حلقه » کښی ناست وو نو داسی به ښکا ریده لکه چی یو تک تور کارغه د دمالوچو دوړی په سرناست وی مگر همغه تک تور پیت پوزی کونړ سترگی او گوډ انسان ته زمونږ تهذیب ' د یوو امام مقام ورکړ او خلک هغه ته د فتوی ورکولو لپاره ورتلل ، د هغه شخصیت په خپل ذات کښی د فکر یو داسی ښوونځی جوړ شو چی له هغه څخه په زرگونو ښائسته رنگی عالمان او فاضلان گډوو وو تلل او هغه د دوی په وړاندی یو عزت مند لوړ او د مینی مقام لاره .

**له سر څخه تر پښو پوری :**

زمونږ د تهذیب او ټولنی ' د علم او ادب په ډگر کښی ډیر داسی ماهر وگړی تیر شوی دی چی هغوی په نسل او توکم کښی حبشی تور پوستی وو ـ خو د دوی دغه تور والی دوی له د خبری څخه نه ژغورل چی هغوی دی د علم او ادب په ډگر کښی پرمختگ وکړی او هغوی دی داسی ادیبان جوړ شی چی هغوی دی د خپل وخت له نازک مزاجو امیرانو او خلفاوو سره کښیني ـ او یا هغه فقیه شی او داسی کتابونه تصنیف کړی چی په اسلامی علومو او ادب کښی د هغه د

Marfat.com

اعتماد ور مراجع ؤ گرځیږي د مثال په ډول عثمان بن علي زیلعي چې نوموړی په حنفي فقه کښې په کنز الدقائق نومي کتاب باندې یوه مستنده شرح لیکلې ده او یا جمال الدین ابو محمد عبدالله بن یوسف زیلعي «متوفی ٧٦٢ﻫ» چې نوموړی د نصیب الرایه په څیر مشهوراو مستند کتاب تصنیف کړی دی ـ او دغه پورتنی دواړه ښاغلي د حبشه دهیواد دی او دازیلع نومی ځای» هستوګنې وو ـ پدې برسیره له کافور اخشیدي څخه هم څوک بې خبره ندي ، چې یو تور پوستی غلام وو او په څلورمه هجري پیړۍ کښې د مصر حکمران وو او دا هغه څوک دی چې متنبي د هغه په هکله په خپلو شعرونو کښې د هغه د ستاینې او غندنې په توسه د هغه نوم تر قیامت پورې ژوندی ساتلی دی .

## د رنګ تور والی او سپین والی نه بلکه د عمل تور والی او سپین والی معتبر دی

لنډه دا چې زمونږ تهذیب د تور پوستو او سپین پوستو په منځ کښې هیڅ ډول طبقاتي توپیر ته قائل ندی او نه په اسلامي تهذیب کښې د تور پوستکو لپاره داسې ځانګړې هستو ګنځې او سیمه ټاکل شوي چه په هغه کښې دوی له سپین پوستو څخه لرې او جلاوو هستیږي او نه د هغوی په حقوقو کښې د داسې کمښت راوستلو قائل دی چې د هغه په توسه سپین پوستکي په هغوی باندې اوړوي او دوی دی د سپین پوستکو په تشدد او تیرې زغملو قوراً او جبراً مجبور کړای شوي وي ـ بلکه زمونږ تهذیب یو داسې حقیقي بشري تهذیب دی

چي د هغه په وړاندې بشریت خورا ارزښت لري هغه ګردو وګړو ته یواځې د حق او ښیګڼې په معیار سره ګوري او د هغه په وړاندې یواځې د اعمالو تور والی او سپین والی معیار دی . او د پوست سپین والی او تور والی ته اعتبار نه ورکوی .

**څوک داسې کولای شي :**

داسې تهذیب چې په هغه کښې یو رنګ ته په بل رنګ او یو توکم ته په بل توکم باندې فوقیت او لوړ والی ، نوی ورکړ شوی یواځې هغه توک ئې پلې کولای شي ، چې خورا د پراخ نظر او د ښه اخلاقو څښتن وی ـ او همدغه عزت او تکریم لرونکی تهذیب د بشریت د سعادت او نیکمرغی ځانګو جوړیدلای شي ـ او هغه تهذیب چې په هغه کښې سپین پوستکی ته په تور پوستکی فوقیت ورکړای شوی وی تور پوستي بې وزلی وی ، او سپین پوستي پکښې د هوسا او سوکاله ژوند تیرولو مستحق وګڼلای شي ، تور پوستي ستړی ستومانه او سپین پوستي په ارامه باندې وخت تیر وی داسې تهذیب هغه جاهلی تهذیب

دی چې بشریت په زرګونو کاونه ، د مظلومه ، قرنونو په لور تمبوی ـ داسې تهذیب احمقانه کبر جن جاهل اوروند تهذیب دی که څه هم په وینا سره خو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حضرت ابو ذر غفاری رضی الله عنه ته فرمایلی وو چې: «انـک امرأ فیـک جاهلیة» خو دا جمله په حقیقت کښې د هغه وجدان ښکارندویه ده چې له هغه څخه هر هغه جاهلی تهذیب ترکیب سوی چې هغه په توکونو یا د توکونو په خاوره او وینه کښې د ژبې او رنګ په اساس تو پیر کوی ـ اسلام د دغه

Marfat.com

دول باطلو تهذیبونو د ژوند په هر ډگر کښې مقابله کړی ده ـ په جمات کښې ، په محکمه کښې ، د قیادت په ډگر کښې ، اسلام په دغو پورتنیو ټولو ساردو کښې له خپل دوست او دښمن سره په یو ډول او مساویانه توگه چلن کړی دی .

فمن یعمل مثقال ذرة خیراً یره و من یعمل مثقال ذرة شرا یره ۱

هغه چاچې یوپوټی نیکی کړی وی هم هغه به ووینی او چاچې یوپوټی بدکړی وی هم هغه به گوری.

**پرمختللی جاهلیت هم سبق نه ارنیالری :**

دا صحیح ده چې له تیرشوی پنځوس کلن دور څخه وروسته اوس دا حقیقت له هیچا څخه پټ نه پاتی کیږی چې د نسلونو تر منځه یواځی درنگ په اساس دا توپیر کول یواحمقانه حرکت او دریغ دی او داډول دریغ هیڅ یوپرمختللی تهذیب نشی زغملا ی او زمونږ له تهذیب څخه خوښځ کله هم داسی هیله نشی کیدلای ـ ځکه چې ده په خپل ټولنیز مساوات او انسان پالی سپنی دد نیاله گردو تهذیبونو څخه پدی هکله زیات نوم گټلی دی ، له همدی امله مونږ ته د خپل تهذیب په هکله بحث کول حیرانوونکی معلومیږی ـ خود مجبوریت له مخی پدی پرمختللی دور کښې او د ملگرو ملتونو «د سازمان» له جوړیدو او د هغه له خواد بشری حقوقو له اعلان سره سره پدی دول

---

۱ـ دزل زال سورة ـ ۷ـ۸ ـ ایاتونه . ۳ سپاره د سورة شمیره ۹۹ .

ـسانلو باندی مونږ ته دلیکنی ارتیاپید آکیږی، ځکه چی همدا اوس هم په جنوبی افریقـه کښی د نسلی امتیاز انسان د ښمنه عمل ـونږ په سترگ وینو او پدی هکلـه به مونږ پـه راتلونـکی ورځ کښی زړه دړده وونکی خبری واورو په گینی‌کښی د بنکیلاک «استعمار» پرنووونکی ظلمونه گرده نړی گوری، په امریکا کښی چی په حبشو باندی ـه نیرږیږی هغه له هیچا څخه پټ ندی ، او له د څخه هم زیاده ـمړاووونکی خبره خوداده هغه څوک چی په جنوبی افریقه کښی دنسلی امتیاز تحریک پلی کړی او هغه ته بلونکی دی او هغه څوک چی په گنی کښی په تورپوستو باندی اقتصادی ظلمونه کوی او هغـه څوک چی پـه امریکه کښی حبشیانو ته خورا سخت عذابونه ورکوی، له هغو ټولو څخه یو هم د ختیځو ملتونو وگړی ندی ، ترڅو هغه ته د مرتجع ، وروسته پاتی او حماقت پیغور ورکړای شی - بلکه هغه ټول د دوی په گمان داروپا د پرمختللو او متمدنو هغو ملتونوزا مـن دی چی د ملگرو ملتونو په سازمان کښی په مهمو او ارزښتناکو هیوادونو کښی شمیرلای شی - داروپا دغه تش په نوم د تهذیب څچبان همیشه د ختیځ وو سیدونکوملتونو ته د مرتجع او متعصب پیغورونه ورکوی ، خو دوی همغلته کوم څه چی کوی هغه د هیچا له سترگونه پټ ندی - او کوم هیوادونه چی دغه ناوړه اوله شرمه ډک کارونه کوی هغوی د ملگرو ملتونو په مهمو مبصرینو کښی شمیرل کیږی. پدی وخت کښی امریکا گرد ملگری ملتونه کنټرولوی، بریطانیه دارو پا هغه سترحکومت دی چی په ځول جمهوریت و یاړی' جنوبی افریقه د هغه ځای

نوی کشف کړای شوی هیواد دی چی د هغه په پولو کښی داروپائی ښکیلاک سپین پوستی گوډاگیان میشته دی ، او اوس په دغه هیواد حکومت کوی، دغه هیواد هم د تهذیبی نړی په مهمو هیوادونو کښی گڼل کیږی ـ همدارنگه جنوبی امریکا هم د ملگرو ملتو د ساز مان د«هیوادونومهم هیواددی او د ملگرو ملتونو د منځنی پاټکی په حکومتونو کښی د هغه خبره په بشپړه توگه منلای شی ـ دا د تهذیب د تړغ هغه پورته کونکی هیوادونه دی ، چی د شلمی پیړی په روان دور کښی ، د بشریت د تاریخ د هغه ناوړه جنایت ارتکاب کوی، چی د هغه مثال د بشریت په تیر شوی تاریخ کښی ترډیره لری پوری نشی لیدل کیدلای او هغه دا چی په خپله یو انسان راولاړیږی په خپل ورور باندی ظلم او تیری کوی او هغه هم له دی املهنه چی هغه کمزوری او ناپوه دی بلکه له دی امله چی هغه تور پوستی دی .

**هنداره درو اخلاست :**

د لوید یځی افریقا حکومت د نسلی توپیر او امتیاز پالیسی غوره کړی ده او هغه د سپین پوستو او تورپوستو قامونو لپاره ځانگړی دندی ټاکلی دی او د ملگرو ملتونو داسیائی ځانگی د افریقائی گروپ له پرلپسی احتجاجونو او سختو مخالفتونو سره سره، هغه په خپله پورتنی پالیسی باندی ټینگار کوی ـ بریطانیه په کینی کښی د هغه هیواد په وطن پال اوازادی غوښتونکی نهضت «ماؤماؤ» باندی ډول ډول ظلمونه کوی او د هغوی ټولنیز قتلان کیږی ـ بریطانیه په کینی کی د مخکودویش په هکله د

۱۹۱۵ مسیحی کال د نافذکړای شوی قانون په دوام باندی تیڼگار کوی - په پورتنی قانون کښی په گینی کښی میشته کړای شویو ۲۹ زور سپین پوستوته دو سره مځکه ورکړای شوی ده چی د گینی څلور ملیونه پنځه پنځوس زره تور پوستو خوار انودا حالت دی چی د سپین پوستو له خواپر هغوی باندی د هغو په کورونو ، پټیو او د کار کولو په وخت کښی یرغل او غوتی کولای شی پداسی حال کښی چی هغوی د گینی اصلی مستوگنی دی او د خپل هیواد د دولت او حکومت حق دار همدوی دی - ښاغلی «سیرالیون کله چی په۱۹۵۵ مسیحی کال کښی دملگرو ملتو په سازمان کښی د گینی د عوامو له خوا دلمړی او ازاد نماینده په توگه وټاکل شو , ده په خپله یوه وینا کښی د گینی حکومت د پالیسی په تشریح کښی داسی وویل : «د گینی د محکومی برخی کورنی حالت داسی دی چی هلته تول د کروندی وړ مځکه د سپین پوستو لپاره دد او دا به یوډول منافقت وی چی زه دا خبره په ډاگه ونه وایم چی په گینی کښی د سپین پوستو گټوته لمړی مقام ورکړ شوی دی - د گینی له سیاست د هغه د حکومت له قانون او د هغه له پالیسیو څخه داسی ښکاری پــه ډاگــه څرگندیږی چی هلتـه یوځپین ښکیلاک جوړیدونکی دی - په گینی کی تراوسه پوری لویدیځ حکمران پدی پالیسی باندی روان دی چی مځکه د ټوله سپین پوستوته ورکړای شی - او هغوی داحق لری چی د دغو مځکولاس ته راوړی گټی هر څکه چی وغواړی مصرف کړی .

هلته د ځکی په هکله له نادرو قوانینو څخه یودا قانون

هم دی ، کومه مځکه چی د هغی اندازه له ... ٥ پنځه زره هکتاره څخه زیاته نوی د هغی په هکله حاکمان ددی واک لری چی هغه دلیز معاوضی په بدل یعنی په یو کال کښی د ۹۹۹۸ د هغه هیواد دروپیو په بدل کښی په اجاره ورکړی ـ ددی قانون نتیجه دا شوی ده چی هلته له اروپائی وګړو سره د یو کس لپاره ... ٥ پنځه سوه هکتاره مځکه ده خو د دی په مقابل کښی د هغه له اصلی هستوګنو سره د یوکس لپاره ۸ هکتاره مځکه ده ، پداسی حال کښی چی وروستنی ډله وګړی د ګینی اصلی هستوګنی دی . پدی برسیره هلته سپین پوستکو ته جلا او تور پوستکوته جلا د هستوګنی لپاره سیمی ټاکل شوی دی او تور پوستی هیڅ کله او په هیڅ وخت کښی د سپین پوستو د هستوګنی سیمی ته نشی ورتلای او کله چی د کار او مزدوری لپاره تور پوستو ته د سپین پوستو ارتیا پیدا شی نو هغوی هلته بیائی خو څنګه چی کار پائی ته رسیږی نو دغه تور پوستی د خپلو فوډالانو له سیمی څخه په منډه ووځی او ځانونه خپلو جونګړو ته رسوی او دا هم له د امله چی دوی ته مزدوری ډیره لږ ورکوی او که نه نو سپین پوستکو به دغه تور پوستی خواران په دغه حالت کښی هم نوای پری ښودلی .

**دا امریکا دی :**

کله چی مونږ په امریکا کښی د تور پوستکو او سیدونکو حالات مطالعه کوو نو مونږ ته پرهغوی باندی د خو را درد وونکو ظلمونو معلومات لاس ته راځی او د هغوی له معلومولو سره سم په انسان باندی ترهه او هیبت را د رومی ـ امریکا

یونوی پیدا کړای شوی لویه و چه «بحر اعظم» ده او د مهذب والی ستر مدعی دی - امریکا ته په رسیدلو ، هر ورتلونکی ته د نیویارک په بندرګاه کښې د ازادی یوه ستره نصب کړای شوی مجسمه تر سترګو کیږی ، چې هر ورتلونکی ته هر کلی وائی - د دغې مجسمې لاندې داسی لیکل شوی دی :

«خپل ې کسه خوریدلی او مرنی وګړی ما ته راوو سپاری ترڅو هغوی دلته د ازادی ژوند و کړای شی - تاسې خپل ګڼ رټل شوی ما ته را واستوی - هغه وګړی چې نه خو د هغوی هستو ګنځی وی او نه هیواد ، واخلی زه حاضریم او خپلې طلائی دروازی ته نیږدې مشال په لاس ولاړیم».

هوکې د بشریت د ازادی په دغه ستر مدعی هیواد کښې چې د هغه په ګردو پولو او بنا درو او په ښارونو کښې ، او له ګردو څخه په ستر ښار نیویارک کښې د ازادی دغه مجسمه نصب ده ، په تور پوستو باندې ظلمونه کیږی - د بشریت په تاریخ کښې دا له ټولو څخه خورا ناوړه جنایت دی - زه پدې لړ کښې له خپل ځان څخه څه ویل نه غواړم چې پدې لړ کښې په خپله څه وو ایم بلکه دا په خپله د هغه ملت اعتراف دی چې هغه دا هر څه په خپله کوی - او حقیقت هم په همدې ډول دی او هلته هر څه چې کیږی د غور او فکر له مخې کولای شی - جیمز بیرنز چې د امریکا د سنا د مجلس غړی دی داسې وائی : «هیڅ یو تور پوستی دا حق نلری چې «په امریکه کښې» په هغه څیر د سیاسی مساوات خیالات په ذهن کښې راوړی لکه څنګه چې په جنوبی ایالا تو کښې کیږی - دا هیواد د سپین

پوستو دی او په همدغه دریځ به د همیش لپاره وی».

**ټول بدن داغ داغ دی :**

په امریکا کښی ، په حبشیانو باندی کوونکی مظالم په مختلف ډول او د ژوند په مختلفو اړخونو کښی پرهغوی باندی کولای شی د مثال په ډول ثقافتی اړخ ئی وګوری چی د امریکا نیږدی په شلو ایالاتو کښی تور پوستوته دا اجازه نشته چی هغوی دی له سپین پوستو سره یو ځای په یو وښو ونځی او یا یوو پوهنتون کښی تحصیل وکړای شی ، د مسیسپی د قانون په ۲۰۷ ماده کښی په څرګنده توګه دا لیکل شوی دی :

«پدی ډګر ـ یعنی د ښوونی او روزنی په ډګر کښی دا خبره باید په نظر کښی ونیول شی چی د سپین پوستو او تور پوستو د ښوونځیانو د زده کړی لپاره د ځانګړی ځانګړی تیاری ونیول شی ، پدی اساس پدی لړ کښی لومړی اقدام دادی چی د دواړو ښوونځی د ځانګړی وی».

د فلوریدا په ایالت کښی خوان په تعلیمی نصاب کښی هم تر پیر ضروری ګڼل شوی دی او هلته د سپین پوستو او تورپوستو د لوست کتابونه هم ځانګړی دی ـ د امریکا په ټولو ایالاتو کښی هیڅ سپین پوستی له حبشی ښځی سره واده نشی کولای او نه کوم حبشی نرله سپین پوستی ښځی سره واده کولای شی ـ د مسیسپی په ایالت کښی دا ډول واده او نکاح په قانونی توګه فسخ او باطله ده ، بلکه په هغه ایالت کی له داسی سپین پوستی شخص سره هم واده نشی کولای چی د هغه په رګونو کښی ګرزیدونکی وینه په ۱/۸ کی ونډه هم د کوم تور

پوستي وي.

د کارګرانو د کار په ډګر کښې چې کوم تو پير هلته د دغو دوارو نسلونو ترمنځ موجودي د هغه حالت دادي چې په کارخانه کې د کوم حبشي له سپين پوستي سره په يو وميز کښيناستل خو پرېږده ، حبشيان هغو دروازوته د ننوتلو حق هم نلري کومې چې د سپين پوستو د وتلو او ننوتلو لپاره ټاکلي شوي دي.

په ټولنيز اړخ کښې ئې د نسلي تو پير دا حالت دی چې نيږدې به څو ارلسو ايالتونو کښې ، په ګاډي کښې د سفر په دوران کښې ، په قانوني توګه د حبشيانو د ناستې کوټې له سپين پوستو څخه جلاوې - د اورګاډيو سرويزو او د تيلفون په خونو کښې د حبشيانو د ناستې لپاره ځانګړي انتظامات نيول کيږي - په روغتونونو کښې د حبشيانو خونې جلاوې - ان تردې چې د دماغي ناروغيو په روغتونونو کښې هم سپين پوستو ليونيانو ته په تورپوستو ليونيانو باندې امتيازي حثيت ورکړای شوی دی او له د څخه هم زيات حيرانوونکې هغه اعلان دی چې د واشنګټن د سپيو د ايديري «قبرستان» رئيس صاحب وکړ او داسې ئې وويل چې په راتلونکې کښې به هغه هيڅکله هم په خپلې ايديره کښې د هغو سپيانو دفن کولو ته اجازه ورنکړي چې د هغوی مالکان تورپوستي وي - نوموړي پدې باندې اعترف کوي چې له مړيني څخه وروسته په خپله خو ددې خبرې هيڅ باک نلري چې هغوی څنګ په څنګ بلکه ټول په يوو غوجوړې «چقورې» کښې دفن کړای شي خو د هغوی مهذب مالکان دا که خوښوي چې د هغوی عزت مند سپي دې د يوو تور پوستي د سپي

ترخنگ دفن وی او پدی خای کښی د هم د مساوات ، ناوړه ، حرکت تبارز وکړی .

**یواځی غولونه ده :**

که کله امریکائی دیپلوماتان ، د دغه شرم ناک حالت توجیه داسی کوی چی نسلی تو پیر یواځی د امریکا په جنوبی ایالاتو کښی ډیر زیات منډل کیږی او جنوبی ایالتونه تر اوسه پوری دومره مهذب نه دی ـ لکه څومره چی شمالی ایالات مهذب دی مگر قطع نظر له د څخه چی د دوی دغه عذر د دوی له گناه څخه ډیر ناوړه دی خو مگر برسیره پدی چی د گناه دغه معذرت له گناه څخه خورا ناوړه دی حقیقت ته هم غلط رنگ ورکوی او د هیواد اصلی حالت د دوی د پورتنی توجیه تکذیب کوی څکه چی ـ د امریکا د شمالی ایالاتو په ټولو ښارونو کښی حبشی وگړی په داسی چټلو سیمو کښی ژوند کوی چی د هغو ټولی خونی خاپی او له تختو او کرڼو څخه جوړی شوی دی ، او دغه ټولی داسی سیمی دی چی د گنگیو او کثافتونو ډیرانونه پکښی پراته دی ، د مچانو او غوماشو نور غوبل وی ـ او زیات وختونه له لرگیو څخه په دغو جوړو شویو خونو کښی اورلگیږی «چی د مال او سر زیانو نه ورته رسوی» د نیویارک په هارلم نومی کو څه کښی چی د دغه ښار د حبشیانو د هستوگنو کو څه ده هلته یواځی په یوه خو نه کښی نیږ دی نولس کسه حبشیان هستیږی ـ د نیو یارک یوو اخبار لیکلی دی چی ! «که موږ د هارلم د کوڅی د کوهستوگنو په څیر د ټولو امریکایانو میشته کیدل پیل کړو نو د امریکه

تول وګړيز نفوس د نيو يارک د اوسني ښار په نيمائي برخه کښې ميشته او ځائيدلای شي» د واشنګټن د رياست هستو ګنځي

«ارګ» ته مخامخ او د ابراهام لنکن د ښايسته او مشهورې مجسمې له سيورې لاندې يو داسې محله جوړه شوې ده چې په هغې کښې دوه نيم لکه حبشيان هستېږي يعنې د دارالخلافه د تول نفوس څلورمه ونډه، او دغه خواران هلته داسې ژوند تېروي لکه څنګه چې ځاروي په خپلو غوجلو کښې ژوند کوي ، او په همدغه دارالخلافه کښې هغو پوهنځيو ، روغتونونو، سيل ځايونو، هوټلونو او ريستورانونو ته د حبشيانو لپاره د ورتلو اجازه نشته دوم چې د سپين پوستو لپاره مخصوص نړاى شوى دى .

ان ترډې چې دوى د سپين پوستکو کليسا ګانو ته هم نشي ننوتلای - وائي چې يوځل په واشنګټن کښې د پانامه د جمهوريت يو حبشي د کاتوليکانو يوى کليسانه د عبادت کولو په خاطر ننووت خو هلته ده ته يوو «راهب» يو لکۍ کاغذ پداسې حال کښې ورکړ چې دغه حبشي په عبادت کښې مصروف وو پدغه کاغذ کښې د واشنګټن د هغې کليسا ادرس ليکل شوى وو چې هغه د تور پوستو وګړو لپاره مخصوصه ده . او کله چې له دغه «راهب» څخه د ده دى دغه حرکت پوښتنه وکړاى شوه نو هغه په ځواب کښې وويل ، پدى ښار کښې د حبشي کاتوليکانو لپاره ځانګړي کليسا موجوده ده ـ دغه حبشي هلته د خپل رب عبادت کولای شي ـ دغه دريغ د هغو وګړو دى چې هغوى بشريت ته دا زيرى ورکوى او وائي چې حضرت عيسى علي عليه السلام د ټولې بشرى نړى ناجي او خلاصوونکى دى .

Marfat.com

په دغه ډول سپکوونکی فضا کښی له بی وزلی او بدحالی سره مخامخ او په مختلفو رنځو نو او ناروغیو اخته تر ی پنځلس ملیونه هغه حبشی تور پوستان په امریکا کښی د ژوند خورا ترخی شپی او ورځی تیروی چی هغوی د دغه هیواد د ټولو هستوګنو د نفوس نیږدی لسمه برخه ده - خو بیا هم له دی سره سره امریکا په ملګرو ملتونو کښی دا دعوه کوی چی هغه د آزادی او حریت توغ پور ته کوونکی دی او د ګردی نړی د بشری ملتونو آزادی او سوله غواړی .

**د خپلی کورنی غړی پری ګواه دی :**

سونږ دلته د یوو امریکائی لیکوال «هیری هائی ورد» له کتاب» څخه چی نوم ئی د «تور پوستکو ازادی» دی یو څو داسی اقتباسات د ګواه په توګه وړاندی کوو چی د هغه حریت او ازادی دی د حقیقت ښکارند وی دی ، د کومی چی امریکا په ډیر ستر طمطراق دعوه کووی «نوموړی په خپل پورتنی کتاب کښی لیکلی دی» : «پدی کښی شک نشته چی له جنوبی افریقا څخه پرته ، د نسلی توپیر په اصولو باندی کوم یو ملت په غلام ګڼلو باندی دومره ذلیل او توهین کړای شوی ندی لکه څومره چی زمونږ په هیواد امریکا» کښی ذلیل کړای شوی دی، که څه هم غلامی دخپل معروف او اصطلاحی مفهوم له نظره پای ته رسیدلی ده او هغه دا چی مالک د خپل غلام داسی ملکیت نلری لکه څنګه چی هغه د خپلو نورو تمایکی شیانو په هر حیثیت مالک وی . مګر د یو طبقاتی نظام دحا کمیت په وجه غلامی اوس هم موجوده ده او اوسنی غلامی پدی ډول

Marfat.com

ده چی د سپین پوستو لپاره خو دی د سو کاله او هوسا ژوند کولو گرد لوازم موجودوی مگر تور پوستوته دی له هغوی څخه په ټیټه درجه کښی ځای ور کړای شوی وی او د خپلی دغی پالیسی د پیاوړتیا لپاره له مختلفو لارو او ذرائع څخه کار اخستل کیږی ـ او هغه دا چی ځنی وختونه د وژنی او هلاکت د احکامو د صادرولو له لاری خپله دغه پالیسی نافذیږی او له قدرت څخه گتوره نړی ئی د حبشی وگړو په هکله جاری کوی . او یا د غیر منصفانه او ظالمانه قانونی احکامو په شکل کښی او کله کله د داسی رسم او رواج په شکل کښی چی د هغه په هکله خدای پاک هیڅ دلیل ندی نازل کړی .

**او دا ذی هم وا وری :**

د اقتصادیو مشهور امریکائی متخصص ښاغلی «ذکتر بیرلو» وائی :

په دی کښی شک نشته هغو صناعتی وگړو چی د امریکا د خانه جنگی په زمانه کښی ئی په فدرالی حکومت قبضه کړی وه ، هغو په حقیقت کښی د حبشی قام ازادی نه غوښتله ، بلکه هغوی غوښتل چی نه یواځی دوی بلکه د امریکا جنوبی ایالات چی د تورپوستکو غلامانو یواځینی مالک ځان گڼی ، او له هغوی څخه بی دریغه گټه اخلی ، هغوی باید دغه گټه یواځی ؤنه خوری بلکه مونږ هم ورسره شریک شو . حقیقت خو دادی چی دیموکراتیک گوند او نظامی ځواک په گډه سره په جنوبی ایالاتو کښی دا سیاسی رول ؤلوبا وو چی دتورپوستو له

Marfat.com

په حوانیو مالکانو سره ئې دا تړون وکړ چې تور پوستي باید بیا له سره نوی غلامان وګر زولای شي.»

**دا هم ؤګوری :**

همدغه مصنف لیکلی دی :

«د نسلی تو پیر زهر په ډیره ناوړه توګه د هیواد په طول او عرض کښې تیت شوی دی او د امریکائی تولنی په رګونو کښې ئې داسی سرایت کړی دی چې اوس عام وګړی ددی خبری عادی ګرزیدلی دی چې هغوی باید په هیڅ صورت کښې هم د حبشي قام او نورو اقلیتونو سپکای او تذلیل له لاسه ورنکړی او د دغه تحقیر او استخفاف اپاره نوی او ډول ډول تعبیرونه او اشاری وضع کوی.»

**دوه نور ګواهان :**

ښاغلی «جاک لیت ، او ښاغلی» «لمی مور» وایی دی :

«د نړی په ملتونو کښې امریکا له دی امله شهرت اری چې د هغه دی سمبول امتیاز دحریت تمثال دی ـ او د هغه دا معنی ده چې مونږ به خپل هیواد کښې هر یو راتلونکی او پناه اخستونکی ته هر کلی وایو ، برابره خبره ده که هغه له بل ځایه د ظلم او تیری له امله راتښتید لای وی او یا پر بل باندی له ظلم کولو اوکړ او رسولو څخه په نړی تښتیدلو دلته راغلی وی ـ خو مګر دا ډیره د خواشینی خبره ده چې له کومه وخته دغه د ازادی مجسمه نصب کړای شوی ده په امریکا کښې دازادی او مساوات دغه پورتنی مفهوم پای ته رسیدلای دی.»

Marfat.com

**یوه بورنوونکې پیښه :**

په پای کښې له ټولو څخه زړه ته دا پیښه د یادونې وړ ده چې په ۱۸٤٦ مسیحي کال کښې د کولمبیا په ښار کښې ، یوو حبشي ځوان او د هغه سور خپله راډیو دتخنیکی خرابیتا د جوړولو او د هغې د خرابو پرزو د بدلولو لپاره د کوم راډیو جوړه وونکي دوکان ته یوړه دوکاندار د راډیو د ترمیم لګښت ورته وواېه چې دومره ډالره کیږي هغوی ورسره ومنله څه زمانه وروسته چې هغوی د ترمیم پیسې ورکړې او راډیو ئې را واخستله هغوی دده په وړاندې د راډیو د معلوسولو لپاره د هغې غوړتا وکړ او یو پلو بل پلوئې ډیره ؤو خو ځوله خو راډیو ؤنه ژغید له او د هغې په خوانی خرابتیا په خپل حال ده ، او هیڅ ډول مرمت ئې ندی کړای شوئې - د حبشي سور دوکاندار ته وویل چې تا خو له سونږ څخه د یارلس ډالره واخستل او راډیو اوس هم د په خوا په څیر ګونګې ده ؟ ددې پدې خبره چې دوکاندار هغه د ده په مقابل کښې ګستاخي وګڼله خپلو شاګردانو ته حکم وکړ چې هغه له دوکان څخه په زورؤ باسي - شاګردانو دغه بې وزلی او خوار ګوتې بنځه تیل وهله او له دوکان څخه بهر پرسخي ؤ غورځید له - دی دوکاندار پدې عمل حبشي په غصه شو او د هغه شاګرد ئې وواهه او په مڅکه ئې وو پرزا وو - د حبشي له د کار سره د دوکاندار سپین پوستو ګونډه یا نوهې سوران پیل کړ او چغې ئې وهلې چې دغه بدچلن حبشي قتل کړ ئې ' له دغو چغو سره سم د حبشي په شاوخوا د سپین پوستو یو ستر لښکرار ټول شو او ټولودا سوري

وهلی چی سونړ به له دی دواړو «یعنی سور او زوی» ښځه بدل واخلو - د امریکنیانو په اصطلاح کښی له حبشو ښځه بدله اخستل دا معنی لری چی پرته له رسمی محاکمی او قانونی فیصلی ښځه سم له لاسه او په خپل واک د هغوی سردی له تن ښځه پری کړای شی او د کومی بلی سزا خو تصور هم نکوی - لنډه دا چی دغه دواړه سور او زوی له د غوبر غلګرو ښځه خلاص کړای شو او هغه دواړه بنای خانی ته بوتلای شو مګر د سپین پوستو غصه سړه نشوه . او هغوی د حبشیانو په یوه محله باندی یرغل وکړ ترڅو له کومی بلی حبشی ښځی او د هغی له زوی ښځه خپل انتقام واخلی خو پولیسو دغه محله محاصره کړه او د هغوی هستوګنو حبشو ته نی وویل چی هیڅوک له کورښځه بهر نشی - په پای کښی ددی بسندوړ دا نتیجه شوه چی بمیدلو سپین پوستو تخریب پیل کړ د هغوی دروازی نی ورماتی کړی او کورونو ته نی اور واچا وو او په دغو حبشی بی وزلانو نی ګولی ؤ چلولی ، چی پدی ترڅ کښی زیات شمیر حبشیان زخمی او هلاک شول - او دغه ټول مظالم یواځی له د امله پر هغوی ؤ شول چی یوی حبشی ښځی د یوو جائز شکایت څرګندونه ولی ؤکړه او هغه دا چی دوکاندار ته نی وویل چی مزدوری خو دی واخستله مګر راډیو لکه څنګه چی وه همغسی دی بیرته راکړه - دادی د ازادی او مساوات هغه طلائی مثال ، چی د شلمی پیړی - روشن فکرلو یدیځ تهذیب نی وراندی کوی.

**او زمونږ تهذيبي روايات داسې دي :**

او اوس ددې په مقابل کښې زمونږ د تهذيب د ۱۰۰ هجرۍ پېړۍ يعنې د يارلس سوه کاله په خوا يوه پېښه واورئ او هغه دا چې حضرت عمر بن عبدالعزيز ره «د هغه د خلافت په دور کښې» يوې تور پوستې ښځې يو ليک ؤ لېږه چې په هغه کښې دې ليکلي وو زما د کور د ديوالو نه خو را ټيټ دي ، او خلک د شپې له مخې له هغو څخه را اوړي او زما چرګان را څخه غلاکړي زه هيله لرم چې حکومت ئې راته هسک کړي ـ حضرت عمر بن عبدالعزيز هغې ته د ليک ځواب ورکړ او ورته ئې ؤ ليکل چې ما پدې هکله خپل د مصر والي ايوب بن شرجيل ته هدايت ورکړى دى چې هغه په خپله د رشې او ستادکور ديوالونه لوړ کړي . د ليک متن دا وو :

«فرقونه ذي اصبح ازادي کړاى شوى سينځې ما ته ليکلي دي چې د هغې د خونې ديوالو نه خو را ټيټ د او د شپې غدي کوونکي غله د هغې چرګان ورڅخه غلا کوي هغه غواړي چې د خپل کور ديوالونه دنګ کړي ـ له دې امله زما ددې مکتوب په ليدلو سره ته په خپله په ..وراڼې ـ سپورشه او هلته لاړ شه او په خپل حضور کښې د هغه ديوالو نه لوړ کړه.»

ايوب بن شرجيل د مکتوب له ليدلو سره سم له خپل کور څخه ووت او د فرقونه د کور د پيدا کولو په لټه کښې شو او هغه ئې پيدا کړ فرقونه ئې ؤ ليدله چې يوه تور پوستې ې وزلې ـ ښځه ده ـ نوموړې والي تر خپلې ځانې لاندې د امير المؤمنين حکم پرځاى کړ ـ دا دې هغه دريغ او سلوک چې

Marfat.com

سونږ د پارلس سوه کاله په خوا له حبشو سره کاوو او زمونږ
د له وياړه ډک تهذيب يو مثال دا هم دی .

# پنځم باب

## مذهبی پيرزوينه

زمونږ د ژوندی او هميشه پاته کيدونکی بشر پال تهذيب
يو نوی او بی سياله اړخ مذهبی پيرزوينه ده . د اسلامی تهذيب
دغه خصوصيت هم د عقائدو او نظرياتو په تاريخ کښی نوی
دی او هم د په خوانيو هغو تهذيبونو په تاريخ کښی نوی دی،
چی خينی ملتونو ايجاد کړی وو . هغه وخت چی اسلام زمونږ
د تهذيب بنسټ کښی ښود نو د په خوانيو اديانو په خير ئی
د تنگ نظری دريغ غوره نکړ . او نه ئی د نورو مذاهبو او
افکارو په خلاف له کوم ډول تعصب څخه کارو اخيست . بلکه
پدی لړ کښی اسلامی تهذيب داسی شعار ورکړ :

«فبشر عباد الذين يستمعون القول فيتبعون احسنه . .»(١)

ترجمه : پس زيری ورکړه زما هغو بندگانو ته چی د زړه له
کومی او په مينه سره خبره اوری او بيا د هغو په کښورو
معقولو او ښو خبرو باندی عمل کوی او هغه خپل پلی
نوم گرزوی.

---

١- د زمر سورة : ١٧ آيات ، ٢٣ سپاره ' ٢ رکوع د سورة
شميره ٣٩ .

Marfat.com

**د مذهبي پيرزويني اصول او مبادی :**

زمونږ د تهذيب په مذهبي پيرزوينه کښې اصول اومبادی په لاندی ډول دی :

۱- قرآن مجيد د دی خبری وضاحت کړی دی چی ګرد آسمانی اديان له يوی سرچينی څخه را خوتيدلی دی :

«شرع لکم من الدين ما وصی به نوحاً والذی او حينا اليک وما وصينا به ابراهيم وموسی وعيسی ان اقيموا الدين ولا تتفرقوا فيه . . .» . (۱)

ترجمه : الله تعالی ستاسی لپاره هغه دين ټاکلی دی د کوم چی نوح (عليه السلام) ته حکم ورکړای شوی او د کوم چی تاته ئې حکم درکړای شوی دی . او چی د هغه حکم مونږ ابراهيم ، موسی او عيسی ته هم ورکړی وو . او هغه دا ، چی دين قائم کړي او په هغه کښې اختلاف مکوی .

۲- دا چی د ګردو انبياوو عليهم السلام درجه د نفس رسالت له حثيت نه مساوی ده ، او پدی باب کښې هيڅ يو هم پربل باندی فضيلت نلری . په مسلمانانو باندی فرض دی چی هغوی په ټولو رسولانو باندی ايمان راوړی :

«قولوا امنا بالله وما انزل الينا وما انزل الی ابراهيم واسماعيل واسحق ويعقوب والاسباط وما اوتی موسی وعيسی

---

۱- د شوری سورة : ۱۳ آيات ، ۲۵ سپاره ، ۲ رکوع ، ٤۲ سورة .

Marfat.com

وما اوتی النبیون من ربهم ، لا نفرق بین احد منهم ونحن له مسلمون. . .». (۱)

ترجمه : وو آیاست چی مونږ ایمان راوړی دی په الله تعالی باندی او پرهغه څه چی زمونږ په لور نازل کړای شوی دی او پرهغه څه مو ایمان راوړی دی چی په ابراهیم ، اسماعیل ، اسحاق او یعقوب او د هغه په اولاد باندی نازل کړای شوی دی ، او پرهغه څه مو هم ایمان راوړی دی چی موسی او عیسی او نورو ټولو رسولانو ته د خپل رب له لوری ورکړای شوی دی . مونږ «د نبوت په حثیت» د هغوی په منځ کښی هیڅ ډول تو پیرنکوو ، او مونږ د الله تعالی فرمان وړونکی یو .

۳- دا چی د دین په منلو کښی هیڅ ډول زور زیاتی نشته دی بلکه د دین غوره کول د وګړو خوښی رضائی او رغبت ته پری ښودل شوی دی :

«لا اکراه فی الدین. . .». (۲)

ترجمه : د دین د منلو په معامله کښی هیڅ ډول زور زیاتی نشته .

---

۱- د بقری سورة : ۱۳۶ آیات لمری سپاره ، ۱۶ رکوع ، دویم سورة .

۲- د بقری سورة : ۲۵۶ آیات ، ۳ سپاره ، ۳٤ رکوع ، ۲ سورة .

Marfat.com

«افانت تکره الناس حتی یکونوا مؤمنین. . .» . (١)

ترجمه : آیا ته غواړی خلک د خبری ته اړباسی چی مومنان شی .

٤- دا چی د گردو ادیانو عبادتی مرکزو ته د درناوی وړدی . د هغوی ملاتړ او له هغوی څخه دفاع هم هغه دول واجب دی لکه څنگه چی د مسلمانانو له معبد ، جمات څخه واجب دی :

«ولولا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبیع وصلوات ومساجد یذکر فیها اسم الله کثیراً. . .» . (٢)

ترجمه : که چیرته خدای پاک ځینی خلک په ځینو نورو باندی له منځه نه وړلای نو هرو مرو به کلیسا وی ، مدرسی ، د عبادت خونی ړنگ کړای شوی وی اوهمدارنگه به هغه جماتونه هم ړنگ کړای شوی وو چی په هغو کښی د خدای پاک یادونه او ذکر په کثرت سره کیږی .

٥- دا چی د خلکو لپاره روانده چی هغوی یواځی د مذهبی اختلاف په وجه په خپل منځ کښی یو بل قتل کړی او یا یو پربل تیری وکړی . بلکه هغوی ته په کار دی چی په گډه سره نبی چاری پرمخ بوزی او ناوړتیاوی له بیخ څخه

---

١- د یونس سورة : ٩٩ آیات ، ١١ سپاره ، ١٠ رکوع د سورة شمیر ١٠ .

٢- د حج سورة : ٤٠ آیات ، ١٧ سپاره ، ٦ رکوع د سورة شمیره ٢٢ .

Marfat.com

وو باسی :

«وتعاونوا علی البر والتقوی ولا تعاونوا علی الاثم والعدوان. . . ». (۱)

ترجمه : او په نیکۍ کښې یو له بل سره مرسته وکړی په گناه او تیری کولو کښې د یو بل مرسته مکوی .

البته په کومو دینی چارو کښې چې اختلاف راغلی دی د هغه پرېکړه او فیصله به په خپله الله تعالی د قیامت په ورځ باندی وکړی :

«وقالت الیهود لیست النصاری علی شیء وقالت النصاری لیست الیهود علی شیء وهم یتلون الکتب کذلک قال الذین لا یعلمون مثل قولهم فالله یحکم بینهم یوم القیمة فیما کانوا فیه یختلفون.». (۲)

ترجمه : یهودیان وائی چې مسیحیان هیڅ مذهبی حیثیت نلری او مسیحیان وائی چې یهودیان هیڅ شی ندی ، پداسی حال کښې چې دغه دواړه د خدای کتاب هم لولی . او نور ناپوهان هم د دوی په څېر خبری کوی ، پس د دوی د اختلافونو فیصله به الله تعالی په خپله د قیامت په ورځ کښې وکړی.

٦- دا چې د دی دنیا په ژوند کښې د خلکو په منځ کښې یو پربل باندی د فضیلت ورکولو معیار او همدارنگه د الله تعالی په وړاندی د وگړو د فضیلت معیار دا دی چې څوک

---

۱- د مائده سورة : ۲ آیات .

۲- د بقری سورة : ۱۱۳ آیات ، ۱٤ رکوع لمړی سپاره ۲ سورة.

Marfat.com

ډیر متقي دي او چا د بشریت د ښیګنې او سوکالی په خاطر ډیر کار کړی دی .

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

«الناس عیال الله فاحبهم الیه انفعهم لعیاله» .

ترجمه : وګړي د الله تعالی د ملکیت غړي دي له دوی ښخه ډیر غوره هغه څوک دی چې د الله تعالی بندګانو ته ډیره ګټه ورسوي .

او الله تعالی فرمایلي دي چې :

«ان اکرمکم عند الله اتقکم» .

ترجمه : په یقیني توګه له تاسې څخه د الله تعالی په وړاندې ډیر غوره هغه څوک دی چې خورا پرهیزګار متقي او ځان ژغورونکی او له الله تعالی څخه ډیر ویریږي .

۷- دا چې دیني او مذهبي اختلاف د نیکی ، صیله رحمي او ضیافت په لاره کښې باید خنډ نشي :

«الیوم احل لکم الطیبت وطعام الذین اوتوا الکتب حل لکم وطعامکم حل لهم . والمحصنت من المؤمنات والمحصنت من الذین اوتوا الکتب من قبلکم . . . » . (۲)

ترجمه : نن ورځ ستاسې لپاره ګرد د پاکیزه شیان حلال کړای شوي دي او د هغو خلکو د پخلي خوړل هم تاسې ته حلال دي چې هغوی ته کتاب ورکړای شوی دی او ستاسې د پخلي خوړل هغوی ته حلال دي . او د تاسې لپاره له مومنو ښځو څخه پاک لمنې او د کتاب لرونکو ملتونو پاک لمنې ښځې د نکاح لپاره حلالې او روادي.

---

۲- د مائده سورة : ٥ آیات ، ٦ سپاره ، ٥ سورة .

Marfat.com

۸- دا چې که څه هم د پرګنيزو وګړو اديان يو له بل
څخه مختلف هم وي نو دوی د دغو اختلافاتو په هکله يو له بل
سره څېړنه مناظره او مباحثه کولای شي خو په څو شرطونو
سره لمړی دا چې دغه بحث په ډېره مينه وي دويم دا چې په
هغه کښې وقار او متانت له لاسه ورنکړای شي ، دريم دا چې
د احترام او يو بل ته د درلښت په پولو کښې د ننه وي ،
څلورم دا چې دليل ډير معقول په زړه پوري او د مخاطب د
تسلی په خاطر وي :

«ولا تجادلوا اهل الکتاب الا بالتي هي احسن. . .».

ترجمه : او له اهل کتابو سره په خورا نيکه طريقه مباحثه
او مناظره وکړی.

اسلام له مخالفينو سره د بحث په وخت کښې نه خو تجاوز
رواګڼلی دی او نه له هغوی سره د مناظری په وخت کښې د
هغوی د باطلو عقائدو په لامل ئې هغوی ته بښکنځل ډول او
سنځی سپوری ويل روا ګڼلی دی - له څه هم مناظره دوونکی
بت پرست وی :

و لاتسبو الذين يدعون من دون الله فيسبو الله عدوا
بغير علم . . . ۱

او تاسی هغه چا ته بښکنځل مه کوئ چی دوی پر ته له
الله تعالی د هغوی عبادت کوی ځکه چی دوی به په مقابل
کښی په ناپوهی سره او له تاسی سره د دښمنی په وجه الله تعالی
ته بښکنځل او د هغه په شان کښی ګستاخی وکړی.»

۹- هو نه چير په اسلامی امت بانډی د هغوی د ګروهی

Marfat.com

او نظریاتو په اساس ، تیری او تجاوز کولای شی نو په دی صورت کښی د فتنی د پای ته رسولو او د خپلی گروهی د ساتنی په خاطر د دا ډول تیری په خلاف مسلمانانو ته جنگ کول ضروری دی.

و قاتلواهم حتی لا تکون فتنة و یکون الدین کله لله . . . ۲۰۰

۲- د بقری سورة - ۱۹۳ - ایات ۲ سپاره ۲۳ رکوع ۲ سورة.

«او له هغوی سره تر هغه پوری جنگ وکړی چی فتنه او فساد پای ته ورسیږی او بواځی د یو الله تعالی بندگی وکړ ای شی.»

انما ینهکم الله عن الدین قاتلو کم فی الدین و اخرجوا کم من دیارکم و ظاهروا علی اخراجکم ان تولو هم . . .

«په یقینی توگه الله تاسی له هغو خلکو سره له دوستی او اړیکو ټینگولو څخه ژغوری چی هغوی له تاسی سره ستاسی د دین په وجه جنگ وکړی او هغوی چی تاسی‌له خپلو کورونو او ټاټوبو څخه وویستلی او یا ئی ستاسی په ویستلو کښی گډون کړی دی.»

۱- خو که چی مسلمان امت په داسی قام باندی برلالی شی چی هغه د اسلامی ملت د دین یا د ازادی په هکله د تیری ظلم او تجاوز دریغ غوره کړی وو بیانو د مسلمان مات لپاره د اروانده چی هغه له دغه مفتوح قام او ملت څخه داسی انتقام واخلی چی هغوی یا د خپل دین په پری ښودلو مجبور کړی «او په زورئی مسلمان کړی» او یا په هغوی باندی د خپلو

Marfat.com

غوره کړای شو یو کروهیو له امله سختی او تشدد وکړی ، بلکه د هغوی لپاره همدو مره کفایت کوی چی مفتوح ملت د اسلامی حکومت اطاعت قبول کړی او د زړه له کومی په دغه اطاعت ټینګ پاتی شی ـ ترڅو د هغوی د ژوند تیرونی څرنګوالی داسی شی چی :

«لهم مالنا و علیهم ما علینا»

یعنی د هغوی لپاره هغه حقوق دی کوم چی زمونږ لپاره دی او پرهغوی باندی د اسلامی حکومت هغه فرائض دی کوم چی پرمونږ باندی دی.

د اسلام په مذهبی پیروزینه کښی دا هغه اسلامی بنستونه دی چی پرهغوی باندی زمونږ د تهذیب عمارت پورته دړای شوی دی ـ زمونږ تهذیب د دغو اصولو تعمیل او په نظر کښی نیول د هر مسلمان وګړی لپاره لازمی ګڼی چی هغوی باید د الله تعالی په ګردو انبیا وو او رسولا نو باندی ایمان راوړی او د هغوی ټولو یادونه په بشپړ عظمت او د رناوی سره وو کاندی ـ او د هیڅ یوو پیغمبر په اهیانو باندی باید هیڅ ډول تیری ونکړی ـ له هغوی سره بایدی ښی اړیکی او معامله وکړی ، له هغوی سره باید په ډیره نرمی سره چلن وکړی او په خوږو الفاظوا وو یره ټنده خندنی څیره خبری اتری ؤ کاندی ، او د هغوی باید خو رابنه ګاونډی ؤ اوسیږی او ده هغه دعوت او میلمستیا قبوله کړی ، او د اهل کتابو له خویندولونو سره نکاح هم کولای شی ترڅو د کورنیو په منځ کښی د خپلوی اړیکی پیدا شی او له یو بل سره د وینی د ګډون

Marfat.com

مزی ؤ پیل شی — پدی توکلو برسیره اسلام په اسلامی حکومت دا هم فرض کړی دی چی هغه دی د غیر اسلامی ملتونو د عبادت ځایونو ساتنه وکړی ، د هغو په گروهی چارو کښی د هیڅ دول لاس وهنه نکوی ' په دعوه دنگله کښی د پرهغوی باندی د محاکمی په وخت کښی تیری نکوی او په ټولنیز و حقوقو او فرائضو کښی دی هغوی ته له مسلمانانو سره برابره درجه ورکړی ، د هغوی ژوند د هغوی عفت او عصمت او د هغوی مستقبل په هغه ډول تضمین او گارنټی کړی لکه څنگه چی د یو مسلمان د ژوند د هغه د ناموس د عفت او د هغه د راتلونکی ذمه واری دوی .

دا ټول هغه بنسټو نه دی چی پر هغو باندی اسلامی تهذیب تعمیر شوی دی او بشری نړی د لمړی ځل لپاره ؤ لیدل چی د اسلام دین د یوو تهذیب تخلیق کوی پرته له دی چی د نور وادیانو په خلاف یو پوټی تعصب هم وو لری - او دغه تهذیب مسلمانانه پرگنی د ټولنیزو چارو په ډگر کښی له خپلی ټولنی څخه بهر نه غور ځوی - او نه هغه نا مسلمانه وگړی له خپل مقام او موقف څخه کښته را غور ځوی - له هغه وخت څخه چی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اسلامی تهذیب بنسټ کښی ښود ، له همغه وخت څخه ئی دغه پوړتی لر نلاره وه - مگر کله چی په مسلمانانو باندی زوال راغلی دی او هغوی خپل اصول پری ښودلی دی د الله تعالی او د هغه د رسول حکمونه ئی هیر کړی او له خپل دین

Marfat.com

څخه پره دی او نابلده شول نو د دی تولو په لړ کښې له مذهبی پیرزوینې څخه هم غافل شول .

### د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په ژوند کښې

هغه وخت چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت وکړ هلته ګڼ شمیر یهودیان ووسیدل نو هلته د اسلامی حکومت د مرکزیت د جوړولو او پلی کولو په لړ کښې له ټولو څخه لمړی کوم کار چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم وکړ هغه دا وو چې ده مبارک د یهودیانو او مسلمانانو ترمنځه یو تړون وکړ چې د هغه له مخې د اسلامی حکومت لپاره دا لازمی وګڼلای شوه چې د یهودیانو د ګروهی چارو په درناوی کولای شی او هغوی به له هر ډول زیان رسونې څخه ژغورلای شی - دویم دا چې یهودیان به په مدینه باندی د یرغل کوونکو په مقابل کښې له مسلمانانو سره مرسته کوی - حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په دغه تړون باندی د مذهبی پیرزوینې اصول او مبادی د اسلامی تهذیب په ضمیر کښې له همغې ړومبی ورځې څخه د ننه کړل .

په مدینه منوره کښې ځینې اهل کتاب د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ګاونډیان هم وو - حضرت صلی الله علیه وسلم به همیشه له هغوی سره ډیر نیک چلن کاوو - هغو ته به ئې سوغاتونه لیږل - او د هغوی سوغاتونه به ئې قبلول د حضور صلی الله علیه وسلم د دغه دریځ له امله یوی یهودی - ښځې د «یهودیت» خپله دښمنی په کارو اچوله ، او هغه دا چې دی یوه ورځ ئې دووزی یووریت کړی وُرون په زهرو لړلی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته واستاوو ،

Marfat.com

ځکه چې هغه پوهید له چې حضور صلی الله علیه وسلم د دی ورلیږل شوی سوغاتو نه قبلوی او له هغی سره د یو ښه ګاونډی په څیر اړیکی ساتی - هغه وخت چې له حبشه «سوډان» څخه یوه ډله مسیحیان مدینی منوری ته راغلل نو هغوی ته حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په نبوی جمات کښی ځای ورکړ او د هغوی د میلمه پالنی ټول خدمت ئې په خپله غاړه واخیست - او په هغه ورځ د دوی په هکله ده مبارک چې څه ؤ فرمایل د هغی وینا له جملی څخه دا فقره د زیاتی پاملرنی وړده :

«د وګړو زړونو د ملګرو ډیر د رناوی کړی دی له د امله ما دا غوره ؤ ګڼله چې زه په خپله د دوی د رناوی او عزت وکړم -»

همدا ډول یو ځل د نجران د مسیحیانو یوه ډله راغله ، هغوی ته هم حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په جمات کښی ځای ورکړ او هغوی ته ئې اجازه ورکړه چې هغوی عبادت په خپل مذهبی سیستم په نبوی جمات کښی وکړی همغه وو چې هغوی د نبوی جمات په یوه ګوټ کښی الهی عبادت په خپله مذهبی طریقه ادا کاوو او حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له خپلو یارانو سره د جمات په بل ګوټ کښی لمونځ کاوو. او کله چې دغو وګړو د خپل دین په هکله له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره بحث کاوو - نو حضرت صلی الله علیه وسلم په خاصه پاملرنه د هغوی خبری اوریدلی ، او په ډیره نرمی د رناوی او ښو اخلاقو سره ئې د هغوی پوښتونوته ځواب ورکړ - نبی علیه الصلوة والسلام د مقوقس رالیږل شوی سوغات

او هم د هغه راليږل شوی مېنځه قبول کړل او له هغې سره ئې واده وکړ او دی هغې له کېډی څخه د حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ګلالی زوی ابراهيم پيدا شو ، چې بيا له څو مياشتو ژوندی پا ته کيدلو څخه وروسته وفات شو ـ او د حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم خپلو يارا نو ته له ژوند ښودنکو لار ښو د نو څخه يو نصيحت دا همدی «له قبطيانو سره ښېګڼه کوئ ځکه چې په هغوی کښې ستاسی خپلوئ دی.

**د راشدهٔ خلافت په دور کښې :**

بيا له حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم څخه وروسته د هغه جليل القدرو يارانو د هغه په پلې نوم او حکومتی کړښو حکومت وکړ او د حضرت رسول اکريم صلی الله عليه‌وسلم همدغه د خوراهسکی بشر دوستی او مذهبی پيرزوينې پاليسی ئې تينګه ؤ ساتله ، لکه چې مونږه ګورو هغه وخت چې حضرت عمر رضی الله عنه «د خپل خلافت په دور کښې» په فاتحانه توګه بيت المقدس ته ننووځی نو دی هلته د هغه ځای د مسيحيانو دا شرط منی چې هلته به هيڅ يو يهودی نه هستېږی ـ هغه پداسی حال کښې د بيت المقدس په يوه ستره کليسا کښې دی چې دما ز ديګر د لمانځه وخت راځی ، مګر هغه يواځی له د امله په دغه کليسا کښې لمونځ نکوی چې د ده لمونځ کول په يو وخت کښې د مسلمانانو د دی ادعا سبب ؤ نګر خېږی چې هغه کليسا نه بلکه د مسلمانانو جمات ګرځېدلای دی نو له د امله هغه بايد د مسلمانانو په قبضه کښې وی ـ يوځل له مصر څخه يوه ښځه حضرت عمر رضی الله عنه ته په شکايت

را د رومي او حضرت عمر ته عرض کوي چي عمرو بن العاص رضی الله عنه د «مصروالی» د هغی کور د هغی له خوښی څخه پرته په جمات کښی شامل کړی دی ـ حضرت عمر رضی الله عنه حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه ته وویل تاولی داسی کړی دی هغه ورته وویل چي مسلمانان زیات وو او په جمات کښی نه ځائیدل ـ او له جمات سره په څنګ کښی د دغی ښځی کور وو ـ دی ته مود کور بیه وړاندی کړه او د کور له ارزښت څخه څو چنده زیاته بیه موورکوله خو دی بیاهم هغه وانه خستله نو ځکه د مجبوریت له مخی مو د دی کور په زور وران کړ او په جمات کښی شامل کړای شو ـ او د کور بیه په بیت المال کښی د دی لپاره کښی ښودلا شوه کله ئی چي ؤو غواړی وادی خلی ـ دا خو څرګنده خبره ده چي د حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه عذر بالکل معقول او پرځای وو، او زمونږ اوسنی قوانین هم د داسی کار اجازه ورکوی ـ خو حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت عمرو بن العاص رضی الله عنه پورتنی عذر وو نه مانه او حکم ئی ورته ووکړ د جمات نوی برخه چي په اصل کښی د دی ښځی کور دی هغه وو نړوئی او د دی کور بیرته کت مټ همغه ډول ؤرته جوړ کړی' لکه څنګه چي په خواوو .

دا دی د پیرزوینی هغه رنګ او جوهر چي په هره هغی تولنه کښی عملی شوی دی ، په کومه باندی چي زمونږ د تهذیب اصولو خپل سیوری غورځولی دی ـ همدا وجه ده چي زمونږ د تهذیب د مذهبی پیرزوینو داسی مظاهر زمونږ په وړاندی را د رومی ، چي د بشریت په تاریخ کښی د هغوی هیڅ ډول ساری نه میندل کیږی ان تردی چي د اوسنی عصر په هیڅ

يوو تهذيب كښي هم نه را د روسي .

**نه يواځې دا چې هيڅ ډول تشبث ندى شوى بلكه :**

زسونږ ژوندى أو جاويد تهذيب ډير ځلي ښودلى ده چې جمات او كليسا څنګ پر څنګ جوړ شوي دي د كليسا ګانو مذهبي مشرانو ته د هغوى د خپلو مذهبي وګړو او كليسا سره په اړوندو «مربوطو» معاملو او چارو كښي بشپړ او هر اړخيز واك وركړاى شواى وو او نه يواځې دا چې اسلامي حكومت په هغوى كښي هيڅ ډول تشبث نه كاوو ، بلكه څوواري داسي شوي‌دي چې‌هغوى به په خپله په خپل منځ كښي‌د مذهبي‌اختلافونو په اساس كه به يوو پر بل باندې تيري كاوو ، نو اسلامي حكومت به د دوى منځ ته د ګواښ رندى په توګه ورغى او د هغوى په منځ كښي به ئې انصاف كاوو او د هغوى د ستونځو او لمشكلاتو په لرى كولو كښي به ئې له هغوى سره مرسته كوله . د مثال په ډول د يونان د مسيحيانو «ملكى» فرق دروسي سلطنت په زمانه كښي ، د مصر په قبطي مسيحيانو باندى به ئې هميشه تيرى كاوو ـ او د همدغي فرق غړو به د مصري قبطيانو كليسا وى نړولى ـ خو كله چې مسلمانانو مصر فتح كړ نو هغوى د قبطيانو ټول املاک هغوى ته بيرته واخيست او له هغوى سره ئې انصاف وكړ ـ له دى نه وروسته مصري قبطيانو له ملكانيانو څخه د تيرو هغو ظلمونو په انتقام اخستلو پيل وكړ چې هغوى به د عربو له فتح څخه وړاندى په قبطيانو كول ـ پدغه وخت كښي ملكي فرق هارون الرشيد ته پدى هكله شكايت وكړ او هغه هم سم له لاسه له قبطيانو څخه دملكانيانو نولشته او كليسا وى بيرته واخستلي او ملكانيانو ته ئې وركړى ـ

Marfat.com

هارون الرشید دا کار د مسیحی کاردینال له ملا مشوری څخه وروسته وکړ .

**په قسطنطنیه «انقره» کښې د سلطان محمد فاتح هر اړخیزه پېرزوینه**

اسلامی حکومت مسیحیانو ته د خپلو مذهبی مراسمو پر ځای کولو کښې بشپړه آزادی ورکړی وه او د هغوی دینی مشرانو ته د هغوی د خپل مذهب په وګړو باندی هر اړخیز واک ورکړای شوی وو ـ

د هغوی د چارو په پرسنل کښې اسلامی حکومت هیڅ ډول تشبث هم نه کاوو ـ مسیحیانو په خپله د اسلامی حکومت په تابعیت کښې دی دومره بشپړی آزادی احساس وکړ، چی د هغی لسمه ونډه هم د رومی سلطنت په دور کښې نوه ورکړای شوی ـ او دوی پدی لړ کښې په قسطنطنیه کښې د سلطان محمد فاتح د هر اړخیزه پیرزوینوزمانه نشی هیرولای ، کله چی هغه قسطنطنیه فتح کړه نو په هغه وخت کښې د دغه ښار ګر د هستوګنی مسیحیان وو او نوموړی ښار د ګردو ختیځو کاتولیکانو لپاره د کاردینال دارلخلافه وو .

سلطان محمد فاتح ټول ښار ته امن ورکړ ـ او هغوی ته ئی د دی خبری ګارنټی ورکړه چی د دوی هر څه ځانونه مالونه ، د دوی ګروهی «عقائد» د دوی کلیسا وی او د دوی ځایونه به محفوظ وی ـ هغوی ئی ګرد له جبری عسکری دولو څخه مستثنی کړل ـ د هغوی امیرانو ته ئی دا واک ورکړ چی هغوی دی په خپله د هغو شخړو پریکړی کوی چی د دوی د خپلو مذهبی وګړو ترمنځ پیښیږی او د هغوی لپاره دی په

خپله دوی «قانون» جوړ کړی ـ او پدی هکله اسلامی حکومت هیڅکله او هیڅ ډول مداخلت هم وو نکړ ـ د هغه ځای مسیحیانو په خپله د سلطان محمد فاتح او د قسطنطنیه د بازنطینی حاکمانو د حکومتونو د دریځونو په منځ کښی خو راډیر ډیر محسوس کړ ـ ځکه چی له د په خوا د قسطنطنیه بازنطینی حاکمانو به ، په مذهبی اختلافاتو او شخړو کښی هرو مرو مداخلت کاوو . او د خپلو کلیساگانو وګړو ته به ئی د نورو کلیساگانو په وګړو ترجیح او تفوق ورکاوو ـ له همدی امله مسیحیانو نوی حکومتی سیستم ډیر خوښ کړ او په دغه حکومت کښی د مذهبی پیرزوینی په لیدلو سره خورا خوښ شول ، ځکه چی د دغی پیرزوینی یوه کوچنی نمونه هم د دوی د خپلو مذهبی ورونو په حکومت کښی نوه میندل شوی ـ د روم کاردینال ته سلطان محمد فاتح دومره واک ورکړ چی د هغه موقف په ریاست کښی د نه د ریاست په څیر شوی وو ـ او دغو خلکو تر پنځه سوه کلو نو پوری په دغه ډول ازاد ژوند تیر اوو اود دوی دغه ازادی دومره محفوظه او پیاوړی وه چی هغوی نظامی ځواک ته هیڅ اړتیا نه لرله او نه هغوی د خپلی دغی ازادی د ساتنی لپاره مالیات ورکول ته اړوتلی وو ، مگر دا خومره خواشینی کوونکی حرکت وو چی په تاریخ کښی دهغو بی سیاله مذهبی پیرزوینو په اساس چی تروم ځانګړی رعایتونه مسیحیانو ته ورکړای شوی وو . له هغو څخه دوی ډیره ناوړه استفاده وکړه او د نو لسمی پیری په پای او د شلمی پیری، په پیل کښی ، لویدیځ اوسیدونکو د دغو ښارونو او سیمو د مرکزی حاکمیت د مظاهرو د پای ته رسونی په تکل

هر ډول له خیانت څخه ډکې مانوزې او دسیسې په کارواچولې.

**د یوحنا په کلیسا کښې یو منظر :**

زموږ د تهذیب له مذهبي پېرزوینو څخه یوه دا هم ده

که چې مسلمانانو د هغوی هیوادونه فتح کړل ' نو هغه وخت په زیاترو کلیسا وو کښې به مسلمانانو او مسیحیانو یو ځای لمونځ کاوو ، په خپله حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خپل وخت کښې د نجران مسیحیانو ته په نبوي جمات کښې د عبادت کولو زمینه مساعده کړې وه ـ چې د جمات په یوو لورې کښې دوی او په بل لورې کښې مسلمانانو خپل خپل لمنځونه کول .

په همدې ډول له اسلامي فتح څخه وروسته د دمشق له تولو څخه په ستره کلیسا یوحنا کښې . . . «چې بیا وروسته دامویانو په جامع جمات سره مشهوره شوه. . . .» مسلمانانو مسیحیان په خپل مذهب له عبادت کولو څخه وو نه ژغورل ' بلکه‌هغوی‌په خورا پراخ زړه اووېره تندوه مسیحیانو ته اجازه ورکړه چې د خپل مذهب په سیستم عبادت وکړي ، او مسیحیانو هم په ډېره خوښي ـ سره د هغې نیمه ونډه مسلمانانو ته د عبادت کولو لپاره پرې ښودله چې پدې توګه مسلمانانو په دغه کلیسا کښې له مسیحیانو سره څنګ په څنګ لمونځ کاوو ـ تاسې ګورئ چې د دو مختلفو مذهبونو وګړي په یوو ځای یو د بل په څنګ کښې په خپل خپل عبادت کولو بوخت دي ـ پدې ډول چې مسلمانان دکعبې لورې ته په امانځه‌کښې مخ کړي دي او مسیحیانو د ختیځ لورې «بیت المقدس» ته مخ ګرزولای دی،

Marfat.com

دا کار دا مذهبی پیزروینی یو داسی بی سیاله ښکارند وی وو چی په تاریخ کی ساری نلری او پدی خبره باندی دلالت کوی چی اسلامی تهذیب له مذهبی تعصب څخه په څومره لوړه اندازه پاک دی او په هغه کښی مذهبی پیرزوینه څومره په بشپړه توګه موجوده ده .

**دبنو امیه د خلافت په دور کښی له مذهبی امتیاز څخه پرته حکومتی پستونه وویشل شول :**

په اسلامی حکومت کښی د نهائی درجی مذهبی پیرزوینی یو ثبوت دا هم دی چی مسلمانانو د همیشه لپاره کار اهل کارته سپارلی دی او ډیر مهم پستونه ئی ورته ورکړی دی او ډوی پدی لړ کښی هیڅ کله هم د ته ندی کتلی چی د دغه لائق او په کار پوه وګړی ګروهه او مذهب څه دی ؟ د همدغه نیاوله په نظر کښی نیولو سره د اموی او عباسی خلفا وو په دربارونو کښی مسیحی طبیبانو ته لوړی لوړی د ډ ی ور ترلای شوی وی ، او د پورتنی خلفا وو په وړاندی هغوی خورا لوړ موقف لاره - او همدغه مسیحی طبیبان د پورتنیو خلفا وو په زمانو کښی د بغداد او دمشق د طبی بنوونځیو رئیسان وو ، چی دغه ریاست تر ډیری مودی پوری له همدوی سره وو . . .

ابن آثال مسیحی د حضرت امیر معاویه رضی الله تعالی عنه خصوصی درملګر «معالج» وو او یو بل مسیحی چی نوم ئی سرجون وو ، د حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه کاتب وو - مروان اثناسیوس مسیحی د یو بل مسیحی اسحق په ملګرتیا او ګډون په مصر کښی په ځینو لوړو منصبونو نقرر کړ، چی بیا

Marfat.com

وروسته نوموړی پرمختک وکړ او د دیوان د ریاست منصب ته وو رسیدء او هغه د همدغه اسلامی حکومت د ماموریت په دوران کښی د ډیرو باغونو څښتن شو ـ نوموړی د اسلامی حکومت له برکت ډیر ستر سړی او ستر بډای شو ، ده څلور زره سریونه لرل. اثناسیوس دومره سره او سپین زرپیدا کړل چی شمیر ئی نه کیده ـ ده په «الرها» نومی ځ ی کښی په خپلو پیسو یوه ستره کلیسا جوړه کړه او د دغی کلیسا د لګښت روپی د هغو څلورو سوو دوکانونو کرایه وه چی هغه ټول د ده ځان کړی ملکیت وو ـ اثناسیوس دومره مشهور او و منلای شو چی خلیفه عبدالملک خپل کوچنی ورور د روزنی لپاره ده ته وو سپاره. چی بیا همدغه عبدالعزیز د مصر و لی ؤ تاکل شو او دا هغه عبدالعزیز دی چی حضرت عمر بن عبدالعزیز د هغه زوی دی.

**د عباسیانو منصبی بخښنی :**

د هغو مسیحی طبیبانو له جملی څخه چی خلفا وو هغوی ته لوړ منصبونه ور کړی وودیو جرجیس بن بختیشوع هم دی ـ نوموړی د خلیفه منصور د دربار له مقربینو څخه وو او د منصور په وړاندی دی د لوړ مقام څښتن وو. منصور د ده د سو کالی او هوساینی په هکله خاصه پا ملرنه کوله ـ د جرجیس یوه زړه ماندینه وه منصورده ته دری‌خورا ښکلی ځوانی وینځی‌وو بخښلی خو جرجیس هغه قبولی نکړی او خلیفه منصور ته ئی د هغوی د نه قبلولو لامل داسی بیان کړ او ورته وی ویل چی. «ساته زما دین د دی خبری اجازه نه را کوی چی زه د یوه ماندینه لرم او له بلی سره د هم واده وو کړم» د جرجیس په د خبره باندی

Marfat.com

منصور ډیر خوښ شو او د هغه منصبي رتبه ئې نوره هم لوړه کړه. او هغه وخت چې جرجیس ناروغه شو نو منصور هغه د خلافت سیلمستون «دارالضیافه» ته را وو غوښت او په خپله د هغه پوښتنې ته لاړ. په همدغه ناروغتیا کښې جرجیس له منصور څخه خپل هیواد ته دتلو اجازه وو غوښتله ترڅو دی د خپلو پلرونو او نیکونو په څنګ کښې د فن کړای شي، پدې وخت کښې منصور هغه ته په درخواستې ډول ووېل چې اسلام راوړی ترڅو جنت ئې په برخه شي. مګر جرجیس په ځواب کښې ورته ووېل چې زه له خپلو پلرونو او نیکونو سره یو ځای هستیدل غواړم برابره خبره ده که هغه په جنت کښې وی یا دوزخ کښې. د جرجیس پدې خبره منصور وو خندل او د هغه وطن ته د تلو لپاره ئې د سفر د لوازمو د تیارولو فرمان صادر کړ او له لسو زرو اشرفیو سره ئې هغه خپل پلارنې ټاټوبي ته وو رسا وو.

همدارنګه سلمویه بن بنان مسیحي د خلیفه معتصم باالله خصوصي درسلګر وو، او کله چې نوموړی طبیب مړشونو معتصم د هغه په مړینه خورا خواشینی شو او په هغه پسې ئې ډیر وو ژړل او فرمان ئې صادر کړ چې سلمویه دې په سلطنتی درناوي سره، د هغه له دینی اصولو سره سم د فن کړای شي.
همدارنګه بختیشوع بن جبرائیل، مسیحي د خلیفه معتصم باالله خصوصي معالج او طبیب وو او دهغه په دربار کښې د نوموړی خورا لوړ مقام وو، او ده د شتو په ډیر والی او د فاخره لباس په اغوستلو کښې د وخت له خلیفه سره مقابله کوله.

Marfat.com

**د تنا مسلمانو ادیبانو او شاعرانو برم او در لاوی :**

د عزت او تقرب دغه پورتنی دریځ له ادیبانو او شاعرانو سره هم وو. د اموی او عباسی خلفا وو او د نورو مسلمانو امیرانو په دربارونو کښی د مذهب او ګروهی له امتیاز څخه پرته تولو شاعرانو او ادیبانو په عمومی ډول عزت لاره ـ د پرمختګ او مغوی ته د مقبولیت شرط یواځی کمال او لیاقت وو ـ لکه چی مونږ تولو ته معلومه ده چی اخطل په اموی دربارکښی څنګه مقام او موقف درلود ـ نوموړی ته د خلافت له دربار څخه د دی خبری بشپړ اجازت ورکړای شوای وو ـ هغه هر کله چی وو غواړی نو پرته له ډیل او پوښتنی څخه همغه شیبه دربار ته تلای شی ـ چی د همدغه خصوصی امتیاز له مخی به هر وخت د شپی او ورځی او کله به هم چی د هغه زړه وو غوښتل نو د عبدالملک دربار ته به ورته ، او کله به چی دی دربار ته ورته نو ورېښمنیه چپن به ئی واغوستله او په غاړه کښی به ئی تعویذ نما صلیب واچا وو او له ږیری څخه به ئی د شرابو څاڅکی توئیدل ـ او اخطل هغه څوک دی چی په خپله یوه اوږده شعری قصیده کښی ئی د مدینی منوری د انصارو هجوه او سپکاوی کړی وو ، او په هغی کښی ئی داسی ویلی: «ذاللوم تحت عمائم الانصار» : یعنی خواری او ملامتیا او ذلت د انصارو «مرستیالانو» تر پګړیو لاندی دی «چی د دی په اوریدلو سره د حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم انصار خورا مغموم او خواشینی شول ، او هغوی خپل یو مشر او سپین روی حضرت لقمان بن بشر ، چی د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم

Marfat.com

د راصحابي توب شرف ئې هم لاره عبدالملک ته واستا وو هغه له عبدالملک سره ملاقات وکړ او خپله مبارکه پګړۍ ئې له سر څخه را کښته کړه د هغې د ننه خوا او هم ئې خپل سر مبارک عبدالملک ته ور وړاندې کړل او له هغه څخه ئې پوښتنه وکړه چې امیر المؤمنین تاسې وو ایاست چې دلته «یعنې په پګړۍ او سرکې» «لوم» چیرته دی ؟ عبدالملک په ډیره پښیماني له هغه څخه بخښنه وو غوښتله ، او په ډیرو زاریو جیګیوئې د هغه غصه سړه کړه ـ مګر اخطل ته ئې د هغه پدغې ګستاخې باندې هیڅ هم وونه ویل .

**د اسلامي مشرانو له اغیار سره په عمومي ډول چلن :**

له غیر مسلمو سره د هر اړخیزې پیرزوینې په هکله لوړ اسلامي لوړ وګړي هم د خلفا وو په څیر وسیع القاب وو ، او د هغوی دوستي او د هغوی مذهبي کړی یو تر خپلو بذهبي وګړو پورې محدوده نوه ـ د مثال په ډول ابراهیم بن بلال چې د مجوسیانو د یوی خاصې ډلې صائبه غړی وو د اسلامي حکومت د سترو سترو منصبونو په لاس ته راوړو بریالی شو . او هغه ته به ډیر شاعران را تلل ، خو دهغه ناسته ولاړه د خپل مذهب له وګړو پورې محدوده نوه بلکه د هغه او د اسلامي پوهانو او ادیبانو ترمنځ خوږنې اړیکې ټینګې وی ـ چې د هغوی اندازه له د نه معلومو لای شی هغه وخت چې ابراهیم بن بلال مړشونو شریف رضی د هغه د مړینې په ماتم کښې یوه خوږا اوورده شعري قصیده وویله چې په «دوالیه قصیدی» باندې مشهوره ده ، پداسې حال کښې چې په هغه وخت کښې شریف

رضي د هاشمیانو رهبر او د شیعه وو لار ښود وو ، نوموړی په خپلی قصیدی کښی ویلی دی :

ارأیت من حملو اعلی الاعواد
ارأیت کیف خبا ضیاء النار
ما کنت اعلم قبل خطلک فی الثری
ان الثری یعلوا علی الاعواد

«تا ؤلید چی هغه ئی په لرگیو کښی «کټ کی» خنگه پورته کړی وی ووړ ، او تا وولیدل چی داور رڼا خنگه ؤړکه شوه» .

ماته ستاله دفن کیدلو څخه وړاندی دا نوه معلومه ، چی په قبرونو کښی ستر ستر غرونه هم دفن کیدلای شی .

او بیا له د څخه وروسته هم شریف رضی هغه ډیر یاد اوو او په هرمناسب وخت او ځای کښی‌به ئی دهغه‌ما تمی‌شعرونه او مرثئی ویلی - یوځل هغه د ده په قبر(۱) باندی تیریده بی اختیاره ئی ؤژړل او په همدغه وخت کښی چی ده نومه مرثیه وویله د هغی اشعار په لاندی ډول دی :

اقول لـرکب رائحین تعرجـوا
اریکم بـه فـرعاً مـن المجد زاویـا

---

۱- مجبسویان په عامه توگه مړی سوځوی بنائی د دوی د هانبه فرق دا خصوصیت وی چی مړی د سوځولو پرځای دفن کوی اویا به په خوا د ټولو مجوسیانو دغسی دو د وو. ژباړونکی

Marfat.com

رئيتك كي اسلوب فاددت لوعة
فكان المراثي لا تحد المرازيا
واعلم ان ليس البكاء بنافع
عليك ولكني امنى الا مانيا

«زه دی سفر خپلو ملګرو ته وايم چې دد «قبره» لوری ته راشی ، زه تاسی ته د لته د بزرګی یو ، لویه څانګه «ښه یم» ما پرتا باندی د دی لپاره ژړاوکړه ترڅو ستا په هکله زماداد وو شی ،خو غم نور هم زیات شوګواکی مرثیه ویل مصیبتونه نه محدو ده وی »کموی» ماته معلومه ده چی پرتا باندی ژړا انګولا ګول ګټه نلری ، مګر ارزو ګانوزه هیله مندکړی یم»

**دمامون په علمی غونډو کښی :**

دخلفا وو د مشرتا به ، په علمی غونډو کښی به همیشه د مختلفو مذاهبوا و ګروهیو پوهان او علماء راټولیدل - لکه چی د مامون الرشید داسی یوه ځان ګړی علمی غونډه وه ، چی په هغی کښی به د مختلفو ادیانو عالمان را ټولیدل - او ده به هغوی ته ویل چی تاسی به خپل بحث د علم او فن په پو لو کښی د ننه کوی٠ او هیڅ یو به هم په خپلو مذهبی کتابونو استدلال نکوی٠ - ځکه چی له داسی کارکو لو څخه به دی دلئیزه »فرقه وارانه» مسائلو ستونځی را منځته شی -

**«په عمومی غوندو کښی هم دا حال وو : »**

همدغه پورتنی دریځ د عمومی ملی غونډ و هم وو - خلف بن المثنیٰ وائی چی ما په بصره کښی. په یوه داسی لس کسیزه علمی غونډه کښی ګډون وکړ چی د هغی دغه لس واړه غړی په

علمي سطح د کمال درجې ته رسيدلی وو او د هغوی له هرپوړ سره په خپل ځانګړی او مخصوص علمي فن کښې د سيالی کولو هيڅوک نوو - او هغه لس کسه دا لاندنی رجال او علمي ذوات وو :

۱ - خليل بن احمد مشهور او نوميالی نحوی چې د ګروهې له نظره سنی مذهبی وو -

۲ - حميری شاعرچې دی ګروهې له نظره شيعه وو .

۳ - صالح بن عبدالقدوس چې دی ګروهې له نظره زنديق وو .

٤ - سفيان بن مجاشع چې د ګروهی له نظره د خوارجو د صفوی فرق غړی وو -

٥ - بشار بن برد چې د ګروهی له نظره د شعوبی فرق غړی وو -

٦ - حماد عجرد چې د ګروهی له نظره ناميو نالست «قام پال» زنديق وو -

۷ - ابن رائس اطالوت نوميالی شاعر چې د ګروهی له نظره يهودی وو -

۸ - ابن نظير فلسفی چې د ګروهی له نظره مسيحی وو -

۹ - عمر بن اخت المؤيد چې د ګروهی له نظره مجوسی وو -

۱۰ - ابن سنان الحرانی شاعر چې د ګروهی او مذهب له نظره صابی وو -

دغه پورتنی ګرد وګړی به په يوو مجلس کښې کښيناستل او په خپل منځ کښې به ئې په مسائلو باندی بحث او څیړ نه

Marfat.com

کوله اشعار به ئې سره ویل او په تاریخي پیښوبه ئې خپل نظریات او معلومات په خپل منځ کښې سره ویل او دا ټول به په دو سره دوستانه چا پریال کښې کیدل چې هیچا ته به دا نه معلومیدل چې د دوی ترمنځ دومره مذهبي بعد او اختلاف شته دی -

»په کهول او کورو لو کښې : «

دغه پیرز وینه په کهول او کورو نو کښې هم په عمومي ډول جاري وه - ډیر خلې داسې لیدل شوي دي چې په یوه خو نه او کهول کښې څلور ورو نه یو ځای او ګډ سره هستیږي چې یو ئې سني ، بل ئې شیعه ، بل ئې معتزلي او بل ئې خارجي دی او دغه ټول په بشپړ یو والي او اتفاق په مینه او یو له بل څخه د قربانیدلو او ځاریدلو په فضا کښې ژوند سره کوي هسې رنګه د دوی ترمنځ دا صورت حال هم وو چې په یوه کورنه کښې به دوه ورونه هستیدل یو به په خپل مذهبي عبادت لګیا وو او دویم به ئې په چټیاتو او لو بوکولو کښې ارم وو پدې لړ کښې د ادب په کتابو نو کښې یوه خوندوره او په زړه پوري پیښه »واقعه« لیکل شوی ده او هغه داده - چې په یوه خونه کښې د وه کسه ورونه ړو سیدل چې په هغوی کښې یو خو را پرهیزګار او متقي وو او دغه کس د خونې په لاندینۍ لوړ کښې وو سیده ، او هغه دویم ئې چې په دویم لوړ کښې وو سیده سخت فاسق او فاجر وو، یوځل د دې فاسق او هیېی په خونه کښې د ده په خیر څواندیوالان د ده سره راټول شول او د شمې ترډیره وخته ئې او ازونه او سندرې په خورالوړ او ازویلې او د کهول ټول غږي ئې بې خوبه کړل - او هغه متقي او عابد بیچاره ئې ګرده شپه خوب کولوته پرې نښود ، اخیر هغه د مجبورۍ له مخې ورته را ووت او خپل ورونۍ ورورته ئې په زوره

وويل چې :

«افـامن الذيـن مـكـروا السيـات ان يـخسف الله بـهم الارض » ؛

«ايا هغه څوک چې ناوړه چارې کوي له د څخه بې نکره دي چې خدای پاک په دوی باندې مځکه وٙو چوی او دوی به پکښې ډوب کړي ؟» دي ده ددی خبری په ځواب کښې د هغه فاسق ورور سم له لاسه ورته وويل چې : «مـا کان الله لـيعـذبهم و انت فيهم » يعنې خدای پاک به تر هغه پوری پېردوی باندی خپل عذاب نازل نکړی چې ته په دوی کښې موجود ئې .»

د نورو مذاهبو د ملتو په اخترونو او ميلو کښې په خاصه ليوالتيا او مينه ګډون :

همدارنګه د نورو مذاهبو د خاوندانو په اخترونو او ميلو کښې مسلمانانو په خورا مينه ګډون کاوو . لکه چې دا موی خلافت له زمانی نه وروسته به مسيحيان د کرس مس «حضرت عيسی عليه السلام د پيداېښت په ورځ» سترو واټونو ته د مظاهرې په شکل کښې وتل او غونډی به ئې کولې ، پدی وخت کښې به دوی خو صليبو نه هم پورته کړی نيولی وو

---

۲ - په وروستني ايات کښې د «انت» يعنې ته خطاب حضرت رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ته دی - خو پدی ځای کښې د ده د دی ايات لوستل ، په خپل ذات کښې ستر معنويت لري ، او دا دی حسن ذوق او تيز ذهانت

Marfat.com

او د مظاهری په مخ کښې به ئې ورل د دوی مذهبي لاربود به په خپل مخصوص لباس کښې د دوی په سرکښې روان وو. يو ځل د هشام بن عبدالملک په زمانه کښې د کاردينال ميکائيل په قيادت او رهبری د مسيحی مظاهره کونکو يو ستر لښکرا سکندريه ته ننووت ، د ده په مخ کښې صليبو نه ، مشالونه او اناجيل وو او کاهن داشعارونه ورکول چې «الله تعالی زمونږ لپاره يو سوله راوړونکی ځارنـد وی چې نوی «جديـد» مرقس دی راليږلای دی» . همدارنګه د رشيد په زمانه کښې به مسيحيان د کرس مس په ورځ د يوی ستری مظاهری په شکل کښې واتونو ته وتل پداسی حال کښې چې صليبونه به ئې پورته نيولی وو. المقدسی په خپل کتاب احسن التقاسيم ، کښې ليکلی دی چې د مسيحيانو د ميلو په ورځو کښې به د شيراز ښار ښائسته کولای شو او کله به چې د نيل د او بود طوفانی کيدلو وخت راته او مسيحيانو به د صليب د اختر ورځ لمانځله نو له دوی سره به مصريانوهم په ډيره ليوالتيا اومينه په دغو ميلو کښې ګډون کاوو او له دوی سره يو ځای به ئې خوښئ کولې.

مقريزی په خپل کتاب «خطط» کښې ليکلی دی چې د اخشيديانو په زمانه کښې عوامو به «پيتسمه» يعنی د حضرت عيسی عليه السلام د ولادت» د ورځې په ميله کښې زياتی خوښئ کولی او په ۳۳۰هجری قمری کال کښې دغه ورځ په ستر شوکت او احتشام سره وو لمانځل شوه . او محمد بن طفج اخشيدی د نيل په تاپو کښې چې کوم مخصوص کور جوړ کړای وو او هستوګنه ئې په کښې کوله ، په دغه ورځ ئې د

---

خبره ده ـ اوله همدی امله د ادب په کتابونو کښې د دغې پيښې يا دونه شوی ده ـ

Marfat.com

همدغه‌کور په څلورو خواووکښې ئې زرداني قنديلونه بل کړي‌وو. او قام هم د ده تقليد وکړ او هر يوو کور ېې شميره مشالونه ډيوي او قنديلونه بل کړل . په زرګونو مسلمانان او مسيحيان داوبو په حوضونو سره راټول شول .

د کورونو په بامونو او د ويالو پرغاړو باندې د قدم کيښودلو ځاي نوو . خلکو ځپل قيمتي لباسونه واغوستل ' د خوراک او څښاک ډول ډول او رنګا رنګ شيان ئې د سرو او سپينو زرو په لوښو «ظروفو» کښې راوړل . په دغه ورځ د اورګاډي دروازه وو نه تړلي شوه ، او زياتو وګړو په حوضونو کښې په اوبو او خينځکو وو لمبل ، او دا پدې عقيده چې د حضرت عيسى عليه السلام د پيدايښت په دغه شپه لامبل د ډيرو ناروغيو لپاره د رمل دي .

**حيرانوونکې پيرزوينه :**

او له د څخه هم زياته حيرانوونکې خبره دا ده چې دغې ميني او پيرزوينو مظاهرو په هغه زمانه کښې هم دوام د رلود چې صليبي جنګو نه په ډير شدت سره روان وو او د مسلمانانو د په خواني پيرزويني په دريغ کښې د صليبي جنګونو په دوران کښې هم هيڅ بدلون رانغي . پداسې حال کښې چې په دغو جنګونو کښې لويديځو ځوا کونو د صليب په نوم پاځون کړي وو او په اسلامي هيوادونو ئې يرغلونه کول . ابن جبير په خپل کتاب الرحاله «سفر نامه» کښې پدې هکله داسې ليکلي دي :

له ټولو څخه زياتــه د حيرانتياوړ خبره دا ده چې د مسلمانانو او مسيحيانو ترمنځ به جنګ روان وو او ډير واري

Marfat.com

داسي شوي دي چي دوارو پوځونو به يو د بل په مقابل کښي
جنګي صفونه جوړ کړل خو له د سره سره او په همدغه حالت
کښي ګورو چي د مسيحيانو او مسلمانانو ديو بل دي دوستانو
ډلي له يوو ځايه بل ځاى ته ځي او راځي او يو له بل سره
ليده کاته کوي او پردي باندي يو پوځ هم تنقيد نکوي .
له مصرڅخه دمشق ته او له دمشق څخه انګريزي هيوادونو ته
کما في السابق د سوداګري قافلي رواني دي ، مسلمان سوداګران
په ډيره خوښي مسيحيانو ته د هغوى په هيواد کښي ماليات
ورکوي او مسيحي سوداګران په اسلامي هيوادونو کښي
خپل د سوداګري د مال محصول په ډيره خوښي ورکوي او د
مسلمانانو له خوا له دوى سره په بشپړ نياو او انصاف سره چلن
کيږي پداسي حال کښي چي د دوى پوځونه يو د بل په مقابل کي
جنګيږي مګر خلک په بشپړ امن کښي دي او دنيا د هغه چادي
چي برياالي شي .

**د لويديځو خيړونکو اعترافات :**

لنډه دا چي په اسلامي تهذيب او تمدن کښي پيرزوينه
دومره لوړ معيار ته وو رسيدله چي د هغي سارى په ټير شوي
تاريخ کښي نه ميندل کيږي او په خپله د لويديځ حق پال
ليکوالان او مصنفين هم پدى خبره اعتراف او له موږ سره
اتفاق کوي او پدى خبره ګواهي کوي .

لکه چي د امريکا يو مشهوره مصنف نباغلى دريپر ويلى
دي چي :

«د خلفا وو په زمانه کښي نه يواځي دا چي د مسيحيانو
او يهوديانو د عالمانو د رناوي او احترام کراى شوي دى

بلکه هغوی ته ډیر ستر ستر حکومتي منصبونه هم ورکړای شوي وو او هغوی ئې د حکومت اوړو پستونو ته رسولي وو. هارون الرشید حنابن ماسویه د ټولو ښوونځیو لیسو او پاکلتو د زدکړې عمومي رئیس او مدیر وو تاکه او د زدکړې د گردو مراکزو واک ئې هغه ته سپارلی وو. هغه «هارون» دانه کتل چي یو عالم د کوم هیواد هستوگنی دی او نه ئې د ته کتل چي هغه د کومې گروهي او مذهب څښتن دی بلکه هغه یواځې د یوو عالم پوهې او کمال ته ارزښت ورکا وو. او پرته له دی، څخه ئې د هغه بل هیڅ شي ته اهمیت نه ورکا وو.

ږ ووسنی عصر مشهور مؤرخ ښاغلی ولز په اسلامي تعلیماتو کښې د خیرنې په ترڅ کښې لیکلي دي:

«اسلامي تعلیماتو په نړۍ کښې د منصفانه او له شرافت څخه ډکې کړ نلارې لپاره عظیم روایات پرې ښودلي دي او هغه په خلکو کښې د شرافت او پیرزوینې روح پوکی. دغه تعلیمات خورا لوړ بشري تعلیمات او د عمل وړدي دغو تعلیماتو یوه داسې ټولنه ایجاد کړه چي په هغې کښې د نورو په خوانیو ټولنو په پرتله ټولنیز ظلم او سنگ دلي ډیره لږده».

یپانو موړې مخ په وړاندې د رومي او داسې لیک چي:

«اسلام له نرمي، پیرزوینې، حسن اخلاق او وروروولي څخه ډک کړای شوی دی».

سرمارک سائیس د هارون الرشید په زمانه کښې د شهنشاهیت صفتونه پیانوي او وائي:

«مسیحي، بت پرست، یهودي او مسلمان گردو داسلامي حکومت د کارکوونکو په توگه په مساوي ډول کار کاوو».

Marfat.com

ترنون ویلی دی :

«د مسلمانانو دین د شاعرانو او د موسیقی د کارکوونکو په معامله کښی گوتی نه وهلی» .

لیفی برنتیسالی په خپل کتاب «د لسمی پیری هسپانیه» کښی لیکلی دی :

«لکه څنګه به چی د حکومت ستر ستر منصبونه ډیرو یهودیانو او مسیحیانو ته ورکړای شوی وو ، او هغوی د حکومت د انتظامی محکمو اوان تردی چی د جنګی چارو وا کمنان گرزولای شوی وو همغه ډول ډیر ځلی داسی شوی دی چی له نورو حکومتونو سره به هر ډول ترون لیکونکی یا یهودیان وو او یا مسیحیان ، او ډیر یهودیان داسی هم وو چی د خلفا وو له پلوه په اروپائی هیوادونو کښی د سفیرانو په توګه ماسور او ټاکل شوی وو» .

ښاغلی رینو په، فرانسه سویزرلنډ ، اتالیا او دمنځنی‌بحیری په ټاپوګانو کښی د عربو د جنګی تاریخ په لړکښی لیکلی دی :

«د اندلس په ښارونو کښی له مسیحیانو سره مسلمانانو خورا ښه چلن لاره او په همدی ډول یهودیانو او مسیحیانو هم د مسلمانانو د احساساتو ډیر لحاظ کاوو د مثال په ډول هغوی به هم خپل اولاد ختنه کاوو او د خنځیر غوښه به ئی نه خوړ له» .

**د آرنلډ گواهی :**

ښاغلی آرنلډ د مسیحی ډلو د دینی افکارو د څیړنی په ترڅ کښی لیکلی دی :

«مگر دتهذیب داسلامی پیرزوینی اصولو د دا ډول چارو

Marfat.com

هیڅکله هم اجازه نه ورکو له چې پای به ئې ظلم او تیری وو(۱).
پدی اساس د مسلمانانو معامله د نورو مذاهبو له کړنلارې څخه په بشپړه توگه په عکس د دی وه. بلکه مسلمانانو د نورو مذهبونو د فرقو هغه ظلمونه روا ندی گڼلی چې هغوی به په خپل منځ کښې د مذهبی اختلافاتو او تعصب په وجه یوو پربل کول. څکه چې زمونږ په وړاندی د تاریخ دا گواهی موجوده ده چې د مسلمانو حاکمانو په رعیت کښې چې د مسیحیانو کومې مختلفې فرقې وې د هغوی په منځ کښې د انصاف او نیاو په کولو کښې مسلمانانو یو پړتې سستی هم نده کړې. چې د هغه یو څرگند مثال دا دی چې د مسلمانانو په لاس د مصر له فتح کولو څخه وروسته کله چې د مسیحیانو یعقوبی فرق ته زمینه برابره شوه نو د په خوانی بازنطینی سلطنت مسیحیانو چې پردوی باندی کوم ظلمونه کړی وو له هغوی څخه د کسات اخستلو په لړ کښې ئې د هغو په کلیسا وو باندی قبضه وکړه او نور تول املاک ئې هم ورڅخه زور گیره کړل، مگر اسلامی حکومت بیه او په بشپړه توگه انصاف وکړ او د ارتجاعی مسیحیانو گرد املاک او تولی هغه کلیسا وې ئې له یعقوبی فرق څخه واخستلی او هغوی ته ئې تسلیم کړې چې پرهغوی باندی دوی خپل قانونی حق ثابت کړای شو».

بیا بناغلی آرنلډ وړاندی لیکی:

«مونږ کله چې د اسلامی حکومت په لمړنی دور کښې د

---

۱- «د دی ډول چارو څخه» د مسیحی فرقو د کړو وړو په لوز اشاره ده.

Marfat.com

مسلمانانو له خپل مسیحي رعیت سره پدی اندول انصاف ، نیاو او مذهبي پیرزوینه کورو ، نو دا پور او پاکند چي اسلام د توری په زور خپور شوی، دی د تصدیق او پاملرنی وړنده» .

**د تفصیلي خبرو اترو کولو لامل :**

مونږ د اسلامي تهذیب د مذهبي پیرزوینی او د مذهبي افکارو د آزادی په هکله په خپلوخبرو کښې له تفصیلي دلائلو او شواهدو څخه له د امله کارو اخیست چي :

د لویدیځ د کینه کښو تاریخ پوهانو د دی الزام د روغږن والی او لغویت په بشپړه توګه څرګند شي چي :

«اسلام د توری په زور خپور شوی دی ، او بل دا چي مسلمانانو له جبر او زور سره په استفاده وګړی په خپل دین کښې داخل کړی دی. اوبل داچي دوی وای چي مسلمانانو له‌نامسلمانو وګړو سره ذلت لرونکی دریځ او سلوک غوره کړی دی» .

**مګر دوی له شرمیږی :**

د دغو لویدیځو کینه کښو لپاره دا مناسب وو چي له پورتني غوغا جوړوني څخه لومړی دوی باید په خپل ګریوان کښې سرتیت کړی وای او کتلی وای چي هسي چېه شوی کلمي ددوی په خپلو غاړو کښې غورځیږی ؟ ځکه چي دلته خو داسي رناورڼ ده چي ړوند هم دا لیدلای شي چي له پورتني الزام څخه زمونږ لمن څومره پا که ده، مګر په خپله د دوی کړه وړه دومره ناوړه دي چي له خجالت او شرم څخه ئي باید ټنډی لندی شي - د مثال په ډول په صلیبي جنګونو او په هسپانیا کښې د ننه

دوی د مسلمانانو په خلاف چی د خپل مذهبی لیونتوب په وجه کوم ظلمونه وکړل په هغوی باندی له ندامت او پښیمانتیا څخه دبشریت سرټیټ شوی دی، بلکه دوی په خپل منځ کښی یو پربل چی کوم ظلمونه کړی د تاریخ یو طالب العلم هم له هغو څخه انکار نشی کولای- پروتستانیانو کا تولیکان قتل او تباه کړل او بیا په خاصه توګه «د سنت بارتلمی» وینی تو یو نه خوبی ساری بېرنوونکی ده. او بیا هغه جنګونه هم د دوی د رسوائی او شرمندګی لپاره کفایت کوی چی د پاپائیت د توغ پورته کوونکو او د هغوی د مخالفو اروپائی ملتونو ترمنځ ؤو شول - همدارنګه په منځنیو پیړیو کښی چی د پلټنی د څانګی مسؤلینو په عوامو کوم ظلمونه وکړل ، هغه په خپل ځای کښی ددوی لپاره د شرم وړدی - دغه ګردی پیښی ددی خبری څرګند ثبوت

دی چی اروپائی ملتونه د همیش لپاره زیات متعصب او کینه کوونکی دی او هیڅ کله هم هغوی له خپل مذهب څخه مخالفه ګروهه نده زغملی که څه هم د هغوی مخالفین د دوی هیواد وال او شریک نسب وی - ددوی په تیر شوی تاریخ کښی د مذهبی پیرزوینی هیڅ مثال نه سیندل کیږی او اوس هم دوی په همدغه مذهبی تعصب باندی ککړدی چی د دوی دا کړنلاره په حقیقت کښی د سیاسی تفوق او مستعمرانه پالیسی په پس منظر کښی کار او فعالیت کوی.

**وروستی ګواه :**

اوس په پای کښی ، زه غواړم چی د اسلامی پالیسی په مذهبی پیرزوینه باندی د مسیحیت د یو جلیل القدر او د فضل

Marfat.com

او کمال ښښتن او لاربښود گواهي وړاندي کړم او دغه شخصيت د انطاکيه کاردينال ميخائل دی ، چي د د ولسمي پېړی په وروستي نيمائي کښي تير شوی دی او دا هغه زمانه ده چي نيږدی ترپنځو سووکلونو پوری ختيځه کليسا د اسلامي حکومت ترڅو ماندي لاندي وو سيدلی وه کاردينال ميخائيل د مسلمانانو د مذهبي پير زويني او دی ختيځو کليسا وو په رومي مسيحانو د ظلمونو د يادوني په لړ کښي ليکلی دی چي :

«دا هغه لامل دی الله تعالی چي د ځواک «قوت» او جبروت ښښتن او چي د هغه له صفتونو څخه يو هم المنتقم «بدله اخستونکی» دی او هغه چاته چي وو غواړی د ځمکی حکمراني ورکوی او کله هم ذليل عزت من کوی . . .

هغه وخت چي د روم شر پسند و مسيحيانو ؤ ليدل چي هغوی د ځواک او سلطنت له لاس ته وروړلو څخه وروسته هغوی زمونږ د انطاکيه د مسيحيانو» کليسا وی ئې لوټ کړلی - زمونږ کورونه ئې تالا او لوټ کړل اودغه تالان په پراخه پيمانه په گرد هيواد کښي وو شو او دبشری رحم او زړه سوی جامه ئې له خپل تن څخه وويستله له مونږ سره ئې سخت ربړه وونکی سلوک او چلن وکړ - همغه وخت الله تعالی د عرب په تاټو و زمی کښي بنو اسماعيل مبعوث کړ ترڅو هغه مونږ له هغه دردناک عذاب څخه خلاص کړی په کوم باندی مونږ چي روم مبتلا

کړی وو. که څه هم دا صحيح خبره ده چي د مسلمانانو په حاکميت او قدرت نيولو سره مونږ ته څه نا څه زيان هم وو رسيده او هغه دا چي د کا توليک د مسيحيانو ډيری کليسا وی

Marfat.com

زمونږ له لاسه ووتلې او د (خلقدونیه) مسیحیانو لاس ته ورغلی. څکه چې دغه کلیسا وی په خوا له دی هم تر ډیری زمانې د هغوی په قبضه کښې وی ـ او کله چې مسلمانانو د حکومت او قدرت واګې په لاس کښې واخستلې نو هغوی داسې کارو کړ چې د چا په لاس او قبضه کښې چې پدغه وخت کې کومې کلیساوی وی هغه ئې همغوی ته پرې ښودلې ، او همغه وخت زمونږ له لاس څخه کبرې نومې کلیسا او د حوران کلیسا ووتلې ـــ مګر د دغه کوچنې زیان په بدل کښې سونږ ته ډیره عظیمه او ستره ګټه وو رسیدله او هغه دا چې سونږ د رومې مسیحیانو له انتقام او تعصب، او د هغوی له ربړونو زړانونو ظلمونو او دهغوی د دښمنی له چنګال څخه ازاد کړای شو او د امن او سلامتی په زانګو کښې ژوند تیره وو.»

**د لیبان منصفانه اعتراف :**

بیا ایا د ګستاف لیبان دا محاکمه د تاسې له نظر څخه کله تیره شوی چې هغه داسې ویلې دی :

«بشری تاریخ له هیڅ داسې یو قام او ملت سره تعارف نلری چې هغه د عربو په څیر زړه سوانده او پیرزو وونکی بریالی شوی وی ـ او نه په تاریخ کښې د مسلمانانو د دین په څیر داسې صاف او سوچه او بې زیانه دین په نظر را درومی.»

د مسلمانانو په هکله د ښاغلی لیبان دغه منصفانه اعتراف او وینا په حقیقت کښې له حق سره انصاف دی.

# شپږم باب

## زمونږ جنګی اخلاق :

دادی ! زمونږ د تهذیب د بشر دوستی یو بل

Marfat.com

نوی ارخ ، او ددی ارخ له نظره هم ، اسلامی تهذیب منفرد او بې سیاله دی ، دامن اوسولی په حالت کښې ، ښه خوی ، نرمی ، په کمزورو باندی زړه سوی ، په خپلوانو او گاونډیانو باندی پیرزوینه هر ملت کولای شي ، خو دا ټول په هغه وخت کښې چي د کمزوری او ناتوانی مجبوره ژوند تیروی . . .

مگر د جنگ په حالت کښې له خلکو سره ، په انصاف چلن ، له دښمنانو سره نرم سلوک کول ، په کوچنیانو ، سپین ږیرو او ښځو باندی زړه سوی کول ، له ماتی خوړولو وگړو سره نرمی او پیرزوینه ، دا د هر ملت د واک نه وتلی خبره ده او نه په هر یوو جنگي قومندان کښې د دغو پورتنیو صفتونو پیدا کیدل امکان لری ، د وینی په لیدلو وینی گرمیږی دښمنی ، کینه غصه او غضب را پاروی - او بریالی‌دخپل بریالی توب نیشه لیونی کوی - او پداسی حالاتو کښې له هغه څخه خورانا وړه قلبی شقاوت او د انتقام نوښت تبارز کوی ، او همدغه د ټولو ملتونو تاریخی اعمال دی برابره خبره ده که په خوانی وی او که اوسنی ، بلکه د گرد بشریت همدغه تاریخ دی ، او دا له هغه وخت څخه پیل شوی دی کله چي قابیل د خپل ورور وینی «په ناحقه سره» تو ئی کړی :

اذ قربا قرباناً فتقبل من احد هما و لم یتقبل من الاخر قال لا قتلنک قال انما یتقبل الله من المتقین.۱

«هغه وخت چي دوی دواړو خپلی خپلی قربانی او نذرونه کښې ښودل نو د یوو قبول کړای شو او د هغه بل قبول

---

۱- د مائده سورة ۲۷- ایات ۶ سپاره ۵ رکوع ۵ سورة.

نکړای شو «یعنی د قابیل نذر خدای پاک قبول نکړ» نو ده خپل ورور هابیل ته وویل چی تازه وژنم ، هابیل ورته وویل چی پدی کښی زما څه قصور دی خدای پاک د پرهیز گارانو او متقیانو نذر قبلوی.»

پدی وخت کښی دی چی تاریخ دروان ژوند تاج ، یواځی زمونږ د تهذیب د مشرانو او رهبرانو پر سر کښی ښود ، برابره خبره زمونږ دغه محکښان نظامی وی که ملکی فاتح وی که حاکم وی ، ځکه چی په گردو تهذیبونو کښی زمونږ هغه یواځینی تهذیب دی چی د هغه اکابرو او لویانو په سختو جنگی حالاتو کښی هم ، لــه نیاوا وسینی څخه د ډک انسانیت تظاهر کړی دی ، اوبیاپه خاصه توگه پداسی شیبوکښی چی هغه انسان وینی تویولو او انتقام تــه هځوی ـ الله تعالی گواه دی چی که چیرته د مسلمانانو د غه جنگی اخلاق ، د تاریخ له نه منکرید ونکوپیښو څخه نه ثابتیدلای نومابه د غه گردی پیښی یوه داسی قصه او افسانه گڼلی وای چی هغی د مځکی پر مخ هیڅ حقیقت نه لرلای ـ

**د اسلامی تهذیب برکت :**

هغه وخت چی اسلام دنیاته راغی نود وگړو په خپل منځ کښی داسی حالت وو لــکــه څنگه چی په ځنگل کښی د ځناورو په خپل منځ کښی وی چی پیاوړی به بی تکلف او له مسئولیت څخه پرته بې وزلی قتل کاوو اویووسلوال به له ډیل څخه پرته بې وسلی کس لوټ کاوو ، په گردوا د یانو او شرائعو او په تولو ملتونو او قبائلو کښی جنگ گواکی د هغوی د ورځنی ژوند

Marfat.com

لەمعمولا تو څخه وو، چې نه به په اوم قیدپوری مقیدوو او نه ترکوسی پولی پوری محدود وو ـ د روا جنګ او ناروا او ظالمانه جنګ ترمنځه هیڅ ډول تــوپیر او امتیاز نوو. هر قــوم به چې د دی خواک وسوند چی لــه بــل ملت او قام څخه د هغوی مځکی وینسی ، د هغوی ښځی او تورسری وینځی او د هغوی سری د ځانو نوم‌یونه کړی او هغوی د خپلو خیالاتو او ګروهیو په پری ښودلو مجبور کړی ، نو داسی ملت د غه تولی چاری له زړه و هڅی او د ګناه له احساس څخه پرته سرته رسولی ، مګر زمونږ تهذیب دا خبره مناسبه وو نه ګڼله چې په بشری نړی کښی دی د غه کړنلاره چې بشریت ئی د سوچه حیوانیت سطح ته را غور ځولای دی په خپل حال پاتی وی ، بلکه ګردی بشری نړی ته ئی دا اعلان وکړ چې د ملتونو په منځ کښی ذاریکو دلرلو په هکله اصل او بنسټیزشی پیژند نه او یوله بل سره مرسته ده نه جنګ او نفرت :

یایها الناس انا خلقنکم من ذکر وانثی وجعلنـا کم شعوباً و قبائل لتعارفوا ان اکر مکم عند الله اتقکم ۱

«ای خلکو ماتاسی له یوو پلار او له یوی مور څخه پیدا کړی یاست او بیاسی ددی لپاره په ځانګواو ټبرونو وویشلی ترڅو په خپل منځ یوبل سره ووپیږنی په یقینی توګه دخدای پاک په وړاندی له تاسی څخه هغه څوک ډیرغوره او هغه ته نیږ دی دی چې پرهیز ګار او له خدای پاک څخه ډیرویری دونکی وی»

۱ ـ د حجرات سورة ۱۳ ـ ایات ۲۶ سپاره لمړی رکوع ٤ ۹ سورة ـ

Marfat.com

چې په د اساس د بشري تېروتو او قامونو په منځ کښې د سولې او جوړې روغې د اړيکو ټينګول يوه طبعي او فطري رابطه او تړون دی ـ لکه چې الله تعالی فرمايلی دی :

يا يها الذين امنوا ادخلوا في السلم كافة . . . ۱

ای مومنانو په سوله او امن «يعنې اسلام» کښې په بشپړه او هراړخيزه توګه داخل شي .

**د ځواک د وسائلو تيارول د څه لپاره ضروري دي ؟**

اوس نو د اسلام له پورتني د ستوز سره سم که بياهم کوم قام په سوله او امن کښې او سيدل ونه غواړي او له بل ملت سره له جنګ او پرهغه باندې له تيرې کولو څخه ئې پرته زړه او بدن ارام نه موسي ، او د همدې موخې په تکل هره شيبه جنګ ته چمتووي ، نوپدې صورت کښې بياپد غه بل ملت باندې هم فرض دي چې هغه د تيرې او يرغل کوونکی د يرغل د مخنيوی په خاطر ځان چمتوکړي، ځکه کوم ملت که چيرته، هروخت له خپل ځان څخه د دفاع لپاره چمتونوی نوتيرې او يرغل کونکی ملت د جنګ او تيرې د بريالی توب په لاره کښې له خو رازياتي چټکتيا څخه کاراخلي :

واعد والهم ما مستطعتم من قوة ومن رباط الخيل ترهبون به عدو الله وعدو كم ط . . . ۲

« او ځومره چې کولای شي ځواک او پياوړتيا چمتوکړي او د آسونو له تيارولو څخه ، د هغوی لپـــاره چمتو او سيری

---

۱ـ د بقره سورة ۲۰۸ ـ آيات ۲۵ رکوع ۲ سپاره ۲ سورة

۲ ـ د انفال سورة ـ ٦۰ ـ آيات ۸ رکوع ۱۰ سپاره ۸ سورة ـ

Marfat.com

ترخو د خدای پاک او ستاسی دښمنان وو دارشی او ترهه وکړی »

اوس نو که چیرته تیری کوونکی ملت له خپلو تیری کوونکو هڅو اوپتیلو څخه جاروزی، او که وسلوال سوله دوستی ؤغواړی، نوسوله دوست ملت ته هم لازمه د چی هغه هم ده ته په زغرده د سولی د هر کلی لپاره لاس ؤوغځوی ، بلکه د ده لپاره خولازمه ده چی دی له خپل حریف څخه زیات د سولی په لټون کښی وی او دسولی څرگندونه په ډیر ټینگار سره وکړی :

فان جنحواللسلم فاجنح لها وتوکل علی الله ط . . . ۱

پس که چیرته د وی د سولی لپاره غاړه کښیږدی نوتاسی هم هغی ته سپلان او خوښی وکړی او په الله تعالی باندی ځان ؤ سپاری»

خومگر که تیری کوونکی یواځی جنگ کول غواړی بیانوپدی صورت کښی د ځواک مخنیوی په ځواک سره کیدلای شی ، ؤسپنه ؤسپنه پری کوی :

وقاتلو فی سبیل الله الذین یقاتلونکم . . . ۲

« او د خدای پاک په لاره کښی له هغو خلکو سره جنگ وکړی چی هغوی له تاسی سره جنگیږی »

د جنگ اهداف :

دا هغه دریغ دی چی د هغه په اساس زمونږ د تهذیب اصول او مبادی د مال د ولجه کولو د لوټ او تالان جوړ ولو او د ملتونو د محکوم کولو په خاطر هیڅکله هم د جنگ

---

۱ - پورتنی سورة او رکوع او سپاره ٦۱ - آیات

۲ - د بقره سورة - ۱۹۰ - آیات ٤ سپاره ۲٤ رکوع

Marfat.com

اجازه نه ورکوی ، ځکه چې دغه اصول داسې دول جنګونه په غوځه توګه حرام ګڼي ـ او د ده په وړاندې يواځې هغه جنګ روادی ، چې له يود د غولاندی نيواهدانو په خاطر ؤوجنګيږي ـ

۱ ـ د ملت له اخلاقو او نظرياتو څخه د دفاع په هکله ـ

۲ ـ د ملت د آزادی ' خپـلـواکی او د سولې د بقا او

ټينګښت په خاطر :

وقاتلواهم حتى لا تكون فتنة ويكون الدين كله لله ط . . . ۱

او له هغوی سره تر هغه پورې جنګ وکړی چې فتنه پاتې نشي او بندګي يواځې او يواځې الله لره ووشي په د صورت

کښې باطلو خوا کونو ته د جنګ د اعلانوونکي ملت له جنګ اعلانولو څخه يواځې د خپلې ګروهې آزادی هدف ندی بلکه په هغه باندی لازمه ده چې د هغه د نورو د ګروهيو د آزادی او حريت ګارنټي هم ورکړی او د ګردو مذاهبو د عبادت خانو ضامن هم شي :

ولو لا دفع الله الناس بعضهم ببعض لهدمت صوامع وبيع وصلوات ومساجد يذكر فيها اسم الله كثيراً . . . . ۲

۲ـ د نساء سورة ـ ۷٥ ـ آيات ٥ سپاره . ۱ رکوع ٤ سورة .

«نو که چيرته الله تعالى ځينې خلک په ځينو نورو باندی له منځه نه وړلای نو هرو مرو به رنګ کړای شوی وو هغه کليساوی او د يهوديانو عبادت ځايونه او نوری عبادت خانی او جماتو نه چې په هغوی کښې د خدای پاک يادونه خورا ډيره کيږی ـ»

Marfat.com

یو بل ځلیدونکی اړخ :

او بیا زمونږ د تهذیب د روښانه اصولو یو خورا ځلیدونکی اړخ دا هم دی هغه لکه څنگه چی په مونږ باندی دا فرض کړی ده چی مونږ به هیڅکله او هیڅ ډول خپل عزت او آزادی ته ضربه رسول نه پرېږدو همدا ډول ئی په مونږ باندی دا هم لازمه کړی ده چی د نورو مظلومو ډلو او پاټکیو په لاس نیوی سره ، پر هغوی باندی د کیدونکو ظلمو سونو په مقابل کښی له هغوی څخه دفاع وکړو :

ومالکم لا تقاتلون فی سبیل الله والمستضعفین من الرجال والنساء والولد ان الذین یقولون ربنا اخرجنا من هذه القریة الظالم اهلها واجعل لنا من لدنک ولیاً واجعل لنا من لدنک نصیراً ـ۳

۳ـ د نساء سورة ـ ۷۵ ـ آیات ۵ سپاره . ۱ رکوع ٤ سورة.

«او تاسی ولی د الله تعالی په لاره کښی نه جنگیږی او ولی د هغو بی وزلو او کمزورو نرو او ښځو او کوچنیا نو له ظلم او تیری څخه د خلاصون په خاطر نه جنگیږی، چی هغوی الله تعالی ته دا سوال کوی چی ای لویه خدایه ، مونږ له د ښار څخه وو باسه چی هستوگنی ئی ظالمان دی او وگرزوه زمونږ لپاره له خپل لوری څخه ملاتړاو وگرزوه زمونږ لپاره له خپل لوری څخه مرستیال ـ»

په دغو اخلاق بندیزونو کښی ښکیل شوی او نغښتلی جنگ ، هغه جنگ کیدلای شی چی هغه په گروهی او د فکر او عمل په آزادی باندی د کیدونکو ظلمونو او تیریو د مخنیوی په خاطر ډگر ته وو دانگی او همدغه ډول جنگ په اسلام کښی

Marfat.com

روا دی او یواځې د همدغه موخې په لاره کښې جنګیدل الله تعالی ته نیږدی والی ترلاسه کولای شی او همدوی ته به جنت ته د تللو ویاړ په برخه کیږی . او د همدغه ډول جنګ په هکله اسلامی تهذیب پریکړه او فیصله کړی ده چی فی سبیل الله جهاد دی او له دی نه پرته نور چی هر څومره جنګو نه دی هغه ټول د طغیان او په ځمکه کښې د فساد کولو لپاره دی - زمونږ د تهذیب د مشروع جنګ او د نورو بشری ملتونو د مشهورو جنګونو ترمنځه چی کوم توپیر دی هغه پدی لاندنی آیات کښې ښه تره واضح کړای شوی دی .

الذین آمنوا یقاتلون فی سبیل الله والذین کفروا یقاتلون فی سبیل الطاغوت فقاتلوا اولیاء الشیطن ان کید الشیطن کان ضعیفاً(۱) .

«هغه کسان چی مومنان دی هغوی دی الله تعالی په لاره کښې جنګیږی او هغه ډوک چی کافر دی هغوی د طاغوت په لاره کښې جنګیږی ، پس ای مومنانو تاسی د شیطان له مرستیالانو سره جنګ وکړی - په یقینی توګه د شیطان تدبیر کمزوری دی .

**جنګ له چا سره او په څومره اندازه ؟**

زمونږ تهذیب د جنګ اعلان د الله تعالی د کلمی د لوړتیا په خاطر کوی او د ژوند د تجویز او تماکل شوی نظام د پلی کولو لپاره ئی کوی . دا نظام ، د حق نظام دی. د اخیر دی او همدا شریفانه معیار دی، خود دی په مقابل کښې چی کوم

۱- د نساء سورة ۷٦ ایات ۱۱ رکوع ٥ سپاره ٤ سورة

Marfat.com

نور وګړی د جنګ اعلان کوی هغه په نورو باندی د تیری

کولو ، د شیطنت او په ځمکه کښی د فساد کولو لپاره وی او

شیطنت د شر ، سرغړونی او فساد نوم دی - نو کله چی زمونږ د

تهذیب د جنګونو مطلب او موخه دا دی پس د حق په لاره

کښی او د خیر په خاطر ، دا جنګ هیڅکله هم د شر او باطل

ذریعه نه شی جوړیدلای. همدغه وجه ده چی د جنګ په هکله

زمونږ د تهذیب له اصولو او مبادی وو نه یو دا دی چی مونږ

باید یواځی له هغه چا سره جنګ وکړو چی له مونږ سره جنګیږی

او په مونږ باندی تیری کوی :

فمن اعتدیعلیکم فاعتدواعلیه بمثل ما اعتدی عایکم...(۲)

«پس هغه چا چی پرتاسی باندی تیری وکړ نو متاسی

نوښت باید په همغه اندول وی لکه څومره ئی چی پرتاسی

باندی تیری کړی دی»

نو پدی اساس که چیرته مونږ له دغو ټاکل شوو پولو

څخه تجاوز وکړو او له هغه چا سره جنګ وکړو چی هغه جنګ

کول نه غواړی ، او هغه چاته زیان وو رسوو چی هغه بل چاته

د زیان رسولو په هڅه کښی نوی ، پدی صورت کښی به بیا

مونږ له دغه بشری جنګ او د هغه له لوړو اهدافو څخه د

انحراف په اساس ، زیاتی کوونکی ؤ ګرځیږو . لکه څنګه چی

الله تعالی فرمایلی دی :

---

۱ـ د بقره سورة ۱۹٤ ایات ۲ سپاره ۲٤ رکوع ۲ سورة

Marfat.com

وقاتلوا فی سبیل الله الذین یقاتلونکم ولا تعتدوا ان الله لا یحب المعتدین(۱)

«او هغه څوک چی له تاسی سره جنګیږی نو تاسی هم د خدای په لاره کښی له هغوی سره په ځوابی توګه جنګ وکړیٔ ، مګر زیاتی مکوی ځکه چی خدای پاک تیری کوونکی دوست نه ګڼی»

او همدارنګه الله تعالی فرمایلی دی :

ولمن انتصر بعد ظلمه فاولئک ما علیهم من سبیل انما السبیل علی الذین یظلمون الناس ویبغون فی الارض بغیر الحق اولئک لهم عذاب الیم(۲)

ترجمه : او که چیرته هغه څوک چی پرهغوی باندی ظلم شوی وی او د خپل کسات اخستلو په توسه جنګ وکړی نوهیڅ باک نه لری. ملامتی خو په هغه چا باندی دی چی هغوی په خلکو باندی د جنګ کولو په وجه ظلم کوی او په ځمکه کښی په ناحقه سره فساد او ورانی کوی دغه ډول کسانو ته ډورا سخت عذاب تیاکل شوی دی.

نو پدی اساس کله چی د جنګ او ربل شی په موږ باندی دا فرض دی چی په هر وخت کښی، خپل جنګی اصول په نظر کښی وو لرو . ترڅو داسی وو نشی چی موږ د بی رحمی ،

---

۱ـ د بقره سورة ۱۹۰ ایات ۲ سپاره ۲۳ رکوع ۲ سورة

۲ـ د شوریٰ سورة ۴۱-۴۲ ایاتونه ۲۵ سپاره ۴ رکوع د سورة شمیره ۴۲

Marfat.com

فساد ، تباهي او بربادي باعث شو . داسې هيڅکله هم بايد وو نه شي ، څکه چې خاص د الله تعالى د لارې په جنگ کښې جنگ کونکې بشريت ، د خپلو جنگي وسائلو له نظره هم ، هميشه بايد د بشريت په پولو کښې د ننه وي که څه هم دغه جنگ خورا سخت او شديد وي.

## د جنگ، په هکله څو لارښودنې :

همدغه وجه ده‌کوم هدايات چې‌اسلام د جنگ په‌هکله‌کړي دي دغه هدايات د بل‌هيڅ يوو تهذيب په تاريخ‌کښې نه ميندلې کيږي.د مثال په ډول حضرت ابوبکرصديق رضي‌الله عنه «د خپل خلافت په زمانه کښې کله چې د حضرت اسامه په مشرې اسلامي لښکر جنگ ته ليږي» نو د حضرت اسامه لښکر ته داسې لارښودنه کوي :

«د ښځې او ماشوم به نه غوڅوئ مثله به نکوئ ، کوچني هلکان به نه وژنئ د باغونو ونې به نه پرې کوئ ، او نه به اور ورته اچوئ ، هيڅ يوه ميوه لرونکې ونه به نه پرې کوئ په گيډې مړولو برسيره به هيڅ يو څاروی نه ذبح کوئ ، تاسې به په داسې وگړو پيښيږئ چې هغوی به خپل ځان په

کليساو کښې عبادت ته وقف‌کړی وي، هغوی ته څه مه واياست او په خپل حال ئې پريږدئ او دوی هغه څه ته خوشې کړي، چې ځان ئې ورته گوښه کړی دی» .

تاسې وگورئ هغه څوک چې د شر او فساد لپاره نه بلکه خاص د الله تعالى په لاره کښې جنگيږي د هغوی دی جنگ کړه وړه څنگه وي. او بل دا چې هغوی هميشه د داسې اصولو

Marfat.com

او مبادی وو پابند ؤ سیږی چی هغه د بشریت لپاره د رحمت باعث دی ، ان تردی چی هغوی له دی دو نتیجو څخه هرو مرو یوی ته رسیږی یا به سوله کیږی او یا به ئی بریالی توب په برخه کیږی ، که سوله وکړی نو په هغی کښی په خپلو ژمنو ټینګ ولاړوی او د دوارو ډلو تر منځه د شوو ژمنو پوره ډول لازمی ګڼی ' ځکه چی د هغوی کړی ژمنه په اصل کښی نه الله تعالی سره ژمنه کول دی :

«و اوفوا بعهد الله اذا عاهدتم ولا تنقضوا الایمان بعد توکیدها وقد جعلتم الله علیکم کفیلا» . (۱)

ترجمه : او کله چی تاسی له الله تعالی سره ژمنه وکړی نو پوره کوی، اوخپل سوګندو نه وروسته له ټینګښت څخه مه ماتوی ځکه چی تاسی پدی هکله په خپلو ځانونو باندی خدای پاک ضامن ګرځولای دی.

او که بریالی توب ئی په برخه شی نو هغه د داسی یوی تولنی بریالی توب دی ، چی هغی یواځی د الله تعالی لپاره قربانی ورکړی دی ' د هغی غړی د خدای په لاره کښی شهیدان شوی دی ' له بریالی توب څخه وروسته دغه تولنه داسی اقدامات کوی چی د هغو په توسه په ځمکه کی د حقانی نظام جرړی پیاوړی او ټینګ شی او د وګړو په منځ کښی د هر ډول فساد او تیری مخنیوی کوی :

---

۱- د نحل سورة : ۹۱ آیات ، ۱۳ رکوع ' ۱٤ سپاره ، ۱٦ سورة.

Marfat.com

«الذين ان مکناهم فی الارض اقاموا الصلاة واتوا الزکوة وامرو بالمعروف ونهو عن المنکر ولله عاقبة الامور». (۲)

ترجمه : هغه وګړی چی که سونږ دوی ته په مځکه کښی ځواک ورکړو نو هغوی لمونځ قائموی ، زکاة ورکوی ، نیکی ته بلنه او له بدی ځخه ژغورنه کوی او د ټولو چارو پای د الله په واک کښی دی.

دغه دی هغه پولی چی اسلامی تهذیب له بریالی توب ځخه وروسته خپل فاتح ته د کړو وړو لپاره ټاکلی دی یعنی لوړ روحانیت ، ټولنیز نیاو «عدالت» د ټولنی د سوکالی او نیکی په چارو کښی په خپل منځ کښی یو له بل سره مرسته او په مځکه کښی له شر او فساد سره پرلپسی مبارزه — دغه دی زمونږ د تهذیب جنګی اصول او مبادی ، او دغه زمونږ هغه جنګی اخلاق دی چی نجوړ ئی یواځی په دری ټکوکښی خلاصه او وړاندی کولای شی «انصاف زړه سوی ، او په ژمنه ټینګ پاتی کیدل» .

**دغه ټول یواځی دعوی او نظریه نه بلکه په عملی ډګر کښی ئی ښودلی دی :**

زما فکر دا دی چی ، د جنګ په دوران کښی ، زمونږ د تهذیب د سوله پالی پالیسی د ثبوت لپاره دو مره وینا کفایت نکوی . ځکه چی یواځی د اصولو بیانول او د هغوی په عمومی توګه اعلانول د یو ملت د حثیت د لوړتیا او د

۱- د حج سورة : ٤۱ آیات ، ٦ رکوع ، ۱۷ سپاره ،

۲۲ سورة.

Marfat.com

هغه د بشر دوستی د ثبوت لپاره کفایت نکوی . له ډیری مودی راپدی خوا مونږ ډیر داسی ملتونه وینو چی په پیل کښی د خورا لوړو اهدافو په منځته راوړو سره د پرګنو په وړاندی تیارز کوی ، خو له نورو ملتونو سره د هغوی کړه وړه خورا ذلیلوونکی ، سخت زړی د زړه سوی او نیاو له بشری اصولو څخه په سوونو میله لری وی . په خپله زمونږ په هیواد کښی چی لویدیځ ښکیلاک «استعمار» کوم رول لوبولای دی هغه کومه پټه خبره نده او نه د هغه د له شرمه ډکو او وحشیانه چارو تاریخ له مونږ څخه لیری دی . له د امله دا ضروری د چی وو ګورو زمونږ د تهذیب د عروج او پرمختګ په زمانه کی د دغو اصولو عملی ښکارونی څنګه دی . د ځای ته په رارسیدلو سره ځینی ملتونه تور مخی کیږی او ځینی نور سرخ رویه ثابتیږی . او دا هغه مقام دی چی هغه ته په رارسیدلو اسلامی امت له نورو ګردو ملتونو څخه ممتاز کیږی او په بشر دوستی کښی نه خو کوم ملت له هغه سره سیال لیدل کیږی او نه کوم تهذیب.

**د نبوی دور شواهد :**

پدی ځای کښی به مونږ له ټولو څخه وړاندی د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د سپیڅلی ژوند د څوپیښو یادونه وکړو . څنګه چی حضور صلی الله علیه وسلم په خپله «د الله تعالی له هدایاتو سره سم» زمونږ د تهذیب او د هغه د بنسټ کیښودونکی او د هغه د اصولو او قواعدو واضع دی . او پراځی په خپله حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اسلامی تهذیب له اهدافو اصولو او قواعدو څخه تعبیر کولای

Marfat.com

شی. د انبیاء کرامو او د امت د مصلحینو تاریخ گواه دی چی هیچاهم د دوی په اندول د دعوت په لاره کښی هم د کمیت له نظره او هم د کیفیت له مخی دومره کړا وو نه اوړ برونه ندی گاللی ، لکه څومره چی حضرت رسول اکرم صلی‌الله علیه وسلم تیرکړی او زغملی‌دی. د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په مکه کښی د رسالت د یارلس کاله ژوند خو تاسی‌ته بهتر معلوم دی. د مکی دور په دغه ټول وخت‌کښی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او د هغه ټولنه د مخالفینو له پرلپسی کینی دښمنی ' او دوی ته د زبان رسونی ښکنځلو رټلو له کړا وو نو سره مخامخ وو ، ان تردی چی د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او د هغه د صادقو یارانو د شهادت تدبیرونه او توطئی جوړی کړای شوی . له د څخه وروسته که د هغه د مدنی ژوند په دورباند طائرانه نظرو اچولای شی نو دغه ټوله زمانه هم له پرلپسی او نه ستړی کیدونکو هلو ځلو جهاد او غزاگانو څخه ډکه ده. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته ترهغه پوری د جنگی لباس له تن څخه د ویستلو زمینه برابره نشوه ترڅو چی له رحلت او وفات څخه کمه زمانه وراندی ، ټوله عربی نړی د ده له حاکمیت لاندی را نغله . په عمومی توگه لیدل کیږی هغه څوک چی پدی دنیا کښی د پرلپسی دښمنیو، ظالم او تیری او د توطئو مورد گرځیږی ' هغه هرو مرو منتقم المزاج او کسات اخستونکی گرځیږی او که بیا چی د جنگ ډگر ته رسیږی نونابیره توره پورته کوی‌په قتل اومقاتله بیدریغه لاس‌پوری دوی ، چی بیانو له همدی امله د هغه طبیعت وینی تو یوونکی گرځیږی . مگر د دی په خلاف تاسی وو گوری چی حضرت

Marfat.com

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د تولو جگړو په دوران کښی څه ډول اخلاق دریغ او چلن د رلود ؟ او ده چی د اسلامی تهذیب د کومو جنگی اصولو اعلان کړی وو هغه ته ئی څنګه عملی جامه وروا غوستله ؟

د اُحد په جنګ کښی ، کله چی د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هدایاتو او لارښودنو په خلاف د قدم پورته کولو له کبله کومه ماتی چی مسلمانانو ؤ خوړ له اوحضرت صلی الله علیه‌وسلم دښمنانو محاصره کړ اوهغوی د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ژوند د پای ته رسولو په تکل یرغل پ‍ری وکړ او دی مبارک ئی تپی کړ ' او د ده غاښ مبارک شهید کړای شو ، مخ مبارک ئی تپی شو او په مخ مبارک ئی د خپلو سبارکو وینو شپولونه جوړ شول او په همدغه وخت کښی د ده مبارکو او اتلو یارانو له خپلو ځانو څخه په تیریدنی له ده څخه دفاع وکړه او د دښمنانو له کړی څخه ئی وویست ، په همدغه وخت کښی ځینو اصحابو عرض ورته وکړ چی یا رسول الله تاسی د دغو بدبختانو په حق کښی ښیرا وکړی . حضرت صلی الله علیه وسلم په ځواب کښی وو فرمایل : «زه الله ملامت کوونکی نه یم مبعوث کړی ، بلکه زه ئی د داعی او رحمت په توګه مبعوث کړی یم» . «او بیا ئی په همدغه حالت کښی داسی وو فرمایل» ای الله زما قام ته هدایت او لارښودنه وکړه څکه چی هغوی نه پوهیږی» ـــ دا ده هغه حق پالنه او حق پسندی چی ځینی وختونه خو جنګ کولو ته اړویسنلا شی ، مگر دوینی تو یولو د تندی د ماتیدو په خاطر جنګ نکوی ، بلکه عین د جنګ په ډګر کښی او د سختو شیبو د تیریدا او

په وخت کښې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له مبارکې ژبې ښخه پورتنې الفاظ وتل د دې ګواهي کوي چې وینې تویول او هیوادنیول هدف ندی بلکه پدې هیله چې په غلطه لاره تلونکې بشریت په سمه لاره روان شي.

د اُحد په همدغه جنګ کښې د شهیدانو سالار حضرت حمزه رضی الله عنه چې د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم کاکا وو شهید شو ، او نوموړی د عربو له نومیا لیواتلا نو ښخه وو . دغه په اسلام مین، یوو مرئی چې نوم ئې وحشي وو شهید کړی وو . او د ده قتل هم ناڅاپي نوو بلکه د ابو سفیان د ښځې چې هند نومیده په لمسه او هڅولو سنخته راغلی وو ، بیانو که چې دغه نو میالی او اتل د هغه له ګذار ښخه په مخکه پری ووت نو د شهیدانو په تنو کښې هند د حضرت حمزه رضی الله عنه د تنې په لټون کښې وه او کله ئې چې هغه میندہ کړ نو د هغه مبارک زړه او ځیګرئې ورښخه وویستل او په خپلو غابنونوئې هغه دواړ وو ژویل چې پدې توګه ئې د دښمنی او قلبي شقاوت یوځانګړی یادګار پری ښود . او بیا د زمانې بدلون ته وګوری چې بیا همدغه دواړه یعنې هنداوو حشي مسلمانیږی او د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مبارک حضور ته وړاندی کیږی ، او دی د هغو دواړو اسلام قبلوی ، د هندې له پاره د مغفرت سوال او دعا کوی او وحشي ته یواځې دو مره وائي چې : «که ته لاړ شې او زما له ستر ګو ښخه چیر ته لرې وو سیږی نو دا به ډیره ښه وی» دا دی هغه دریغ او نوبت چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د خپل تره له قاتل او د هغه د زړه او ځیګر له ژوونکی

سره وکړ .

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په یوو جنګ کښې یوه ښځه ؤ لیدله چې قتل کړای شوې وه دی خورا زیات خواشینی شو او مجاهدین ئې سخت تهدید کړل او ورته ئې وو فرمایل ایا ماتاسې ته د ښځوله قتلولو څخه د ژغورنې حکم نو دکړی ؟ دی خو له تاسې سره جګړه نه کوله ؟ دا دی د الله تعالی هغه رسول صلی الله علیه وسلم چې د جنګ په دوران کښې د بشر دوستی او انسانیت درس ورکوی او خپلو جنګی هدایاتو او لار ښودنو ته عملی جامه ورا غوندی ، پداسې حال کښې چې په خپله دی مبارک دخپلو جنګی پوځونو ستر قوماندان او په مختلفو جنګونو کی ونډه اخلی .

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مکه فتح کوی ، د خپلو لسوزرو سرتیرو مجاهدینو په ملګرتیا په خورا شان او شوکت د مکی ښار ته ننوځی او دی هغی ورځی او ګړی منظر دا دی چې هغه یوولس کلن کینه کښې قریش چې هغوی د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په ځورولو کښې هیڅ دریغ او کمی نوه کړی د ده په وړاندی سر ټیټی او ماتی خوړلی ولاړ دی او د خپلو ځانونو په هکله د نبوی فرمان او فیصلی د صدور انتظار کوی . حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د هغوی د دی حالت په لیدلو سره له هغوی څخه داسې پوښتنه وکړه : « ای قریشو ستاسې څه فکر دی چې زه به له تاسې سره څه وکړم ؟» هغوی په ځواب کښې ورته ووایل : «موږ له تا څخه د خورا ښه سلوک هیله مند یو ته زموږ ښه ورور او د

Marfat.com

به ورور زوی ئی» حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وو فرمایل : «نن به زه تاسی ته هغه ووایم چی یوسف علیه السلام خپلو ورونو ته ویلی وو چی نن ورځ تاسی له هر ډول محاکمی څخه خلاص یاست ، الله تعالی د تاسی ته ببښنه وکړی همغه ذات خورا مهربان دی ، ځی زماله لوری څخه تاسی ازاد یاست»

دا بشری نړی ته خیر ښودونکی د دواړو جهانو سردار حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دی ، نه کوم داسی جنرال چی هغه یواځی د خپل عزت او اقتدار په خاطر جنګیږی او د فتح او بریالی توب په غرور او نیشه کښی ډوبیږی .

**د راشدینو خلفا وو دریځ هم همدغه وو :**

له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د خلفاوو او صحابه وو هم په ټولو جنګونو او فتوحاتو کښی لټ مټ هغه دریځ وو د کوم چی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم بنسټ کیښودلای وو . هغوی خپله ډوه او څراغ په همغو تللو روښانه کړی او لګولای وو - او په همغه لاره روان وو او د اسلامی تهذیب هماغو اصولو ته ئی عملی جامه ور اغوستله، هغوی په ډیرو سختو شرائطو او مشکلو پیښو او فتحاتو کښی هم خپل اعصاب کنټرول کړی وو - او په ډیرو سترو سترو فتوحاتو او بریالی توبونو کښی هم هغوی خپل اصول او مبادی هیر نکړل .

**والی د مجبوریت له مخی خپله پریکړه ، بدله کړه :**

یو ځل د لبنان ځینو شرپسندو وګړو دهغه ځای دوالی علی بن عبدالله بن عباس په خلاف بغاوت وکړ - والی له هغوی سره

Marfat.com

جنگ وکړ او هغوی ته ئې ماتې ورکړه - له دې نه وروسته والي دا مناسبه وګڼله چې له د ځخه وروسته دغو ور انکارو ته د زیات فساد وخت باید په لاس ور نشي چې هغوی یو ځل بیا د یوی ډلي په صورة ځانو نه «سنظم او منسجم کړي او بغاوت وکړي ، له دې اسله هغوی باید یو له بل څخه جلا او تیت او پرک کړای شي او له هغوی څخه یو شمیر تبعید او له وطن څخه وو شړل شي - او دا کار د بغاوت لپاره کوچنی مجازات وو چې نن سبا هم له ګردو څخه د مهذبې تونې او هیواد واکمن هم په ډیره اسانی سره دا کار کولای شي بلکه کوئي ئې - مګر د هغه وخت یو پیاوړی او نومیالی عالم امام او زاعی والي ته ؤ لیکل چې که چیرته دې داسې وکړي نو د ده دا کار به له شریعت څخه مخالف وی - ځکه چې له عملي باغیانو سره نورو ذمیانو ته سزا ورکول او هغوی له هیواد څخه جلاوطن کول په هیڅ صورت کښې هم رواندی - د چا په هکله چې جنایت کول ثابت شي یواځې هماغه ته سزا ورکولای شي . امام او زاعی پدې هکله د لبنان والي ته په یوخط کښې لیکلي وو چې د هغې دا لاندې ونډه د غور او تدبر وړده .

«ماته معلومه شوی ده چې تا د جبل لبنان ځینې اهل ذمه» ذمیان ناسلمانه جزیه ورکوونکي او د اسلامي حکومت په ذمه واری په اسلامي هیواد کښې وو سیدونکي» قتل کړي او ځینې نور دې جلا وطن کړیدی چې په تبعید شویو وګړو وکښې ځینې داسې کسان هم شته چې هغوی له باغیانو سره هیڅ ډول مرسته نده کړي - تاسې وو ایاست چې دیو و خاص توک او یاډلې د ګناه په بدل کښې موعمومی خلکوته له دو مواصولو

سره سمه سزا ورکړی ده؟ ته دا خلک له خپل کور او شتو څخه د باندی شړی ـ پداسی حال کښی چی د الله تعالی فرمان دی چی «ولا تزرو ازرة وزر اخری»«یعنی دی یوګناه په بل نشی باریدلای» دا یوخورا غوره موقف دی او ددی وړدی چی عمل پری وکړی ـ همدار نګه د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم داتوصیه همیشه په نظر کښی باید وو نیسی چی من ظلم معاهداً او کلفه فوق طاقته فانا خصیمه یوم القیامة ـ «چاچی پرکوم متعهد باند ظلم وکړ اویائی پر هغه باندی د هغه له ځواک څخه زیات پیټی کښی ښود نوزه به د قیامت په ورځ د داسی شخص مدعی یم» ددی لیک په رسیدلو سره د لبنان والی له دی نه پرته بله چاره نه درلوده چی هغه بی ګناه تبعید کړای شوی خلک ، په ډیردر ناوی سره خپلو کو رونو ته بیرته راولی.

**او له مونږ سره د انګریزانو او فرانسویانو ساوک دادی :**

زه نه غواړم ددی پیښی په هکله څه تبصره و کړم ، البته پدی ځای کښی دا کفایت کوی چی زه خلکوته د فرانسویانو هغه کړه وړه ور په یاد کړم چی هغوی زمونږدازا دی د جنګ په دوران کښی له مونږ سره هغه وخت کړی وو چی زمونز په هیواد باندی قابض وو.

او اوس نن سباد شمالی افریقا له عوامو عربو سره هماغه ډره وړه کوی چی له مونږ سره ئی کړی ـ دوی په افریقا کښی په لکونو انسانان وژلی دی او په شلګونودان ښارونه ئی داسی وران کړی دی چی در ینوړ ګرونو په څیردی او داسی معلومیږی

چی گواکی هلته یېخی کوم کورنوو ۱ ، او همدارنګه په فلسطین کښې د عربو د ازادی په جنګ کښې چی انګریزانو له عربو سره کوم څه کړی دی هغه هم زمونږ په وړاندی او راته معلوم دی - زه پوهیږم چی له فتوحاتو وروسته او د جنګونو په دوران کښې زمونږ تهذیب چی له انسانانو سره کوم رحیمانه سلوک کړی دی د هغه دار زښت د اندازه کولو لپاره دا او سنی دور د هغو ملتونود توجه اړونی لپاره چی هغوی ځانونوته مهذب وائی یواځی هغه روش او چان ته اشاره کول کفایت کوی چی زمونږ تهذیب له دوی سره کړی وو.

**ایا په کوم تهذیب کښې د دی کوم مثال شته ؟ :**

هغه وخت چی حضرت عمر بن عبدالعزیز د خلافت په مسند کښیناست بود سمرقند د خلکو د سپین روبو بوه ډله ده ته

---

۱- او اوس دد وی بل ورور یعنی روسیه په افغانستان کښې د خپلو ورونو فرانسویانو او انګریزانو په تګلاره روان دی روسانوتر اوسه پوری د دری کالو د جنګ په موده کښې په افغانستان کښې هیڅ داسی کلی ښار او بانده نده پری ښودلی چی د هغه تولیه یا نیمه و دانی ئی په کنډروانوی بدله کړی او په دغه موده کښې ئی د افغانستان لس لکه بی ګناه په اسلام او ازادی مین مسلمانان د ښځو سپین ږیرو کو چنیانو او ځوانانو په ګډون دعام قتلان دغدیو او یرغلونو په ترڅ کښې شهیدان کړی دی شنو کښتوته اوراچوی او په نوم سره ولاړه شنه ونه نه پری ږدی چی له دکباله ددوی په خپل اعتراف دری سلیارده ډالره د افغانستان زیان من شوی دی اولاتر اوسه جنګ دوام لری . ژباړونکی .

Marfat.com

راغله او داسی شکایت ئی ورته وکړ چی د هغه ځای د اسلامی لښکر مشر او جنرال قتیبه پرته له کوم جواز څخه له دوی نه ښار په زور واخیست او مسلمانان ئی پکښی میشته کړی دی ـ حضرت عمر بن عبدالعزیز رضی الله عنه د سمرقند والی ته داسی مکتوب ؤ لیکه چی دی باید «د قتیبه» او د سمرقند د خلکو د شخړی د تصفئی لپاره یوه ځانگړی محکمه ؤټاکی ـ که چیر ته د دغی محکمی قاضی دا حکم اوپر یکړه وکړی چی له دغه ښار څخه دی مسلمانان وویستل شی نو هغوی دی سم له لاسه ووځی او ښاردی تخلیه کړی ـ والی د خلیفه له حکم سره سم محکمه جوړه کړه او قاضی ئی جمیع بن حاضر البابی چی په خپله هم مسلمان وو ؤټاکه ترڅو هغه پدی هکله څیړنه وکړی ـ نوموړی قاضی له تحقیق او څیړنی څخه وروسته د اپریکړه او فیصله صادره کړه چی له دغه ښار څخه‌دی مسلمانان ووځی ـ او په فیصله‌کښی ئی دا هم ؤلیکل چی د اسلامی پوځ سر لښکرته دالازمه وه چی لمړی ئی هغوی ته د جنگ التی ماتم ورکړی وای او د اسلام د جنگی قانون له اصولو سره سم تولی معاهدی ئی مسوخی کړی وای ترڅو د سمرقند خلکو له مسلمانانو سره د جنگ کولو لپاره ځانونه چمتو کړی وای، په هغوی باندی ناځاپی یرغل کول ناروا وو د سمرقند خلکو ته کله چی دا خبره څرگنده شوه او دا حالت ئی په خپلو سترگو وو لیده چی د بشریت په تاریخ کښی د دی هیڅ یومثال مینده کیدلای نشی چی کوم حکومت دی د خپل کوم لښکر او پوځ قوسندان او فوځ پداسی ضوابطو کښی تشکیل کړی وی نو هغوی په خپل منځ کښی دا پریکړه وکړه چی له د پول ملت سره جنگ ډیر عبث خبره ده ـ بلکه د

داسی ملت حا کمیت د الله تعالی ستر نعمت او رحمت دی ـ له د امله هغوی په همغه بنار کښی د اسلامی فوځ په او سیدلو راضی سشول او د اپریکړه ئی وکړه چی هغوی باید د دوی په منځ کښی وو او سیږی .

تاسی فکر و کړی یوفوځ یوښار فتح کوی او هغه ته ننوځی، خلک درومی او په خپله فاتح حکومت نه شکایت کوی، او د حکومت قاضی په خپله د خپل فاتح فوځ په خلاف فیصله صادر وی او د لښکر د وتلو حکم کوی او داپریکړه کوی چی د خلکو د خوښی په خلاف دوی هلته نشی هستیدلای ـ ایاد بشریت په پخوانی او یانوی تاریخ کښی داسی یو جنگ ښودلای شی، چی د هغه جنگیالی سپایان خپل ځانونه په خپله په داسی قیودو کښی خوندی ووساتی. او دریښتین والی او صداقت د داسی لوړو او عالی اصولو پابندی وکړی لکه چی زمونږ د تهذیب بچیانو او شاژلمو کړی او عملاً ئی ښودلی ده ؟ ترکومه ځایه چی زه معلومات لرم په بشری ملتونو کښی ، په هیڅ یوه ملت کښی هم په خپل ځان کښی د دی ډول اخلاقو موجودیت او نمونه نشی ښودلای .

**دژمنی او شرافت د لحاظ یوه اوږه نمونه دا ده :**

**زمونږ بریالی فوځ دمشق ، حمص او د شام نور ښارونه یوپربل پسی فتح کوی، او د سولی له اصولو سره سم د هستو گنود مال او سرد ساتنی او د هیواد د دفاع په خاطر له هغوی څه نا څه محصول اخلی ، خوبیا وروسته مسلمانانو رهبرانو ته دا خبر رسیږی چی هر قل یو ستر فوځ تیار کړی دی او هغه د**

Marfat.com

مسلمانانو په خلاف دیو و قاطع جنګ لپاره د جنګ په ډګر کښې پلې کوی ، له د امله مسلمانانو مشرانو پریکړه وکړه چې د شام بریالی فوځونه باید ټول ښارونه تخلیه کړی اوګرد په یوو ځای کښې سره را ټول شي او په ګډه سره او ځنګ په ځنګ د هرقل د تیار شوی جنګی فوځ مقابله وکړی . له پورتنی فرمان سره سم فوځونو حمص ، دمشق او نور ښارونه خوشې کړل ، حضرت خالد رضی الله عنه د حمص خلک ، ابو عبیده د دمشق او نو روقومندانانو د شام د نورو ښارونو ووسیدونکی راغونډ کړل او هغوی ته ئې داسی وویل :

«له تاسی څخه چې مونږ کومې روپۍ د محصول په توګه اخستلې وی هغه ددی لپاره وی چې مونږ ستاسی ځانونه او مالونه وو ساتو او له بهر نیو یرغل کوونکو څخه تاسی وژغو رو . مګر د خواښینې ځای دی چې مونږ اوس له تاسی څخه جلا کیږو او له دی نه وروسته ستاسی د ساتنې او دفاع ذمه واری نشو کولای ، له د امله ستاسی روپۍ دادی مونږه بیر ته تاسی ته درکوو.»

د دوی له دی وینا څخه وروسته خلکو داسی ورته وویل:

«الله تعالی د تاسی بریالی کړی او خدای پاک سو بیر ته دلته راوله ، د تاسی حکومت او د تاسی نیاو او انصاف مونږ پر تاسی مین کړی یو ، ځکه چې مونږ له د سره سره چې له رومیانو سره په مذهب کښې ګډون لرو مګر د هغوی د ظلم ناروا او تیری کولو ډیری ترخې خاطری هم له ځانو نو سره لرو . په خدای پاک دی زمونږ سوګند وی که چیر ته ستاسی پر ځای روسی فو ځیانو له مونږ څخه دا روپۍ اخستلې وای نو یوه پیسه

به ئی هم بیر ته نوه را کړی، بلکه د تللو په وخت کښی به ئی هغه ټول شیان هم له مونږ څخه لوټ کړی او وړی وای چی د وړلو څواک ئی درلو د لای».

اوس زمونږ پهدی مهذب دور کښی هم داسی کیږی کله چی کوم فوځ د نیول شوی ځای پری بنودلو ته مجبور کیږی نو هلته هیڅ داسی یو شی نه پریږدی چی دښمن له هغه څخه ګټه واخستلای شی ' مگر ایا زمونږ د تهذیب د فاتح فوځونو د دریغ او چلن په څیر د بشریت په بشپړ تاریخ کښی یو مثال هم شته ؟ په خدای پاک دی زما سوګند وی چی که په وو چتو او عالی اصولو ئی ایمان نه لر لای او د هغو په بریالی توب ئی یقین نوای او یائی د اوسنی عصر د سیاستمدارانو په څیر ، د سیاسی ګټو په ترلاسه کولو کښی د اخلاقو او اصولو اطاعت ضروری نه ګڼلای ، نو ما به دا ویلی وو چی زمونږ د فوځ مشرانو او رهبرانو د غفلت او حماقت په اساس د اعلی اصولو او قواعدو تګلاره د ځانو نو لپاره غوره کړی وه . خو مگر دا یو حقیقت دی چی دغه وګړی حقیقی اوریښتینی مومنان وو او دا ئی نه خو ښوله چی هغوی یوه داسی خبره وکړی چی په عملی توګه ئی وو نکولای ئ

**علامه ابن تیمه د یهودیانو او مسیحیانو د خلاصون لپاره را څخته کیږی :**

هغه وخت چی تاتاریانو د شام په سیمه یرغل وکړ او بی شمیره مسلمانان ، یهودیان او مسیحیان ئی بندی کړل نو شیخ الاسلام ابن تیمیه د تاتاریانو له امیر سره د بندیانو د خلاصون په هکله خبری وکړی ـ تاتاری امیر ورته وویل چی

Marfat.com

هغه د ده په توسه یواځې د مسلمانو بندیانو د خو شی کولو لپاره چمتو دی مګر مسیحیان او یهودیان نه خو شی کوی ـ شیخ الاسلام دا خبره ورسره وو نه منله او ورته ئې وویل چې د هغو ګردو یهودیانو او مسیحیانو خلاصون هم ضروری، دی کوم چې زمونږ ذمیان او زمونږ تر تسلط لاندی دی ـ مونږه نه غواړو چې زمونږ یو توک هم بندی وی برابره خبره ده هغه که زمونږ د ملت وی او که زمونږ ذمی وی ـ

د مسیحی بریڅو برېرېت :

خو ددی په خلاف چا ته دا نده معلومه چې د صلیبی جنګونو په دوران کښې مسیحی بریڅو څه شی کړی دی ؟ په منځنیو پیړ یو کښې کله چې پر مونږ باندی دغه جنګونه مسلط کړای شول، نو مونږ پر لپسی په ژمنو او دخپل تړون په وفاداری باندی ټینګار کا وږ او هغوی نه مونږ سره پر لپسی تګی کو له ' مونږ هغوی ته بخشنه کو له او هغوی هر وخت کسات اخیست ـ مونږ د بشری وګړو د ځانونو ساتنه کو له او هغوی دومره وینې توبه کړی چې په وتو نو باندی په جیو جیو روانی وی او بهیدلی ' خو بیا هم دغو سخت زړو په خپلو کړو وړو ویاړکا وو ـ خو ښځې ئې نولی او په خپو ویـولښی د انسانانو نه شتکو وهلو څخه ئې خوند اخیست.

او هغه وخت چې دغه صلیبی بریځی په خپل دویم یرغل کښې معره النعمان ته ؤ رسیدل نو د معره هستوګنی په وسلی ایښودلو خو مجبور کړای شو ، مګر هغوی ځکښې له دی چې خپل ښار دښمنانو ته ؤ سپاری د یرغل کوونکو له مسئولو مشرانو څخه ئې د خپلو ځانونو او مالونو د ساتنی کلکه ژمنه

Marfat.com

واخستله ، مګر بیا څه ؤ شو ؟ داسې ؤ شو چې دغو څېر وونکو وحشیانو ښارته له ننوتلو سره سم داسې ظلمونه وکړل چې د هغو د هیبت په اوریدلو سرهٔ کوچنیان له ویرې څخه سپین ږیري کیږي.
او په خپله څېنې هغه انګریزي تاریخ پوهان چې پدغه جنګ کښې ئې ګډون کړی وو وائي چې د دغه ښار د وژل شو یو شمیر یو لک ته رسیدلای وو چې په هغوی کښې کوچنیان ، سپین ږیري سړي او ښځې شامل وو .

او بیا د دغه ښار له ټولنیز قتلان څخه وروسته دښمنان له دغه ښار څخه د بیت المقدس په لور ؤ خو خېدل او هلته په رسیدلو سره ئې هغه ښار محاصره کړ ، د ښار ؤ سیدونکی پدې پوه شول چې دوی به هرو مرو ماتې ؤ خوري ، له د اسله هغوی د لښکر له جنرال تنکرډ» څخه د خپلو مالونو او ځانونو د حفاظت غوښتنه وکړه ، هغه هم یو سپین توغ ورکړ او ورته ئې وویل چې دغه توغ په بیت المقدس باندې ؤ دروي او دوی دې ټول بیت المقدس ته ننوځي او دوی ته په بشپړه توګه امان ورکړای شو ـــ اوس نو صلیبیان ښار ته ننوتل ، لیکن افسوس ! چې دغه سپیڅلی ښار د انسانانو د وژنې مذبح او مسلخ وګرځولای شو ، افسوس ! پدغه ښار کښې د خوسره زښتوویر ونکو جنایاتو ارتکاب وکړای شو !

د بیت المقدس هستوګنو پـه مسجد اقصی کښې پناه واخستله ، او هغوی د تنکرډ» دامن له ورکړای شوی ژمنې سره سم پهٔبیت المقدس سپین توغ نصب کړی وو، مقدس جمات له سپین ږیرو ، کوچنیانو او ښځو څخه ډک شوی وو ـ بیا نو فلک په خلپو سترګو ؤ لیدل چې د ځانونو او مالونو د ساتنې ژمنه

Marfat.com

دونکی او د امن توغ ورکوونکی جمات ته ننوتل او په جمات کښی پناه اخستونکی ټول کمزوری ئی د ګډو او وزو په څیر ذبح کړل ، او دغه الهی معبد له وینو ډک شو او د جمات په غولی کښی ډنډ شوی وینی د صلیبی سپایانو د پښو تر ځنګنونو پوری وو رسیدلی - او د ښار ګرد هستوګنی ئی ذبح کړل او د دوی په ګمان ښارو رښخه پاک کړای شو - د ښاروا ټونه له انسانی کوپړیو او ګریو ځخه وو چاو دیدل- هر لوری ته پریکړی اندامونه پښی اولا سونه مثله او مسخ کړا شوی تنی تیت او پرک پرتی وی - زسونږ «اسلامی» پوځونو ویلی دی چی یواځی د أقصی په جمات کښی د ننه او یا زره کسان ذبح کړای شول چی په هغوی کښی په ښځو او کوچنیانو برسیره د سترو سترو عالمانو فاضلانو ، عابدانو او زاهدانو هم زیات شمیر وګړی وو - او په خپله انګریزی تاریخ لیکونکو هم له دغو شرمناکو پیښو ځخه انکارندی کړی بلکه هغوی په ډیر ستر ویاړ باندی د دغو چارو یادونه کوی.

**د صلاح الدین ایوبی زړه سوالده نوښت :**

له دغی سفاکی ځخه نوی کاونه وروسته صلاح الدین ایوبی بیت المقدس فتح کړ - او تاسی ته بهتره معلومه ده چی ده د هغه ښار له هستوګنو سره څه وُکړل - هلته نیږدی یولک لویدیځ هستوګنی میشته و - نوموړی هغوی ټولو ته د سر او مال امن ورکړ او له هر چانه هم نه بلکه یواځی د شتوله ښښتنانو ځخه ئی ډیری لږ روپی واخستلی او ټولو ته ئی له هغه ځایه د لیګدیدا او تللو اجازه وکړه او هغوی ته ئی د تللو د چمتو والی لپاره ځاویښت ورځی وخت هم ورکړ - چی پدی

توګه له بیت المقدس څخه د ۸٤ خلورزتیا زرو کسانو په خو را داړ امن او امان سره لیګدونه ژ شوه ، چی د عکا او نورو

سیمو د خپلو خپلوانو ځایونو ته لاړل او ډیر بی وزلی وګړی ئی له فدیه ورکولو څخه پرته خو شی کړل او د صلاح الدین ورور ملک عادل له خپلی ځانګړی پنګی څخه د ددوه زره کسانو فدیه ورکړه او هغه ئی خو شی کړل او د صلاح الدین پوځونو خو د دښمن له ښځو سره داسی چلن او سلوک وکړ چی د نن سباله هیڅ یوو مهذب فاتح څخه د هغه هیله پرځای پریږده ، چی تصور ئی هم نشی ورڅخه کیدلای ـ بیا کله چی مسیحی کاردینال له بیت‌المقدس څخه د تلو اراده وکړه نوسلطان په ویره تنده هغه ته د تللوا جازه وکړه ـ پدغه وخت کښی له کاردینال سره د بیع "صخره"اقصی او قیامت"۱ د کلسیاوو دومره بی شمیره دولت وو

۱ ـ بنائی دغه نوسونه د هغو کلسیا ګانووی چی مسحیانو په بیت المقدس کښی د ځانو لپاره جوړی کړی وی او د دغو ځلورو وارو ـ رپرستی نوموړی پاپ کوله او په هغوکښی موجودشته او د هغو د عوائدو ملکیت یواځی د ده وو .

«ژباړونکی»

چی د هغه صحیح اندازه یواځی الله تعالی ته معلومه ده ـ د صلاح‌الدین ځینو مشاورینو هغه ته وویل چی د کاردینال ټول دولت مصادره او ضبط کړی ـ خوسلطان هغوی ته په ځواب کښی وویل « زه په هیڅ صورت دښی هم له خپلی ژمنی څخه تخلف نشم کولای» او له ده څخه ئی هم یواځی هغو مره فدیه واخستله لکه څومره ئی چی له یوو عام وګړی څخه اخستلی وه ـ

Marfat.com

مگر کوم شی چی د بیت المقدس د فتح کولو په زمانه کښی د صلاح الدین محبوبیت او امتیاز له ټولو څخه لوړ کړ ، هغه د اوو چی هغه له بیت المقدس څخه له شړل شویو مسیحیانو سره خپل محافظین او څارونکی هم ولیږل او هغوی ته ئی دادنده ور وسپارله چی د وی به دغه تجرید شوی مسیحیان په بشپړ امن او حفاظت سره د صور او د صیدا د دوی خپلو مسیحی ورونوته رسوی - پداسی حال کښی چی په همدغه زمانه کښی د گردی نړی مسیحیان له مسلمانانو سره په جنګ اخته وو . ایا تاسی د دی خبرو په او ریدلو سره په خپل ځان کښی د وینبتیا احساس کوی؟ مگر د اقصه تراوسه پوری هم نیمګړی ده ، وراندی واورئ ، د مسحیانو ځینی هغه ښځی چی فدیه ئی ورکړی وه سلطان صلاح الـدیـن ته لاړی او داسی عرض ئی ورته وکړ چی دد وی میړونه ، پلار او زامن یاخو په جنګ کی مړه شوی دی او یابندیان دی چی له د امله نه دد وی کوم پالونکی «سرپرست» شته او نه د پناه وړلو مرجع لری - د وی د اخبری کولی - او ژړل ئی ، کله چی دد وی - له وو ښکو ډکی سترګی نرم زړی سلطان وو لیدلی - نـو دی هم په ژړاشو - او بیائی دا فرمان صادر کړ چی د دغو ښځو د وارثانو په هکله د تحقیقات ووشی د کومو ښځو چی میړونه یا زامن ژوندی او بندیان وی هغه دی سم لاسی خوشی کړای شی ، او د کومو ښځو چی وارثان مړه شوی وو هغوی ته ئی خورا ډیر دولت ورکړ - بیانو دغه ښځی به چی هر ځای ته تللی نو د سلطان صلاح الدین ایوبی ستاینه به ئی کو له - او بیا کله چی تحقیقات بشپړشو او بندیان ازاد کړای شونـو هغوی ته ئی

اجازه ورکړه، چی د خپلو ښځو او د کهول د نورو غړو په ګډون په ازاده توګه د وعکا څخه مسیحی خپلواندوته لاړ شی.

اوس لیداهم واوری هغه مسیحیان چی له قدس څخه خپلو خپلوانوته لاړل هغوی له د وی سره څه ډول چلن او سلوک وکړ ـ د قدس له مسیحیانو څخه یو شدیر خلک انطاکیه ته لاړل مګر د انطاکیه د ښار مسیحی والی د وی ښارته له ننوتلو څخه ووژ غورل، چی له د امله دغه خواران سرګردا نه بوی او بلی خواته ګرځیدل چی په پای کښی هغوی ته هم مسلمانانو پناه ورکړه یوه ډله دد وی طرابلس ته لاړه چی په هغه وخت کښی دغه ښار د لاطینیانو په قبضه کښی وو مګر هغوی هم دغه اواره مسیحیان قبول نه کړل او له هغه ځای څخه ئی وو شړل او دد وی هغه ټول مال او اسباب چی مسلمانانو د وی ته د هغو د وړلو اجازه ورکړی وه له هغوی څخه لوټ کړل او په زورئی ورڅخه واخیستل.

په صلیبی جنګونو کښی له غربی مسیحیا نوسره د سلطان صلاح الدین پورتنی چلن په سطحی توګه یوه افسانه غوندی معلومیږی، او که چیرته د اسلام د دغه نوموړیالی اتل د اخلاقو لوړ والی او د هغه خپل ځانی شرافت په حیرانتیا او تعجب کښی نوای غورځولی، نو په یقینی توګه به اوسنی نړی ته پسدی هکله د دی خبری امکان وای چی زمونږ په تاریخ لیکونکو ئی د مبالغی او افراط تورلګولی وای خودا ښه ده چی په خپله د لویدیځ او سیدونکی د دی خبری یادونه کوی که چی صلاح الدین ایوبی خبرشو چی د صلیبی یرغلګرو له ټولو

Marfat.com

ځخه ستر جنرال «رچرډ ناروغه دی نو ده خپل خصوصی طبیب د هغه د تداوی لپاره هغه‌ته ورواستاوو اونوموړی جنرال ته ئی داسی میوی هم ولیږلی ، چی هغه په دغه وخت کښی په هیڅ ډول لاس ته نه شوای ورتللی ، او دا خبره هغه وخت وه چی دد واړو ترمنځه د جنګ دا ور لمبی پورته کیدلی او د دواړ پوځونه یوله بل سره په جنګ اخته وو ، همدارنګه د وی «غربیانو» په خپله لیکلی دی چی یوه مسیحی ښځه په ژړا انګولا د صلاح‌الدین خیمی ته لاړه او هغی په زوره زوره ژړل او سلطان ته ئی شکایت وکړ چی د دی زوی دو کسانو حبشی پوځیانو یرغمل کړی بوولای دی . صلاح الدین په خپله هم وو ژړل او په هماغه شیبه ئی یوځیرونکی او تحقیقاتی منصبدارته د هغی د هلک د پلټنی حکم وکړ، هغه هلک پیدا کړ او خپلی مورته ئی وسپاره - او بیائی ښځه او د هغی زوی د خپلو ځوکسوسپایانو په بدرګه د هغوی خپل کمپ ته ورسوله - ایا سره له دی بیاهم څوک د داسی ویلو جرأت لری چی ووائی زمونږ د تهذیب جنګی اخلاق بشر دوست نه دی؟

**د سلطان محمد ثانی له عاطفی ځخه یو څو ډک چلن :**

هغه وخت چی سلطان محمد ثانی قسطنطنیه «انقره» فتح کړه نو په خپله دی راغی او د صوفیه کلیساته ننوت . او هلته ټولو مسیحی پادریانو پناه اخستلی وه نوموړی سلطان په ویره ټپه او خندنی خوله له هغوی سره لیده کاته وکړه او هغوی ته ئی دا ډاډور کړچی دی به د هغوی د رواغوښتنی او معقولی خبری ملاتړ او پلوی کوی او د وی باید هیڅ ویره او ترهه

ونکړی ، او کوم مسیحیان چی د لته له ویری څخه راغوند شوی دی ، هغوی باید په پوره ډاډ او سکون سره خپلو خپلو کورونوته لاړشی - بیاوروسته له دی سلطان محمد د مفتوح هیواد د مسیحیانو د مختلفو مسائلو په لور متوجه شواو د هغوی د انتظام لپاره ئی نیاری وڼیوو . او هغوی ته ئی د دی خبری تضمین وکړ چی د وی خپل ځان گړی قوانین ، دینی فرائض او خپل کلیسائی تړاکلی د ودونه په بشپړه او ازاده توگه ترسره کولای شی ، یواځی داهم نه بلکه هغه اسقفانوته د دی خبری واک ورکړ چی د وی په ازاده توگه د ځانونو لپاره د کاردینال انتخاب کولای شی . چی د سلطان له دی اجازی سره سم هغوی حنا د یوس انتخاب کړ ، او سلطان هم د دوی د رهبر د انتخابولو په توسه په ډیر شان او شوکت هغه ډول د هغه لمانځنه وکړه لکه څنگه به چی په باز نطینی د ور کښی د هغی انعقاد کیده - سلطان حنا د یوس ته وویل چی ته هر وخت او په هر ځای کښی د مسحیت د یووروحانی مشر په توگه زما دوست ئی او ته له هغو ټولو حقوقو او امتیازاتو څخه گټورئی چی له د ته ورانه ی ، کار دینال ته ورکړای شوی ډو » او بیا سلطان نومړی ته یوښائسته آس د سوغات په توگه ورکړ او د هغه د ځارنی او ساتنی لپاره ئی د اسقفانو له ډلی څخه د ده په خوښه یوکس وټاکه او د حکومت هغه ستر او لوړرتبه ماموربن له هغه سره د هغه ترکوره پوری په بدرگه لاړل ، سلطان محمد فاتح اعلان وکړ چی هغه د آرتو د کس د کلیسا قوانین منظور کړی دی چی د دغو قوانینو ځارونکی به کاردینال

وی ، د سوبی «فتح» په دوران کښې د مسیحیانو هغه ټول لرغونی آثار او نورشیان چې مسلمانانو د غنیمت په توګه اخستلی وو سلطان محمد د ویم له هغوی څخه په بیه ؤپیرودل او بیائی کلیسا ګانو او نورو مربوطه ځانګوته ؤسپارل - او دغه ټولی چاری سلطان محمد له مسیحیانو سره پداسی حالاتو کښې وکړی چې د قسطنطنیه د سوبې «فتح» په وخت کښې د ده او د مسحیانو ترمنځ پدی هکله هیڅ تړون نوو شوی ، ترڅو د هغی سرته رسول پرده باندی لازم شوی وای، بلکه د نوموړی پادشاه دغه چلن او رعایت د ده ځانګړی لورینه وه - د همدغه سلوک له امله د قسطنطنیه مسحیانو د امحسوسه کړه چې د په خوانی باز نطینی واکمنانو او حکومت په پرتله ، د وی د دغه نوی اسلامی حکومت ترسیوری لاندی په زیات امن اوزادی سره خپل مذهبی مراسم پرځای او سوکاله ژوند تیرولای شی .

د عثمانی حاکمانو چلن :

همدارنګه عثمانی حاکمانو هم د خپلو نیردی مفتوحه سیمو لکه د بلغاریه او یونان له مسیحی رعایا وو سره خورا ښه سلوک کاوو پداسی حال کښې چې دغه ډول چلن په هغه وخت کښې په ګرده اروپا کښې له مسیحیانو سره نه کیده - ان تردی چې په مجارستان او ترا سلفانیه کښې د کلفن ملګرو او د ترانسلفانیه د توحیدی مذهب معترفو مسیحیانو هم د هیبسامبرګ د افراطی مسیحی فرق د ظالمانه حاکمیت لاندی د ژوند تیرولو پرځای ، تریوی ډیری وو ردی‌سودی پوری د ترکانو ترڅواک لاندی ژوند کولو ته ترجیح ورکړه - همدارنګه د سالیز یاد پروتستانی مسیحی

Marfat.com

ډلي دا هيله لري له چې هغوی د مسلمانانو تر تابعيت لاندي خپله مذهبي آزادي ترلاسه کړي .

**د اروپا د مسيحيانو له خپلو مذهبي ورونو سره سلوک :**

هغه وخت چې د ترکی خلافت په واکمني کښې د هغه ځای له مسيحيانو سره بشر دوستانه چلن کيده - په همغه زمانه کښې په اروپا کښې مذهبي تعصب د ځواني په مستۍ کښې وو - او د هغه ځای افراطی حاکمانو په خپلو مخالفو فرقو هر ډول بنديز لګولای او هغوی ئې تر هر اړخيزی محاصرې لاندې نيولي وو ، او په همدې ډول دعاسو مذهبي ډلو وګړی هم يو د بل په خلاف په جګړه بوخت وو هر خواته وينې بهيدلې او د هيڅا همسر په امن نوو - په ووسه پېړۍ کښې د هغو تېريو او ظلمونو په عکه حی د لمسمان «پولنډ» روسی دو ليالو پرنو د هغه ځای په اروپا د لسو فرقو بندی دول دا نصا ته د کردنال «بيکروس» د هغو داسې يادونه کړې ده .

هسوتې د هغو زرګونو شهيدانو په وير دوه بنګو پر ځای له سترګونه په ژړا کښې وينې تويوو چې هغوی په د «ځلويښتو» پنځسو کالو کښې د ظالمو زنديقو او دين دښمنه کاتوليکانو په لاسونو وژل شوي دي - چې د دغو وژل شويو شمير د او يازرو کسانو په شاو خوا کښې دی. ای تګمارو ! او ای ناپا لوفاسقانو ! ای دکانې په خيرزره لړونکو ! زه له تاسي څخه پوښتنه کوم چې په ديرونو کښې د عبادت کوونکو راهبوښځو ګناه څه وه ؟ عاموښځو څه جنايت کړی وو ؟ هلکانو ، پيغلو او کوچنيانو څه خطا کړې وه ؟ تاسي ولې هغوی ټول قتل

Marfat.com

او له چړی تیر کړل ؟ ز به ولی دغو پولنډیانو ته ملعون نه وایم ؟ پداسی حال کښی چی هغوی د خپلو مسیحی ورونو په مقابل کښی له سخت زړو او مفسدو بت پرستانو څخه زیات سرسوونکی او وحشیانه دریغ غوره کړی دی ـ هغوی په دی تکل په مسیحیانو باندی ظلمونه وکړل چی د آرتودکس د کلیسانوم او نښه ورکه شی ـ الله تعالی دی د ترکانو حکومت ترقیات پوری تینګ کاندی څکه چی هغه خپل و جائب «جزیه» اخلی او د نوروا د یانو له وګړو سره هیڅ ډول کینه نکوی برابره خبره ده چی د دغه حکومت رعایا مسیحیان وی که ناصریان ، یهودیان وی که سامریان ـ مګر د پولینډ ملعون حکومت له خپلو مسیحی ورونو څخه یواځی د جزیه په اخستلو باندی اکتفا ونکړه ، سره له دی چی مسیحیان په خپله خوښه د هغه هر ډول خدمت کولونه چمتو دی ، خودوی خپل مسیحی ورونه د هغو ظالمو یهودیانو پنجوته ورکړل چی هغوی د حضرت مسیح سخت دښمنان دی، او دا هغه یهودیان دی چی مسیحیانو ته ئی دیوی کلیساد جوړولو اجازت هم ورنکړ او نه ئی مسیحیانوته داسی یو راهب ژوندی پری ښود چی هغوی ته ئی د خپل دین زده کړه ورکړی وای» .

**د مسیحیانو د خپلو مسیحیانو څیرونی ته لیوالتیا :**

د اوه له صوفیه څخه له راغلو مسیحیانو او د قسطنطنیه له میشتو مسیحیانو سره د سلطان محمد فاتح بشر دوسته او مهربانه چلن او د هغوی د حقوقو په ورکړه کښی د نوسوری د پراخه زړه د کړ وورولنډه یا دونه ـ اوس نوددی په مقابل کښی داروپا ئی مسیحیانو د چلن او کړو وړو په هکله هم لږڅه واوری:

هغه وخت چې هغوی په ۱۲۰۳ ه کال کښې قسطنطنیه ؤنیو له نو هغه مال هغوی له خپلو ارتودکسو مسیحیانو ورونو سره څه وو کړل، او ددی پرځای چې زماله خولی څخه ئې واوری ښه به داوی چې پدی هکله د رومی، پاپ ددریم انسنټ له خولی څخه واوری - نوموړی ویلی دی چې :

« د مسیح د پیروانو او د هغه د دین د پلویانو دنده خود اوه چې هغوی د خپلو تورو او برچو مخ د مسیحیت د ستر دښمن اسلام» په لورگر ځولای وای، خود خواشینی ځای دی چې هغوی د خپلو مسیحی ورونو وینی ؤ بیولی- چې د هغوی دوینی تویول هغوی ته د مذهب له مخی حرام وو.

خو هغوی دغه حرمت هیڅ په نظر کښې ؤنه نیوو او دوینو درباب ئی روان کړ، او نه ئی د دین څه احترام وکړ، او نه ئی د ښځی او نرپه منځ کښی کوم توپیروکړ او نه ئی د کوچنیانو، ځوانانو او سپین ږیرو کوم لحاظ وکړ - په رڼا ورځ ئی زناوی وکړی - او د دوی د دغه شیطانی هوس په وړاندی راهبی «عبادت کونکی» ښځی اولاد لرونکی میندی ، او پیغلی - ټولی بی وا که او بی اختیاره وی، او د دغه لښکر حیروونکو او غړمبیدونکو ځناورو د پادشاه او نورو حاکمانو یواځی د ښتو او دولت په لوټ کونی اکتفاونکړه بلکه له هغو سره سره ئی د کلیسا گانو شته او جای دادونه هم لوټ کړل - او ددی پر ځنگ کښی هغوی د کلیسا وو هراړ خیزسپکاوی هم وکړ - د هغوی مقدس تصویرونه ، صلیبونه او نور متبرک اثر ئی هم لوټ کړل».

Marfat.com

او نوسیالی مؤرخ بشغلی شارل دیل لیکلی دی چی :

« دغه مست او بی دونده لښکر که چی صوفیه ته راغی نوکړساته ننوت، مقدس ننابونه ئی ضائع کړل د شهیدانو تصویر ونه ئی له پښولاندی او غوبل کړل ـ او د هغوی له دلی څخه یوه فاحشه کنجره ښځه د کلیساد کار د ینال پرکرسی کینا ستله او په لوړ او ازئی سندری ویل پیل کړل، د صوفیه د ښار ټول علمی او دینی عرفانی اثار تباه او له منځه یوړل او له سرو سپینو څخه جوړی کړای شوی مجسمی ماتی او ټکړی ټکړی کړی ترڅوله هغوی څخه روپی جوړی کړای شی».

او د دغه بربنوونکو حالاتو په خپلو سترګو لیدونکی راهب داسی ګواهی کوی چی :

«ربښتیا خبره خو داده چی د محمد پیرو انو له دغه ښار سره هغه ډول سلوک ونکړ کوم چی په خپله د مسیحیت نوم آخستونکو راهبانو وکړه»

هو په رښتیاهم مسلمانانو که چی دغه ښار فتح کړ داسی ئی نوو نړی، لکه چی د سلطان محمد فاتح چلن هرچا ته معلوم دی - او مسلمان ترڅو چی مسلمان وی عقیده هم د داسی کم ظرف په ښکاره کولو جرأت نکوی او د دغه ډول شرملرونکی مذهبی تعصب ترڅنګه هم نه تې تیریدلای. لوم بشر د سعه او دردوونکی چلن چی په خپله رومی کاتو لیکانو له خپلو مسیحی آرتودکسو ورونو سره وکړ

**د اندلس او هسپانیه یوه قصه :**

پدی ځای کښی زه د اندلس د مسلمانو فاتحینو د هغه

ځای له اقلیتونو سره د هغوی بنه چلن، زړه سوانده روش او د هغوی د ننګیرونو «احساساتو» د خور ادرناوی کړاوړ د داستان څیړنه کول نه غواړم او نه غواړم چې هغه له دغی کړنلاری سره مقایسه کړم کومه چې هسپانوی هستوګنو هغه وخت له مسلمانو سره وکړه چې دوی د مسلمانانو په وروستنی ریاست' غرناطه' باندی قبضه کړی وه او داهر څه هغوی هغه وخت او وروسته له هغه څخه وکړل چې دوی د فتح پر وخت ژمنی له مسلمانانو سره ژوه ساده ئی تړون‌هم لاس لیک کړای وو او هغه دا چې‌دوی به د مسلمانانو د دین، د هغوی د جمادونو د هغوی د عزت او پت او د هغوی د شتوساتنه کوی مګر دوی له د غوژمنو څخه یوه هم تر سره او پوره نکړه - او نه ئی دمسلمانانو په هکله خپل کوم مسئولیت پر ځای کړ - بلکه هغوی له وینوتو یولو څخه هم ډډه ونکړه - او بیاد غرناطه د سقوط د دیر شوکالو په زمانه کښی د ننه په ۱٦۳٤ مسیحی کال کښی اروپا اعلان وکړ چې د هغه ځای ټول جماتو نه دی په دیر و نو او کلیساګانو بدل کړای شی لکه چې‌له همدغه‌اعلان څخه وروسته په څلو رو کاړنو کښی د ننه دننه له هسپانیه څخه د مسلمانانو نښه او نوم لری کړای شوه ـــــ دادی د مسیحیانو په خپله ژمنه «وفا کول»ـــــاو هغه وو زمونږ په خپله ژمنه وفا کول.

د پنځ غوښتنه ئی همدا ده:

دلږم دلشکی‌په‌پنځ «فطرت» په څه حیرانتیا وکړئ؟ حیرانتیا خو پدی خبره ده چې د هغوی بیرحمه چلن او د هغوی ژمنه ماتونه له خپلو مذهب شریکو وکړو سره وه او د هغوی دغه

Marfat.com

تیری له هغو تیریو څخه کم نوو کوم چی له مسلمانانو سره نی کول او کوی ئی ـ هغوی به هر هیواد چی فتح کړ نو هلته ئی د خپلو تیریو او ظلمونو مظاهره وکړه برابره خبره ده که هغه په کوم یو ختیځ هیواد او یا کوم لویدیځ هیواد باندی یرغل کاوو خو د یوو داړه مارځناور په څیر به هلته څرګندیده، که بی وزلی مسلمانان به وو یا مسیحیان دواړه به ئی په یوو ډول څیرول ـ د هغوی لیکوالان او مصنفین په خپله د هغوی په دغو کړو وړو باندی ژړا کوی .

( کاردینال ) او ډو د ویلی چی د اووم لوئی ساو «خاص» درباری وو او په خپله ئی په دویم صلیبی جګړه کښی له هغه سره ګډون کړی وو ، نوموړی په دغه جنګ کښی د خپلو سترګو د لیدلو حالاتو په ترځ کښی لیکلی دی :

«هغه وخت چی په ۱۱٤۸ مسیحی کال کښی مسیحیان د کوچنی اسیاله لاری څخه بیت المقدس ته تلل نو هغوی د فریجیا د غرونو په درو کښی د ترکانو په لاسونو سخته ماتی ؤ خوړه . او دوی په ډیر مشکل سره د اتالیا ساحلی ښارته ؤ رسیدل ، اوپه دغه ښارکښی هغو مسیحی پوځیانو چی یونانیانو ته د هغوی له پلوه د روند تاکلی حق العبور ورکړای شو هغوی د انطاکیه ښارته د سمندر له همدغی لاری خخه ؤ رسیدل . مګر خپل ناروغه ، ټپیان بی وزله جنګیالی ملګری ئی همغلته خیانت کوونکو یونانی دښمنانو ته پری ښودل ، لوئی هغوی ته پنځه سوه مارک ورکړل چی هغوی د دغو پاتی کسانو ګویکنه وکړی او د ټپیانو د رسل پری وکړی ترڅو هغوی د بیرته تلووړ ؤ ګرځیږی او له خپلو ملګرو سره یوځای شی . مګر له اتالیا

Marfat.com

څخه د لوئ او د هغه د فوځیانو له وتلو سره سم یونانیانو ترکانو ته د پاتی صلیبیانو په هکله خبر ورکړ ترکانـ راغلل او پردوی ئی یرغل وکړ یونانیانو ئی سیل کاوو اوکتل ئی چی دغه بدمرغان څه ډول د لوږی ، ناروغی په حالت کښی د دښمن د نیزو او تورو مقابله کوی . او بیا هغه وخت پردوی باندی د تباهی او تولنیزی وژنی د طوفان ښی راغلی چی دوی د خپلی قشلی او چونی په لور روان وو . له دوی څخه یوی ځلور زره کسیزی ډلی ، د مایوسی پـه حـالت کښی د دتبنستیدو هڅه وکړه ، ترکان چی د دوی قشلی ته له دوی څخه مخکښی رسیدلی او سنگرونه ئی نیولی وو پردوی باندی په یوځل یرغل وکړ اوگرد صلیبی فوځ ئی تارو مارکړ . له دغی تباهی څخه چی کوم وکړی سلامت خلاص شوی وو هغوی هم له خپل ژوند څخه نا امیده وو خو مسلمانانو د هغوی په در بدر حالت باندی زړه سوی ؤ کړ او د میرځی «دښمنی» پرځای د هغو په زړونو کښی د دوی په هکله مهربانی پیدا شوه . هغوی د دوی د ناروغانو په د رمل کولو لاس پوری کړ ، له وږو او بی وزلانو سره ئی مرسته وکړه او هغه خوک چی د هلاکت په حالت کښی وو له هغوی سره مسلمانانو د زړه له اخلاصه هر ډول مرسته وکړه . او ځینو مسلمانانو د دوی هغه روپی چی لوئی یونانیانو ته د دوی لپاره ورکړی وی له یونانیانو څخه په بیه ؤ پیرودلی دوی ته ئی ورکړی . «چی پدی اساس» د دوی د خپلو یونانی مذهبی ورونو او د کافرو ' «مسلمانانو» له دوی سره په چلن کښی ډیر توپیر موجود وو .

یونانیانو پردوی باندی ملنډی ووهلی دوی ئی ؤ ټکول او له

دوی ښځه‌نی هغه تېوله نغدی پنګه په‌زور واخستله چی‌لوئی دوی ته‌ورکړی وه. چی دی دی دوه ډوله چارانګونو «عکس‌العملونو» نتیجه دا شوه چی‌ځینی صلیبیان د خپلوخلاصوونکو اومرستیالانو دین په ډیره خوښئی سره قبول کړ. لکه چی زسونیر یو مؤرخ ویلی دی : «پردوی باندی د دوی سخت زړو ورونو ظلم وکړ مګر کفارو «مسلمانانو» دوی ته امن ورکړ او له دوی سره ئی خورا ښه سلوک وکړ» ـــ سونیر ته معلومه شوی ده هغه وګړی چی بیرته لاړل له هغوی ښځه له دری زره کسانو ښځه زیات وګړی له ترکانو سره ملګری شول اوه ! دغه ډول مهربانی له ظلم او تنګی ښځه ډیره ناوړی ده . هغوی خو دغو مسافرو ته مړی ورکړه مګر له هغوی ښځه ئی د هغوی ایمان واخیست که څه هم دا خبره خو صحیح ده چی هغوی هیڅوک هم په زور باندی ایمان پړی ښودلو ته اړنه ویستل بلکه یواځی د هغوی په خدمت کولو اوپرهغوی باندی پراحسان کولوئی اکتفا وکړه.

**په اوسنی زمانه کښی ئی ؤ ګوری :**

ډیر لری تللو ته ضرورت نشته دی ، په تیرودو نړی والو جګړو کښی د لویدیځو ملتونو د بی رحمی او سخت زړی توب آثار او د منځنی ختیځ په اسلامی سیمو کښی د هغوی اخلاق او کړه وړه په ښرګنده توګه ګواهی کوی چی د حاکمیت په دوران او د جګړی په ډګر کښی د دغو وګړو کړه وړه او چلن خورا ظالمانه او د دوی د بربریت ستره نمونه ده . د دغو وګړو دغه مناققانه پالیسی اوس له هیچا ښځه هم پټه نده چی هغوی په بین المللی غونډو کښی خو د خپل تهذیب او تمدن ، بشر دوستی او شفقت باتی وهی مګر په خپلو جګړو کښی ،

په خپلو نیول شو یو سیمو او په خپلو کوڅو او ښارونو کښې په ډاګه سره د خپل وحشي خوی او وینو څښلو دود ښکاروندوی . ځینې وګړي د لویدیځو قامونو د چلن په هکله دا عذر وړاندې کوي چې دوی په منځنیو پیړیو کښې دو مره مهذب او متمدن نوو چې له دوی څخه د ښه چلن هیله شوی وای . مګرمونږ له دوی څخه دا پوښتنه کوو چې اوس خو دوی مهذب څه چې ځانونه د تهذیب ټیکداران بولي ، او در ګرده لګیادي ګرده نړی له علومو فنونو او نوو ایجاداتو څخه ګټوره وی ؟ د حالت اصلي صورت داسې ندی بلکه زمونږ په وړاندې پوښتنه دا ده چې د هغو ملتونو اصلي مزاج څه دی ؟ چې په پای کښې پردغو جعلیاتو او تصنعاتو باندې بریالی کیږي . حقیقت دا دی چې په لویدیځو هیوادونو کښې اوس هم هغه ګرد خو یونه او عادتونه موجود دي ، کوم چې په دوی کښې د بربریت او وحشي توب او بت پرستي په زمانه کښې موجود وو . په منځنیو پیړیو کښې دغو فضائلو د دیني تعصب لباس واغوست، چې له د امله د هغوی د وحشي توب درونده پیټی په دین باندې پورته کړای شو او اوس د دوی هغو سنګ دلانه او وحشیانه خو یونو د تهذیب جامې واغوستې او کار کوی .

چې پدی توګه اوس د دوی د بشر دښمنی او سنګدلی پیټی امن او سوله تهذیب او تمدن پورته کوی . چې پدی اساس اصلاً په هره زمانه کښې دغه مدنونه مفسد وینی ، بیوونکی ، خواک طلب متعصب او وحشی دی . چې ه د امله ویلای شو دوی به دومره خو له د اسلامی

فتوحاتو په لړ کښې زمونږ د سنګ دلی داستانونه او قصی بیانوی. او خپل تر ټولو ښکیلاک د رحمت او زړه سوی په رنګ کښې وړاندی کوی. چی پدی ځکله اصلی حقیقت زمونږ دی دریغ او د دوی د کړو وړو اصلی څیرة یوو شاعر داسی تمثیل او بیان کړی ده چی:

ملکنـ فکانـ العفـو منـاسجيـة
فلمـا ملکتم سال بالـدم ابطـخ(۱)
ومـا عجب هـذا التفـاوت بيننـا
فکل انـاء بالـذی فيـه ينفج(۲)

۱- مونږ چی حاکمان شو نو بخښنه او تیریدنه زمونږ خصوصی عادت وو ، مګر کله چه تاسی حاکمان شوی نو تاسی د وینو دریاب روان کړ.

۲- زمونږ او تاسی ترمنځ دغه توپیر هیڅکله هم د حیران تیاوړ ندی ځکه چی له لوښی څخه هغه څه تونیږی چی وریکښی وی.

# وروم باب

## په ځارویو باندی مهربانی او زړه سوی :

زمونږ د تهذیب د زړه وړونکو ارخونو په لړکښی دا یوه خورا بی ساری او د خبرو اترو عجیبه موضوع ده . که څه هم زمونږ په عصر کښی به دا دوسره زیاته د اهمیت وړنوی . ځکه چی تردی نیږدی زمانی پوری خلکو د دی خبری تصور هم نه کاوو چی ځاروی او حیوانات د رحم او انصاف مستحق و ګڼلای شی. اوپه ځینو ملتونوکښی خو اوس هم دا دود جاری دی

Marfat.com

Marfat.com

**ځاروی هم د مینې او زړه سوی مستحق دی :**

نو له د اسله هغوی هم د مینی او مهربانی هغه ډول وړدی . لکه څنګه چی یو انسان د هغه مستحق دی :

«الراحمون یرحمهم الرحمن ومن اعطی الرفق فقد اعطی حظة من خیر الدنیا والاخرة» . (۲)

ترجمه : په رحم کوونکو باندی ډیر مهربانه خدای پاک رحم کوی ، چاته چی نرمی ورکړای شوه ، هغه ته د دنیا او آخرت د نیکی یوه ونډه ورکړای شوه.

**سزا او جزا :**

بلکه ډیرځلی داسی کیږی چی پر حیواناتو باندی زړه سوی او مهربانی د یو انسان لپاره جنت ته د تللو ذریعه جوړیږی «لکه چی په یو حدیث کښی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی ـ بینما رجل یمشی بطریق اذاشتد علیه العطش فوجد بئراً فنزل فیها فشرب ثم خرج فاذ کلب یلهث یأکل الثری من العطش فقال الرجل لقد بلغ هذا الکلب من العطش مثل الذی کما بلغ منی فنزل البئر فملاء خفه ماء ثم امسکه بفیه حتی اتی فسقی الکلب فشکر الله تعالی له فغفر له ـ قالوا یا رسول الله او ان لنا فی البهائم لاجر ـ فقال فی کل ذات کبد و رطبة اجر : رواه مسلم ـ بخاری ـ مالک ـ احمد و ابو داؤد» .

«یو سړی چیر ته په سفر باندی روان وو ـ په لاره کښی

---

۲ـ د دی حدیث روایت ابو داؤد ، ترمذی ، حاکم او امام

Marfat.com

سخت تیری شو ـ په لاره کښی یو کوهی مخی ته ورته راغی په هغه کښی کښته شو او به ئی وو څښلی بیاور څخه راؤوخوت ـ ده د کوهی په څنګ کښی یو سپی ؤلید چی ژبه ئی راویستلی وه او له تندی څخه ئی خاوره څټله ـ دغه سړی په زړه کښی له ځان سره وویل چی داسپی هم له تندی څخه داسی وار خطا دی لکه څنګه چی زه وم ـ نودی بیرته کوهی ته کښته سواو خپله د پښی موزه ئی له او بو څخه ډکه کړه او په خوله کښی ئی وو نیوله او راؤ خوت او بیائی موزه د سپی په خوله کښی ورؤنیوله او په او بوئی موړکړ . خدای پاک د ده دغه ښیګڼه قبوله کړه او د هغه ټول ګناهو نه ئی وو بخښل ـ له نا ستو کسانو څخه یوو پوښتنه وکړه » یا رسول الله ایاله دغو ځارو یو سره ښیګڼه کول هم زمونږ لپاره د ثواب باعث ګرځیږی ؟ حضرت رسول آکرم صلی الله علیه وسلم په ځواب کښی ورته ؤ فرمایل : له هرځیګر لرونکی او روزی خوړونکی ځاروی سره نیکی کول د اجر او ثواب باعث ګرځیږی«.

او د دی په خلاف ځینی و ختونه له ځارویو او حیواناتو سره دظالمانه اؤ سنګدلانه سلوک په کولو انسان دوزخی کیدلای هم شی : لکه چی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : »دخلت امرأة النار فی هرة ربطتها فلم تطعمها ولم تدعها تأكل من خشاش الارض : رواه البخاری . »یو ښځه یواځی د یوی پیشو په توسه دوزخ ته لاړه چی تینګه ئی تړلی وه نه ئی په خپله د خوړلوځه ورکول او نه ئی خوشی کوله چی د مځکی خو خنده ئی څه خوړلی وی «

Marfat.com

په اسلامي تهذيب کښې » يواځې په ترغيب او ترهيب
باندې آکتفا نده کړای شوی ، بلکه په څارويو باندې د شفقت او
رحيم کو لو په باره کښې قوانين هم جوړ کړای شوي دي ، چې
د هغوی له جملې څخه يوه ماده دا هم ده څوک چې په څاروی
سپوروی اوله چا سره دخبرو اترو کولو لپاره هغه ؤدروی او دی
په هغه باندې د سورلي په حالت کښې مجلس کوی نو دا شرعاً ممنوع
دي لکه چې حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:
لا تتخذو اظهور دوابکم کراسی » «رواه احمد والحاکم »

د خپلو څارو يو له شاگانو څخه د خپلې ناستې کرسۍ مه
جوړوی همدارنگه د څارو يو وږی تږی ساتل او د هغوی
خوار او کمزوری کول ممنوع کړای شوی دی - يو ځل
حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم پداسې يو اوښ باندې
تير شو چې له لوږې څخه د هغه گېډه په ملا پورې نښتې وه
د هغه په ليدلو سره حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم
ؤفرمايل :

اتقوالله في هذه البهائم العجمة فاركبوها صالحة واتركوها
صالحة . (رواه ابو داؤد) .

»د دغو څارويو په هکله چې خبرې نشي کولای له
خدای پاک څخه ويره ؤکړئ ، پر هغوی باندې هغه وخت
سورلي کوی چې د سورلي جوگه وي او هغوی کله چې خوښې
کوی نو پداسې حالت کښې ئې خوښې کړئ چې روغ رمټ وي .

Marfat.com

## په خارو یو باندی د هغوی له خواک څخه زیات کارکول ناروادی

همدارنګه په خارو یو باندی دومره کارکول رواندی چی هغه ئی خواک نلری ـ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یوځل د یوو انصاری بڼ ته تشریف یووړ ، هلته ئی یو اوښ ؤلید ـ او کله چی دوښ سترګی په رسول اکرم صلی الله علیه وسله باندی ؤلګیدلی نور سباړی ئی کړی ' او له سترګوئی ؤ ښکی روانی شوی. حضرت رسوم اکرم صلی الله علیه وسلم اوښ ته نیږ دی راغی او د هغه او ښکی ئی وچی کړی ، او بیا ئی وو فرمایل : ددی اوښ څښتن څوک دی ؟» د اوښ څښتن وویل : «زه یم ای د خدای رسوله !» حضرت هغه ته خیر شو او داسی ئی ورته ؤ فرمایل : ایاته ددی خاروی په هکله له خدای پاک څخه ویریږی ؟ چی خدای پاک ستا په ملکیت کښی درکړی دی ، ده ما ته شکایت وکړ چی ته خو له هغه څخه کا راخلی ، خو هغه وږی پریږ دی.» همدارنګه له ضرورت څخه پڙ ته ، یواځی د ساتیری او تفریح په خاطر د حیوانتو ښکار کول هم حرام کړای شوی دی ، حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

من قتل عصفورا عبثا حج الی الله یوم القیامة یقول یا رب ان فلانا قتلنی عبثا و لم یقتلنی منفعة «رواه نسائی۔ و ابن ماجه.»

«چا چی بی هدفه او د تفریح په خاطر چرچنه هم قتل کړه نو هغه به د قیامت په ورځ خدای پاک ته د قاتل له لاسه شکایت وکړی او داسی به ووائی چی ای خدایه زه ستا دغه بنده

Marfat.com

عبث او د ساتیری په خاطر وژلی ووم اوزه ئی د کومی گټی د ترلاسه کولو په تکل نیم وژلی.»

همدارنگه د څاروی او حیواناتو د نخښی او تمرین د پخولو په خاطر استعمالول هم ممنوع دی حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

لعن رسول الله من اتخذ شیئاً فیه الروح غرضاً.

«رواه البخاری و مسلم»

رسول الله صلی الله علیه وسلم په: هغه چا باندی لعنت ویلی دی چی کوم ساه لرونکی «ذی روح» د نخښی په توگه استعمال کړی.»

دا لاندی چاری ممنوع دی :

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د حیواناتو په خپل منځ کښی له جنگونی څخه د ژغورنی حکم کړی دی، :

۱- لکه بټیر چرگان سپی غوایان او پسان وو زی گډی زرکی او داسی نور «چی ځینی ئی د ساتیری او ځینی ئی د پیسو په خاطر جنگوی.

او ددی لپاره چی هغه ورک نشی او معلوم وی نو د هغه کوم ځای سوځول او یا په گرمو سیخونو دا غل «او یائی غوږونه غوځول یا ئی ښکر ذونډی کول» دا ټول دنښانی کولو په تکل ناروا دی ـ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یوځل یو داسی خر ؤ لید چی د هغه په مخ باندی داغ لگول شوی وو : «حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ؤ فرمایل په هغه چا باندی دی د خدای پاک لعنت وی چی دغه کار ئی کړی دی»

Marfat.com

که چیر ته څاروی داسی وی چی د هغه غوښه خوړلای شی نو پرهغه باندی زړه سوی دادی چی د هغه له حلالولو څخه وړاندی دی چاړه ښه تره ورته تیره او تیزه کړی ، او هغه ته دی او به ورکړی او که ئی چی حلال کړی نو تر هغه پوری دی پستوکی نه ورڅخه باسی چی ښه سوړ شوی نوی ـ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی :

«الله تعالی له هر شی سره ښیګڼه او نیکی کول لازم کړی دی ـ له د اسله که څوک قتل کوی نو په ښه توګه ئی قتل کړی او که حلاله او ذبح کوی نو په ښه توګه ئی ذبح کړی ، حلالوونکی د خپله چاړه ښه تره تیره کړی او ذبیحه د سوړ والی ته پری ښودلای شی. «رواه مسلم»

**ی سیاله ښودنی «تعلیمات» :**

باکه پدی هکله دومره احتیاط کړای شوی دی چی له چړی تیره کولو څخه وړاندی د څاروی تړل او څملول هم بی رحمی او سنګدلی ګڼل شوی دی ـ یو سړی خپله وو زه د ذبح کولو لپاره تړلی او څملولی وه او ده چاړه تیره کوله ، حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم هغه ته وو فرمایل : «اترید ان تمیتها موتات» ، ایاته غواړی چی هغه مرداره شی ؟ او بیا ئی ؤ فرمایل : «تا ددی له څملولو څخه ولی وړاندی چاړه نه تیره کوله». له د څخه نو روڼا ندی واوری چی له حیواناتو سره د ښه او زړه سواندہ چلن په باب کښی دا لاندی پیښه څومره مؤثره ده او زمونږ د تهذیب د روح په روښانه کولو په کوم اندول اغیزه کوونکی ده ؟ حضرت عبدالله بن

Marfat.com

مسعود رضی الله عنه فرمایلی دی چی :

«زه په یوو سفر کښې له حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره ملګری ووم - په یوو ځای کښې مونږ یوه «سره رنګی مرغی» ؤ لید له چی له هغی سره د هغی دوه بچونی هم وو - مونږ د هغی دواړه بچونی ؤ نیول ، چی له دی امله همدغه «سره رنګی» مرغی زمونږ په سرونو ګرده چور لیده - رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته راغی او داسی ئی ؤ فرمایل : د دی مرغی د بچونو په اخستلو سره چا دی ته صدمه او خواشینی رسولی دی ؟ د دی بچونی بیرته ورته ورکړی او د همدغه سفر یوه بله پیښه ده او هغه دا چی په یو ځای کښې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ؤ لیدل چی د میږتنو خو نه سوځول شوی ده ، حضرت ؤ فرمایل : «دا چاسو ځولی ده» ؟ حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وائی چی مونږ په ځواب کښې ورته وویل چی «مونږ» حضرت صلی الله علیه وسلم ؤ فرمایل : «له الله تعالی څخه پرته هیڅوک هم د دی حق نلری چی څوک په اور باندی ؤ سو ځوی» رواه ابو داؤد ، ددی حدیث روایت ابو داؤد کړی دی .

څو فقهی احکام :

د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د پورتنیو ښودنو او تعلیماتو په رڼا کښې اسلامی فقهاوو له حیواناتو او څارویو سره د نیک او زړه سوالده چلن په هکله داسی احکام وضع او ټاکلی دی چی د هغوی هیڅ تصور نشی کیدلای - د مثال په ډول دوی فرمایلی دی چی د څاروی پرښتن باندی لازم دی چی هغه د خپل څارویو اړتیاوی او لوازم پوره او تیاری کړی -

Marfat.com

او که چیرته هغه د خپلو څارویو اړتیاوی نشی پوره کولای نو په قانونی توګه دی اړ ویستلای شی چی یا خو دی د خپلو څارویو اړتیاوی تامین کړی او یا د هغه ؤ پلوری او یادی هغوی په آزاد ډول په ځنګل کښی خو شی کړی ترڅو هلته دوی ته د پناه چاره وکړای شی ، که چیرته هغه حلال او پاک څاروی وی ، چی د هغوی غوښی خوړلای شی نو هغه د ذبح کړای شی - او ځینو فقهی وګړو خو له د نه سخت الواک ورکړی دی - هغوی ویلی دی «که چیرته یوه ړنده پیشود چا خونی ته لاړه شی او یوو او بل لور ته نشی تللای نو د هغی خوراک څښناک د کهول په اوسیدونکو باندی لازم دی -» همدارنګه فقهاوو په څارویو باندی د هغوی له څواک څخه زیات بار وړل منع کړی دی - دوی له دغی مادی څخه ډیر داسی حقوق قوانین استخراج کړی دی چی که څوک کوم څاروی په کرایه باندی اخلی او بیا په هغه باندی د هغه له څواک څخه زیات دومره باروړی ، چی د هغه له امله هغه مړشی ، نو پدغه شخص باندی د هغه ضمان «تاوان» لازمیږی .

همدارنګه اسلامی فقهاوو د بار هغه اندازه هم ټاکلی چی په خر او کچر باندی وړلای شی - او پدی هکله حیرانوونکی خبره خو دا ده چی یوو فقهی د خر او کچر د بار اندازه یو ډول ښودلی ده مګر دویم فقهی له هغه سره پدی هکله اختلاف کړی او ویلی ئی دی : «د ټاکل شوی د بار د اندازی په ټاکلو کښی له ښتو سره نیا وکړای شوی دی مګر له خره سره ستره بی انصافی شوی ده -»

Marfat.com

همدارنگه دوی ویلی دی چی که یو ځاروی بل ځاروی ؤ خوروی او هغه ته زیان ؤ رسوی نو هغه لغو دی ، چی پدی اساس مجرم ځاروی ته د هغه د تیری او جرم په ارتکاب سره سزا نشي ورکولای ، مگر د هغه ښتن محاکمه او مجازات کیدلای شی پدی شرط که دا خبره ثابته شي چی هغه د خپل جانی ځاروی د ترړنی او ځارنی په هکله تغافل کړی وی ـ داوو هغه ځو زرین او بی سیاله اصول چی زموږ تهذیب او زموږ شریعت د ځارویو او حیواناتو په هکله وضع کړی دی ـ او پدی ځای کښی یواځی دومره پوښتنه پیدا کیږی چی د دغو اصولو دعملی نفاذ او پلی کولو کیفیت څنگه دی؟

**د نیکچلن ځو نور مثالونه :**

حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په یوو سفر کښی روان وو چی د انصارو یوی ښځی خپلی او ښی ته وویل «لعنت دی پر تاشی» په داسی حال کښی چی دا پری باندی سپره هم وه ـ کله چی په او ښه باندی د دی د لعنت ویلوږغ د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مبارکو غوږونو ته ؤ رسیده نو دی مبارک پر دغی ښځی باندی سخت په غصه شو او فرمان ئی صادر کړ «پدی او ښه چی څه وی هغه واخله او اوښه پریږده څکه چی هغه «ملعونه» ده ـ ښځی سم له لاسه اوښه خوشی کړه او هغه د خلکو په منځ کښی په آزاده توگه گرځیدله او هیچا هم هغه نه خوروله د دی حدیث روایت مسلم کړی دی ـ»

«حضرت عمر رضی الله عنه یو سړی ؤ لید چی ووزه ئی له پښی څخه نیولی او پر مځکه ئی کشوی ترڅو هغه ذبح او حلاله کړی ـ حضرت عمر رضی الله عنه دغه سړی ته وویل :

Marfat.com

«وو څو روان شي هغه څو مرګ ته بیائي په ښه توګه څوښي بوزه»

دا وو د هغه نیک چلن او نرم سلوک رنګ چې د اسلامي حکومت او نورو ټولنیزو ادارو له پلوه له څارویو او له حیواناتو سره کیده .

**د اسلامي حکومت مسئولیتونه او د ندی :**

پاتې شوه دا خبره چې اسلامي حکومت له څارو یو سره ښه او نیک چلن ته څومره اهمیت ورکا وو ؟ پدی هکله له د څخه زیات ثبوت او دلیل څه کیدای شي چې خلفا وو به وخت په وخت عوا ـوته داسي ټولنیز هدایات جاري کول ، چې په هغوی کښې به ئې دوی ته په ټینګه سره ویل چې څارویو ته څور او تکلیف ورنکړي او له هغوی سره څورا نرم او نیک چلن اختیار کړي .

حضـرت عمر بـن عبـدالعزیزرضی الله عنهما په خپل یوو

لیک کښې خپلو والیانوته هدایتونه ورکړي وو چې هغوی باید وګړي له د کار څخه په کلکه سره ؤ ژغوري چې آسونه په ناحقه سره ؤ نه وهي او نه هغوی ته قیزي واچوي، او ترافیکوته ئې ؤ ایکل چې وګړي پري نږدي چې د آسونو په خولو کښې درنډي وا ګي واچوي او نه داسي تازینه استعمال کړي چې د هغې په سرکښې ؤ سپنه وي یعنې سرئې له ؤ سپنې څخه جوړ کړای شوی وي . همدارنګه د ده د خلافت په زمانه کښې د محتسبانو په دندو کښې دا هم وو چې هغوی دی وګړي په څارویو باندی له درندو بارونو وړلو څخه ؤ ژغوري، او همدارنګه دوی باید وګړي د څارویو له ناحقو سزا ورکولو او د سفر په

وخت کښي له زياتو وهلو څخه هم ؤ ژغوري . او که چيرته محتسب داسي څوک وويني چي له څارويو سره دغه چاري کوي نو دي دا د نده لري چي هغه سمي لاري ته برابر کړي او پدي هکله دي هغه ته د سزا ورکولو صلاحيت هم لري پدي هکله دوي «قانون» دا دي :

«محتسب دا صلاحيت لري چي هغه د پورتنيو چارو مباشر د هغه له ارتکاب څخه په زور ؤ ژغوري . ځکه چي پدي کښي ټولنيز مصلحت پروت دي ، وګروته هيڅکله هم د دي خبري اجازه نشته چي هغوی په څارويو باندي د هغوی له څواک څخه زيات پيټی او بار يوسي او نه دوی ته دا اجازه شته چي څاروی ګړندي ؤ چلوي پداسي حال کښي چي پر هغوی باندي پيټی هم باروی ـ او نه هغوی ته اجازه شته چي څارويو ته ناوړه او درنده سزا ورکړي همدارنګه هغوی ته روانده چي هغوی بار کړي څاروی په عامو واټونو کښي او پارکونو کښي ؤ دروی ـ دغه ټولي چاري په بشپړه توګه له اسلامي شريعت څخه خلاف دي ـ څښتنانوته لازمه ده چي هغوی د خپلو څارويو په هکله له الله تعالی څخه ويره په نظر کښي ؤ نيسي ـ خيره بايد دومره ورکړای شي چي پر هغی باندي څاروی موړ شي . همدارنګه د څاروی خيره بايد خرابه او لړ نوي» .

**د څارويو د پالني لپاره اوقاف :**

پاتي شوه دڅارويو د پالني لپاره تولنيز مرکزونه او اداري ، نو هغه هم په زيات اندازه موجودي وي ـ او پدي هکله خورا غوره ثبوت او ګواه دا دي چي د لرغونو اوقافو په لاس ته راغلو اسنادو کښي مونږ ته د داسي اوقافو په هکله معلومات

Marfat.com

لاس ته راغلی دی چی زړو او له کار څخه وتلو څارویو د څر لپاره خاص کړای شوی وو ـ چی یو د دغو اوقافو له جملی څخه د دمشق «مرج احضر» دی چی په هغه کښی بنار والی اوس د لوبو ستدیوم جوړ کړی دی ـ دغه څر ځای د هغو زړو آسونو لپاره وقف وو چی هغه خپلو څښتنانو له کار څخه د لویدلو په وجه شړلی او د هغوی له پالنی څخه ئی لاس اخستلای وو ـ دغه آسونه به دغه څر ځای کښی څریدل او همدغلته به مړه کیدل ، همدارنگه د دمشق له اوقافو څخه یو د پشیانو لپاره خاص کړای شوی وو ـ چی په دغه وقف ځای مرکز کښی به پشوګانو خوراک څښاک کاوو او هستوګنه به ئی کوله او هلته به ملاستی وی ـ چی پدی ډول په دغه مرکزکښی په سلګونو څربی او ځوانی پشیانی هم، را ټولی شوی وی او هغوی ته هره ورځ په دغه مخصوص هستوګنځی کښی خوراک ورکول کیده او هغوی هم له مستی سیل او چکر وهلو څخه پرته د بل هیڅ کار لپاره له دغه هستوګنځی څخه نه خوځیدلی .

دغه هر څه د اسلامی است د روح څرګندونه کوی چی هغوی په څارو یو باندی د شفقت او زړه سوانده چلن داسی ځلی د رولای دی چی د هغه سیال سونږ ته په ګرده وګړوا له نړی کښی نه تر سترګو شوی دی او نه به ئی بیاؤ ممو.

**د زړه سوانده چلن بی سیاله او عجیبه مثالونه :**

لـه څـارو یو سره د زړه سوانـده سلوک یو زړه وړونکی او روښانه مثال هغه دی چی یو جلیل القدر صحابی «حضرت ابو درداء» وراندی کړی دی . ده د مرګ په وخت کښی

Marfat.com

خپل اوښي ته د وینا په ترځ کښې داسې وویل : «ای اوښه ته د قیامت په ورځ د خدای پاک په وړاند جګړه ؤ نکړې خکه چې ما هیڅ کله هم پرتا باندې ستاله څواک څخه زیات پیټی ندی بار کړی». همدارنګه یو بل صحابي حضرت عـدی بن حاتم به میږه تنوته چوری جوړو له او ورته اچوله به ئې اوداسې‌به ئې ورته ویل: «دا زما ګاونډیان دی. له دی امله‌هغوی پرما باندې هم حق لري» ـــــ امام کبیر ابو اسحاق شیرازی یوه ورځ له خپلو سلګرو سره چیرته روان وو چې په مخه کښې یو سپی ورته راغی . د سپي څښتن په خپل سپي باندې منت وکړ او هغه ته ئې له لارې څخه د چپیدلو حکم وکړ ، امام ابو اسحاق هغه تهدید کړ او داسې ئې ورته وویل : آیا تـــه خبر نه ئې چې لاره زموږ او د سپیو ترمنځ ګـــډه او مشترک ده» .

په تیرو زمانو کښې له څارو یو سره چلن :

د اسلامي تهذیب دغه روښانه اړخ او له حیواناتو او څارو یو سره د هغه د مشفقانه او زړه سوانده چلن صحیح اندازه موږ تر هغه پورې نشو معلومو لای ترڅو چې دا راته معلومه نشي چې په تیرو زمانو او منځنیو پیړیو کښې له څارو یو سره څه کیدل او بل دا چې د هغوی د څورولو او تعذیبولو په هکله د نورو ملتونو دریځ څه وو .

په دی لړکښې له هر څه نه وړاندې کوم شی چې د پاملرنې وړدی هغه دا دی چې د نورو ملتونو په ښودنو او تعلیماتو کښې له سره موږ ته داسې هدایات او لارښودنې لاس

ته ندی راغلی چی په هغوی کښی له ښځو یو سره د ښه چلن او نرمی حکم شوی وی او یا پر هغوی باندی زړه سوی لازم ګرځولای شوی وی . همدغه وجه ده چی د نورو قومونو په وړاندی د ښځو یو په خپلو ښځینتانو باندی د نفقی او د هغوی د پالنی په هکله اصول او فرائض نشته .

له دی نه وروسته هغه غریب او حیرانوونکی حالت زمونږ مخی ته را. د روسی چی په منځنیو پیړیو ' ان چی تر نولسمی پیړی پوری جاری وو ، چی په هغه کښی یو ښځوی د هغه د جرم په بدله کښی او یاد هغه د ښښتن د جنایت په بدل کښی د سزا مستوجب ګڼل کیده . او له ښځو یو سره داسی سلوک کیده لکه ښځه چی له یوو عاقل او هوښیار انسان سره کیږی د یوو ښځوی په خلاف داسی فیصلی صادریدلی لکه ښځه چی د انسان په خلاف صادریږی. هغه بندی کولای شوه . او له هیواد ځخه تبعید کولای شوه او ان تردی چی د مرګ سزا هم ورکولای شوه لکه ښځه چی یوو مجرم او جانی انسان ته ورکولای شی .

**د یهودی شریعت ځینی مادی :**

له ښځو یو سره «د چلن په هکله» په یهودی شریعت کښی دغه لاندنی مادی میندل کیږی : «که چیرته یو غوائی کوم سړی یا ښځه په ښکر باندی ووهی او هغه مړشی نو پدی صورت کښی د دغه غوائی رجم کول «سنګسار» لازم دی . او که چیرته د دغه ښاروی ښکر وینه عادت نوی او په ناڅاپی دول ئی په ښکر ووهی او سړی مړشی . نوڅښتن ته ئی هیڅ

Marfat.com

هم نه شي ویل کیدلای «یعنی غیر مسؤل دی» مګر که ښکر وهنه د هغه عادت وی او خلکو دی خبر کړی هم وی چی د ده څاروی په ښکر باندی وهنه کوی او له د نه وروسته بیاهم‌هغه د خپل څاروی څار نه ونکړی اوهغه کوم سړی یا ښځه ووهی‌او دهغه‌مرګ لامل وګرځیږی‌نوپدی صورت‌کښی بایدڅاروی رجم کړای شی او د هغه څښتن ته د مرګ سزا ورکړای شی.

یو بل هم داسی صورت دی چی په هغه سره له یهودی شریعت سره سم څاروی ته سزا ورکولای شي او هغه دا چی که یو شخص له کوم څاروی سره ناوړه عمل وکړی «یعنی جنسی مباشرت ورسره وکړی» نو پدی صورت کښی د دغه شخص او څاروی دواړو قتل واجبیږی.

د یونان په لرغونی او په خوانی قانون کښی :

په خوانیو یونانیانو داسی یوه محکمه جوړه کړی وه چی په هغی کښی د هغو جنایت کارو څارو و په هکله پریکړه او فیصلی کیدلی، چی هغوی به د کوم انسان د هلاکت لامل ګرځیدل - ان تردی چی په نوموړی محکمه کښی به د داسی جماداتو «لکه کانی ؤ سپنه او داسی نور» په هکله هم فیصلی کیدلی، چی د هغوی په توسه به انسان هلا کولای شو - د دغی محکمی نوم «بریتانیون» وو - او دا هغه مرکز وو چی په هغه کښی به د مجرمینو او جانیانو په هکله‌خولای کیدلی او بیا به دغوندو په نتیجه کښی پریکړی صادرولی شوی.

افلاطون په خپل کتاب قانون کښی دا هم لیکلی دی چی که کوم څاروی او حیوان به کوم انسان قتل کړ نو د مقتول د کهول غړو د دی حق لاره چی د قاتل حیوان په خلاف په

Marfat.com

پورتنی محکمه کښې دعوی دائره کړی ـ او د مقتول وارثانو حق لاره چې له کروند گرو څخه د پریکړی لپاره قاضی خوښ کړی ـ د جرم د اثبات په صورت کښې د هغه ځاروی قتل د کسات په توگه واجبیده او پس له مرگه به ئې د هغه تنه او جسم له هیواد څخه بهر غور ځاوو ـ مگر له د قانون څخه هغه ځاروی مستثنی وو چې هغه له انسان سره د مقابلې لپاره روزل او پالل کیدل او د میلو په ورځ به د هغه او د انسان ترمنځ مقابله کیدله ـ پدې‌صورت کښې یعنې د مقابلې په ډگر کښې به که حیوان انسان قتل کړ نو بیا دغه حیوان مجرم نه گنل کیده ـ که چیرته به کوم جامد شی په انسان راؤ غورځید او هغه به سرړ ونو د مقتول له گونډی خپلوانو څخه به یو سړی پریکړه کوونکی ؤ ټاکل شو ـ هغه به فیصله وکړه چې دغه جماد، دی له هیواد څخه بهرؤ غورځولای شی ـ ځاروی به یواځې د قتل په جرم باندی نه محکومیدل بلکه له قتل څخه په کم جرم هم هغوی محاکمه کیدل ـ د مثال په ډول که یو سپی به انسان ؤ داړه نو د هغه پرخښتن باندی لازم وو چې خپل سپی د یو مجرم په توگه په څنځیرونو تړلی هغه چاته ورولی چې دی‌ئې خوړلی دی او بیا نو هغه پوره واک درلود هر څنگه به ئې چې خو ښه وه خپل کسات به ئې ور څخه اخیست برابره خبره وه که به ئې قتل کاوو ، او یا به ئې بله کومه سزا ورکوله .

همدارنگه څینې وختونو به یوو ځاروی ته د هغه د خښتن د کهول د غړو په جرم هم سزا ورکول کیدله ـ د مثال په توگه که یو سړی به د مذهب او یا حکومت په خلاف د

Marfat.com

کوم سخت جرم مرتکب شو او هغه ته به د مرگ سزا تصویب کړای شوه نو دهغه خاروی او مړئیونه بهٔی هم قتل کول خونی ته به ئی او را چاوو او کښیتونه به سوځول او یا به ئی له هیواد څخه د تبعید کولو سزا ورکوله .

**د پخوانیو رومیانو قانون :**

د پخوانیو رومیانو په قانون کښي دا یوه ماده هم وه چي که د کوم بزگر غوائی به د کرهنی او یوی کولو په دوران کښي په فصل کښي گډ شو او یا به د فصل په هغه ونډه تیر شو چي هغه به له کرهنی لاندی وه او یا به هغی ته په خیر مه پټی کښي تیر شو او یا به د هغه د گاونډی په کښت کښي تیر شو نو په دغو ټولو صورتونو کښي به هم ده ته او هم د ده غوائی ته د مرگ سزا ورکول کیده . او هغه سپی چي کوم انسان به ئی ژ داړه نو د هغه لپاره کوچنی سزا دا وه چي هغه به ئی همغه کس ته ؤ سپاره ، او د هغه به چي څه خو بنه وه ورسره کولای ئی شوای . همدارنگه که د چا خاروی به د خپل څښتن له مملو که ځمکی څخه پرته د بل چا په ځمکه ؤ څوروړ اوو بنه به ئی ؤ خوړل نو هغه به هم د هغه د کښت څښتن ته د سزا ورکولو لپاره سپاره .

په خوانیو المانیانو هم د خارویو په هکله هغه قوانین جاری کړی وو چي رومیانو او یونانیانو نافذ کړی وو .

**په پخوانی فارس کښي :**

او د پخوانیو فارسیانو خو پهدی هکله له د څخه هم اصول او مقررات زیات حیرانوونکی او عجیب وو . «د مثال په ډول» که لیونی سپی به ؤو زه یا کوچنی ؤو داړه او بیا به له همدی

Marfat.com

امله هغه مړ شو او یا به ئې کوم شخص ؤ داړه او هغه به تېږې شو نو د فارسیانو د قانون له مخې به د دغه سپي ښې غوږ ورڅخه غوڅلای شو ، او که به هغه بیا داسې وکړه نو د هغه کس غوږ به ئې ورڅخه غوڅاوو ـ دریم ځل به ئې که بیا هم داسې وکړه نو د هغه دواړه ښې پښې به ئې ور څخه غوڅولی او په څلورم مباشرت کښې به ئې دواړه کسې پښې ور څخه غوڅولی او که هغه به پنځم ځل بیا څوک ؤ خوړل نو د هغه لکې به ئې له بیخه ور څخه ویستله .

**د اروپائي ملتونو قوانین :**

په منځنیو زمانو کښې ، د اروپائي ملتونو له جملې څخه فرانسه هغه لمړنی هیواد دی ، چې هغه په دیار لسمه پیړی کښې څاروی هم د خپلو کړو وړو مسئول ؤ گرځول ـ اوپر هغوی باندی په منظمه توگه په محکمو کښې هغه ډول مقدمه چلولای کیده لکه څنگه چې په یو توک «انسان» باندی چلولای شی ، او دڅارویو محاکمه هم له هغو قوانینو سره سمه کیدله کوم چې د بشری وگړو د محاکمی لپاره کیښو دل شوی او جوړ کړای شوی وو ـ له هغه نه وروسته د څوار لسمې پیړی په ورستیو کښې سروینیا هم پدی هکله یو قانون تصویب او نافذ کړ ـ او همدغه قانون په پنځلسمه پیړی کښې د بلجیم حکومت هم په خپل هیواد کښې نافذ کړ ، او د شپاړسمې پیړی په نیمائی کښې د هالیند ، المان ، اتالیا او سویډن حکومتونو هم په خپل خپل هیواد کښې همدغه قانون نافذ کړ ـ او د صقلیه په ځینو قانونو

Marfat.com

کښې خو دغه قانون ان تر نولسمې پېړۍ پورې جاري وو .

په ځاروېو باندې به یا خو په خپله هغه سړي مقدمه دایرو له چې هغه ته به د ځاروي له خوا تکلیف رسیدلی وو او یا به په خپله حکومت جانې ځاروي محاکمه کاوو - بیا به د مجرم ځاروي له پلوه مدافع وکیل وراندې کیده او له ځاروي څخه به ئې دفاع کوله - او ځینې وختونه به د احتیاط په ډول محکمې مدعی علیه ځاروي بندي خانې ته لیږه - او بیا به کله چې د جانې ځاروي په هکله حکم صادر شونو هغه به په هغه ډول د ګردو خلکو په وړاندې اعلانیده لکه څنګه به چې د یو مجرم توک د محاکمې د حکم اعلان کولای او تطبیق کولای شو - ځینې وختونو به ځاروي ته په کانو د سنګسار په توسه د مرګ سزا ورکول کیدله او یا به ئې سرور څخه غوڅاوو او یا به ئې هغه په اور باندې سو ځاوو او یا به ئې له وژنې څخه وړاندې د هغه ځینې اندامونه ورڅخه غوڅول - لوستونکی دا خیال ؤ نکړي چې دغه محاکمې محض د تفریح او ساتیرۍ او داد ګیرنې لپاره جوړې کړای شوي وې بلکه دا په ډیر غور او سنجیدګۍ سره منځته راوړې شوې او جوړې کړای شوي وې - څنګه چې د هغوی له پریکړو او د قانوني احکام له سیاق او چلښت څخه داسې څرګندیږي چې هغوی پدې هکله خورا سنجیده وو ، د مثال په ډول د فیصلې دا جمله چې «ځاروي ته د مرګ سزا ورکولای شي - ترڅو دنیاو او انصاف غوښتنې پوره کړای شي» یا دا چې هغه د په سولې ؤ ځیژولای شي څکه چې هغه خورا د وحشیانه او قبیح ډول جرم ارتکاب کړي دی .

Marfat.com

**خینې کوائف :**

په د لړ کښې له ټولو څخه خورا حیرانوونکی هغه رواېتونه دی چې په هغوی کښې ویل شوی دی دغو وګړو په ځارویو باندی له د امله مقدمی چلولی چې دغو ځارویو ددوی له نظره سره سم ، د پنځ «فطرت» په قانون او طبعی اصولو کښې ګډوډی راوستلی ده - دوی به په ځارویو او حیواناتو باندی د جادوګری تور هم لګاوو - حیواناتو ته د سزا ورکولو په وخت کښې به ستری ستری غونډی او سلمستیاوی جوړولای شوی جلاد به لرګی راوړل او په میدان کښې به ئی ځلی کړل - او هغه پشوګانی به راوړلای شوی چې د هغوی په خلاف به له محکمی څخه پریکړی صادری شوی وی - یو پشو به دؤسپنې په پنجره کښې بندی کړای شوی وه - او کله به چې د سزا د نفاذ شیبی راغلی نوځینی راهبان به را غلل او له دوی سره به ځینی‌دا کمان هم وو - دراهبانو له جملی څخه به د یوو په لاسونو کښې دوه مشالو نه‌وو ترڅو په هغو ځلی کړای شویو لرګیو ته اوروا‌چو لای شی - کله به چې لرګیو ته اور رواچو لای شونو حکامو به حکم وکړ چې پشوګانی په اور کښې واچوی ترڅو هغوی ایره شی ځکه چې هغوی دجادوګری په څیر د ناوړه عمل ارتکاب کړی دی.

**د څو مقدمو د تطبیق په هکله بیان :**

اوس نوېدی ځای کښې دا مناسب ښکار ریږی چې لوستونکوته د منځنیو پیړیو ، د ځینو هغو مشهورو مقدمو پیښی بیان کړای شی ' چې د ځارویو د مجازات په هکله دائری کړای شوی وی-چې دهغوی له جملې‌څخه یوه مشهوره مقدمه او محاکمه

Marfat.com

د فرانسې د اوتون د ښاروه چې د مړکانو په خلاف جوړه کړای شوې وه ـ او دا پیښه په پنځلسمه پېړۍ کښې منځته راغلې وه ـ او هغه داسې وه چې په دغه مقدمه کښې په مړوکانو تور لګول شوی وو چې هغوی زیات وختونه ' په ویره وونکې شکل کې په کوځوکښې سره غونډېږي ' چې دد وی د دغه کار په توسه د وګړو په سکون او ارام کښې ګډوډي پیدا کیږي ـ

او له موږ کانو څخه د دفاع په خاطر ' د فرانسې مشهور وکیل شاسا نیه د مدافع په توګه وګرته راووت ـ نوموړي له محکمې څخه مهلت وغوښت څکه چې پدغه وخت کښې تورن موږکان محکمې ته نوو حاضر شوی ـ او د دی لا مل د اوو چې په هغوی کښې ځینې زاړه ' کوچنیان او ناروغه وو نوکه چیرته هغوی ته مهلت ورکړای شي نو هغوی کولای شي په راتلونکې مناسب وخت کښې محکمې ته حاضر شي ، له د امله محکمې هم د مدافع وکیل له معذرت وړاندې کولو سره سم موږ کانوته تریوی تاکلې مودی پورې مهلت ورکړ ـ مګربیا که چې تاکلې موده پوره شوه بیاهم موږ کان محکمې ته حاضر نه شول ـ پدی هکله مدافع وکیل د دفاع په ترڅ کښې وویل که څه هم موږ کان غواړي چې د عزت مندی محکمې حکم پرځای کړي مګر که هغوی د لته راشي نو د پشوګانو له پلوه هغوی ته د زیان رسولو ویره ده ـ د وکیل د دی دلیل په وړاندی کولو سره د محکمې رئیس وویل چې اوس نو دا زمونږ فریضه او دنده ده چې مونږ محکمې ته د محکومینو د راتلو لپاره د امن او سلامتي زمینه برابره کړو او نوموړي مدافع وکیل له محکمې څخه غوښته وکړه

Marfat.com

چي محکمه دي دا فرمان صادر کړی کله چي موږکان محکمي ته د حاضري له پاره را د روني نو په هغه وخت کښي دي ګردي پشو کاني بندي کړاى شي ترڅو هغوی ته د زيان رسولی ويره پاتي نشي . محکمي د وکيل دا درخواست منظور کړ او حکم ئې وکړ چي ټولي پشوګاني او سپي دی . په عامو واټونوتنګ راتګ نکوی ترڅو محکمي ته د موږ کانږ د راتلو په وخت کښي کومه ويره نوی خوسکر ښاريانو د دغه حکم تعميل ؤنکړ « يعني پشوګاني او سپي ئې له عامو واټونو څخه بند نکړاى شو » له دي امله محکمي پريکړه صادره کړه چي مونږ کان بری او خلاص دي ځکه چي هرچا ته د قانون له مخي له ځان څخه د دفاع لپاره بايد زمينه او اسانتيا برابره کړي شي - پدي اساس کله چي موږکان له دغه حق څخه محروم دي هغوی هم بری الذمه ګڼلای شي- پدي مقدمه کښي نوموړی وکيل د دغي بي سياله دفاع په خاطر ډوراستږ شهرت او نوم ترلاسه کړ ، خوسونږ دانشو ويلای چي چي ده د خپل دغه پورتني دفاعي زيار فيس هم له موږ کانو څخه واخيست او که نه ؟ او دا خبره هم امکان لري چي له دغي مقدمي ګڼلو څخه وروسته موږکانو د ده د کتابونو او اسنا د وله سپوني کولو څخه ژغورنه کړي وي - او له د څخه هم زياتــه حيرانو ونکی محاکمه داګي کوونکي نرچرګ د او دغه مقدمه هم د منځنيو پيړيو له عجيبو او نادروپيښو څخه ده - په ۱۴۸٤ ق مسيحي کال کښي د سويزرليند په بال نومي ښار کښي محکمي ته يومقدمه وړاندي کړاى شوه - د مقدمي استغاثه دا وه چي نرچرګ اګۍ کړي ده او داله دي امله جنايت وو چي جادوګر د نرچرګ داګي په لټه کښي وو ، او هغه دغه اګي د

خپل شیطانی عمل په سرته رسولو کښی استعمالو له . چرگ محکمی ته حاضر کړای شو، - د چرگ مدافع وکیل وویل چی چرگ پدی هکله مجبور وو او له ده سره هیڅ داسی وسائل نه وو چی دی د هغو په واسطه له دغه ناوړه کار څخه ژغورل‌شوی وای - مگر محکمی د مدافع وکیل وینا د اعتناوړ ونه گڼله اونه ئی هغه ته اهمیت ورکړ او چرگ ئی واجب القتل وگڼه او هغه ته ئی د مرگ سزا ورکړه - او په خپله فیصله او پریکړه کښی ئی دا وليکل چی باید له د سزا څخه نور چرگان عبرت واخلی ، او داگی له کولو څخه ډ ډه وکړی که نه نو د دی چرگ په څیر دی د خپل شوم سرنوشت انتظارو کړی .

---

۱ - تاسی تعجب او حیرت ونکړی چی نرچرگ څنگه اگی وکړه، څکه چی داکوم له فطرت څخه مخالف کارندی کیدای شی چی الله تعالی په هغه کښی د دی استعداد او څواک کینږودلی وی ترڅو د الله تعالی په بشپړ او کامل قدرت باندی گواهی او د لالت وکړی - زمونږ په هیواد کښی په عوامو کښی مشهوره ده چی که په کوم کهول کښی نرچرگ اگی وکړی او ینځه چرگه اذان وکړی او یا نرچرگ په ماز دیگر کښی اذان وکړی نو هرومرو به د دغی کورنی یوستر شخصیت مړشی او د اسلبه هغه باید سم له لاسه ذبح کړای شی . دغه دول عقیده ، لړل له اسلام څخه خلاف دی او د اسرائلیا تو له جملی څخه گڼل کیږی. څکه چی د هرچا مرگ په نیته وی .

ژباړونکی

Marfat.com

په حيواناتو باندی د حيرانو ونکو مقدمو په لړ کښې يوه بله مقدمه په ۱٤۹٤ مسيحی کال کښې د فرانسی د سان جوليان په ولايت کښې پيښه شوه ، او هغه دا وه چې باوغانولو په محکمه کښې د چينجيو په خلاف داسې دعوئ دائره کړه چې هغوی « دانګورو ځانګو او ميوی ته سخت زيان رسولای دی - چې له د امله د هغوی سوداګری او صنعت سخت زيان من شوی دی - پدی دعوی کښې د وکسو قانون پوهانو د مدافع وکيلانو په توګه کارکړی دی - او دغه دعوی پوره څلويښت کاله چليد له - د فيصلې او پريکړی د ډيرو ځنډيدلو له کبله مدعيان ډير په تنګ شوی وو ، له همدی امله هغوی له د پريکړی سره توافق وکړ چې د چينجيو لپاره دی يوه ځانګړی ټکړه ځمکه مختصه کړای شي او هلته چې د دوی ځنګه خوښه وی ژوندی کوی او هر ډول کښت اووښ چې خوری نو خوری دی -

**وروستنۍ ټکۍ :**

ماستاسې په وړاندی د حيواناتو په هکله د اسلامی تهذيب او د نورو ملتونو د تهذيبونو د نظرياتو او قوانينو ترمنځ په لنډه او برسيرن ډول موازنه وړاندی کړه چې له دغې موازنې څخه اسلامی امت له پخوانيو او اوسنيو ملتونو څخه په داسې دو خبرو کښې غوره او ممتاز دی چې د هغوی ساری نه په هغوی کښې ميندل شوی او نه به وُميندل شي - «او هغه د وه خبری دادی »

Marfat.com

لمړی دا چی له ګردو څخه وړاندی مسلمانانو د کمزورو، ناروغو او زړو څارویو دد پالنی درمان او ګویګنی مرکزونه جوړ کړل او د دغو ادارو اومراکزو په ذریعه ئی د هغوی د ژوند د تامینولو په زړه پوری انتظام وکړ۔

د ویم دا چی له نن څخه څوارلس سوه کاله پخوا اسلام د حیواناتو او څارویو محاکمی او د هغوی د جناباتو او جرائمو تحقیق او هغوی ته سزا ورکول او د هغوی مسئولیت موقوف کړ۔ پداسی حال کښی چی د دی کار دعوه او لاف نوی تهذیب اوس کوی ۔ له همدی اسله زمونږ د تهذیب او تمدن تاریخ د څارویو او حیواناتو له محاکماتو او مقدمو څخه خالی دی۔ او برسیره پردی اسلامی تهذیب په خپل منځ کښی د څارویو د جنګولو ظالمانه لوبه هم بنده کړه۔ پداسی حال کښی چی د یونانیانو او رومیانو په وړاندی دغه لوبه په قانونی توګه رواوه او په هسپانیه کښی خو اوس هم دغه لوبه قانونی او ممتازه لوبه ده، پدغه هیوا د کښی پدی هکله ستری ستری میلی او غونډی جوړیږی، چی په هغو کښی دغو ایانو خپل منځی مقابله کیږی۔ او پدی کښی خوشک نشته چی دغه لوبه د لویدیځو پخوا نیواو اوسنیو ملتونو او د منځنیو پړیو د وحشی توب یوه نمونه پاتی شوی ده اوله د څخه زمو تهذیب ۔پیځلی او سوچه دی۱۔

---

۱ ـ که څه هم زمونږ په ځینوا سلامی هیوا د ونو کښی د حیواناتو د جنګولو جاهلی لوبه زمونږ په ځینو مسلمانو عوامو کښی رواج لری لکه دی وریږزو، چرګانو، سپیو، او ښانو او نورو جنګول ـ خو داله د اسله ندی چی ګنی

Marfat.com

# اتم باب

## د تولنیزی سوکالی اداری مرکزونه

یو ملت ته ژوندی ملت ویل او د پر مختګ په پړاوونو کښی د هغه له یوی پوړی څخه بلی پوړی ته په پرلپسی ختلو باندی له ګردو څخه دا ستر دلیل ګڼلای شی ، چی د هغه د وګړو زړونه د بشر دوستی له لوړو احساساتو څخه معمور او ډک وی چی بیانو د هغوی دغه احساسات د دی خبری د فیصلی او پریکړی په هکله هم د پیاوړی دلیل حثیت لری چی داسی ملت د نړی وال قیادت او رهبری وړ او مستحق دی .

داسی احساسات چی له هغو څخه نه یواځی په تولنی باندی د خیر برکت او ښیګڼی شګیره «باران» ؤ اوروی بلکه

---

اسلامی تهذیب دغه جاهلی عمل مباح ګڼی بلکه د نورو لوبیڅو جاهلی دو دونو په ترڅ کښی دغه عمل هم د مکروب په څیر له لویدیځو عقید وی او اخلاق ناروغانو څخه زسونږ په تولنه کښی سرایت کړی دی او زسونږ خپلوا که او خپل سری واکمنان هم د دغی لوبی د مخنیوی او بندیز په لاره کښی کوم مثبت ګام ندی پورته کړی او هم په خپله څینی بی پروا وګړی د اسلامی شریعت او تهذیب له دریځ څخه بی خبره دی خواوس د خدای په فضل نوی اسلامی تو کم پریکړه کړی چی د ښکیلاک له هر ډول جاهلی دودونو څخه تولنه پاکه کړی هیله ده چی بریمن شی : ژباړونکی .

Marfat.com

هغه ټول بشريت او حيوانات ، چې د ځمکې پرمخ ژوند کوي له هغو ښخه کثور او مستفيدوي ، چې له همدغه معيار سره سم د ملتونو تهذيبونه بقا او دوام کولای شي او د دوی دتهذيبونو په منځ کښې يو پر بل باندې د لوړ والي او غوره والي پريکړه هم له هغو اثارو سره سمه کيدلای شي چې هغه ئې په عملي ډګر کښې پريښې دي .

**دا مقام هغه چا ترلاسه کړ چې بيائې ؤ موندل :**

له نيکه مرغه اسلامي ملت پدې ډګر کښې هغې هسکې ځوکې ته ؤ خوت چې هغې ته له ده ښخه پخواني ملتونه په مطلق ډول هيځوک هم وو نه رسيدلای شو او نه له هغه ښخه وروسته تراوسه پورې کوم ملت رسيدلای دی - د پخوانيو ملتونو او تهذيبونو د نيکۍ او ښيګڼې ډګر تر عبادت ځايونو او دښوونځيو تر محدودو دائرو پورې محدود وو - پاتې شو موجوده دور پدې کښې که څه هم لويديځ ملتونه د ټولنيزو ادارو په ذريعه د ټولنيزو اړتياو د پوره کولو او بشپړولو په باره کښې ، لوړو ځوکوته ختلي او رسيدلي دي ، مګر هغوی خاص د الله د رضا مندی او خوښۍ په خاطر ، په بشر پالنه کښې هغه مقام ته وو نه رسيدلای شو ، کوم ته چې اسلامي ملت د خپل عروج سمسورتيا او شوکت په دوران کښې رسيدلای وو ، بلکه لويديځو ملتونو خو د بشر دوستۍ هغه مقام هم ترلاسه نکړای شو ، کوم چې اسلامي ملت د خپل انحطاط او بر غنجورتيا په دوران کښې لاره - د لويديځو ملتونو د ښيګڼې او خير د ګردو چارو دکولو ترشا هميشه د قدرت غوښتنې ، نوم ګټنې ، پوز او پاګندونو او شهرت پيدا کونې احساسات کارکوی او همدغه عوامل دی چې

Marfat.com

دوی ئې د بشری سوکالی او ټولنیزی رفاه د مختلفو چارو په لور مائل کړی دی ، مګر د اسلامی امت په وړاندی د ښیګڼو او خیر په ګردو چارو کښې یواځې یو موخې وی - او هغه د الله تعالی د رضا مندی او خوښۍ لاس ته راوړل دی - برابره خبره ده د ده له ښیګڼو او نیکو چارو څخه وګړی خبر شی او که نه دا دواړه ورته بې تفاوته دی - او پدی هکله د صلاح‌الدین ایوبی د ژوند کره وړه یو غوره مثال لوړه او روښانه نمونه ده ، چې نوموړی خپل ټول دولت او ګرده پنګه د ټولنی د هوسایني او سوکالی په چارو کښې ؤ لګوله او د اوسني مصر او شام سیمی ئې د ټولنیزو ادارو ، جماتونو مدارسو ، ښوونځیو سرایونو او داسی نورو له جوړولو څخه ډکی کړی وی . مګر له دغو ټولو څخه ئې یو هم په خپل نوم ونه نوما وو ، هغه به داسی مرکزونه او اداری د خپلو نظامی منصبدارو ، وزیرانو او مرستیالانو په نومونونو سول .

د ښیګڼو د چارو په لړ کښې خاص د خدای پاک د خوښۍ او رضامندی د ترلاسه کولو په تکل دا هغه هسک معیار دی چې په هغه کښې د ځان غوښتنی بوی هم نشته .

**یو بل ممتازوونکی اړخ :**

پدی هکله د اسلامی تهذیب یو بل اړخ هم د پاملرنی وړدی او هغه دا چې د لویدیځو هیوادونو له تاسیس کړای شو یو ادارو څخه یواځې هغه وګړی استفاده او ګټه اخستلای شی چې د هماغه هیواد هستوګنی وی او یا هلته میشته وی مګر کومی اداری او مرکزونه چې مسلمانانو جوړ کړی وو د

هغوی دروازی د هر چا پرمخ خلاصی او پرانستی وی او هر چا کولای شوای چی لههغو څخه گټه واخلی پرته لهدی چی هغه په قام څوک دی ، د هغه مورنی ژبه کومه یوه او یا د هغه مذهب کوم دی ؟

همدارنگه زمونږ تولنیز مراکز او اداری د داسی تولنیزو کفالت کونکو عواملو له مخی جوړ کړی دی چی د هغو په هکله لویدیځ ملتونه اوس هم علم نلری او خبر ندی ـ او دغه اسباب او عوامل داسی دی چی اوس هم اوریدونکی د هغو په اوریدلو حیران پاتی کیږی او له دغو عواملو څخه ځرگندیږی چی د اسلامی ملت په وړاندی د نورو ملتونو په پرتله د بشر دوستی تصور زیات پراخه زیات سوچه او زیات تولنیز دی .

**د تولنیزی سوکالی په هکله د اسلامی تهذیب بنستیز تصورات :**

ممکنبی له دی چی مونږ د اسلامی تهذیب د تولنیزی سوکالی د مختلفو او متنوع ډولونو په هکله بحث وکړو، دا ضروری معلومیږی چی د تولنیزی سوکالی په هکله د اسلامی تهذیب په بنستیزو تصوراتو او اصولو رڼا واچوو ، ځکه په حقیقت کښی همدغه اصول او افکار وو چی د اسلامی است په روح او ځانونو ئی حیرانوونکی تاثیر وکړ چی د هغه په نتیجه کښی دغه‌مرکزونه او اداری منځته راغلی چی د هغو انځیر «مثال» د بشریت په تاریخ کښی نه سیندل کیږی .

اسلام د ښیگڼی او نیکی په لور وگړی داسی دعوت کوی، چی په بشری نفس کښی بخل ، زړه تنگی له ې وزلی او مسکین والی څخه ویره چی دا ټولی شیطانی وسوسی دی هیڅکله تیریدلی

Marfat.com

هم نشی - لکه چی قرآن کریم وروسته له دی چی د خدای په لاره کښی دانفاق له هځونی څخه یادونه کړی داسی فرمایلی دی:

الشیطن یعدکم الفقر ویامرکم بالفحشاء والله یعدکم مغفرة منه وفضلاً ط والله واسع علیم. ۱

۱- د بقره سورة - ۲۶۸ - آیات ۳ سپاره ۲ سورة ۳۷ رکوع.

شیطان دتاسی په زړونو کښی دانفاق په کولو سره دبی وزلی ویره غورځوی او د ناوړو چارو په کولو حکم د رته کوی او خدای پاک دا نفاق په کولو سره له تاسی سره له خپل پلوه د بخښنی او رحمت ژمنه کوی او الله تعالی دروزی پراخه وونکی او له ټولو څخه د ستر علم څښتن دی».

پدی توگه اسلام هر څوا کمن او مستطیع ته ، بلکه هر انسان ته د خیر او ښیگڼی په لور بلنه ورکوی ، برابره خبره ده که هغه شتمن وی ، یا بی وزلی خو د ښیگڼی چاری به د خپلو شتو او مرتبی په اندول هرو مرو کوی ، پاتی شو هغه بی وزلی چی دشتو له لاری نیکی نشی کولای نو هغوی به دا کار په خپل لاس ، په خپل زړه او په خپله ژبه سرته رسوی - په اسلام کښی هیڅ داسی وگړی نه میندل کیږی چی له یوی نه له یو لاری څخه د ښیگڼی ؤ نشی کولای - د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی ځینی بی وزلانو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته گیله وکړه چی له دوی څخه د نیکی او ښیگڼی په ډگر کښی شتمن وگړی وړاندی شوی دی ځکه چی هغوی خپل شته د ټولنیزی سوکالی په چارو کښی لگوی او د بی وزلانو په لاس کښی هیڅ هم

Marfat.com

نشته چې صدقه ئې کړي ـ هغوی ته حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د دې خبرې وضاحت وکړ چې د ښیګڼې کار یواځې د شتو مصرف کول ندي ـ بلکه هغه ټولې چارې د ښیګڼې او نیکی دي ، چې له هغو څخه بشریت ته ګټه رسیږي بیا حضرت ورته وُ فرمایل : «تامی چې یو ځل د الله تعالی تسبیح او پاکی بیان کړئی دا هم صدقه ده ، یو چاته په ښیګنه حکم کول هم صدقه ده ، له ناوړو څخه ژغورنه هم صدقه ده ، له لاری څخه دا غزی او نورو زیان رسوونکو شیانو لری کول هم صدقه ده ، د دو کسانو ترمنځ سوله کول هم صدقه ده او که ته له یو چا سره د هغه په سورلی باندی په سپریدلو کښی مرسته وکړی ، ترڅو هغه په اسانتیا سره پری سپور شی نو دا کار هم صدقه ده» .(۱)

چې پدی ډول اسلام د ګردو ، وګړو لپاره د ښیګڼې او نیکی کولو دروازې پرانیزی او یو عادی مزدور ، سوداګر ، ښوونکی ، زده کوونکی ، ښځه بی وزلی ، سپین ږیری ، ړوند او کم ځواکه هم د نیکی چاری کولای شي او یواځې شتمنې او پنګه په ټولنه کښې دنیکی او ښیګڼې د چارو دکولو په لړکښې د محک او بنسټ په توګه نه ګڼي او له د څخه هم پورته اسلام انسانی نفس د بشر دوستی په هغه هسک مقام کښې دروی له کوم نه چې د ښیګڼې او خیر ګټې او فیوض د ګردی بشری وروړګاوی لپاره عمومیت پیدا کوی که څه هم د هغوی مذهب،

---

۱ـ د دی حدیث روایت بخاری او مسلم کړی دی .

Marfat.com

د هغوی مورنی ژبه ، د هغوی هیواد او د هغوی ملت یو له بل څخه مختلف وی. حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی : «الخلق عیال الله فاحبهم الیه انفعهم لعیاله» وګړی د خدای پاک د کهول غړی دی او له دوی څخه د خدای پاک په وړاندی هغه څوک ډیر محبوب او نیږدی دی چی د هغه د عیال لپاره زیاته ګټه رسوونکی وی» او له دی نه وروسته اسلامی شری تډک نیکی او ښیګڼی ته د بانی او ترغیب په تکل هغه تهدارنګه خطاب کوی چی په ښیګڼی او نیکی کولوک ی دده خپله ګټه هم ده او هر هغه څوک چی د خیر او ښیګڼی کار وکړی نو له ټولو څخه وړاندی د هغه ګټه په خپله ده ته رسیږی ـ او هغه دا چی په ټولنه کښی محبوبیت او درناوی لاس ته راوړی .

په دنیا کښی گرانښت او محبوبیت د وګړو ترلاسه کړی ، په هر ځای کښی به ئی ستاینه کیږی او همیشه به ئی یادونه کیږی او په آخرت کښی به نیکه بدله او ثواب ورکړای شی :

«وما تنفقوا من خیر فلانفسکم» .

ترجمه : او هغه څه چی تاسی ئی لګوئی د هغه ګټه په خپله ستاسی لپاره ده.

«من عمل صالحاً فلنفسه» .

ترجمه : څوک چی نیکی چاری کوی نو هغه ئی د خپل ځان لپاره کوی .

Marfat.com

د دی ښوونې نتیجه او اغیزه :

ترڅو پوری چی په انسان کښی د انفرادیت احساس او غریزه وی نو هغه له هر څه نه وړاندی د خپل ځان د سوکالی او ښیگڼی په فکر کښی وی ' او دغه ډول فکر په بشری نفس باندی یو مخصوص تاثیر کوی ، بخیل سخی گرزوی او کنجوس په ورکړه او د بې وزلو په لاس نیوی پیل کوی ، او خپل شته او دولت د خلکو په خدمت کښی لگوی ، پداسی حال کښی کله چی د اولاد او خپلو انودپالنی اوگویگنی احساس په زړونو اوفکر نوکښی پیدا شو. نو الله تعالی په تنبیهی توگه وُ فرمایل :

«من ذا الذی یقرض الله قرضاً حسناً فیضعفه اضعافاً».

(د بقری سورة : ۲٤٥)

ترجمه : څوک دی چی خدای پاک ته حسنه قرض ورکړی ، ترڅو خدای پاک یو پردوه بدل ورته ورکاندی .

د دی آیات په ناز لیدلو یو صحابی ، چی نوم ئی ، ابو دحداح وو ، داسی وویل : «یا رسول الله صلی‌الله علیه وسلم ! آیا خدای پاک هم له خپلو بندگانو څخه قرض غواړی ؟» . حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وُ فرمایل چی «هو» ده بیا حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته وویل چی تاسی ماته لاس راوُ غځوی او پدی خبره گواهی وکړی چی ما سرله اوس څخه خپل هغه پلانی بڼ د خدای پاک په لاره کښی صدقه کړ د کوم چی زه څښتن یم او په هغه کښی له ما سره هیڅوک هم شریک ندی . پدغه بڼ کښی نوموړی

Marfat.com

صحابي وو سوه د خرما ميوه لرونکي ونې د رلودې . او بيا له د خبرې کونې څخه وروسته نوموړې ولاړسو او خپل کاله ته لاړ . د ده مانديته او اولاد پدغه بڼ کښې ؤ سيدل . ده خپله ميرمن له خپله دغه اقدم څخه خبره کړه ' او د خپلې ښځې او اولاد په ګډون ئې دغه بڼ تخليه کړ او بختورې ميرمن ئې ورته وويل : «اى ابو دحداح ! ستا دغه سودا ستا لپاره ډيره ګټوره ده» .

**په اسلام کښې لمړنې وقف :**

کله چې دا آيات نازل شو چې : «لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون» . «يعنى تر هغه پورې تاسې ښيګڼې ته رسيدلاى نشي تر څو چې خپل خورا محبوب مال د خداى په لاره کښې ؤ نه لګوى» . حضرت ابو طلحه انصارى حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم ته وويل : «اى د خداى پاک رسوله ! ماته له خپلوګر دوشتو څخه د بيرحا کاريز ډير محبوب(۱) دى . او زه سر له نن څخه هغه د خداى پاک په لاره کښې صدقه او وقف کوم او له الله تعالى څخه ذ هغه د نيکى بدلى او اجر غوښتونکى يم ، تاسې چې څنګه ؤ غواړى په هغه کښې تصرف او وا کمنى کولاى شى» . حضرت رسول اکرم صلى الله

---

۱- پورتنى کاريز خورا خوږى او خوندورى ؤ به لرلى او دغه کاريز د حضرت طلحه رضى الله عنه په يووګړ باغ کښې وو او دغه تول بڼ د همدغه کاريز په نوم نو مولاى وو او په همدغه نوم مشهور وو .

Marfat.com

علیه وسلم ورته ؤ فرمایل چی: «نه نه دا گټور مال دی ، دا گټور مال دی . اصل یې په خپله ځانته او تولیت کښې ؤ نیسه او حاصلات ئې صدقه کړه» . دا صدقه په اسلام کښې لمړنی وقف وو . او بیا له دی نه وروسته د وقف لړی پیل شوه چی پدی توگه وقف هغه ستره ذریعه ثابته شوه چی له دغی لاری نه ټولنیزو مرکزونو او ادارو مالی مرسته تر لاسه کړه خپل اهداف او اغراض ئې په خورا نیک ډول تر سره کړای شو بلکه وقف زمونږ د تهذیب په تاریخ کښې د محک او بنسټ داسی رول ؤ لوبا وو چی په هغه باندی د گردو ټولنیزو سوکالیو او د ټولنی د گټی مرکزونه جوړ کړای شول.

د وقف ډیروالی :

په د اړکښې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د اسلامی امت لپاره یو اعلی او ارفع مثال قائم کړ . او هغه داسی چی د ده یوو نظامی منصبد اردمرینی په وخت کښې وصیت وکړ چی ما خپل بڼ حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته بخښلی دی هر څنگه چی ؤ غواړی او خوښه ئې وی په هغه کښې تصرف کولای شي . حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دغه باغ بې وزلانو مساکینو ، او اړه لرونکو غازیانو او نورو محتاجو وگړو ته وقف کړ . او بیا له د نه وروسته حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه د خیبر د سیمی خپله مځکه وقف کړه . او بیا نورو اصحابو او نبوی یارانو لکه حضرت ابو بکرصدیق رضی الله عنه، حضرت عثمان رضی الله عنه، حضرت علی رضی الله عنه ، حضرت زبیر رضی الله عنه ، حضرت

Marfat.com

معاذ رضی الله عنه هم هر یووپه خپل خپل وار سره دخپلوجایدادو
نو څه نا څه برخی وقف کړی او بیا له دوی نه وروسته گردو
نبوی یارانو د خپلو جایدادو نوځینی ونډی د وقف لپاره لمړنی
اسلامی حکومت ته وړاندی کړی. بیا د حضرت عمر رضی‌الله عنه
د خلافت‌په زمانه‌کښی د وقف موضوع‌له سرنه پیل‌شوه، اولمړی
ده په خپله یوه ځمکه د الله تعالی په لاره کښی وقف
کړه . او په همدغه کښی ئی د مهاجرینو او انصارو سپین روبی
راغونډ کړل او هغوی ټول ئی په خپل دغه نیک عمل باندی
گواه‌ان کړل . حضرت جابر بن عبدالله انصاری رضی الله عنه
فرمایلی دی : «د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له
یارانو څخه هر څو سړه چی زه پیژنم هغوی هر یوو څه نا څه
د ځمکی خپله ونډه هرو مرو د الله تعالی په رضا باندی وقف
او صدقه کړی ده . چی هغه نه پیرودلای شی ، او نه بخشش
کولای شی او نه هغه په وراثت کښی انتقال کیدلای شی.
او بیا د حضرت عمر رضی الله عنه له زمانی نه وروسته په هره
پیړی کښی د اسلامی ټولنې په منځ کښی د وقف لړی دوام ؤ
موند او دوی به خپلی ځمکی باغونه کورونه اوغلی د ټولنیزی
سوکالی په هغو چارو کښی خپلی اسلامی ټولنی ته وقف کولی
چی د هغوی لپاره به اسلامی ټولنی اړتیالر له . او پدی لړکښی
دومره زیات مرکزونه جوړ کړای شول چی شمیرل ئی ناممکن
وگرزیدل» .

**دوه ډوله وقف :**

د وقف مرکزونه په دوه ډوله باندی وو. ځینی ئی دا ډول

وو چې هغه به حکومت جوړول او هغوی د خپلو مالیاتو لپاره ډیر پراخه وتفی مرکزونه جوړول او دویم هغه ډول دی چې هغه امیرانو ، نظامي جنرالانو ، بډایانو او د اسلامی امت نورو شتمنو وګړو جوړول.

**د ټولنیزی سوکالی څو مرکزونه :**

زمونږ لپاره دا ممکنه نده چې پدې ځای کښې «د اسلامی تهذیب» د ټولنیزی سوکالی د مرکزونو ګرد ډولونه ذکر کړو له د امله مونږ د لاندنیو ضروری مواضعو په راوړلو باندی اکتفا کوو :

۱- د ټولنیزی سوکالی له مراکزو څخه لمړی مرکز جماعت دی . وګړو د خدای پاک د رضامندی د تر لاسه کولو په تکل د جماتونو په جوړولو کښې سیالی کوله ان تر دی چې مسلمانو سلاطینو هم په دی لړ کښې د جوړ کړای شو یو جماتونو په لوی والی او وسعت کښې یو له بل څخه د وړاندی والی هڅه کوله او د جماتونږ په ښه او ډیرو جوړولوکښی به ئې مقابله کوله . ولید بن عبدالملک د دمشق له ټولو څخه په ستر جماعت جامع اموی باندی په کوم اندول چې دولت ئې لګاوو او هغه ستر شمیر وګړو چې د هغه په جوړولو کښې ګډون کړی وو عقل د هغه له منلو څخه قاصر دی.

۲- له دی نه وروسته د ټولنیزی سوکالی په مرکزونو کښې په دویمه درجه کښې خورا مهم وتفی مرکزونه مدارس ښوونځی او روغتونو نه دی ، چې که خدای کول پرهغوی باندی به مونږ وړاندی په ځانګړی توګه بحث او څیړنه وکړو.

Marfat.com

۳- د هغو مسافرو لپاره چی له کاروان څخه به پاتی شوی وو د شپی تیرولو او ډوډی خوړلو لپاره ئی مرکزونه جوړ کړی وو چی په هغو کښی به مسافرو او نورو ضرورت او اړتیالرونکو وګړ هستوګنه کوله.

٤- داسی عبادت خانی چی په هغو کښی به هغه وګړی ؤ سیدل چی له شر او شور څخه به ئی ګوښه او سیدلو او انزواته ترجیح ورکوله اوهلته به د الله تعالی په عبادت باندی لګیا وو.

٥- د داسی بی وزلانو او مساکینو لپاره د خونو جوړول چی هغوی به د ځانونو لپاره د کور جوړونی ځواک نه لاره او نه به ئی د کرایه ورکولو وس د رلود.

٦- په عامو‌ا تونو کښی د لارو یو لپاره د او بوڅښلو د سړو بیو «سبیل» جوړول.

۷- داسی لنګر ځایونه چی په هغو کښی د بی وزلو معذورو او بی کاره وګړو لپاره به مجانا «ډوډی» غوښه، شوروا، او حلوا پخیدلی او ورکولای به شوی. په دمشق کښی د سلطان سلیم او د شیخ محی الدین لنګر ځایونه د نمونو په ډول زمونږ تر زمانی پوری موجودی دی.

۸- په مکه معظمه کښی د حج په ورځو کښی د حاجیانو د هستوګنی لپاره کوټی او هستوګنځی جوړول او دغه هستوګنځی اوتم ځایونه دومره زیات جوړ کړای شوی وو چی د مکی معظمی ټوله سیمه ئی نیولی وه. همدغه وجه ده چی ځینی فقها وو د مکی معظمی په چاپریال کښی په کرایه باندی د کور ورکول ناروا ګڼلی دی. څکه چی د دوی په وړاندی

Marfat.com

دغه ټول کورونه اصلاً د حاجیانو لپاره وقف دي.

۹- په د ښتو او کند و کښې د کاريزونو او ډنډونو جوړول ترڅو په هغوی کښې له جمع کړای شوو باراني او بوڅخه څاروی کروندګر او مسافران ګټه واخلي - دغه ډنډونه او کاريزونه د بغداد او مکې معظمې په منځني فاصله کښې کنل شوي او جوړ کړای شوي وو او همدارنګه دغه جوړ کړای شوي کاريزونه د مديني منورې او بغداد ترمنځ هم خورا زيات جوړ کړای شوي وو او په پورتنيوسيمو برسېره د اسلامي سلطنتونو د سلطنتي او نورو ښارونو مزارونو او دربارونو ترمنځ هم جوړ کړای شوي وو ، او دغه کاريزونه دومره زيات جوړ کړای شوي وو چې په هغه زمانه کښې د مسافرو لپاره د سفر په دوران کښې له تندې سره د مخامخ کېدلو هيڅ ډول مشکل نه پيدا کيده -

۱۰- د اسلامي هيوادونو په بريدليکو «سرحداتو» باندې د څارونکو او ساتونکو لپاره چوني او د تانو جوړول ، ترڅو کوم غليم او اجنبي مبرځن «دښمن» د هيواد بريد ليکو ته په نيږدې ودانيو او هستوګنو باندې ناڅاپي يرغل ونکړای شي - او ډېرې ډول باندې ډير داسې مرکزونه او اداري وي چې د دغو بريد ليکو د ساتونکو لپاره مخصوص کړای شوي وي' په دغو مراکز و کښې به د بريدليکو ساتونکو په بشپړډاد هستوګنه کوله او د ژوند ټولې ارتياوې ئې بې له ځنډ او خنډڅخه پوره کولای شوي - د مثال په ډول لکه ډوډې ، کالي ، دوسلې زيرمه او د ژوندنور لوازم - د دغه ډول د مرکزونو جوړونو نوښت او تاثير دا ؤ شو چې د مسيحيانو په دور کښې په بريدليکو

Marfat.com

باندې د روميانونا ځاى يرغلونه په بشپړه توګه پاى ته ورسيدل او همدغه ډول په شام «سوريه» او مصر باندې دلويديځو هيوادونو د صليبي يرغلونو مخنيوى وشو -

۱۱- له د څخه وروسته د آسونو ، تورو او نيز و او نورو جنګي الاتو د ځاى او خوندي ساتلو لپاره د اوقافووار راځي چې له د غو مركزو نوڅخه د مجاهدينو لپاره دغه شيان تعبيه كيدل - او د دې كارنوښت او تاثير د او وشو چې په اسلامي هيوادو نو كښي د جنګي وسلو جوړولو يرپر مختګ وكړ ، او زمونږ په ښارونو كښي ستري ستري كارخاني جوړى كړاى شوى- دلويديځو هيوادونو د سولې په ورځو كښي صليبي بريځي زمونږ هيوادونو ته راغلل اوله مونږ څخه ئې وسله پيرودله چې له همدې امله زمونږ عالمان د فتوى وركولو ته اړوتل چې په غليم باندې وسله پلورل شرعاً ممنوع دى .

د ځاى ته په را رسيدلو مونږ تم كيږ و او بايدوګورو چې زمونږ په دغه دور كښي حالات څه ډول التيه شوى دى - او اوس مونږ له لويد يځو هيوادونو څخه دوسلې ګدائي كوو او هغوى مونږ ته زمونږ د ضرورت وړ وسله پداسې شرطو نو باندې راكوى چې د هغو منل په بشپړه توګه زمونږ د خپلواكي ازادي او تولواكي خلاف دى -

۱۲- ځيني داسي اوقاف هم وو چې د هغوى ګټه او عوائد د هغو وګړو لپاره مخصوص كړاى شوى وو چې هغوى د خداى په لاره كښي د جهاد لپاره و تلي وو او له غليم سره په جنګ بوخت وو او حكومت د هغوى تولو دلګښتونو له وركولو څخه عاجز وو - چې د دغه كار او ابتكارمثبته نتيجه داسى لاس

ته راغله هر هغه څوک به چې د خدای په لاره کښې د جهاد لپاره وتل او د دغې عظیمې فریضې اداء کولو په تکل به ئې و تلوته ځان چمتو کړنو په پوره ډاډ او اطمینان سره به ته او ده ته به د جنګ لوازم او دارتیاوړ شیان په ډیره انسانی لاس ته

ورتلل - چې پـدی ډول به دغه غازی او مجاهد ددی دنیا په مقابل کښې د هغه جنت وړ او مستحق گرزیده چې د هغه پراختیا او وسعت د مځکې او اسمانونو له پراختیا څخه څو ونډی زیات دی - خو اوس زمونږ دا حال دی چې مونږ د وسلې ؤنی لمانځو او په دغه لمانځنه کښې مرسته غونډو وو تر څوله د لارې څخه فوځ و سلوال کړای شو، که چیرته په مونږ کښې تولنیز فهم او بصیرت او پیاوړی ایمان وای نومونږ به هره ؤنی نه بلکه هره ورځ له خپلو شتو څخه څه نا څه د همدی موخی لپاره و یستلای او د خپل فوځ لپاره به مو د جنګی او دفاعی اسبابو د جوړونی ستری ستری کارخانی جوړی کړی وای ترڅو زمونږ فوځ او دفاعی ځواک د هیواد د دفاع لپاره په ځواکمنو او پیاوړو فوځونو کښې ؤ شمیرل شی او د یرغل کوونکو اجنبی فوځونو په وړاندی دخپل هیواد ساتنی‌ته خپلی سینې سپر کړای‌شی.

۱۳- داسی اوقاف چې د هغوی گټه دپلونو واټونو د تعمیر او جوړونو او ترمیم لپاره خاص کړای شوی وه -

۱٤- او ځینی داسی اوقاف هم وو چې دایدیرو او قبرونو لپاره تخصیص کړای شوی وو او خلکو خپلی پراخه مځکی د ایدیرو لپاره وقف کړی، وی -

۱٥- ځینی داسی اوقاف چې دی بی وزلو او لاوارثو توکونو لپاره اختصاص کړای شوی وو -

Marfat.com

۱۶- د ټولنيز کفالت لپاره خوبې شميره مرکزو نه او اداري وي ـ خوپردی برسيره ځينې داسې خاص مرکزونه هم وو چې په هغو کښې د بې کسو کوچنيانو يتيمانو د ختنه کولو او د هغوی دروزنې او تعليم لپاره سرشته او انتظام نيول کيده ـ

۱۷- داسې اداري چې په هغو کښې د ړندو ، ګوډو ، شلو بې وزلو او نورو معذورو افرادو د ساتنې او په هغوی کښې د دوی ګرد لوازم او اړتياوی لکه خوراک څښتاک ، لباس هستوګنه ښوونه او روزنه په نيک ډول کيدل او دوی هلته په خورا د رناوی او عزت خپل ژوند تيرا وو .

۱۸- داسې مرکزونه چې په هغوی کښې د پوځيانو د هراړخيز حالت د ښه کولو ، او د هغوی د ژوند د سطح د لوړولو ، د هغوی لپاره د خوراک څښاک او د هغوی د روغتيا د ساتنې لپاره په بشپړه توګه ګرد لوازم تهيه کړای شوی وو.

۱۹- د داسې مرکزونو جوړول چې د هغو ګټې پر هغو کسانو باندې په ځانګړې توګه ؤ لګوی چې هغوی د شلو ، ګوډو ، ړندو او نورو کم ځوا که کسانو په خدمت مؤظف شوی دی . «او د دغه مصروفيت له امله هغوی نشي کولای له کومې بلې لارې او مدرک څخه د خپل ژوند هر اړخيزې اړتياوی او لوازم د ځانونو او کهول لپاره تهيه کاندی ـ»

۲۰- داسې مرکزونه او اوقاف چې د هغو له لارې څخه د هغو زلمينو هلکانو او پيغلو نجونو دواده او ازدواج سرشته وکړای شي چې د هغوی مشرانو او سرپرستو وګړو به د هغوی دواده د لګښتونو او د مهر د ورکولو ځواک نه لاره چې ـ د نکيرونو په لړ کښې دغه نکير څومره زړه سوانده او له مهرباني

Marfat.com

ښخه ړک وو او په اوسنی عصر کښی مونږ دغه ډول مرکزونو ته څومره اړتیالرو .

۲۱- داسی مرکزونه او اداری چی د کوچنیانو د میندو د پالنی لپاره جوړ کړای شوی وو - له دغو مرکزونو ښځه له هغوی سره نیغ په نیغه مرسته کیدله - دغو مرکزونو به ئی ورکوونکو میندو ته شو دی او بوره برابرو له - چی اوس دغه اداره زمونږ جمعیت «اخوان المسلمین» «د نقطة الحلیب» په نوم جوړه کړی ده ، او زمونږ دغه اداره او مرکز ډیر پخواجو ړکړای شوی وو او د هغه بنسټ خدای پاک د ته نیږدی والی او د هغه د رضامندی د ترلاسه کولو په نیت او ننګیر کیښودلی شوی وو - سلطان صلاح الدین ایوبی د هغو نیکو چا روپه لړ کښی چی ده کړی دی یوه دا هم وه چی ده خپل هستو ګنځی او کلا ته نیږ دی چی اوس هم هغه په دمشق کښی موجوده ده ، دوه چینی جوړی کړی وی - چه له یوی ښخه به شودی روانی وی او له بلی ښخه به خوږی او به بهیدلی- دتی خوړونکو کوچنیانو میندی به په ؤ نی «هفته» کښی دوه واری هلته راتللی او د خپلو کوچنیا نو لپاره به ئی له خپلی اړتیا سره سم شودی او بوره وړ له.

۲۲- بنائی تاسی ددی خبری په اوریدلو تعجب وکړی

Marfat.com

چې یو شمیر داسې مرکزونه هم جوړ کړای شوي وو چې د هغوی د نده او هدف یوازې دا وو چې د هغو کوچنیانو او مړئیونو لپاره کتنوی جوړی کړی چې له هغوی څخه به د سودا دراوړو په وخت کښې له لاسه غورځیدلی او ماتې شوی وی ـ داسې وګړی به بیا دغو اداروته را تلل او د خپلو ماتو کړو کتنوو په بدل کښې به ئې نوی کتنوی اخستلی چې پدی توګه به د کهول مشران هیڅ نه خبریدل چې له دوی څخه کتنوه ماته شوی او که نه ـ او دوی د کومې خطائې ارتکاب کړی دی او که نه.

۲۳ـ د پوړتنیو ټولو مرکزونو او ادارو وروستنی ډول هغه مرکزونه او اداری دی چې د ناروغه څارویو ددرمل کولو او هغوی ته د وښواو اوبو برابر ولو لپاره جوړی کړای شوی وی او همدارنګه دغو ادارو د څارویو د نارو غتیا په وخت کښې هغوی ته ځړ ځایو نه هم جوړ کړی وو ـ چې د هغو له جملی څخه یوه دمرج الاخضر» سیمه وه چې اوس هغه دښار والی له خوا د لوبو لپاره تاکل شوی ده ـ او دغه ځیل ځایونه ډیر ضروری وو ترڅو ناروغه څاروی د مړینې تر وخت هلته هوسا او سوکا له وخت تیر کړی.

لنډه دا د اوقافو هغه مرکزونه او اداری چې زمونږ تهذیب د ټولنیزی هوساینې او سوکالی لپاره جوړی کړی وی په دیرش ډوله دی او دا هم د نمونې په ډول وړاندی کړای شوی دي ـ ایا تاسې ددی کوم انځیر «مثال» د پخوانیو امتونو په کوم تهذیب کښې میندلای شی؟ بلکه له هغوی څخه زیات شمیر داسې وو چې د هغوی انځور په اوسنی هغه لوبدیځ تهذیب

Marfat.com

کښې هم نه مینډل کیږی کوم چې د ...وکالې او رفاهې چارو د کولو ډنډوری وهی او ځان د هغوی ټیکدار معرفي کوی.

الله تعالی گواه دی داد ژوند ددوام هغه لاره ده چې پرهغې باندی مونږ یواځې او تنها روان وو پداسی حال کښې چې گرده بشری نړی د غفلت ، ناپوهئی او وروسته پاتی کیدلو په تور تیارو کښې سرگردانه اولالهانده وه.

و الله دا د همیشنی ژوند انه هغه لاره ده چې پردی باندی په تلو سره په یوو وخت کښې مونږ په عذاب کښې مبتلا بشریت ته د هغه له کړا وو نو او مصیبتونو حخه نجات ورکړی وو.

خو مگر افسوس صد افسوس! چې نن مونږه په کومه لاره روان یو ـ څه شو هغه لاس چې د یتیمانو ږ ښکی به ئی پاکولی ، او په تېږی زړونو به ئی ملهم لگا وو څه شو هغه خلک چې زمونږ تولنه ئی یوه داسی ټولنه گرزولی وه چې په هغې کښې گردو گړی په امن او سلامتی ، عزت او عافیت کښې په ډیر خو ښئی خپل پتمن ژوند تیرا وو.

Marfat.com

# نهم باب

## مدارس ښوونځي او علمي اداري :

په تیره وینا کښې مونږ ' د اسلامي تهذیب د تولنیزي سوکالي د مرکزونو او ادارو د حیرانوونکو او مختلفو جولونو «اقسام» د یادونې په ترڅ کښې دا یادونه کړې وه چې د اسلامي امت بشر دوستي ، پدې هکله د ملت په روح باندې څه ډول اغیزه وکړه ـ او هلته مونږ د نوو مدرسو او روغتونونو د یادونې په هکله د ځانګړی بحث او وینا ژمنه کړې وه ، چې له خپلي ژمنې سره سم اوس مونږ پدې لړ کښې لمړی د اسلامي مدارسو او ښوونځیو په هکله وینا او څیړنه پیل کوو .

## اسلامي مدارس :

اسلامي مدارس او ښوونځي د نورو سترو وقف کړای شویو جایدادونو له ګټې او زیرمې څخه جوړ کړای شوي وو ـ چې دغه اوقاف په مختلفو وختونو کښې د مختلفو حکامو رهبرانو ، علماوو ' سوداګرو او پادشاهانو له پلوه جوړ کړای شوي وو او دغه مدرسي دومره ډیری وی چې د اسلامي حکومت په سیمه کښې هیڅ داسې کلی ښار او بانده نوه چې هلته مدرسه نوه جوړه کړای شوي او بیا په هغې کښې په سلګونو ښوونکي او استاذان په ښوونه او تدریس باندې لګیا او مصروف نوو .

زمونږ په تهذیب کښې جمات هغه لمړی ښوونځي وو چې

Marfat.com

له هغه څخه د مدرسی تدریسی وده او پرمختګ پیل شو - په تیره زمانه کښی جمات یواځی عبادت خانه نوه بلکه د جمات په انګړ «صحن» کښی مسلمانو کوچنیانو د قرانی علومو، فقه او شریعت، لغت او ادب او نورو علوسو زدکړه لیک لوست هم ترلاسه کاوو چی پدی اساس جمات د مسلمانانو یواځینی معبد او لمړنی ښونځی او د روزنی مرکز وو'' -

ښوونځی :

بیانو کرار کرار د وخت په تیریدلو سره د جماتونو په څنګ کښی دامی ښوونځی هم جوړ کړای شو چی هلته به د قران مجید په لیک لوست برسیره د نورو عربی علوسو او ریاضی درس هم ورکول کیده - دغه ښوونځی زسونیږ او سنیو لمړنیوښو ونځیوته ورته وو او دا دومره ډیر وو چی د ابن حوقل له احصائی او شمیرلو سره سم یواځی په صقلیه کښی چی یو ستوسط ښاروونیږ دی شپږ سوه ښونځی وو، او هریو د ومره پراخه وو چی ځینی وختونه به په یوو یوو ښوونځی کښی په سلګونو او زرګونو طالبانو او زده کونکو تعلیم او زدکړه کوله - لکه چی ابوالقاسم بلخی په خپل تاریخ کښی په خپله د خپل ښوونځی او مدرسی په هکله لیکلی دی چی په هغه کښی به په یوو وخت کښی دری زره زدکونکو تحصیل کاوو او د ده دغه ښوونځی دومره پراخه وو چی دهغه پلن والی او وږدوالی دومره وو چی څارونکی به دزدکونکو د حالاتو د څارنی او خبرا خستنی لپاره په سورلی سپورله یوسر څخه بل سرته ته - ''او پرته له سورلی څخه ورته ډیر سخته وه چی د هغی په انګړ کښی له یوسر څخه

Marfat.com

بل سرته لاړشي او په ناکلې وخت ورسپال شوی د نده سرته ورسوی او نه دا چې په دی أندول ډواځې یوځو نمایشي ښوونځي وو بلکه هریو او په هر ښار کښې دغه ډول ښوونځي په لسګونو او زرګونو موجود وو'' -

مدارس :

دښوونځیو له تعمیر څخه وروسته دجماتونو په څنګ کښې مدرسې هم جوړی کړای شوی د دغو مدرسو تعلیمي معیار د او سنیو ثانوی بکلوریا او فاکلتو معیارته ورته او له هغه سره برابروو په دغو مدرسو کښې زدکړه په بشپړه توګه د هرچا لپاره مجانی وه او د هری پاټکئي «طبقــی» وګړی به په هغو کښې له کوم خنډ او مانع څخه پرته دا خلیدل او زمونږ دنن سبا د ثانوی او لوړو زدکړو د مرکزونو په څیر په هغو کښې هیڅ ډول فیس نه اخستل کیده - همدارنګه په دغو مدرسو کښې زدکړه د کومې خاصې پاټکئي لپاره مخصوصه نوه بلکه د هغو د روازی په عامه توګه د هرچا پرمخ پرانستلای شوی وی او هرڅوک به چې ورته راته نوبی له ډیل نه به پکښې دا خلیدلای شوای هلته دبې وزلانو او بډایانو لپاره کـوم امتیاز تو پیراو کتګوری نوی او د دغـو د واړو پاټکیو وګړی به په دغـو مدرسوکښې دزد کړی لپاره څنګ په څنګ ناست وو - د امیران، سوداګر ، بزګر ، زیار کښې او د کارخانو د کارګرا نوزامن او داسې نور دوی ټول به په یووصف کښې سره ناست وو - د دغومد رسوشا ګردان په دو ونډ وویشل شوی وو یو ډول هغه بې وزله زدکوونکی وو چې د هغو مور او پلار او خپلوانو

د خپل اقتصادی حالت د کمزورتیا له امله نشوای کولای د هغوی اړتیاوی په مناسب ډول تامین کاندی دغوز د کوونکو ته په مدرسه کښی د ننه هراړ خبزی اسانتیاوی مهیا کړای شوی وی - د هغوی د خوراک څښاک دارو درملو د ملاستی او عبادت لپاره هر ډول داړتیا وړشیان تیار کړای شوی وو - او دویم ډول هغه زدکونکی وو چی د هغوی د کورنیو اقتصادی حالت په زړه پوری او یا متوسط وو ، دوی ته که څه هم دبی وزلو زدکونکو په څیر ښوونه او روزنه مجانی وه خودورځی به دوی په مدرسه کښی سبق وایه او د شپی به خپل کوراویا د خپلوانو کورونوته تلل او دلیلیه هغه امتیازات چی د بی وزلانو لپاره وو له هغو څخه دوی گټه نشوای اخستلای ځکه چی د هغو مستحق نوو . همدغه وجه وه چی په هر جمات کښی به مدرسه او په مدرسه کښی به درس گاوی ، دزدکوونکی د ملاستی خونی « اطاق » کتاب تونونه ، پخلنځی او حمام هرومرو موجود وو - او په ځینو مدرسو کښی دزدکوونکو لپاره د لوبو پراخه میدانونه هم جوړ کړای شوی وو ، چی په هغو کښی به زدکوونکو، بدنی سپورټ کا وو - او تراوسه پوری د اسلامی نړی په ځینوسیمو کښی د پورتنیو مدرسو لمونی موجودی دی چی په هغه وخت کښی گرده اسلامی نړی له دی ډول مدرسو څخه ډکه وه -

**زمادبی په توسه زما پسرلی ؤ پیژنه :**

اوس هم په د مشق کښی نوریه مدرسه موجوده ده - چی شهید امام نور الدین مرحوم جوړه کړی وه - اوس هم په « سوق الخیاطین » هغه د تیر شوی عظمت قصی او روی او د

Marfat.com

اسلامی تهذیب د عروج په زمانه کښی د مدرسو د عامو نقشو ځرک ښئی ـ او کله چی په وو مه هجری پېړی کښی مشهور سیاح ابن حبیب دغه مدرسه د لمړی ځل لپاره وُلید له نو دحیران نتیا په حالت کښی ئی د دی مدرسی په هکله داسی وویل چی :

''د نورالدین رحمةالله علیه مدرسه د دنیا په خورا ښائسته مدرسو کښی شمېرل کېږی ، دا مدرسه نه بلکه یولوړ او عالی محل دی ' پدی مدرسه کښی داوبویوه ستره ویاله تیره کړای شوی ده ، او د هغی په منځ کښی یوه فواره نصب کړای شوی ده ـ او له هغی څخه توئیدونکی او به په دوځانگو ویشل کېږی ' او بیا دغه د واړه ځانگی په هغه ستر حوض کښی سره تولېږی چی د دغه محل په منځ کښی وو ـ او د دغه منظر په لیدلو سره سترگی حیرانی پاتی کېږی''

سره له دی چی د زمانی ناخوالو پدی مدرسه ډېر ظلمونه وکړل أو وخت په وخت له هغی څخه ډېری ونډی جلا کړای شوی ، خوسره له دی اوس هم د هغی تعمیر ، درس ګاوی ، جمات او دا ستاذانو هستوګنځی او د هغوی د تدریس خونی موجودی دی ـ او په هغه وخت کښی له دغو خونو څخه داوسنیو فاکولتو د هستوګنی د خونو کاراخستل کېده ـ پدی مدرسه کښی تراوسه پوری هغه خاصه خونه هم شته چی په هغی کښی به سرښوونکی د خپل کهول او ټبر په ګډون هستوګنه کوله ـ دزدکونکو او د مدرسی د خدا موخونی ، هم تراوسه پوری موجودی دی ـ نن سبا د دی مدرسی ګاونډ یانو د مدرسی

Marfat.com

په پخلنځي ، د خوراک څښاک په ستر تالار ، او دغلو دانو اوسابو په زیرمه ځای «گودام» بالدی قبضه کړی ده ـ د دی مدرسی تعمیر د مسلمانانو د تیری زمانی د مدرسو یوه ژوندی نمونه ده ـ

همدارنگه «د شام» د حلب په ښار کښی ـ د تیری زمانی ملی ، سلطنتی او عثمانی مدرسی اوس هم موجودی دی ، چی په هغو کښی اوس هم د زدکوونکو هستوگنځی او د زدکړی درس گاوی جلا جلا موجودی دی ، لمړی په دغو مدرسو کښی د زدکوونکو اپاره د خوراک څښاک انتظام هم وو مگر وروسته بیا داسی پریکړه وکړای شوه چی د هری میاشتی په پای کښی دی زدکوونکوته میاشتنی نغدی پیسی ورکړای شی چی بیا همدغه لړی جاری کړای شوه او د ډوډی پرځای به وچ خرخ ورکول کیده ـ

همدارنگه د دغو مدرسو یوبل ژوندی انځور د مصر جامع از هر هم دی ، چی هغه په حقیقت کښی یوجمات دی ، او د هغه په مختلفو ونډو کښی د زدکړی او درس ټولگی جوړیږی د جمات په څلورو خواوو کښی کوټی جوړی کړای شوی دی چی په هغو کښی زدکوونکی هستیږی «رواق» ویلی دی چی په دغه مدرسه کښی د هرهیوا د طالبان جلا جلا ؤسیږی ـ د مثال په ډول ، شامیان ، ترکان ، سوډانیان او عراقیان تناتنا ؤسیږی ـ اوس هم داز هر ؤسیدونکی له مجانی تعلیم سره سره د هغه جائیداد له گټی څخه چی از هرته وقف کړای شوی دی میاشتنۍ تنخاه هم ورکول کیږی ـ

Marfat.com

**دښوونکو حالات او د هغوی تنخاوی :**

د اسلامی مدارسو د حالاتو د بیانونو په لړ کښی موښ ته لازمه ده چی موښ د دغو مدرسو د ښوونکو او د هغوی د تنخاوو په هکله هم یا دونه وکړو۔ د دغو مدرسو سر ښوونکی به همیشه په نورو باندی په هرارخیزه توگه ډیرستر فاضل او لوړ عالم وو۔ چی په خپل مسلک کښی به خورامشهور او نومیالی وو۔ د نومیالیو عالمانو د ژوند له بیوگرافیو ښخه ښرگندیږی چی هغوی به چیرته او په کومو مدرسو کښی تدریس کا وو۔ د مثال په ډول امام نووی ' ابن صلاح ابو شاتقی الدین سبکی او عماد الدین دد مشق په دارالحدیث کښی تدریس کا وو۔ ''غزالی ، شیرازی ' امام الحرمین .علامـــه شاسبی ، خطیب تبریزی ، قزوینی ، فیروز ابادی او داسی نورو د بغداد په نظامیه مدرسه کښی تدریس کا وو۔ دښوونی او روزنی په لمړنیو زمانو کښی ښوونکو د تدریس او ښوونی په چارو باندی هیڅ ډول مزدوری او بدله نه اخستله مگر کله چی اسلامی تهذیب د عروج پړاوته ورسیده ، ستری ستری مدرسی جوړی کړای شوی او هغوی ته ستر ستر جایدادونه وقف کړای شو بیانو د مدرسینو او ښوونکو لپاره هم میاشتینی تنخاوی وټاکل شوی۔ پدی لړ کښی د ماوراءالنهر د علما وو په څېرنیا او هوښیار تیا باندی د لاندی دلائل ټونکی پیښی یادونه بی مناسبه نده او هغه دا کله چی نظام‌الملک «طوسی» د ماوراءالنهر په سیمو کښی ، خپلی مشهوری مدرسی جوړی کړی او په هغو کښی د ښوونکو لپاره ئی میاشتینی تنخاوی وټاکلی نو د ده په دی اقدام باندی

علما وو د یوی غونډی په ترڅ کښی احتجاج وکړ او د نوموړی دغه ابتکارئ په کلکه سره وغانده . علما وو پدی کار خپله خواښېنی څرګنده کړه او داسی ئی وویل اوس نو د علم د فضیلت د هغه د برکت او درناوی زوال پیل شو . له د نه وړاندی سپیڅلو نفوسو او د لوړ عزم څښتنانو د پوهنی او علم زدکړه کو له او هغوی به د علم زد کړه یواځی د هغه د مجد او شرف او کمال د لاس ته راوړو په تکل کوله ، مګر کله چی اوس له علم سره مادی ګټه تړلای کیږی نو له د نه وروسته به د دنیوی اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر د شخصی ګټو حریص وګړی د علم د زدکړی په لوری مخ کړی ، چی د دی کار نتیجه به داشی چی علم به په خپله خپل درناوی او فضیلت له لاسه ورکړی او په هغه کښی به ضعف او کمزورتیا هم جوته شی او د هغه به توهین او سپکاوی هم وکړای شی . مګر د دغو وګړو د پورتنی خطر دغه اڅیر او د هغوی دغه معقوله نظری څرګندونه دژوند د بدل شوو حالاتو او د تمدن د نوو نوو غوښتنو له امله ؤنه منل شوه . چی په نتیجه کښی داستاذانو او ښوونکو د تنخاد تاکلو تصویب شوی اعلان عملاً نافذ کړای شو ، او هغه به د چاپریال او سیمو ، د مدرسو او د هغوی د او قافو په تناسب په ځینو سیمو کښی کمی او په ځینو کښی زیاتی وی مګر په د واړو صورتونو کښی په دومره اندول تنخا تاکلی شوی وه چی مدرس او استاذ په هغی باندی په زړه پوری او ارام ژوند دولای شو او د وخت له غوښتنو سره سم د هغوی ګردی اړتیاوی ئی پوره کولای شوای . بلکه د دوی له اړتیاوو څخه په

Marfat.com

هره سیاست کښې به تیا کلی تنخا زیاتید لههم سلطان صلاح الدین د خپلې ملاحیه مدرسې سرښوونکی یو ستر عالم شیخ نجم الدین جوشانی مقرر کړی وو ، ده ته سلطان صلاح الدین د میاشتې څلویښت پونډه د تدریس او ښوونې تنخا ورکوله ، لس پونډه به ئې د اوقافو د څارنې په بدل کښې ورکول او د ډوډۍ لپاره به ئې هره ورځ شپیته مصری رطل ورکول او د څښاک لپاره به ئې دوه ژیه د نیل د دریاؤ به ورته ورکولی . د از هر د مدرسې سرښوونکی ته په نورو خرڅ ورکولو برسیره د مېړلی خرڅ هم ورکول کیده چې دا به د ازهر له هغه خاص او ځانګړی وقف څخه اخیست کوم چې از هر د سرښوونکی د آس لپاره تیاکل شوی وو . چې دغه خرڅ په دغو نیږدی وختونو کښې نیږدی سل پونډه کیده، چې بیا وروسته دغه خرڅ هم د ازهر درئیس په تنخا کښې ؤ شمیرل شو .

د ښوونې او تدریس د نده څنګه خلکو ته غاړه لرله :

د تدریس او ښوونې د نده یواځې هغو وګړو تر سره کولای شوای چې د هغو د علمی استعداد په هکله به تیا کلی هیئت د دې خبرې تصدیق وکړ چې هغه په بشپړه او هر اړخیزه توګه د تدریس او ښوونې صلاحیت او اهلیت لری . د اسلام په لمړنیو زمانو کښې خو دا دود وو چې استاذ به په خپله لایق شاګرد ته د دې خبرې اجازه ورکوله چې که دی ؤ غواړی نو د استاذ د درس له تولی څخه ګوښه کیدلای شی او په خپله د استاذ په توګه یو علمی تولګی تشکیلولای شی او یا به د استاذ له مرګ نه وروسته د هغه د شاګردانو له جملې څخه له تولو څخه غوره ، او ممتاز شاګرد د استاذ پرګدی د تدریس لپاره کښیناستلو

Marfat.com

ته انتخابو لای شو ، او که چیرته به داسی یو شاګرد له دی کار څخه سرغړونه کوله نو هر چا به پر هغه باندی پره «ملامتی» غورځوله او په هغه باندی به سخته نیونه «اعتراض» کیدله د قاضی ابو یوسف چی د امام ابو حنیفه یو عزت مند شاګرد وو او د هارون الرشید د خلافت په دور کښی قاضی القضاة وو ـ د ده د ژوند له پیښو څخه یوه دا ده چی دی د امام ابو حنیفه په ژوند کښی یو ځل سخت رنځور شو ـ امام ابو حنیفه «رحمه الله» د ده پوښتنی ته لاړ او د ته ئی وویل چی ستا له سختی ناروغتیا څخه زه ډیر خواشینی یم ځکه چی ستا په هکله زما نظر دا دی له مانه وروسته به یوازی ته ئی کولای شی چی د مسلمانانو هیلی پوره کړای شی ـ امام ابو یوسف ته الله تعالی صحت ورکړ او ده له روغتیا څخه وروسته ډیره زمانه ئی نکړای شول چی د خپل استاذ امام ابو حنیفه ریما رک ئی زغمی همغه وو چی ده په ځانګړی توګه د تدریس یوه کړی جوړه او تشکیل کړه ـ امام ابو حنیفه ته معلوم وو چی ابو یوسف تر اوسه پوری غبتلای شوی ندی ـ له همدی امله هغه پنځه داسی دقیقی او سختی پوښتنی چی د هغوی د ځواب لپاره تفصیلی وضاحت ته اړتیاوه د چا په لاس ابو یوسف صاحب ته ئی لیږلی ، ترڅو هغه د دغو پوښتنو ځواب ووائی ـ او کله چی امام یوسف صاحب د دغو پوښتنو ځوابو نه غلط وویل په همغه وخت کښی ده دا خبره احساس کړه چی له استاذ څخه په ګوښه کیدلو ده غټه اشتباه کړی ده همغه وو چی خپله ځانګړی د ښوونی کړی ئی بیرته رنګه کړه او د استاذ په کړی کښې ئی زد کړی ته زنګون وواهه ـ امام ابو حنیفه ورته ئی فرمایل : «ته له پوخ والی څخه وړاندی

Marfat.com

وچ شوی ئی ـ او که څوک دا فکر وکړی چی دی نور د علم له زدکړی او تحصیل څخه مستغنی دی نو داسی کس باید په خپل دغه فکر کولو باندی ژړا انګولا او ماتم وکړی» دا وو ابتدائی حالات مګر کله چی مدرسی جوړی کړای شوی بیا به نوهغو طالبانو ته لیکلی بری‌لیک او ډګری ورکول کیدله چی هغوی به د خپل تحصیل تاکلی دوره پای ته رسوله ـ او بیا په خاصه توګه د طب زد کونکو ته څو تر هغه وخته د کار کولو اجازه نوه چی رسمی سند به ئی په لاس نه لاره ـ او دغه سند به د مدرسی سترو استاذانو ورکاوو او د هغوی لاس لیک به پری شوی وو .

د ښوونکو کالی :

د مدرسی د استاذانو او ښوونکو به یو خاص ډول لباس وو چی د هغوی په اغوستلو به دوی له نورو خلکو څخه ممتازوو. د امام ابو یوسف په وخت کښی چی کوم لباس استاذانو اغوست هغه توره پګړی او تور څادر وو ـ او د فاطمیا نو په زمانه کښی د استاذانو شنه پګړی او له شین ډوله توتو څخه جوړ کړای شوی طلائی رنګ لباس به وو چی په هغو کښی‌به ډیره مهمه خولی او څادر وو ـ پاتی شوه هغه چپن چی علماوو او ښوونکو به اغوستله او د هغوی لپاره به مخصوصه وه ـ د هغی اختصاصی اُغوستل داموبانو د خلافت له دور څخه پیل شوی وو ـ د اندلس د مدرسینو او علماوو خصوصی لباس د ختیځ علما وو له مخصوص لباس څخه څه نا څه مختلف وو ـ او زیات اختلاف د پګړی په کیفیت او کمیت کښی وو ، هغوی به

Marfat.com

کوچنی پګړی' په سر کوله . او ځینو خو بیخی په سر کوله هم نه . او همدغه وجه وه کله چی مشهور ادیب امام ابو علی ناسی ' اندلس ته لاړ نو د هغه ځای علما وو د ده تو د هر کلی وکړ او کله ئی چی د ده په سر باندی غټه پګړی ؤ لید له تول ورته حیران شول او ځینو نا پوهانو خو د هغه په پګړی' پوری مسخری او ملنډی همو کړی او هغه ئی په کوچنیو کوچنیو شګو وویشت . لویدیځو قاموسونو د لباس اغوستل د اندلس له مسلمانانو څخه زده کړل او د اروپا په پوهنتونو نو کښی استاذانو به چی دپیژند ګوی لپاره کورتی او د غاړی روی مال استعمالول چی تر اوسه پوری هغه دوام لری د هغوی ماخذ د مسلمانو استاذانو لباس دی .

**د استاذانو انجمن :**

په همغه دور کښی په منظمه توګه د ښوونکو او مدرسینو خپلواکه دامی انجمونه جوړیدل لکه څنګه چی نن صبائی زد دوونکی ، ښاریان او د مختلفو کسبونو اتحدئی نی په ځانګړی ځانګړی ډول کوی . استاذانو بـه لـه خپل منځ څخه نمایندګانـ او رئیس ؤ ټاکل او دوی پدی عکاه خپلواک وو . حکـومت بـه هغـه وخت پدی موضوع کښی مـداخلت کاوو چی د دوی په منځ کښی به په خپل منځی انتخاباتو کښی اختلاف پیدا شو ، ابو شامه «په خپل کتاب ' روضتین کښی له مقلد دولعی څخه روایت کړی دی او ویلی ئی دی کله چی حافظ مرادی وفات شونو په هغه وخت کښی زمونږ د خلکو یعنی د علما وو جماعت په دو ډلو منقسم وو. عرب او کرد. او زمونږ په منځ کښی اختلافات پیدا شول . له مونږ څخه د

Marfat.com

ځینو وګړو تمایل د فقه په لوری وو . له همدی امله د دغه ډول وګړو غوښتنه او زیار داوو چی د حافظ مرادی پرځای باید شیخ شرف الدین ابو الخضرون ؤ ټاکل شی او د ځینو نورو تمایل دنظری او اخلاق علومو په لوری وو، اوهغوی غوښتل چی قطب الدین نیشا پوری دی د حافظ مرادی پرځای ؤ ټاکل شی.

او دهمدغه اختلاف له امله زمونږ په منځ کښی یو ستر فساد پورته شو . او پدی اختلافاتو باندی شیخ نور الدین خبر شو ، هغه سم له لاسه د جماعت مخور او پوه وګړی ځان ته ورؤ غوښتل او له هغوی سره ئی د مجد الدین بن الدایه د سلطان له پلوه د کفیل او مرستیال په توګه مخاسخ کړ او هغه دوی ته وویل چی سلطان وائی چی ما نوریه مدرسه د دین او علم د زد کړی او خپرونی لپاره او د هر ډول دودونو او بدعتونو د پای ته رسولو په تکل جوړه کړی وه او هغه مو د خپل منځی اختلافاتو او شخړو لپاره نده جوړه کړی ستاسو حضراتو دغه اوسنی خپل منځی اختلاف په هیڅ ډول مناسب ندی . له همدی امله مونږ د تاسی دوارو ډلو مطلوب دواړه شخصیتونه را غواړو . هغه وو چی دغه دواړه ئی راوستل او شرف الدین ئی د نوریه مدرسی او قطب الدین ئی د «نغری مدرسی» رئیسان ؤ ټاکل .

**ځو مشهوری مدرسی او د هغوی بنسټ کښی ښودونکی :**

مدرسی او بیا په خاصه توګه لوړی تعلیمی اداری او مرکزونه دومره ډیری وی چی ګرده اسلامی نړی له لوړو مدرسو ډکه وه . اسلامی تاریخ په ډیر افتخار او تعجب سره د ځینی داسی اسلامی نومیالیونومونه وړاندی کوی چی هغوی د اسلامی نړی په سترو سترو ښارونو کښی د مدرسو په

جوړولو کښي مهم او په زړه پوری رول لو بولای دی ، د دغو وګړو سالار او لمړی شخصیت صلاح الدین ایوبی دی. نوموړی د مصر ، دمشق ، موصل او بیت المقدس په سیمو کښي ځای په ځای د مدرسو د جوړونی هر اړخیزی هلی ځلی کړی وی. نور الدین شهید هم له هغو شخصیتونو څخه وو کومو چی د علمي مدرسو په جوړونه کښي تاریخي رول لوبولی وو . نوموړی یواځی په شام کښي څوارلس مدرسي جوړی کړی وی چی شپږ په دمشق ، څلور په حلب ، دوه په حماة دوه په حمص او یوه هم په بعلبک کښي وی ـ همدارنګه د آل سلجوق لمړی وزیر نظام الملک طوسی هم په خپل وار سره پدی هکله اسلامی نړی ته په زړه پوری خدمتونه کړی دی نوموړی عراق او خراسان له مدرسو څخه ډک کړی وو . مؤرخینو ویلی دی چی نوموړی د عراق او خراسان په هر ښار کښي د عالی تحصیلاتو یوه مدرسه جوړه کړی وه. او په نورو نیږدی او لری سیمو کلیو او بانډو کښي ئی هم مدرسي جوړی کړی وی د مثال په ډول «نظام الدین طوسی» د ابن عمر په ټاپوګ کښي یوه عالی مدرسه جوړه کړی وه چی خورا ښائسته وه ـ او په هر ځای او هره سیمه کښي به چی د کوم علمي فن د ماهر له موجودیت نه خبر شونو په هماغه سیمه کښي به ئی هغه ته یوه مدرسه جوړوله او د دی په څنګ کښي به ئی هماغلته د اوقافو لپاره تدارکات نیول او یو ستر کتابتون به ئی هم جوړا وو .

د بغداد نظامیه مدرسه د ده د مدرسو له جملی څخه د پاملرنی وړ او خورا مهمه مدرسه وه د پنځمی او نهمی پیړیو په منځنی زمانه کښي له دغی مدرسی څخه خورا ستر ستر عالمان

Marfat.com

فارغ شوی وو. په یو وخت کښې به د دغې مدرسې دطالبانو او زدکوونکو شمیر تر شپږو زرو پورې رسیده - او پدغه مدرسه کښې به د اسلامي هیوادونو د سترو سترو رئیسانو او امیرانو زامن او د خورا بې وزلو وګړو زامن ټول په یوځای او څنګ په څنګ او دا جرت له اختسلو څخه پرته ناست وو او پوهه به ئې ترلاسه کوله ، بلکه د بې وزلانو د زامنو لپاره په مجانی تعلیم برسیره تنخاوی هم مقرری کړای شوی وی ، او هغه به ئې د وقف کړای شوو محکو لــه حاصلاتو او ګټو څخه ورکولی.

یو لړ داسې منصب دار ، سوداګر اوغنیان وګړی هم وو چې هغوی یو پر بل پسې د مدرسې په جوړولو او د اوقافو په پیاوړتیا کښې یو له بل څخه د سبقت هڅه کوله ترڅو د اوقافو په وجه مدرسوته وتښیزه مرسته حاصله وی او زدکوونکی په پوره ډاډ سره په دغو مدرسو کښې د زدکړې لپاره زړه ښه کړلای شي - او ځینې ډیر داسې شخصیتونه هم تیر شوی دی چې هغوی خپلې خونې او کورونه په مدرسو تبدیل کړی وو او په هغوی کښې به چې هر څومره کتابونه وو او یا له هغوی سره کوم جایدادونه تړلی وو هغه ئې ټول د زدکوونکو لپاره وقف کړی وو.

د همدغو پورتنیو عواملو له کبله په ګرده اسلامي نړی کښې عموماً او په ختیځو سیمو کښې خصوصاً مدرسې خورا ډیری شوی وی . د اندلس مشهور ګرځندوی «سیاح» ابن جبیر د دغو مدرسو ډیر والی د هغوی د اوقافو د پراختیا او د هغوی د پریمانه ګټو په لیدلو سره په حیرانتیا کښې پرې وتلای وو.

Marfat.com

او کله چی خپل هیواد اندلس ته بیرته ستون شونو خپل هیواد وال به ئې د ته هڅول چی هغوی ختیځ ته لاړشی او هلته علم ترلاسه کړی ـ هغه ویلی دی .

«په ختیځو سیمو کښی د زده کونکو لپاره بې شمیره اوقاف دی ، او بیا په خاصه توګه په دمشق کښی ـ زمونږ لویدیځ «اندلسی» زده کوونکی که غواړی چی په ډاډه زړه علم زده کړی نو هغوی باید هلته لاړشی ـ دوی ته به هلته ډیری داسی ګټی لاس ته ورشی چی هغه به په زده کړه کښی له دوی سره مرسته وکړی ـ او بیا په خاص ډول په وتنیز اړخ «اقتصادی» کښی خو به بیخی بیغمه وی ـ»

د ابن جبیر دا ګواهی له ستر ارزښت څخه ډکی دی څکه چی هغه د پیښو او واقعاتو په بیانولو کښی ، له تولو څخه زیات ریښتین او دیانت لرونکی ګرزوندوی «سیاح» دی ـ او نوموړی د مدرسو او اوقافو په ډیر والی کښی دمشق په خاصه توګه ستایلی دی . او دا هم یو تاریخی حقیقت دی څکه چی په دمشق کښی څلور سوه ودانی مدرسی وی چی هغوته به د زده کړی لپاره له لری څخه زده کوونکی او طالبان را تلل او پدی لړ کښی دا تاریخی یادونه هم له دلچسپی څخه خالی نده په دمشق کښی د مدرسو د ډیر والی دا حالت وو چی که یو طالب به دمشق ته د یو کال د هستوګنی لپاره د زده کړی په تکل راغی ، نو هغه ته به په هره مدرسه کښی د یوی شپی له تیرولو څخه زیاده زمینه نه برابریدله او په هره مدرسه کښی به په یوی شپی تیرولو کال ختم شو .

Marfat.com

ابن عساکر په خپل تاریخ کښې د سلطان بن علی منقذکتانی
هغه قصیده نقل کړې ده چې هغه د دمشق د فضیلت په ستاینه کښې ویلې ده ـ نوموړی په خپله دغه قصیده کښې د دمشق د مدرسویادونه په لاندنیو تو روکی کړې ده .

«هلته داسې درس ورکونکی دی ، چې که چیرته ته د هغو په وړاندې ډیره مشکله پوښتنه هم وړاندې کړې ، نو د هغوی له جملې څخه به ته هریو داسې زلمی بیاموسی چې هغه به تا ته سم لاسی تحلیل کاندی ـ هلته هر څوک چې هرډول علمی ربړه له ځانه سره یو سی نو د هغه ربړه به هرو مرولری کړای شي او هغه به سمه لاره بیاموسی او که څوک له فکری نظره بې وزلی وی سم له لاسه به شتمن او بډای شی د دغو مدرسود او قانوله ګټو څخه بندیان ازادی ترلاسه کوی او بې وزلان شتمن کیږی ـ هلته داسې امامان دی چې د علومو درس ورکوی او د تږنښی داسې سالاران هلته شته چې د نارو غوزړونو او نفسونو لپاره درمل دی که څه هم دغه نارو غتیاوی ډیری کړ کیچنی وی».

د مدرسو لپاره د او قافو څو مثالونه :

اوس به مونږ یوڅو داسې مثالونه وړاندې کړوچې له هغو څخه د او قافو د ډیروالی اندازه معلومه شي ـ د دمشق د نوریه کبرئ د مدرسې د او قافو ، هغه فهرست چې د دغې مدرسې په دروازه باندې ثبت شوی دی د هغه له شمیر سره سم د دغې مدرسې اوقاف په لاندې ډول دی .

د دمشق د ښار د غنمو د منډئ تول حمامونه او د

Marfat.com

باب السلامه نه بهر دوراقه دوه نـوی حما مـونه او دغـو
د وارو حمامونو ته نښتې تعمير «عويثه حمىا» کارخانه د اوراق
او وزير باغچه ، دارزه د جوزه بن نيمائی او څاورمه ونډه۔
له باب جابيه څخه بېريوولس د کانونه او د داريا نه فصلونه۔

**د حلب د نوری روغتون اوقاف په لاندی ډول وو :**

د معرا ټول کلی ، د جبل سمعان سيمه او ورسو، د عسل
د مزروعه او کښتمنی مځکی نيمائی ونډه ، د کفرتا ناکی له
مځکی څخه پنځه کلبی «فدان» جوړه او د خالدی د کښت يوه
ونډه او د مطبخ يوه ونډه همدارنګه د باب الخبان په ورلندی
څومره مځکه چی وه د هغی ټول عوائد او د اعزاز د ابو
مرايا د کښت دری کولبی مځکه ۔ او د پخلنځی لپاره
د سابو ځای له حمير څخه اته کولبی مځکه، د معرکه کښت
د فرزل يوولس کولبی مځکه د غزبيات ټول کلی د «بيت راعبل»
له ټولو عوائدو څخه يوه ونډه د سوهوا ، بازارلس دکانونه
د الطاکيه ، منح او جنان له بابو نو څخه بهر ټول دکانونه».

د دمشق د جماتو او مدرسو لپاره د اوقافو ډيروالی
اندازه له د نه معلوميږ لای شی چی امام نووی متوفی ۶۷۶ھ
په خپل ټول ژوند کښی په دمشق کښی پيدا کيدنکی ميوه
هيڅکله‌ؤ نـه خوړلـه ۔ ځکه چـی د «غـوطه» زياته برخه
او د دمشق د نـوروځا يـو نـو هم زيـات بـاغـونه
په حقيقت کښی وقف وو . چی بيا وروسته د يکتاتورو او ظالمو
وګړو غصب کړل.

**د مختلفو علومو او فنونو لپاره ځانګړی مدرسی :**

Marfat.com

ډیری مدرسی داسی وی چی په هغو کښی به هر علمی فن لوستل کیده . مگر ځینی داسی مدرسی هم وی چی په هغو کښی خاص د یوو فن زد کړه او تعلیم کیده . د مثال په ډول په ځینو مدرسو کښی یواځی د قرآن مجید تفسیر ، قرأت او د هغه حفظ کیده . او په ځینو کښی یواځی د حدیثو علم او په هغه پوری مربوط فنون لوستل کیدل . او ځینی نوری داسی مدرسی هم وی چی په هغو کښی یواځی فقه او اصول فقه لوستل کیدل چی د نورو مدارسو په انډول د فقهی مدرسو شمیرله ډولو ښخه زیات وو . او بیا د هر مذهب او مسلک د فقهی د لوست لپاره ځانګړی مدرسی وی . همدارنګه ځینی مدرسی د علم طب د لوستنی لپاره خاص کړای شوی وی او ځینی داسی مدرسی هم وی چی د یتیمانو لپاره خاص کړای شوی وی .

علامه نعیمی چی د لسمی هجری پیړی په علما وو کښی یو ممتاز شخصیت وو ، په خپل کتاب الدارس فی تاریخ المدارس کښی د دمشق د مدرسو او د هغوی د او قافو بشپړ او مکمل فهرست لیکلی دی . چی له دغه کتاب ښخه مونږ ته دا خبره معلومیږی چی په دمشق کښی یواځی د قرآنی علومو د زد کړی لپاره وو مدرسی وی . او د حدیثو د زد کړی لپاره شپاړس . د قرآن او حدیثو لپاره مشترکی دری مدرسی . د شافعی فقه لپاره دری شپیته ، د حنفی فقه د زد کړی لپاره د وه پنځوس مدرسی ، د مالکی فقه د زد کړی لپاره څلور مدرسی ، او د حنبلی فقه د زد کړی لپاره یو ولس مدرسی وی . په د برسیره د طب

Marfat.com

مدرسی په هر ځای کښې لنگر خانې او جامع جماتونه هم زیات شمیر وو . چې په دغو ټولو کښې هم د مدرسو په څیر زده کړه کیدله او علمي شخصیتونه ورڅخه فارغیدل .

**په هغه وخت کښې د اروپا څه حال وو ؟ :**

له د سره سره که مونږ د غربیانو هغه حالت بیان کړو چې دوی په هغه زمانه کښې په هغه باندې مبتلا وو بنائي زمونږ له پورتني بحث سره مناسب وي . تاسي به د دې خبرې په او ریدلو سره حیران شي چې اروپایان په هغه وخت کښې سل په سلو کښې جاهل ناپوه او بې سواده وو . په اروپا کښې هغه وخت علم یواځې د راهبانو ترسینو او د کلیسا گانو تر څلورو د یوالونو پورې محدود وو او د هغه زده کړه یواځې په کاهنانو او کشیشانو پورې مخصوصه کړای شوې وه . له دغه تقابل څخه په آسانۍ سره څرگندیږي چې زمونږ د تهذیب په عروج کښې اسلامي ټولنه «د پوهې تمدن او فرهنگ څومره د نګواو هسکو څوکو ته رسیدلې وه . د ټولنیزو مراکزو او علمي ادارو د تاریخ له نظره زمونږ د تهذیب فعالیتونه څومره عالي او بې سیاله دي ؟ او بل دا چې اسلام څنګه په پراخه پیمانه د علم د خپرونې ، او د اسلامي تهذیب د سطح د لوړوالي او هسکولو ، او د هر مذهب او ملت د گردو وگړو لپاره د پورتنیو شیانو د لاس ته راوړو لپاره داسانتیا وو او زمینې په برابرولو کښې هرار خیزه ونډه واخستله ؟

علامه ابن کثیر په خپل کتاب البدایه والنهایه کښې د ۶۳۱ هجري کال د پیښو د یادونې په لړکښې په لاندې ډول یادونه کړې ده :

Marfat.com

«په همدغه کال کښې د بغداد ، د مستنصر د مدرسې تعمیر بشپړ شو . او له د نه وړاندې هیچېرته هم داسې مدرسه نوه جوړه شوې . دغه مدرسه د څلورو واړو فقهي مذاهبو لپاره وقف کړای شوې وه ، او د هر مذهب د وه شپېته ښوونکو فقها وو په دغه مدرسه کښې کار کاوو . چې له هغوی څخه به څلور کسه متخصصین وو . د هر مذهب به یو یو مدرس ، یو شیخ الحدیث ، د وه قاریان ، لس کسه سامع یو د طب استاذ ، او لس کسه داسې مسلمانان وو چې طب به ئې زده کاوو . «په دغه مدرسه کښې» د یتیمانو لپاره یو ځانګړی ښوونځی هم وو ، د هر زد کوونکی او طالب العلم لپاره تاکل شوې دوډې ، غوښه بوره او د نورو لګښتونو یوه خاصه اندازه ټاکل شوې وه چې د هغوی له اړتیا وو څخه به هم زیاتیدله» .

«علامه ابن کثیر» وړاندې لیکي چې :

«او د دغې مدرسې لپاره یو داسې کتابتون وقف کړای شوی وو چې د هغه ساری تر اوسه پورې نده او ریدل شوی ، په دغه کتابتون کښې په ستر او زیات شمیر داسې کتابونه وو چې په خورا ښه او ښکلي خط لیکل شوي وو او د هر فن خورا ښکلي کتابونه پکښې را ټول کړای شوي وو» .

Marfat.com

# لسم باب

## روغتولونه او طبي مدرسې :

زمونږ تهذيب چې په کومو بنسټونو پورته کړای شوی دی له هغو څخه يو دا هم دی چې په هغه کښې د بدني او روحاني دواړه جولونـو اړتيـا وی پـه نظر کښې نيولی شوی دی.

اسلامي تهذيب بدنې ودې او روغتياته پوره پاملرنه کړې ده تر څو له روښانه روح لرلو سره سره بشريت د پرمختګ هسکو مدارجو ته ؤ رسيدلای شي . پدې لړکښې د اسلامي تهذيب د بنسټ کيښنو دونکی حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم له ارشاداتو څخه دا لاندنی توری د غور او پاملرنې وړدی .

«ان لجسدک عليک حق» (رواه البخاری و مسلم) . «په يقيني توګه پرتا باندی ستا بدن حق لري». د اسلام ګرد عبادتونه له په غور او دقت سره مطالعه کړای شي نو په هغوی کښې به هرو مروؤ ميندل شي چې دعلم طب په مهمو اهدافو کښې، دروغتياد حفظان هغه ډول اصول په نظر کښې نيول شوی دی.(۱) لکه چې د

---

۱- علي بن عباس د علم طب د ارنګه تعريف کړی دی :
«دا يو علم دی چې په هغه کښې د روغتيا د ساتنې او د ناروغانو لپاره د روغتيا د اعاده کولو په هکله څيړنه او بحث کيږی .

Marfat.com

لمانځه، روژی او حج لپاره ځومره شرطونه او قیود وضع کړای شوی دی او هغه څه چی دهغو داداء کولو په دوران کښی د هغو په کولو جسم مامور کړای شوی دی هغه ټول د روغتیا د حفظان او ساتنی او د بدن د روغ رسټ او تازه ساتلو لپاره خورا ګټور دی . او د دی پرخنګ کښی مونږ ګورو چی اسلامی تهذیب څرنګه د ناروغیو او د هغوی له خپریدلو سره د مخنیوی او له منځه وړلو په تکل مقابله او مبارزه کړی ده ، او له هری ناروغی سره ئی د مقابلی په لاره کښی د هغی د درمل کولو ترغیب ورکړی دی چی د دی اړخ له معلوموولو څخه وروسته به د اراته څرګنده شی چی د طب په ډګر کښی هم زمونږ تهذیب په ځومره پیاوړو او ژورو اصولو د رول شوی دی .

او پدی ډګر کښی د هغه فعالیتونه تر کوم ځایه پوری رسیدلی دی ، هغه داسی ستر ستر روغتونونه او طبی مرکزونه جوړ کړی دی چی له هغو څخه ګرد بشریت ګټه اخستلی ده او داسی طبیبان ئی بشری نړی ته وړاندی کړی دی چی د هغوی په علمی او طبی کارنامو باندی اوس هم بشریت ویاړی .

**عربوان د جاهلیت له زمانی څخه د طب زد کړه ترلاسه کوله :**

عربی وګړی د ایران د نیشاپور له هغه طبی پوهنځی څخه خبر وو ، کوم چی د ایران کسرئ د شپږسی مسیحی پیړی د نیمائی په وروستی برخه کښی په دغه ښار کښی جوړ کړی وو . په دغه پوهنځی کښی ځینی عربی ډاکټرانو تحصیل کړی وو .

Marfat.com

د مثال په ډول لکه حارث بن کلده چی د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کښی تیر شوی دی او د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څو کسه یاران ئی د طبی مشاورینو په توګه له ځان سره ساتلی وو او کله به چی ناروغه کیده نو هغوی به د ده درمل کول.

**له ټولونه لمړی روغتون:**

د ولید بن عبدلملک په زمانه کښی مسلمانانو خپل لمړی ځانګړی داسی یو روغتون جوړ کړ، چی د جذام د ناروغی د رنځورانو لپاره مخصوص وو. او هغه ډاکټران چی په دغه روغتون کښی مقرر کړای شول، د هغو لپاره پراخه جایدادونه ورکړای شول او پدی بر سیره په زړه پوری تنخا وی هم د هغو لپاره مقرری کړای شوی، او پدغه روغتون کښی د تداوی کوونکو ناروغانو لپاره دا حکم وو چی هغوی باید همیشه پدغه روغتون کښی ؤ هستیږی، د ناروغانو لپاره ځیره مقرر وه. او همدارنګه د ړندو لپاره هم ځانګړی ځیره مقرره کړای شوه. او بیا د دی روغتون له جوړولو څخه وروسته په هره سیمه او هر ځای کښی روغتونونه جوړ کړای شول. چی هغو ته «بیمارستان» ویل کیده یعنی د ناروغانو هستوګنځی.

**دوه ډوله روغتونونه:**

د اسلامی تهذیب روغتونونه په دوه ډوله وو (لمړی) ډول ګرځنده روغتونونه وو او دویم خیل ئی مقیم روغتونونه. د ګرځنده روغتونونو له جملی څخه داسی معلومیږی چی یوان د حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د زمانی هغه روغتون

Marfat.com

وو چي د خندق په جنګ کښې جوړ کړای شوی وو ـ او په جنګ کښې د ټپیانو لپاره یو ځانګړی خیمه جوړه کړای شوی وه ـ او کله چي حضرت سعد بن معاذ ټپی شو او د ده د مټ په ا کحل نومی رګ باندی ټپ راغی نو حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم حکم وکړ چي نوموړی د ټپیانو خیمی ته بوزی، ترڅو ماته نیږدی وی او په اسانی سره ئی پوښتنه وکولای شم ـ او دغه په اسلام کښې لمړی ګرځنده روغتون وو ـ چي بیا په وروسته زمانو کښې خلفاو او پادشاهانو هغه زیات کړل ـ تردی چي په ګرځنده روغتونونو کښې هغه ټولی اسانتیاوی تیاری کړای شوی وی د دومو لپاره به چي ناروغانو اړتیا لر له یعنی درمل ، خوراک څښاک ، تداوی ، لباس ډاکټران او درمل جوړوونکی به په هغه کښې موجود وو ـ دغه ګرځنده روغتونونه به له یوو کلی څخه بل هغه کلی ته تله چي هلته به مقیم روغتون نوو .

عیسی بن علی بن جراح ابن ثابت سنان وزیر دولت، چي په هغه وخت کښې له بغداد پوری د ټولو اړوندو روغتونونو رئیس وو داسی متحد المال مکتوب لیکه :

د کلیو د هستوګنو په هکله زه ډیراند یښمن یم چي په هغو کښې به ډیر نځوران وی مګر د هغو د درمل کولو لپاره به هیڅوک هم نوی څکه چي په دغو کلیو کښې له سره ډاکټر نشته ـ له د اسله تاسی ژرتر ژره د ډاکټرانویو ګروپ تیار کړ ئی او د هغوی لپاره د درملو او مشروباتویوه پراخه زیرمه هم تیاره کړئ ـ ترڅو دغه ګروپ کلیوته لاړشی او په هر ځای هرڅومره چي د اقامت لپاره اړتیاوی هلته ؤ او سیری

در نخورا نو درمان وکړی اوله درسل کولو څخه وروسته
بیابل کلی ته لاړشي».

د سلطان محمود سلجوق په زمانه کښې ګرځنده روغتونونه
دومره پراخه شوی ووچې دیوو روغتون اړتیاوی لوازم او
سامان به په څلو یښتو او ښانو باندی بار کړای شوی وو.

پاته شوی ځای پرځای ؤ سیدونکی شفاخانی او روغتونونه
هغه خو دومره ډیروو چې د اسلامی نړی په ټولو کوچنیو او
سترو ښارونو کښې هغه جوړی کړای شوی وی او ټولو ښاریانو
به له هغوی څخه ګټه اخستله ـ او له ګردو څخه هیڅ یوکوچنی
ښارهم داسی نوو پاتی شوی چې په هغه کښې به له یووڅخه
زیات روغتونونه نوو د مثال په ډول یووخت داسی وو چې
یواځی په قرطبه کښې پنځوس ستر روغتونونه وو .

**مختلف ډوله روغتونونه :**

بیا دغه روغتونونه هم په مختلف ډولونو باندی وو ـ ېدی
ډول چې ځینې یواځی د فوځیانو لپاره ساو «مختص» شوی وو او
د هغوی به مخصوص او ځانګړی ډاکټران وو ـ او دغه
ډاکټران به برسیره په هغو ډاکټرانو ووکوم به چې د لښکر د
رهبرانو او جنرالانو او امیرانو لپاره خاص وو ـ د بندیانو لپاره
ځانګړی روغتونونه وو ، ډاکتر به هره ورځ ټول بندیان معاینه
کول او د هغوی د تداوی لپاره به ئی ضروری اسانتیاوی تیارولی
لکه چې عیسی بن علی بن جراح بن ثابت د دولت وزیر په
یوولیک کښې د بغداد د روغتیا ریس ته لیکلی وو :

« زه د بندیانو په هکله خورا اندیښمن یم، د هغوی ډیر
والی او د بندی خانو حالت پدی خبره باندی ګواهی کوی چې

Marfat.com

په هغوی کښې به ډیر وګړی ناروغه وی ـ پدی اساس زمانظر
خو دادی چی د هغوی لپاره ځانګړی ډاکټر مقررکړی شی ترڅو
هره ورځ هغوی معاینه کړی او هغوی ته مشروبات او درمل
ورکړی ـ او هغه باید تولی بندی خانی وګوری او په هغوی
کښې د موجودو رنځورانو تداوی وکړی» .

**د لمړنی طبی مرستی مرکزونه :**

دلمړنی طبی مرستی لپاره هم مرکز و نه جوړکړای شوی
وو او د دغو مرکزونوزیاته برخه به په جامع جماتونو او د هغو
په څیر په نورو داسی عاموځایونو کښې جوړکړای شوی وو چی
هلته به وګړی ډیر تلل ـ مقریزی په دی هکله لیکلی دی :

« ابن طولون کله چی په مصر کښې د خپلی زمانی خپل
مشهور جامع جمات جوکړنو د هغه په وروستی برخه کښې ئی
یوځای د او داسه لپاره او یوکوچنی روغتون هم جوړ کړل
چی په هغه کښې به هر ډول درمل موجود وو او د هغه لپاره
ئی ساتونکی مقرر کړی وو ـ او د جمی په ورځ به یوډاکټرهم
هلته مؤظف وو ـ او که دلمو نځ کونکو له جملی څخه به په
ناڅاپی توګه څوک ناروغه شونو په همغه ځای کښې به ئی سم
لاسی تداوی کید له» ـ

**تولنیز روغتونونه :**

ځینی روغتونونه عام او ټولنیز وو او د هغوی دروازی د
هرچاپر مخ خلاصی وی اوهر وخت به د مراجعینو لپاره
پرانستلی شوی وی ـ دا ډول روغتونونه هم په دوه ډوله وو :

۱ـ د نرو لپاره مخصوص روغتونونه ـ

Marfat.com

۲- د میرمنو لپاره مخصوص روغتونونه، او دغه دواړه ډوله به یوله بل څخه په بشپړه توګه ګوښي وو ، او په هریوو ډول کښې ګڼې څانګې وي ' چې هره څانګه ئې د مخصوصو او څانګړونا روغیو لپاره مخصوصه وي ـ د مثال په ډول :

۱- د داخلي ناروغیو څانګه ـ

۲- د سترګو د ناروغیو څانګه ـ

۳- د جراحي څانګه ـ

٤- د هډوکو او د ماتو شوو اندامونو د تداوي اوپر هغوی باندې د پټي لګولو څانګه ـ

۵- د دماغي ناروغیو څانګه ـ

او بیاد داخلي ناروغیو لپاره هم په خپل منځ کښې بیلې بیلې څانګې وې :

۱- د تبو لپاره څانګړې څانګه ـ

۲- د ګیډې او بدهضمي د تداوي لپاره څانګړې څانګه ـ

د هرې یوڅانګې لپاره څانګړی رئیس او مسئول وو ـ د مثال په ډول د جراحي څانګې لپاره څانګړی سرطبیب ـ د سترګودنا روغیو لپاره ګوښي داړوکو او داسې نورو لپاره ګوښي ګوښي مشرووـ او دهرې څانګې لپاره به څانګړې متخصصین وو ـ او بیا به د ټول روغتون یورئیس وو ، چې هغه ته به «ساعور» ویل کیده ـ

د ډاکټرانو لپاره د رسمي کارو ختونه ټاکل شوي وو چې هغوی به هریو په خپل ټاکلي وخت کښې په خپله شعبه کښې ناست وو او رنځوران به ئې معائینه اوتداوي کول ـ او په هریوو روغتون کښې به عطار، نرسان او د ټیټې درجې مامورین

Marfat.com

او خدام هم وو، او په دوی برسیره به نور مرستیالان هم وو۔ او د دغو ټولوکار کوونکو لپاره تاکلی تنخاوی ورکول کیدلی۔ په هر روغتون کښې به یودرملتون وو چې هغه ته به «د مشروباتو خزانه» ویل کیدله۔ په دې در ملتون کښې به د خوړلو لپاره زیات ډولو نه درمل موجود وو، نفیس ډول معجون، او په اعلی درجه مربا ګانې به پکښې وې، اوپر دوی برسیره نورې ډیرخیله در ملونه او داسې ارزښتناک عرقیات به هم پکښې وو۔ چې هغه به یواځې په همد غور و غتونونو کښې پیدا کیدلای شوای۔ او همدارنګه په دغو در ملتونونو کښې د جراحی داسې نازک ډول الات او د شیشو لوښې او داسې نور ظروف موجود وو چې هغه به یواځې د پادشاهانو په ارګونو کښې استعمالیدل۔

**له پوهنځیو سره د روغتیا اړیکې :**

له دغه ډول روغتونونو څخه د پوهنځیو کارهم اخستل کیده، په هر یو روغتون کښې یوه ستره خو نه وه چې په هغې کښې به د طب د استاذانو له خواز د کوونکو ته طبي لیکچر ورکو کیده۔ او هلته به د ډاکټرانو ستر مشرله زد کوونکو او ډاکټرانو سره یو ځای کیده او په دغه خو نه کښې به هر ډول طبي لوښې وو، د نارو غانو له معاینه کولو درمان او تداوی څخه وروسته به زد کوونکی له ډاکټرانو سره کښیناستل بحث او خیر نه به ئې پیل کره۔ د استاذانو او شاګردانو ترمنځ به ګڼور بحثونه کیدل۔ او ګڼور کتابونه به مطالعه کیدل۔ زیات وختو نه به سر طبیب له شاګردانو او ډاکټرانو سره یو ځای روغتون ته د ننه ته ترڅو په هغوی باندی عملی کار وکړی۔

Marfat.com

لکه څنګه چې نن سبا عملي او نظري دواړه ډوله په روغتونونو کښې په طبي شاګردانو باندې پریکټس کیدلای شي - ابن اصیبعه، چې د دمشق په نورې روغتون کښې ئې طبي تحصیل کړی وو داسې لیکلي دي :

«کله به چې حکیم مهذب الدین او حکیم عمران په روغتون کښې ، د رنځورانو معاینه او تدا وی پای ته رسوله نوزه به له هغو سره وم ، او همدارنګه زه به له شیخ رضي الدین رجبي سره کښې نا ستلم - او د رنځورانو د ناروغی د معلومولو په هکله به مې د هغه استدلال ، ابتکار او تشخیصي سیستم کوت او ورځخه زد کا وو به مې - او د ټول هغه څه چې نوموړی به د ناروغ ته د هغه درنځ په هکله ویل او بیا به ئې د روغتیا لپاره ورته لیکل د هغو د زیات شمیر په هکله به ما له نوموړی سره بحث او څیړ نه هم کوله».

**ډاکترانو ته به له بری لیک اخستلو څخه وروسته د تداوی کولو اجازه ورکول کیدله :**

هر چا ته په خپل سری د تداوی او د رمل کولو اجازه نوه بلکه که چا به د طبابت دعوه لر له نو هغه د قانون له مخې مجبور وو چې لمړی د طبي پوهنې لوی رئیس ته امتحان ورکړی - او طبیب به چې د طب په هر شق کښې بری لیک غوښت مجبور وو چې په هغه شق کښې یوه رساله ؤ لیکي دغه رساله به یا په خپله ده تصنیف وو او یا خو به د بل طالب العلم وو مګر ده به په هغې باندې د ریسرچ په ډول تبصره لیکله او بیا به ئې د طبي پوهنې رئیس ته وړاندې کوله - پدې برسیره نوموړی رئیس به له ده څخه زباني امتحان هم اخیست او د طب

Marfat.com

په هکله به نی هر ارخیزی پوښتنی او سوالونه ورځخه کول ـ بیا به نو که ده د پوښتنو ټول ځوابونه ډاډ ورکوونکی ورکړل نو رئیس به ده ته د طبابت د پریکټس اجازه ورکړه په ۳۱۹ه کا کښی له ۹۳۱ مسیحی کال سره سم داسی یوه پیښه ؤ شوه چی د مقتدربالله د حکومت په زمانه کښی یوو ډاکټر د یو ناروغه غلط او ناسم علاج وکړ او هغه مړشو ، خلیفه حکم وکړ چی د بغداد له ټولو ډاکټرانو ځخه دی بیا له سره امتحان واخیستل شی په دغه وخت کښی یواځی په بغداد کښی د ډاکټرانو شمیر له ۸٦۰ ، اته سوه شپیته نه هم زیات شو ـ او دغه شمیر په هغو ډاکټرانو برسیره وو چی هغوی په خپل فن کښی حاذق وو او له هغوی ځخه د امتحان اخستلو ته اړتیا نوه او هغوی ټول د دولت د لوړ رتبه مامورینو ځانګړی او خصوصی ډاکټران وو.

په روغتونونو کښی د طب د پوهنی کتابتونونه :

دا هم باید په پام کښی ؤ نیول شی چی په هر یو روغتون کښی به یو ستر کتابتون وو چی له هغه ځخه به ډاکټرانو او زده کوونکو ګټه اخستله ـ ویل کیږی چی د قاهری «د ابن طولون په روغتون» کښی له یو لک ځخه د زیاتو کتابونو یوه لائبریری وه ـ او په هغو کښی د طبی پوهنی د مختلفو ځانګو کتابونه وو.

پرله له اجرت ځخه :

هر ځوک به په ډیره اسانتیا سره روغتون ته ننوتلای شو او له هیچا ځخه هم هیڅ ډول فیس نه اخستل کیده ـ د بداى او بی وزلی ، لری او نیږدی ، خپل او پردی ، ملکی او غیر

Marfat.com

ملکی» او د عوام او خواص ترمنځ هیڅ تو پیرنوو ـ د روغتون په بهرنی ونډه کښی د رنځور ښه ژوره معاینه کیدله ، که ناروغی به سپکه وه نو هغه ته به ئی نسخه ورکړه او له در ملتون څخه به ئی د رمل واخستل او ناروغ به رخصت شو، او د کوم ناروغ به چی په روغتون کښی د بستر کولو ضرورت وو د هغه به نوم لیکل کیده ـ لمړی به ناروغ حمام ته واستول شو ـ پخوانی جامی به ئی ورځخه وویستلی او هغه به ئی په مخصوص ساتنځی کښی کیښودلی او ده ته به ئی دا غوستنی لپاره د روغتون مخصوصی جامی ورکړی ـ او بیا به ئی مریض د خپل رنځ مخصوص واټ ته ؤ لیږه ـ د هر ناروغ لپاره به مخصوص او ځانګړی چپرکټ وو چی پرهغه باندی به سپیځلی او سوچه بستره پرته وه ـ او د ډاکتر تجویز کړای شوی د رمل به ئی پیل کړل ، او داسی غذا به ئی ورکوله چی د هغه د روغتیا لپاره به خورا ګټوره وه ـ د خوراک اندازه به هم ټاکل شوی وه ـ او د رنځورانو لپاره به دا لاندی مواد د غذآ په ډول ورکول کیدل ـ د وزی غوښه ، غوښینه ، د مرغیو او نورو الوتونکو مرغانو ـ د ناروغ د جوړتیا نښه به دا وه چی که هغه به د جوړ شخص لپاره ټاکلی ډوډی او یو ګرده مرغی په یوځل ؤ خوړ له او هغه به هضم شوه ـ نو هغه به روغ بلل کیده ـ که ناروغه به په روغتون کښی له نقاهت سره مخامخ شو نو هغه به ئی د کمزور ناروغانو واټ ته لیږد او واو هلته به ئی تداوی ورته کوله ـ او که به چی د ناروغ هراړ خیزه تداوی او در مل وشو نوبیا به ئی هغه ته یوجوړ نوی لباس داغوستلو لپاره ورکړ او د دی پرځنګ کښی به ئی ناروغ ته دومره پیسی هم

Marfat.com

ورکړی چی ترهغه به د ده اړه پری چلیده چی د کارکولو جوګه به شو - د روغتون تولی خونی به خورا پاکی او صافی وی - هر وخت به په هغو کښی او به بهیدلی - او پدغو خونو کښی به ارزښتناک فرش هم غوړول شوی وو - په روغتون کښی به د صفائی لپاره ځارندوی مقرر وو او همدارنګه په هر یورو غتون کښی به یولوړ رتبه منصبدار د (ACCOUOTANT) اکاوټینټ یعنی محاسب یو توګه وو او زیات وختونه به د وخت خلیفه پهخپله په روغتونونو باندی ګرزیده او ناروغان بهئی معائنه کول او د هغو په چارو کښی به ئی تشبث کاوو -

د اوو هغه اعلی او ارفع نظام چی د ګردی اسلامی نړی په روغتونونو کښی په عملی توګه پلی کړای شوی وو - او پرته له کوم توپیر او امتیاز څخه په ګرد روغتونونو کښی برابره خبره ده که هغه په ختیځ کښی وویالو یدیځ کښی - په بغداد، د مشق، قاهره کښی وو او که په بیت المقدس، مکه مکرمه، مدینه منوره او که په اندلس کښی وو دغه نظام جاری او پلیوو-

اوس زه غواړم د اسلامی نړی د ځاو روسترو ښارونو د څلورو روغتونونو په خاصه او ځانګړی توګه یادونه وکړم -

**۱ - د بغداد عضدی روغتون :**

دغه روغتون په ۳۷۱ھ کال کښی عضدالد وله بن بویه جوړ کړی وو - نوموړی دغه روغتون د خپل وخت د مشهور او نومیالی ډاکټر رازی د ځای په انتخاب او خوښه جوړ کړ

او امام رازی د ځای د ټاکاو. لپاره داسی وکړه چی د بغداد په څلورو مجوزه ځایونو کښی ئی د شپی له مخی یوه یوه ټوټه غوښه

Marfat.com

ؤ خړوله ـ او کله ئی چی ګهیځ د غوښی دغه څلور واړه توتی
معاینه کړی نو د کوم ځای غوښه چی مړاوی شوی او خرابه
شوی نوه په همغه ځای کښی ئی پورتنی روغتون تعمیر کړ ـ
په پورتنی روغتون باندی ډیر زیات لګښت وشو او بیا په دغه
روغتون کښی د کارکولو لپاره ۲٤ څلرویشت ډاکتران وګمارل‌شو
او استخدام کړای شول ـ په غه روغتون کښی یو در ملتون
یو پخلنځی یو کتابتون ، او یو ګودام جوړ کړای شول بیا په
٤٤۹ﻫ کال خلیفه قائم بامرالله دغه روغتون له سره نوی منظم
کړ ـ پدی کښی ئی ډول ډول درمل ، طبی بوټی اوجړی او نور
داسی درملونه تهیه او تیار کړل ـ چی د هغو پیدا کول اولاس
ته راوړل خوراډ یرګران وو ـ در نځورانو لپاره فرش او بسترتی
تیاری کړای شوی ـ او پدی برسیره خورابنی خوشبویانی، واوره ،
خدمت ګاران ، چیړاسیان ، درواز وانان ، څرکیداران او په هر
وخت کښی ځارونکی ډاکتران او داسی نور مهیا او مقرر کړای
شو ـ همدارنګه د روغتون په انګړ کښی دننه یولوی حمام
جوړ کړای شو او هم ئی هلته داسی یوبڼ جوړ کړ چی په هغه
کښی د هر ډول ګلانو او میووونی موجودی وی ـ په یوړیو
کښی به کمزوری او کم څواکه اوبی وزلی ناروغان دغه
روغتون ته راوړل کیدل او ګهیځ او بیګا به موظفو ډاکترانو
هر یوو په خپل خپل وخت کښی د هغوی ځارنه کوله ـ

**۲ ـ نوری روغتون :**

دغه روغتون شهید ، ملک نورالدین ، سلطان عادل
په ۵۷۹ﻫ کال کښی له ۱۱۵٤م کال سره سم په هغو پیسو جوړ

Marfat.com

کړ کومی چی د انګریزی پادشاهانو په ج ی حخه ئی له یو انګریز پادشاه نه د فدیه په ځیل اخستلی وی - په هغه وخت کښې د دغه روغتون د تعمیر ساختمان او ډیزاین د اسلامی نړی له ګردو روغتونونو ښخه کښلی او اعلی او ښ ساری وو - نوموړی پادشاه په دغه روغتون کښې د امیرانو په داخله باندی بندیز لګولی وو او هغه ئی یواځې د بې وزلانو او فقیرانو وګړو لــپاره مخصوص کړای وو - او شتمنو تــه یواځې هغه وخت له دغه در ملتون ښخه درمل ورکول کیدل کله به چی سخت اړووت او ناروغه به هم شو ، او درمل به یواځې د ګهیځ په مهال کښې ورکول کیدل - مشهور اسلامی ګرزندوی «سیاح» ابن جبیر په ۵۸۰ھ کال کښې دغه روغتون ته ننوتلی وو - په دغه روغتون کښې به ډاکټر چی له ناروغانو سره په مینه او محبت عاطفه او زړه سوی کوم چلن کا وو ، او هغوی ته به ئی درمل تیارول او هغوی ته به ئی هر ډول اسانتیاوی برابروئی ، نوموړی په خپل کتاب کښې د هغو ډیره ستاینه کړی ده په دغه روغتون کښې د دماغی ناروغانو لپاره یوه ځانګړی ځانګه جوړه کړای شوی وه - چی په هغی کښې به لیونیان «مجانین» په زولنو او ځنځیرونوتړلی شوی وو ، او هلته به په مناسبه توګه د هغوی د خوراک او درمان بندوبست کیده - مؤرخینو لیکلی دی چی په ۸۳۱ھ کال کښې داسی یوعجمی شخص د مشق ته راغی چی په پوهی او تقوی برسیره د سلیم ذوق خښتن هم وو ، دغه سړی پورتنی روغتون ته د لیدلو لپاره هم لاړ ، هغه هلته کله چی د ډاکترانو ډیروالی ، او له

Marfat.com

رنځورانو سره د هغو اخلاق نیک چلن او پا ملرنه ، درنځورانو لپاره مختلف ډولونه خوراکی مواد او د نور واسانتیا وو برابری ؤلیدل نو حیران پاتی شو ـ او په اسانتیا وو بر سیره دا چی هلته دارایش او عیش وسائل هم موجود وو ـ نوموړی ؤغوښتل چی د ډاکترانو د طبی استعداد امتحان واخلی نوځان ئی په د رواغونا روغه کړ اوتر دری ورځو پوری په روغتون کښی بستر شو ـ دغه دری واړه ورځی د ډاکترانو رئیس پرلپسی د ده نبض کوت او د هغه د کم ځواکی عامل ئی معلوما وو ـ مگر هغه په لړی ورځ معلومه کړی وه چی هغه په رښتیانا روغه ندی او هغه یواځی له طبیبانو څخه امتحان اخلی ـ له همدی امله هغه له لمړی ورځی‌نه هغه ته د مکلفی ډوډی ورکولو حکم وکړ کهیخ او بیگاه به ئی تازمزی غوښه، حلوا ، مفرح، مشروبات او د میوو مختلف ډولونه ورکول ـ اوتر دری ورځو پوری دغه تول شیان ده ته بلا ناغه رسیدل ـ له دری ورځو څخه وروسته ده ته سرطبیب یوه نسخه ؤلیکله چی په هغه کښی داسی لیکل شوی وو ـ

"په مونږ کښی د میلمستیا ورکولو رواج تر دری ورځو پوری دی" عجمی ته د دی نسخی په لیدلو او لوستلو سره دا معلومه شوه چی هغوی د ده د امتحانولو په اراده باندی پوه شوی وو ، او هغوی دی تردری ورځو پوری د میلمه په ډول ؤساته ـ

دغه روغتون تر ۱۳۱۷ﻫ کال پوری په همدغه سیستم کارکا وو ـ مگر له هغه نه وروسته دغه روغتون بیا د مسافرو په

روغتون بدل کړای‌شو ـ دا هغه روغتون دی په کوم ځای کښې چې نن سبا د سوریه د پوهنتون « جامعه سوریه » طبی پوهنځی دی په خوانی روغتون پای ته ورسول شو او هلته اوس پوهنځی او مرکزی مدرسه جوړه کړای شوه ـ

**۳ ـ منصوری ستر روغتون :**

دغه روغتون «د قلادون په مستشفی» باندی مشهور دی ـ دغه ځای لمړی د کوم امیر هستوګنځی وو ، ملک منصور ، سیف الدین قلادون ، په ۶۸۳هـ کال کښې له ۱۲۸٤م کال سره سم ئې هغه په روغتون باندی تبدیل کړ ـ او بیـــا ئې د دغه درملتون لپاره ځانګړی جایداد وقف کړچې له هغه څخه به په کال کښې یوزر درهمه عوائد ورته ورتلل ـ او د دی پرځنګ کښې یو جمات ، یوه مدرسه او د یتیمانو لپاره یوښوونځی هم جوړ کړای شول ـ د دغه روغتون د تاسیس او جوړونې په هکــلــه مؤرخینو لیکلی دی هغه وخت چې په ۱۶۷۵ مسیحی کال کښې، امیر قلادون د ظاهر بیبرس په زمانه کښې د لښکر د امیر په توګه ، درومیانو د مقابلې لپاره واوت نو په د مشق کښې ناروغه شو ، طبیبانو د ده درمل او تداوی وکړه او د ده په معالجه کښې له نوری روغتون څخه د واء راوړی شوه او ده ته ئې ورکړه ، چې د هغه په نتیجه کښې نوموړی روغ شو او بیا په خپله لاړ او نوری روغتون ئې وکوت ـ په همـــغـــه مهال کښې نوموړی د نوری روغتون په لیدلو سره خورامتاثر شو او دا دعا ئې وکړه چې که الله تعالی ماته ځواک راکړ او د حکومت واګی زما په لاس شوی نوزه به همداسی روغتون جوړوم ـ بیانو کله

Marfat.com

چې دی پادشاه شو ـ نو د روغتون لپاره ئې همدغه ځای خوښ کړاو هغه ئې ؤپیرو داو په روغتون ئې تبدیل کړ- چې له بشپړتیانه وروسته دغه روغتون د تنظیم او ترتیب له نظره په ټوله دنیا کښې بې سیا له او بې ساری وو ـ او د ګهیځ په وخت کښې به هرچا او ټولو وګړو ، مړئې وو که بادار ، پادشاه وو که رعیت ، نراوښځې ګډه ورځځه اخستله ، او کوم ناروغان به چې له دغه روغتون ځخه روغ رمټ وتل هغه ته به ئې نوی کالی ورکول- او کوم چې په کښې مړکیدنه دهغه تجهیز او تکفین‌به په بشپړه توګه کیده ـ دطب د مختلفو څانګو ډاکټران په ځانګړی ځانګړی توګه مقرر کړای شوی وو . د ناروغانو د کالیو مینځلو او هغوی ته د غسل ورکولو ، د خونو او بسترو د صفائی او د نورو اسانتیا وو لپاره خدام او نرسان مقرر کړای شوی وو . چې پدی ډول د هر یو رنځور لپاره دوه کسه خدمه ټاکل شوی وو چې د هغه خدمت به ئې کاوو . هر ناروغ ته ځانګړی بستر او چپرکټ ورکول کیده ـ او د هر ډول ناروغانو لپاره ځانګړی ځانګړی واټ وو . د طبي خبرنو او لیکچرونو لپاره ټاکلی ځایونه وو چې هلته به عسکری زد کوونکو ته په طبي موضوعاتو کښې سبق ورکول کیده . د پورتنی روغتون یو امتیاز دا هم وو چې په هغه کښې یواځې د بستر کړای شو یو ناروغانو پالنه او تداوی نه بلکه پدی کښې د هغو رنځورانو لیدنه کتنه هم کید له چې هغوی به په خپلو خپلو کورونو کښې دتداوی په دوران‌کښې ؤ سیدل غوښتل او دروغتون له پلوه به هغوی ته د هغوی په کورونو کښې غذا او درمل ورکول

کیدل . د پورتنی روغتون د کار سیستم په پورتنی ډول وو .
د دغه روغتون د سترګو د څانګې د یوو ډاکتر وینا ده چې په دغه روغتون کښې هره ورځ په مجموعي ډول د څلورو زرو کسانو تدوای کید له او کله به چې ناروغ جوړ شو او د تلو جوګه به شونو هغه ته به کالي او دو مره پیسي ورکول کیدلې چې دیبخي جوړیدلو ترمهال پورې چاته اړنه شي

د دغه روغتون د وقف له یوو لاس ته راغلي سند څخه دامې څرګندیږي چې په دغه روغتون کښې د هر ناروغه لپاره د خوراک ځښاک ځانګړي لوښي وو چې په هغو کښې به بل ناروغه ته غذا نه ورکول کیدله او دا لازمي خبره وه چې هغه له غذا سره هغه ته ورکړای شي همدارنګه د دغه روغتون یو عجیب خصوصیت دا وو چې په هغه کښې د هغو رنځورانو لپاره چې خوب نې تښتیدلی وو یو ځانګړي ځای وو ، چې په هغه کښې به ددوی لپاره زړه راښکونکې او خوشحالوونکې تنګ تکور او موسیقي وه ، هغوی ته به زړه وړونکي قصې بیانیدلې او دغه کار په قصو ویلو کښې یو وارد او لایق شخص ته سپارل شوی وو او هغه ته دا د نده ور کړای شوی وه چې د قصې د بیانو لو په ترځ کښې دامې( ACTING ) ایکتنګ یعنې انځور او تمثیل وکړي چې کمزوري ناروغان ؤ خندوی ، همدارنګه د هغوی په وړاندي به کلاسیکې یعنې دیهاتي اتڼ هم کولای شو ـ روغتون ته د نیږدې جماتونو مؤذنانو ته امر شوی وو چې هغوی دې دوه ساعته له ګهیځ څخه مینه «وړاندې» اذان وکړي او په کښلې او ازدې اشعار

ووائی ترڅو ناروغان خوښ شي او د رنځ تکلیف لږ احساس کاندی ، ځکه چي ښ خوبي او د شپې اوږد والی د هغوی لپاره دخوړېدنی باعث گرځېږی، ددی روغتون دغه حالت وو کله چي په ۱۷۹۸ مسیحی کال کښې فرانسویان مصر ته ننوتل او دغه روغتون فرانسوی پوهانو په خپلو سترگو ؤ لید نو د هغه په هکله ئی بشپړ تفصیلات په خپلو کتابونو کښې ؤ لیکل .

په الله تعالی دزما سوگندوی دا دانسانیت هغه هسک معیار دیچي هغه ته نوی نړی اوس په مشکل رسیدلی ده ـ پدی ترڅ کښې ماته هغه خبره را یاده شوه چي ما په طرابلس کښې اوریدلی وه او هغه دا چي هلته داسی یو عجیبه وقف دی چي د هغه عوائد د داسی دو کسانو لپاره مخصوص کړای شوی دی چي هغوی هره ورځ روغتونونو ته لاړ شي او د رنځورانو په وراندی یو بل ته په غوږ نیږدی کولو داسی خبری په خپل منځ کښې سره وکړی چي هغه ناروغ واوری او هغه په رنځور دا اغیزه وکړی چي هغه په خپل زړه کښې دا ځان په هکله دا تیره کړی چي اوس د ده حالت خورابنه کیدونکی دی ، د هغه رنگ او جوله سور او تازه معلومیږی او په سترگو کښې رڼ والی راغلی دی.

**د منصوری روغتون وقف نامه :**

پدی ځای کښې دا ضروری معلومیږی چي د دغه ستر روغتون د وقف نامی بشپړ عبارت دلته لوستونکو ته وړاندی کړای شی لکه چي د «المستشفیات فی الاسلام» یعنی اسلامی روغتونونه مصنف لیکلی دی .

Marfat.com

«لوړو همتونو ته چی د ستړو ثواب لرونکو د ښیګڼو د ګولو زمینه لاس ته ورشی او دکوموچارو او ښیګڼو ګول زیات ګټور ګڼی ، د دغه ډول د قدروړ ښیګڼو د ډیرو ثوابونو د ترلاسه ګولو لپاره څینی ویده ویښید لای شی او د کومو غوره ښیګڼو په لور مخ اړونکی متوجه کیدلای شی او یا کوم پاڅیدونکی پاڅیدلای شی ' نو دا هغه ښیګڼی دی چی د هغو نتائج د همیش لپاره د ښیګڼی په شکل کښی وی او له هغو څخه له نورونه زیاتی خوښی او ګټی رسیږی او بیا د دغو ښیګڼو ثواب پلرونو او نیکه‌نو ته رسیږی او هغه ښیګڼی چی د هغوی ښست له لری‌هیلو سره‌په ټینګ تقوی‌کیښودل شوی وی.

څرګنده خبره ده چی دا ډول ښیګڼی یواځی اوقاف دی چی د هغوی ښیګڼی تولنیزی دی ، او اجر او ثواب ئی همیشه رسیدونکی دی ، ګټی ئی خورا زیاتی او بی شمیره او اخروی بدله ئی خورا ارزښتنا که ده ، چی په حقیقت کښی همدغه ډول ښیګڼی جنت دی او همدغه یو داسی ډول قربانی ده چی د هغه په توسه د الله تعالی رضامندی ترلاسه کیږی ' دا هغه صدقه ده چی د بی څو «حسینو» حورو ولور «مهر» دی ، دا خیرات یواځی ملغلری او مرجان نه بلکه د عقبی د ثواب او اجر سمندر هم دی ، لږ څه له ځانه سره دا فکر وکړی' چی د یو بی کسه ناروغ په زړه کی څومره د خوښی څپی ستیږی ، او یو ولیدلی او مات شوی ته څنګه اسره لاس ته ورتلای شی ؟ او هغه په پناه ورکولو او د هغه په درمل ګولو باندی هغه څرنګ بی پروا ګولای شی ؟ لنډه دا چی د وقف ثواب دومره

زیات دی چی په الفاظو کښی د هغه څرګندونه ممکنه نده، هغه څوک ډیر بختو را و نیکمرغه دی چی هغه له خپل هغه بخښونکی او مهربان الله تعالی سره دا سودا وُکړه. او په خپل لګښت او عوائدو کښی له هغه الله سره سودا وکړه چی د ده په پټه او ښکاره باندی خبر دی او ده د خپل خواک او شتو په اندول لوی خدای ته حسنه قرض ورکړ او چی د ښیګڼی په ډګر کښی ئی له ټولو څخه د لوبی د وړلو زمینه ولجه وُ ګڼله او له یو ناروغه مسلمان سره ئی د هغه په تداوی او درملو کښی مرسته وکړه او د هغه درد و غم ئی لری کړ چی د دی ټولو بدله به د ده لپاره د الله تعالی په دربار کښی له هر ډول عذاب څخه خلاصون وی او پدی برسیره دا هیله لرل هم دی چی د خدای پاک په دربار کښی به د ده نوری هم لوړی مرتبی په برخه شی او خدای پاک ته به نیږدی والی د ده په نصیب شی، چی هلته به له هیچا سره هم د ظلم او زیاتی ویره نوی ـ لنډه دا چی وقف یوه داسی ښیګڼه ده چی د وقف کوونکی لپاره د هغه د ګردو ګناهونو د بخښنی سبب ګرځیږی، او هیڅکله به دی خواشینی او غمجن نه شی» نو له دی امله د دغو درجو او ثوابونو د تر لاسه کولو په مینه ملک عادل منصور د منصوری روغتون د وقف فرمان صادر کړی دی. . . «پدی ځای کښی د اوقافو د وقف نامی او د هغه د ځای څلور طرفونو یادونه کیږی».

دغه روغتون د ګردو وګړو، امیرانو ی وزلانو شتمنو، سرتیو او میرمنو د تداوی له پاره وقف دی برابره خبره ده که ناروغان د قاهری وی او یا د هغی د چا پریال او یا نورو سیمو

Marfat.com

ښخه راغلی وی له هر تو کم او رنګ ښخه چی وی . . . هغوی چی په هر ډول ناروغی اخته وی ، د بدنی ناروغیو په لومه کښی پریوتی وی او که په روحانی یا داعصابو په رنځ ککړوی، او یا دغه رنځوان لېړ وی او که ډیر تول په یو ځیروی او که مختلف وی ، او دغه رنځونه پټ وی که ښکاره وی ، او یا په دامی د ماغی رنځونو کښی را ګیروی چی د هغوی درمل خورا ضروری دی او هغه په هیڅ وخت کښی هم له نظره غور ځولای نشی او نه د هغو له درمل کولو ښخه انحراف او مخ اړونه کیدلای شی ـ او یا له دی نه پرته هغه ته بل کوم تکلیف پیښ شوی وی چی د هغه اصلاح او مخنیوی د انسان لپاره ډیر ضروری وی . . . پدی روغتون کښی به په هغز جړو بوتو او درملو باندی تداوی کولای شی چی هغه ډا کټرانو ته معلوم دی او پدی روغتون کښی د ډا کټرانو په خپلو طبی علومو او د هغوی په پریکټس کښی مصروفیت او مشغولا به د رنځورانو لپاره ډیره ګټوروی .

پدی کښی به خلک په وګړیزه او ټولنیزه ، سپین ږیری او ځوانان ، نابالغ ، هلکان او جینکی بستر او تداوی کیږی ـ بی وزله رنځوران نروی او که ښځی د بشپړی روغتیا تر مهال پوری به په روغتون کښی هستیږی او د تداوی ګرد وسائل به په هغوی باندی مصرف کیدلای شی او د ټولو په منځ کښی به د هغوی د اړتیا وړشیان ویشل کیږی، برابره خبره ده دمرستی وړذوات ، اجنبی وی او که خپلوان ، مسافروی که مقیم ، خوا کمن وی که بی خوا که ، له عوامو ښخه وی که له

خواصو ، شریف وی که وضیع ، امیروی دہ غریب ، منصبدار وی که مادون ، روند وی که بینا ، اعلی وی که ادنی ، نومیالی وی که بی نومه ، قدر من وی که بی قدره ، بډای وی که بی وزله ، مالک وی که مملوک ، ټولو ته به مجانی تداوی او درمل کولای شی او پر هغوی باندی به هیڅ ډول اعتراض نوی ـ دغه تداوی او د رمل به خاص د خدای په رضا او د اخروی اجر د لاس ته راوړو په تکل او د ټولنیزی ښیګنی په وجه کیږی ، څکه چی الله تعالی فرمایلی دی چی د ناروغانو د ښګنی په تکل لګښت ؤ کوی ـ او بل په هغو کسانو چی د رنځورانو خدمت او پالنه کوی ـ لکه ډاکټر ، جراح ، عطار ، ښه او خوندوری غذا جوړؤنکی ، معجون جوړؤنکی ، د سترګو د ناروغیو دوا جوړوونکی ، د مفرد مسهل او مرکب مسهل جوړونکی ، منتظم ، چپراسی ، خزانچی ، معتمد ، متولی او برسیر پر دوی نور ټول هغه کارکوونکی چی په عمومی ډول په روغتونونو کښی کارکوی ـ همدارنګه په هغو شیانو باندی چی

د رنځورانو د علاج په لړ کښی ضروری وی ، همدارنګه د ناروغانو په لباس او غذائی سوادو ، د بصری روغتون د استعمال شیان ، دیګونه او نور لوښی او معجون ، مختلف ډول ملهمونه ، تیل ، مشروبات ، مفرد او مرکب د رملونه ، فرشی او بستری، لوښی او نور داسی شیان چی پدی لړ کښی په کاریږی ـ «پدی روغتون کښی» به ناظم د اواک لری چی هغه دوقف له عوائدو څخه د رنځور په عمومی ارتیاو باندی لګښت وکړی د مثال په ډول هره ورځ د عنبرو د لګونی لګښت ، د هغوی د خوراک

Marfat.com

لپاره کاسی ، د ښښک لپاره د شیشي او کاشي ګلاسونه ، ګړی او خوریني صراحي ګانې ، خوریني ډیوی او په هغوی کښې سوه ځیدونکی تیل د ناروغانو د ښښلو او د خوراک د لو ښو د سینځلو لپاره د نیل درود په او بورا وړلو ، په ګرمی کښې د خرماله پانو ځخه د جوړ کړای شویو بیوزو «پکیو» اخستل ، پدغو ټولو شیانو باندی ناظم ته د دغه وقف له ګټی ځخه د لګښت اجازه ده خو لګښت به په اسراف باندی نوی او نه به کوم شي له ضرورت ځخه پرته او په قصد تلف کولای نشی ، د اړتیاله پولو ځخه به په هیڅ شي کښې تجاوز نشي کولای - ټول لګښتو نه به د حقیقي اړتیا په پولو کښې د ننه کولای شي ترڅو خورا ډیر اجر او ثواب ؤ ګټلای شي .

د اوقاف رئیس ، دی د دغه وقف د عوائدو په لګښت دوه کسه مقرر کړی چی مسلمان او امین ، او دینداروی - یو د شیانو د ویشلو د مرکز مسئول وی ، چی په ناروغانو به د ښښلو د رمل ، د سترګو د ناروغیو د رمل ، طبی بوټی او جړی ، معجون ، تیل او شاف وویشی او دی به ئی هغه شیان ورکوی چی د منصبدار د هغو د ورکولو اجازه ورکړی وی - د دویم کس د نده به داوی چی هغه به هر ګهیځ او بی ګاه په رنځورانو باندی ګروی او که ښځی د هغوی د درمل خوړلو پیالی ویشی او هغوی ته به هغه د واوی ورکوی چی د هغوی لپاره تجویز شوی وی ، د ده به دا د نده وی چی د هغه پخلنځی څارنه به کوی په کوم کښې چی د رنځورانو لپاره مقوی خوراکونه ، چرګان ، چرګوړی او غوښه پخولای شي - دی دا د نده په غاړه لری چی هر ناروغه ته به تجویز کړای شوی

Marfat.com

خوراک ، په یوو مخصوص او خانګړی کاسه کښې ورکوی او په هغه کښې به له هغه سره بل ناروغ نه ګډیږی ، همدارنګه دی وظیفه لری چی دوډی په کاسو کښې واچوی او په ټولو رنځورانو ئی وویشي ـ او تر هغه مهاله به کارکوی چی ترڅو پوری ګردو ناروغانو ته تجویز کړای شوی غذانوی ورکړای شوی ـ او دغه وظیفه به د ده سهار او مابنام وی. . . همدارنګه رئیس ددی واک لری چی دوقف لهعوائدو څخه په عمومی‌لګښت ډاکټر ، د سترګو ډاکټر او جراح ، په مروجه او معقوله تنخاؤ نیسی او هغوی ته ظروفو حالاتو او د رنځورانو له اړتیاو سره سم تنخاوی ؤ ټاکی ـ دی د تنخا په اندازه او تعداد کښې وا کمن دی مګر په هغی کښې به افراط او تفریط نکوی بلکو د دوارو ترمنځ منځنی چلن به غوره کوی ـ د روغتون د عملی به دا د نده وی چی هغوی به هر وخت د دغه روغتون د ناروغانو او مصیبت رسیدلو لیدنه کتنه کوی وظیفی ته د سوبتیا «حاضری» په هکله دوی وا کمن دی د دوی خو ښه ده که ټول په ګډه رسمیات ترسره کوی او که په خپل منځ کښې واروډی د کار کولو وختو نه د په خپل منځی خو ښه او د اوقافو د رئیس په خو ښه او اجازه ؤ ټاکی ـ په دوی لازمه ده چی د هر ناروغ پوښتنه وکړی ـ او دا ؤ لیکی چی د هغه رنځ کم شوی دی او که زیات شوی دی او د اوقافو د رئیس له حکم سره سم باید د ناروغ په Sheet یعنی شیټ هغه کاغذ چی د ناروغ د رنځ دحالاتو لپاره له هغه سره کښې ښودل شوی وی» هره ورځ د ناروغ لپاره د رمل او غذا تجویز کړی او له هغه سره سم عمل وکړای شی پر عملی باندی لازمه ده چی هغوی د شپی له مخی

په روغتون کښې موجود وی او دا د دوی خوښه ده چې تول پاتې کیږی او که په خپل منځ کښې د ساعتونو ویش کوی - د ستړګو ډاکټر باید هره ورځ حاضروی او د ستړګو د ناروغانو درمان وکړی ، او هغه کوم د ستړګو ناروغان چې له بهر څخه د معاینې او د رمل ورلو لپاره را د روسی هغوی باید له تداوی څخه پر ته رخصت نکړای شی - ډا کټر به هرو مرو د هغوی د رمل کوی او له هغوی سره به په خورا نرمی سره چلن کوی او د کومو ناروغانو چې سترګې خرابې شوی وی له هغو سره نرمی کولی لازمی دی - که چیرته په سترګو کښې د ننه تپ پیدا شوی وی نو پدی هکله معالج ډاکټر باید هرو مرو له (Surgeon) سرجن یعنی جراح سره مشوره وکړی، که چیرته هغه لازمی وګڼی نوناروغ باید له خپل ځان سره جراح ته ورولی، او هغه باید یواځې پری نږدی او بیاله د نه وروسته هم ډاکټر درنخور ترجوړیدوپوری باید دهغه څارنه وکړی. . داو قانورئیس ته لازمه ده چې د دغه وقف د عوائد و په لګښت یو سرطبیب مقرر کړی چې هغه هر وخت د طبی چارو او مسائلو په هکله ریسرچ وکړی دغه حاذق باید په هغه دار المشوره کښې کښینی کومه چې په وقف نامه کښې تاکل شوی ده - ددی حاذق دنده به د اوی چې هغه به د مختلفو طبی چارو په هکله څیړنه کوی - او د هغه دکار لپاره به وخت تاکونکی ناظم هرخومره چې د کار لپاره لازم وګڼی دکار وخت تعین او وټاکی. . مګر خبردار چې د روغتون د عملی تعداد به په ټاکل شویواسا، یانو کښې دننه وی - د وقف رئیس ددی وقف له عوائد و او ګټوڅخه په روغتون کښې د مؤظفو کارکوونکو

Marfat.com

او خادمانو، نرو او ښځو لپاره مناسب تنخا ورکړی ـ او دغه تنخا د هغوی د دندی د نوعیت په اساس وی ـ د غوکار کوونکو ته له د امله تنخا ورکولای شی چی په دغه روغتون کښی د ناجوړه ښځو او نرو خدمت کول او پالنه د دوی مسئولیت او وجیبه د او بل دا چی دوی به د ناروغانو د ناستی اوسلا ستی ځای پاک او ستره ساتی ـ د هغوی کالی به مینځی او په کوماندول اسانتیاوی چی رنځورانو ته د روغتون له خوا مهیا کړای شوی دی، هغه به نه ورځخه ژ غوری ـ او دغه اسانتیاوی هم باید د حالاتو او ظروفو له غوښتنی سره سمی برابری کړای شی . . . . د وقف مسئول دادنده هم په غاړه لری چی په روغتون کښی دمړه کیدونکو ناروغانو تجهیز او تکفین هم وُکاندی ـ هغوی ته غسل ورکړی او د حنوط «خوشبوی» لګښت په غاړه واخلی ـ د قبر کیندلو بیه ورکړی او لـه نبـویـص سنتو سره سم هغـه دفن کړی لـه کوم سړی په کور کښی ناجوړه پروت وی او د تداوی کولو ځواک نلری نو د وقف رئیس باید د هغه د اړتیا ورمعجون او شربت هغه ته کورته ورواستوی ، مگر دا هله چی په روغتون کښی د موجودو رنځورانو په درملو کښی کمښت را نشی ، او که چیرته داسی یوبی وزلی ناروغ په خپل کور کښی مړشی نود وقف مسئول ، باید د هغه د کهول له سوی ئی سره سم د هغه د تجهیز، تکفین ، غسل ورکولو ، قبر کنلو او قبر ته د هغه د رسولو ټولګښتونه ورکړی ـ او هغه رنځوران چی په روغتون کښی بستر دی او بیاله درمل کولو څخه د لوی خدای په فضل جوړشی نو د وقف مسئول باید هغوی ته د

Marfat.com

عام دو دو کالیو منځنی درجه نوی‌کالی وکړی چی د ناروغ له حثیت سره هم برابروی ـ مسئول باید پدی اړخ دومره زیات لګښت ونکړی چی د هغه په توسه د روغتون په داخلی اړتیا وو لاوړه اغیزه وُکړی ـ خوبیاهم دا کار د هغه مناسب ګڼلو ته پریږدو . . . . د دی وقف رئیس ته په کار دی چی هغه په پټو او ښکارګندو دواړو حالاتو ویره وکړی ـ او د کوم لوړی مرتبی له شخص سره د کوم ټیټی مرتبی او پاتکی له شخص څخه د هغه په پرتله زیات ښه سلوک او چلن وُ نکړی او نه خپلو هیواد والو ناروغانوته په پردیو او غیر ملکی هیواد والو ترجیح ورکړی بلکه په لګښت کښی له هرڅه نه زیات د خدای

۱ـ د نوی تهذیب بچوړی د پورتنی بیلګه «جمله» په غور مطالعه کړی او وُګوری چی دوی سره له د چی د اسلامی مبارزی د عوه هم کوی او خپل ځان یواځینی مسلمان ګڼی مګر د بی وزله رنځور په مقابل کښی له بډای او منصبدار سره ښګه چلن کوی او هغه درمل چی د دغو بی وزلو او غم ځپلو په نوم راځی هغه یا پلوری او یا خوئی منصبدارانو خپلواو او د نوم ښښتنانوته ورکوی او بی وزلوته وائی چی له باز ارڅخه ځان ته درمل وُ پیری دا زمونږ د مسلمانو ډاکترانو چلن دی ژباړونکی ـ

پاک چی رب الارباب دی رضامندی او خوښی په نظر کښی وُنیول شی »ـ

٤ـ د مراکش روغتون :

دغه روغتون سلطان منصور ابو یوسف، چی دلویدیځ د

مؤحد ینو په لړی کښې یونومیالی حکمران وو جوړ کړی دی ، نومړی د دغه روغتون لپاره د مراکش خورا یومعتدل پراخ ډگر انتخاب او غوره کړا - معمارانوته حکم ورکړای شو چې د دغه روغتون تعمیر تروسه وسه پوری په بې ساری او بې سیاله ډیزاین او ډول باندی جوړکړی او دا حکم ئې هم وکړ چې د روغتون په انگړ کښې د هرډول میوه او خوشبوئی لرونکې ونې ؤلگوی - او پدی برسیره د روغتون د ټولو خونو او کوټو ترمنځ ویالی تیری کړای شوی، څلورستر داسې مخصوص حوضونه جوړ کړای شو چې د هغوی له جملې څخه د یوو په منځ کښې د مرمروکانې ؤلگول شو - د روغتون د خونو لپاره داسې ښائسته رنگه بستری جوړې کړې چې ټوکی «رخت» ئې کتان، وریښمن او څرمن وو - او هغه د ومره کښلې وی چې له ستاینې نه هم پورته وی د ننه په روغتون کښې د درمل جوړونې مرکز جوړ کړای شو چې په هغه کښې په مختلف ډول شربتونه، روغنیات د سترگو درمل او دنورو رنځونو درمل جوړیدل - د رنځورانو لپاره دژمی او وړی لپاره بیلې بیلې جامې جوړې کړای شوی - اوکله به چې رنځور جوړشونو که به بې وزلی وو نو هغه ته به ئې «Discharge» د سچارج یعنې دویستلو په وخت کښې دومره سرمایه ورکو له چې په هغې باندی به دکار کولو جوگه کر زیدلای شوای - او که به ئې شته هم لرل مگر بیابه ئې هم تاکلې پیسې ورکولې - دا روغتون یواځې د بې وزلانو لپاره مخصوص نوو بلکه شتمنو او بډایانو هم له هغه څخه گټه اخستله، او د مراکش په هره ورځ کښې به چې که څوک رنځور

شونو هغه به ئی راو وړاو په همدغه روغتون کښی به ئی بسترکا وو ـ چی بیابه تر هغه پوری پدی روغتون کښی وو» چی هغه به یاخوروغ شو او یا به هم په همدغه روغتون کښی د لنه مړشو ـ سلطان منصور ابو یوسف به په خپله په هره ؤ نی کښی نوموړی روغتون ته یووارته د ناروغانو له حالاتو د ډاکټرانو له فعالیت او له رنځورا نو سره د ډاکترانو لو نرسانو له چلن او سلوک څخه به ئی خان خبر او و او پدی هکله به ئی د نوی نظم هوړ «تصمیم» نیوو .

**دیوو المانی مستشرق د سیالی هوس :**

لنډه چی ما د اسلامی تهذیب له هغو سلګونو روغتونونو څخه دغه څلورنیونی وړاندی کړی چی په هغه وخت کښی له داختیځ څخه ترلو یدیځ پوری رسیدلی وی او دا په هغه وخت کښی وی په کوم کښی چی اروپائی اړی دناپوهی او جهالت په پوړ په پوړتیارو کښی لالهانده و و ـ او له د ډول روغتونونو څخه، د هغوی له باریکیو، د هغوی له صفائی اُوپا کی او په هغوی کښی د ننه د بشر دوستی له عالی او لوړی کارکوونکی روح څخه لری نابلده او جاهل وو ـ او په دی هکله د مشهور المانی مستشرق ماکس مایر هوف ویناهم واوری چی هغه د هغه وخت داروپائی روغتونونو په هکله څه وای پداسی حال کښی چی هغه وخت زمونږ د روغتونونو حالات او څرنګو الی په پورتنی ډول باندی وو ـ ډاکټر ماکس ویلی دی :

»عربی روغتونونه او په تیره زمانه کښی د اسلامی هیوادونو نظام سونږته یوداسی سبق را کوی چی ډیر پریشانوونکی

او تریخ دی او مونږ د هغه درناوی تر هغه پوری په صحیح توګه نشو کولای ترڅو چی مونږ دغه نظام د هغه وخت داروپائی روغتونونو له نظام سره په ژوره توګه مقابله او موازنه نکړو» ـ

**د پاریس دیو ستر روغتون ویجاړ حالت :**

له نن څخه نیږدی دری سوه کاله بلکه له د نه هم ترلږ زمانه وړاندی پوری اروپاد روغتون مفهوم هم نه پیژانده او نه ورڅخه خبر وو بلکه که ووایم چی هغوی تر ۱۷۱۰ مسیحی کال پوری ئی دغه حالت وونوبنائی مبالغه مونوی کړی ـ هغوی به د رنځورانو درمل یا خو په خپلو خونو کښی کول، او یا به په دارالغربائی کښی وو او له دی نه وړاندی دار وپاپانو روغتون دارالمساکین وو ، چی په هغو کښی به بی کوره وګړی که به جوړ وو او که ناجوړه او یا معذور وګړی که ناجوړه به وو او که جوړ سیدل به ـ داروپا د روغتونونویا په بل عبارت د دارالمساکین غوره نمونه د پاریس «او تیل ذیو» کیدلال شی ، څکه چی هغه ته په خپل وخت کښی له ټولو څخه ستر روغتون ویل کیده ـ ما کسی تورډو، او تینو دواړو په خپلو لیکنو کښی د پورتنی روغتون حالات په لاندی تورو کښی خلاصه کړی دی :

«پدی روغتون کښی ۱۲۰۰ د بستر چپرکټونه دی، چی له هغو څخه ۴۸۶ بستره د یوو یوو رنځور لپاره مخصوص دی او د بسترنورپاتی شمیر . . . چی پلن والی ئی له پنځو قدمو څخه زیات ندی، . . . په عامه توګه له دری وو څخه نیولی ترشپږو

Marfat.com

ناروغانودبسترکید لپاره وو، دروغتون دودانی ستری‌خونی بوی‌گنی، لندی او همیشه تیاره او پرته له هوادارو کړکیو او روشندانونو څخه وی - چی د هغوی په هری خونی‌کښی‌به هر وخت نیږ دی له اتوسوو څخه زیات رنځوران ، په مځکه باندی پراته وو - او ځای دومره تنګ وو چی رنځوران به په ناوړه توګه یوپربل برسیره پراته وو - او پدغه روغتون کښی په همدغو خونو کښی داهم بی تفاوته وه چی‌دغه رنځوران په پاکه مځکه پراته وی او که په چټلی او د ګندګی په ډیران باندی، او که چی انسان د رنځورانو دغه حالت وګوری نوپه هغوی ئی زړه سوی راځی، په یوو متوسط چپرکټ باندی به پنځه او شپږ رنځوران له یوبل سره پیوسته پراته وو، دیوو رنځو رپښی به د بل ناروغ په سر باندی پرتی وی، کوچنیان له سپین ږیرو سره، او ښځی به د نرانو په څنګ کښی پرتی وی، که څه هم عقل دانه منی ، مګر دایومنلای شوی حقیقت دی . . . له یووپلوه به میرمنی د حیض په ناروغی مبتلاوی او د هغی په څنګ کښی به یو هلک (Typhoid) تایفائیډ یعنی په سره جوشنده تبه کښی د تشنج په حالت کښی پروت وو او د تبی د زور له امله به خوټ کیده او یوخوابل‌خوابه غورځیده او بیادغه دواړه د یوداسی رنځور په څنګ کښی پراته دی چی هغه په جلدی ناروغیو ککړدی اؤ هغه خپل پولی پولی «ابله» پستوکی په وینولت پتو نوکانو شلوی چی د هغه له امله ئی دبدن زوی په بستر وروانی دی - او دغو مریضانو ته چی په پورتنی روغتون کښی په‌کوم اندول ګنده ډوډی او غذا ورکول کیږی ، . د هغی د کیفیت

Marfat.com

او څرنګوالی لپاره یواځې دومره ویلای شي چې ترڅومره پورې د کثافت او ګندګی تصور کیدلای شي، په همغه نهائی درجه کثیفه غذار نځورانو ته ورکولای شي ـ او همغه هم بیا په ډیره کمه اندازه کښې او په غیر منظم ډول له طولانی وقفو څخه وروسته ـ

د دغه روغتون څارونکی راهبی میرمنې، بدای او شتمنو ناروغانو ته په بې وزلو رنځورانو زیاته ترجیح ورکوی د نورو حقوق له پښولاندې کوی او هغوی ته شراب ورکوی، ځینې وختونه به له بهر څخه د خیرات په توګه راغلی حلوه او چرګ دامی رنځورانو ته ورکولای شو چې هغوی ته به د داسې شیانو له خوړلو څخه پرهیز کول ضروری وو . چې له همدې امله به ځینې رنځوران د بدهضمی له امله او ځینې نور به د هیضه «وبا» له امله مړه کیدل . د دغه روغتون دروازې به همیشه پرانستې پاتې کولای شوی . او هر څوک به هر وخت روتلای او ننوتلای شوی . چې له د کبله د ناروغیو د سرایت ویره به وه . د تشواوډکو بولو امبارونه پدې باندې مستزاد ! د ډوډی انتظام یواځې په خیرات پورې منحصر وو . او که شتمنو وګړو له بهر څخه ډوډی روغتون ته نه لیږلای نورنځوران به له لوږی نه مړه شوی وای . لکه څنګه به ځینې چې وختونه د بدهضمی او ډیرو شرابو له څښلو څخه مړه کیدل .

د ناروغانو په بسترو کښې میږتنو او حشرات الارض په پراخه پیمانه منډې ترړی وهلې . د خو نو فضا دومره ګنده او بدبویه وه چې هیچا نشوای زغملای خادمانو او نرسانو به

پوزه په څادر او پړونې پالندې پټه کړه او بیا به ورته ننوتل او که چیرته به کوم ناروغ مړشو نولږ تر لږه څلرویشت ساعته به په عام چیرکټ کښې پروت وو ، او ځینې وختونه به مړی ئو پړسیده او وروست به شو پداسې حال کښې چې د ده ځنګ ته به بل رنځور هم پروت وو او نیږدې به وو چې د هغه ې وزله ساهم ؤ کاږی.

دا ده هغه لنډه غونډې موازنه چې د اسلامی تهذیب د عروج په دور کښې د روغتونو نو د لویدیځو هیوادونو د روغتونو نو توپیر څرګند وی ، او له دغې موازنې څخه دا معلومیږی چې په هغه زمانه کښې لویدیځ قامونه د علمی انحطاط او د روغتونونو له اصولو او قواعدو څخه د بې خبری او جهالت په خورا ژورو او تورو کندو کښې پراته وو ، هغوی د روغتیاله اصولو څخه له سره خبرنوو . بلکه هغوی د روغتیاله هغو عامو او بدیهی اصولو څخه بیخې جاهل وو چې د هغو د زد کړی لپاره د کوم خاص علم چندان ضرورت هم نوو ، مشهور او نومیالی حکیم آسامه بن منقذ په خپل کتاب «الاعتبار» کښې دوه داسې پیښې لیکلې دی چې له هغو څخه د لویدیځ د مسیحیانو طبی پوهې تــه د رسیــدو صحیح انــدازه ښه تــره معلومیدلای شی .

نوموړی لیکلی دی :

«د انګریزانو د طبی چارو له حیرانوونکو پیښو څخه یوه دا پیښه هم د چې د منیطره حاکم زما کا ته ؤ لیکل چې زه داسې یو ډا کټر ته اړتیالرم چې هغه زما د ملګرو د رسل

وکولای شي . زما کا کا هغه نه یو مسیحی ډاکټر چی نوم ئی ثابت وو ؤ لیږه مګر هغه لسمه ورځ بیرته راغی ، ما له هغه څخه پوښتنه وکړه : «آیا تا په دوسره بیره د رنځورانو د رمل وکړل» . هغه په ځواب کښې راته وویل : «هغه ما ته یو داسی عسکرر اووست چی په پښه باندی ئی دانه ختلی وه ما هغه ته یوه پټی جوړه کړ چی د پټی په کښې ښودلو سره دانه ؤ چاود له. همدارنګه هلته یوه ښځه وه چی هغی ته د پستوکی «جلد» له خرابی څخه د خارښت رنځ پیدا شوی وو ، ما هغی ته پرهیز ورکړ او د هغی د مزاج د لندوالی لپاره‌ی مسهل جوړل کړ مګر ناڅا په یو انګریز ډاکټر هلته راغی او هغه زما په هکله د هغه ځای خلکو ته وویل چی دی په څه پوهیږی چی د هغه د رمل ؤ کاندی . بیا دغه ډاکټر هغه عسکرته چی په پښه ئی دانه وه وویل : «ووایه له خپلو دوارو پښو سره مرګ غواړی او که له یوی پښی سره ژوند» ؟ هغه په ځواب کښې ورته وویل چی زه له یوه پښی سره ژوند غواړم، ډاکټر سم د لاسه حکم وکړ چی یو تکره او ځواکمن عسکر راولی او هم یو خورا تیره تبرګی راوړی ، د ادواره ورته حاضر کړای شو ، ا ما ورته کتل . نوموړی ډاکټر د عسکر همغه ناروغه پښه د لرګی په یوه ډبله او غتی تختی باندی ؤ تړله او بیا ئی دغه غښتلی هسکر ته وویل : «چی تبرګی واخله او په یوو وار باندی دغه پښه ورڅخه غوڅه کړه» . عسکر هم د ډاکټر له حکم سره سم په خپل ټول زور سره د هغه په پښه د تبرګی وارو کړ او ما ئی سیل کاوو چی د هغه مظلوم پښه غوڅه نشوه .

همغه وو چې هغه په زور باندې دويم ګذار هم پرې وکړ او پښه له بيخ څخه راو وختله او وينې ورڅخه رواني وې او رنځور په همدغه حالت کې مړشو» .

او بيا د دې پېښې له بيانولو څخه مصنف په تفصيل سره ليکلي دي چې همغه ډاکټر په هغې رنځورۍ ښځې باندې خوښ کيدلي او جوش ؤ به توبه کړې او هغه خواره هم سمدلاسه وفات او له دې فاني دنيا څخه ئې رحلت وکړ .

**د موازنې نتائج :**

۱- د دې بحث له پای ته رسوني څخه مخکښې زه غواړم د ګرانو لوستونکو پاملرنه د هغو نتائجو په لورو اړووم چې له پورتني موازنې څخه څرګندنديږي . لمړی دا چې اسلامي تهذيب د لويديځ تهذيب په پرتله زيږدي‌نهه سوه کاله پخوا د روغتونونو په هکله ډير لوړ معيار قائم کړی دی .

۲- چې زمونږ روغتونونه د داسې لوړو بشري ننګيرونو ، په بشريت باندې د زړه سوی او له نياو نه ډکو اصولو په اساس جوړ کړای شوي وو . چې د هغو نمونه او سيال نه په پخواني تاريخ کښې ميندل کيږي او نه دغه ننګيرو نه او اصول تر اوسه پورې په لويديځو هيوادونو کښې ميندل کيږي .

۳- مسلمان له ټولو څخه هغه لمړی ملت دی چې هغوی دا درک کړ چې خوش آوازي . مزاحيه ادب او په روحي ډول رنځور ته د تاثر ورکول چې هغه سخ په جوړيدو دی ، دا ټول خورا ګټور ابتکارو نه دي .

Marfat.com

٤- دا چی په ټولیز کفالت کښې مونږ دوسره لوړ معیار د رولی دی چی هغه ته تر اوسه پوری هم د لویدیځ پرمخ تللی تهذیب ندی رسیدلای . د ناروغانو په مجانی د رمل کیدل او د هغوی هستوګنه او د خوراک څښاک تیاری هم په بشپړه توګه مجانی کیده . بلکه له روغتون څخه د ویستلو په وخت کښې بی وزلو رنځورانو ته دوسره پیسی هم ورکول کیدلی چی د هغو په توسه هغه ؤ کولای شی د خپل ژوند روان سیتم ته آسانی سره وچولولای شی .

٥- دا چی دا د بشر دوستی هغه لوړ مقام دی چی هغه ته مونږ هغه وخت ؤ رسیدو چی د نړی د قیادت توغ زمونږ په لاس کښې وو . آیا کله هم مونږ فکر کړی دی چی اوس مونږ په کوم مقام ولاړ یو او دغه لویدیځ هیوادونه کوم ځای ته رسیدلی دی ؟

Marfat.com

# یوولسم باب

## ځان کړی او عمومي کتابتونونه :

په اسلامي تهذیب کښې د ټولنیزی سوکالی د مرکزونو او ادارو د یادونې پــه لړ کښې د کتابتونونو یادونــه هم بې مناسبه نده : «ځکه چې پدې هکله تر ډیره ځایه دغو مرکزونو هم د نورو په څنګ کښې د عوامو ستونځې لرې کړې او ټولنې ته ئې په زړه پورې خدمتونه تر سره کړې دي» .

د زده کړې او تعلیم لپاره بې شمیره مدرسې وې او پرهغوی برسیره نور داسې علمي مرکزونه هم وو چې پرهغوی باندې علما وو حاکمانو او د نفوذ خښتنانو لګښتونه‌کول، اوبیا په‌خاصه توګه په هغه وخت کښې چې د چاپ او خپروني اوسني اسانتیا وې موجودې نوې او کتابونه به د مخصوصو کسانو دلاسونو په ذریعه لیکل کیدل او په یوو کتاب به دومره لګښت کیده او دومره وخت به پرې خرڅ کیده چې د بشپړ کتابتون برابرول خو پرځاې پریږده یو تنګ لاسې وګړی او یا طالب العلم به د هغه یو کتاب له پیرودلو څخه بې څواکه وو . له همدې کبله زمونږ په پخوانی ټولنه کښې د کتابتونو نو جوړول ، یواځې او خالص د بشر دوستې د ننګیرونو نتیجه او د پوهنپالنې نهائي ثمره وه.

د دنیا څومره چې پخوانی ادب دی په غالبه توګه له هغوی څخه عربي ادب هغه یواځینی ادب دی چې د کتابونو

Marfat.com

٧په معامله کښي د بډای او شتمن ویلو وړدی . څکه چي په
٢دغه قام کښي هر وګړی په کتاب مین معلومیږی . د کتاب
په هکله خبری اتری کیږی او د هر یوو وګړی له کتابونو
سره مینه ده او داسی معلومیږی چي کتاب د دوی هر یوو
دامی دوست دی چي ګواکی له هغه سره له ډیری مودی
را پدی خوا د هغه لیده کاته ندی شوی . خو نه هم ډیره لری
ده او زړه هم هغه ته د تللو مینه نلری او سترګی د دیدن
مینه لری. احمد بن اسماعیل ویلی دی :

«د شپی له مخی کتاب یوداسی مرکه کوونکی چیدوست دی
چیله تا سره د مجلس کولو په حالت کښي د خبرو په څیړنه کښي
ستا د څورونی باعث نه ګرځیږی د ارام او خلاصون په وخت
کښي تا ته د بلنی تکلیف نه درکوی ، او کله چي له تا سره
لیده کاته ؤ غواړی نو تا ته د هیڅ ډول سنګار او ارایش ضرورت
نشته ـ او کتاب یو داسی همنشین دی چي له خپلی اندازی څخه
زیات د تا ستاینه نکوی اوهغه یو داسی ملګری او الدیوال دیچی
تا ته د روهه نه درکوی او یو داسی سلګری دی چي ستا د
خفګان عامل نه ګرځیږی او یو داسی ناصح او ښودونکی دی چي
تا غولیدلو ته نه پریږ دی ـ١

---

١ـ یو داسی مشغولا چي هره شیبه ئی د دنیا او اخرة د
بریالی توب او کامرانی ده ، داسی وسله چي د دښمنه له
فکری اومعنوی هلاکت څخه ژغورنه کوی داسی رڼا ډیوه
چي تیت والی نلری او د هغه په توسه بصیرت نور هم
زیاتیږی . خو دا صفتونه هر یو کتاب نلری څکه چي په

**له کتابونو سره مینه :**

مسلمانو ادیبانو به ، له خلکو سره په هر ډول غونډو کښې د ګڼون کولو پرځای د کتابونو مطالعې ته ترجیح ورکوله او باچاهانو ته د نیږدې والي په پرتله به ئې کتابونو ته نیږدې والی زیات زړه خوښه وو نکي او ددادورګانه ـ محمد بن عبدالملک الزیات چې د هغه وخت د اسلامي حکومت یولتلي وزیر او د عرفان او ادب یوه روښانه ډیوه وه د یو څو مودې لپاره په کور کښې منزوی شوی وو ـ جاحظ له هغو سره د لیدلو او ملاقات هـوډۇ نیوو او دا فکـر ئې وکـړ چې زه باـید د سیبویـه کتاب چې د عربیت امام وو د تحفې په ډول هغه ته د لیدلو او ملاقات په ترڅ کښې وړاندې کړم ـ هغه ئې له ځانـ سره واخیست او د نوموړی وزیر کورته لاړ ـ او له هر کلي نه وروسته ئې دغه تحفه ورته وړاندې کړه ـ وزیر د جاحظ دغه تحفه قبول له کړه او ډیر خوښ شو او داسې ئې ورته ؤ فرمایل : په الله تعالی مې دې سوګندوی چې تر اوسه پورې ما ته هیڅا

---

دوی کښې داسې کتابونه هم شته چې د هغو په ملګرتیا له انسانـ څخه وحشي جوړیږي او د هغو د محتویاتو په عملي کولو سره بشري وګړي د اخلاق رذائلو شرارت او فساد کتله ګرځیږي لکه دا بیقور ، هیر اکلیت ، ارسطو ، هګل ، مارکس ، لینـن ، ماووه او لا مارک الحادي کتابونه ، بلکه دا صفتونه د هغو کتابونو دي چې د هغو لیکوالان د الله تعالی په وجود حساب او کتاب او قیامت معترف دي . ژباړونکي .

Marfat.com

هم له دی څخه زړه ته او ښه تحفه نده راکړی کوم خلیفه یوه شپه یو دینی عالم د مرګی او خبرو اترو کولو لپاره راؤ غوښت ـ کله چی دباچا قاصد د ملا خونی ته لاړنو هغه ؤ لید چی د کتابونو په یوه ستره زیر مه کی را ګیر دی قاصد ورته وویل «تاسی امیر المؤمنین غوښتی یاست» ملا ورته وویل : «امیر المؤمنین ته ووایه چی اوس خو له ما سره ستر ستر علماء او فیلسوفان ناست دی ، او زه له هغوی سره خبری اتری کوم او کله چی بی کاره شمـــــنو د ربه شم» خادم بیرته لاړ او خلیفه ته ئی د هغه وینا تکی په تکی ؤ رسوله ـ خلیفه په حیران تیا سره له خادم څخه پوښتنه وکړه چی دا کوم علماء او فیلسوفان دی چی له ده سره خبری اتری کوی ـ خادم ورته وویل په خدای می د قسم وی چی ما خو له ده سره هیڅوک هم ؤ نه لیدل ـ خلیفه همدغه خادم بیاورو استاوو او ورته ئی وویل چی ورته ووایه هر څنګه چی وی ماته سم د لاسه راشه، کله چی نوموړی عالم راغی نو خلیفه پوښتنه ورڅخه وکړه هغه کوم علماء ووچی له تا سره ناست وو .

د خلیفه د پوښتی په ځواب کښی هغه دا لاندنی اشعار ورته وویل :

هم جلساء ما تمل حدیثهم
امینون ، مامونون غیبا و متهدا
اذا ما خلونا کان خیر حدیثهم
معینا عـلی نفـی الهموم مـؤیدا

Marfat.com

يفيد وننا من علمهم علم ما مضى
وعقلاً وتـاديبا ورأيـاً وسودوا
فلا ريبة تخشي ولا سوء عشرة
ولا تتقـى منهـم لساناً ولا يـدا
فان قلت اموات فلست بكاذب
وان قلت احياء فلست مفند

ترجمه : هغه داسې ملګرې دي چې خبرې ئې سرې نه خفه کوې برابره خبره ده که دوی حاضروی او که غائب ، او هغو امين دي او د اعتبار وړدي ـ که چې په تنهائي کښې راشي نو د هغوی خبرې ډيرې ګټورې وی ، د غمونو په لرې کولوکښې مرستيالان او داد ورکوونکي دي هغوی دخپل علم پهتوسه ماله پخوانيوعلمونوڅخه مستفيد کوی او له د سره سره عقل ته بنائست او حکمت او رأی هم را ته را کوی ـ نه به ته له هغوی څخه انديښمن شې، او نه به در سره دبد اخلاق ويره وی او نه به له تا سره د هغوی له لاس او ژبې څخه چا ته د زيان رسيدلو انديښنه وی ـ که زه ووايم چې هغه مړه شوی دی نو دروغ به مې نوی ويلې او که ووايم چې ژوندی دی نو کومه تورقه به مې نوی کړی ـ»

د ده له د وينا څخه خليفه پوه شو چې د ده مطلب کتابونه دی ، له د امله د هغه غصه سړه شوه ـ او د سم لاسې نه حاضرتيا په وجه ئې هغه ته نه کومه سزا ورکړه او نه ئې سپکې سپورې ورته وويلې ـ

Marfat.com

صاحب بن عباد ، د نوح بن منصور سامانی په شاهي محل کښې د هستوګنې او د يوی لوړی او عالی د ندی د تبلولو پرځای د کتابتون په ځنګ کښې هستوګنه ډيره خوښه کړه او دا له د امله چې ده له خپل کتابتون سره ډيره مينه لر له ، همدا وجه وه چې هغه په خپلو تلو سره هغه نشوای پری ښودلای. او حالت هم څه داسي غوندی وو چې خپل کتابونه ئی له ځان سره هم نشوای وړلای ، له همدی امله هغه په لوړی د ندی او شاهي محل ته په تللو باندی په خپل کتابتون کښې پاتی کيدلو ته ترجيح ورکړه او په خپل کتابتون کښې په هستوګنې باندی خوښ وو - دا وه هغه د پوهن پالنې روح چې د هغه په اساس علماوو حاکمانو او شتمنو وکړو له کتابونو سره خپله ولوله انګيزه بې ساری مينه څرګنده کړه او هغه ئی سره را غونډ کړل - ان تردی چې په هغوی باندی د خپلو کورونو او شتوله ابته کولو څخه د کتابونو تلف کيدل خورا زيات ګران تماميدل.

**کتابونه چې سلامت وی بل هيڅ غم نشته :**

د يوو جنګ په دوران کښې ، د ابن عميد په کور باندی جنګی عسکرو يرغل وکړ د هغه ساتونکی او مرئيونه ئی بنديان کړل او ابن عميد د دارا لا ماره په لورو تښتيده فوځيانو د هغه د کور ټول کالی او اسباب لوټ کړل ، کله چې فوځيان لاړل نو ابن عميد کورته راغی او وی کتل چې د کا له ټوله اثاثه لوټ کړای شوی ده ، ان تردی چې د هغه د کښې ناستلو لپاره هم هيڅ شی نشته او د او بود څښلو لپاره ګلاس هم پاتی نوو - مګر سره له دی بيا هم له هغه سره له خپل کتابتون څخه پرته چې په هغه کښې ئی د مختلفو علومو ادب

Marfat.com

او د حکمت د ټولو فنونو بې شمېر، کتابونه را ټول کړي او هغه دومره ډېر وو چې په ډېر مشکل سره سلو اوښا نو ورلای شوای د بل هیڅ شي اندیښنه غم او فکرنوو، کله چې ابن عمید د خپل کتابتون مسئول او امرؤ لیدنو له هر څه نه لمړی ئې له هغه څخه د خپل کتابتون پوښتنه وکړه ' هغه ورته وویل چې کتابتون په خپل حال او روغ رمټ دی هغه ته چا ګوتی هم ندئ وروړی - د دغه زیری په اوریدلو سره د ابن عمید څیره له خوښی څخه ؤ غوړیدله او د کتابتون مسئول ته وائی چې زه ددی خبری ګواهی کوم چې ته خو را نیک کتاب دارئ - د کور ټول اسباب او ظروف خو بیا هم تیاریدلای شي او د تلف شوی متاع بدل کیدلای شي مګر ددی زیر می «یعنی کتابتون» بدل په اسانی سره ممکن ندی.

**د کتابونو په پیرودلو او ډیرو والی کښې سیالی :**

بیا د همدغه علمی ذوق او مینی په اساس وګړو له یو بل سره سیالی کوله او یو له بل څخه دوړا ندی والی په لټه او هڅه کښې وو او د هر کوم کتاب تصنیف او لیکنه به چې پای ته ؤ رسیدله خلکو به د هغه په پیرو دلو کښې یو له بل څخه سبقت کاوو - د مثال په ډول د اندلس امیر حکم ته چا وویل چې ابو الفرج اصفهانی د خپل مشهور کتاب الاغانی تصنیف او لیکنه پیل کړی ده - نو موړی امیر د دغه کتاب د یوی نسخی د پیرودلو په خاطر ابو الفرج ته یو زر دیناره د هغه دښې په توګه ورو استول او دا پیغام ئې ورسره ورکړ چې د کتاب له پای ته رسیدلو سره سم باید یوه نسخه د هغه ما ته راولیږی،

Marfat.com

همدغه وجه وه چې دغه کتاب د مصنف له تاتو بې عراق څخه هم وړاندې لمړی د اندلس په ځیر په یوو خو را لری هیواد کښې مطالعه او ولوستلای شو .

**د کتابتونو نو ډیر والی :**

د دغه ادبي ذوق او علمي روح په وجه په گرده اسلامي نړۍ کښې په هره سیمه او هر ځای کښې کتابتونو نه جوړ کړای شو ، او داسي مدرسي ډیری کمي وې چې له هغوی سره به کتابتونونه نوو او ښاڅ په ډیر لږ اندول کوم داسي کوچنې کلی سیندلای شوی وای چې په هغه کښې به کتابتون نوو - پاتې شو ستر ستر ښارونه او دارالخلافې هلته خو کتابتونونه او کتاب پلورنځی دومره ډیر وو چې په منځنیو پیړیوکښې دهغوی تصور هم نشوای کیدلای.

**د کتابتونونو ډولونه :**

دغه علمي عرفاني او ادبي کتابتونو نه به په عمومي توگه په دوه ډولـه وو - ځانـگـړی او عامه کتابتونونه به د خلفا وو ، امیرانو علماوو او نورو شتمنو وگړو له لوری څخه جوړیدل - او د هغوی لپاره ځان گړی عمارتونه جوړ کړای شوی وو او بیا په دغه ډول تعمیر ونو کښې به ډیری خونې وی چې د هغوی په منځ کښې به لوی تالار وو چې د وی به ئې یوه له بلې سره تړلې وی او بیا به په دغو خونو کښې کتابونه په د یوال کښې په جوړ کړای شویو (Cornice) کارنسو یعنی رپکیو باندې کیښو د ملای شوی وو - د دغه تعمیر هره خونه به د یوو ځانګړی علمي فن د کتابونو د کښې ښودنې لپاره مختص

Marfat.com

کړای شوی وه ـ د مثال په ډول له ادب د کتابونو نه ، د فقه له کتابونو نه ـ له طبی کتابونو نه او پدی ډول د نورو فنونو او علومو د کتابونو لپاره ځانګړی خونه وه ، پدغه عمارت کښی د کتاب کتونو «مطالعه کوونکو» لپاره بیلی بیلی خونی وی ـ او ځینی خونی به د کاتبانو لپاره مخصوصی وی چی هر وخت به ئی کتابونه لیکل ـ او په ځینو عمارتونو کښی به یوه خونه د موسیقی «ساز» لپاره هم مخصوصه کړای شوی وه چی هلته به ردکوونکو ذهنی ستړیا د ساز په او ریدلو لری کوله او بیا به بیرته په کتاب کتنی لګیا کیدل . . . . . له همدی امله ، ویلای شو چی اسلامی تهذیب پدی هکله منفر د او ځانګړی مقام لری . . . . . . . . همدارنګه په د غوو د اینو کښی به دامی خونی هم وی چی هلته به په دغه کتابتون کښی میشتو فاضلانو په خپل‌منځ کښی یوله بل سره په مختلفو موضوعاتو بحثونه مناظری او څیړنی کولی ـ او دغه ټولی خونی به په ښائسته کرسیو باندی کښلی کړای شوی وی ـ او همدارنګه په دغو ودانیو کښی به د خوراک او څښاک لپاره ځانګړی خونی جوړی کړای شوی وی ـ او د بی وزلانو لپاره د خوب او ویده کیدلو خونی هم وی ـ لکه چی د علی بن یحی بن منجم د کتابتون په هکله منقول دی چی بغداد ته نیږ دی د قفص په چاپریال کښی په یوکرکر نومی کلی کښی د کتابتون لپاره یو خوراستر تعمیر وو ، په دغه تعمیر کښی د کتابونو یوه ستره زیرمه وه چی هغی ته «د حکمت خزانه» ویل کیدله ـ له هری سیمی څخه به خلک راتلل او د لته به میشته کیدل او د مختلفو علومو تحصیل

Marfat.com

به ئې کاوو ، پدې مدرسه کښې به هغوی ته هر ډول کتابونه پريمانه پيدا کولای شول ، او د ژوند تولې اړتياوې رفع کولای شوې او دغه ټول لګښتونه د علي بن يحيی له خپل ځانی جايداد څخه ورکولای شول - پدې کتابتون کښې ځيني داسې اسانتياوې هم برابر ولای شوی چې اوس هم د لويديځ تهذيب او تمدن د خوراپر مخ تللی هيواد په دارلحکومت کښې مونږ د هغو تصور قدری هم نشو کولای - د موصل په ښار کښې ابوالقاسم جعفر بن محمد حمدان موصلي يو تعمير جوړ کړ چې نوموړی د خپل دغه نوی تعمير نوم « دارالعلم » کښې ښود - په دغې نوی ودانۍ کښې نوموړی دزکوونکو لپاره يوستر کتابتون وقف کړ چې دغه کتابتون ته د هيڅا په راتللو هم بنديز نوولګول شوی او که کوم بې وزلی طالب العلم به راغې او د هغه موخه به يواځې د عرفان او ادب تحصيل او زدکړه وه نو هغه ته به (Stationery) ستېشنری يعنې د مطالعې او ليکنې د لواز مولو برابرو لو سره سره به زړه پوری پيسې هم ورکولې - او دغه کتابتون به هره ورځ پرا نستل شوی وو -

اوس نوتاسې په خپله وو اياست چې ايا اوس په لندن ياواشنګټن اويا د نړۍ په نورو حکومتي مرکزونو کښې داسې کتابتون شته چې د پوهنې او عرفان تږيوته ئې داسې اسانتياوې مهيا کړی وی چې له کتابونو سره سره هستوګنځې او د لګښتونو اسانتياوې ئې هم ورته رسولې وی او يا ئې وړسوی -

په عامه کتابتونونو کښې به مامورين مقرر يدل چې د هغوی مشر منصبدارته به « خازن المکتبه » ويل کيده - او د دغې

Marfat.com

دندی لپاره به همیشه د مشهورو علما وو له جملې څخه یو کس تپاکل کیده ـ او ځینې نور به طالبانو او زدکونکو ته د کتابونو ورکولو او له هغوی څخه د کتابونو اخستلو لپاره مقرر شوی وو ـ او د وی ته به « متناول » ویل کیدل ـ او پردوی برسیره ځینې وګړو به د ژباړې د نده تر سره کوله او غیر عربي تصنیفات به ئې په عربي ژبه ژباړل داسی خطاطان او کاتبان هم مقرر کړای شوی وو چې په خپل روښانه او ښائسته لیک به د کتابونو غوره نسخې تیارولې ، صحافان به هم مقرر وو چې کتابونو ته به ئې پخې د پټې او کنبلې پوښونه جوړول ترڅو کتابونه له ضیاع او شلیدلو څخه وژغورل شي ـ د دغو مشهورو د ندو په مامورینو برسیره یو شمیر داسې نور وګړی هم مقرر کړای شوی وو چې هغوی به د کتابتون نوری اړتیاوی پوره کولې ـ

د هری کوچنی او ستر کتابتون د کتابونو یو فهرست به لیکل شوی وو ، ترڅو د هغه په لیدلو سره مطلوبه کتاب په اسانۍ سرا مراجعین ترلاسه کړی ـ دغه فهـــرست به د مختلفو علومو له نظره مرتب کیده له هری الماری سره به داسې یو لست ځړول شوی وو چې په هغه کښې به د هغو کتابونو تفصیل لیکل شوی وو چې په دغه الماری کښې به موجود وو ـ د زیاتو کتابتونونو په هکله به دا خبره په عوسی توګه وګړو ته معلومه وه چې په ضمانت ورکولو سره د مطلوبه کتاب له کتابتون څخه بهر هم هر چاته د وړلوا جازه وه مګر مشهو عالمان او فاضلان له دی کړول «قید» څخه هم مستثنی وو او هغوی ته کتابونه له ضمانت ورکولو څخه پرته هم ورکول کیدل ـ

Marfat.com

د دغو کتابتونونو د هغو عوائدو چی له هغو څخه د کتابتونونو ډېرلی پورتنی ارتیاوی رفع کیدلی د هغوی ذرائع مختلف وو- یوه ذریعه خوئی هغه او قاف وو چی د دغو کتابتونونو لپاره مخصوص کړای شوی وو او د زیاتو کتابتونونو د عوائدو ذریعه همدغه د دوی خپل او قاف وو - او بله ذریعه ئی دا وه چی امیرانو ، عالمانو به په خپله کتابتونو نه جوړ کړی وو او په خپله همدوی به د هغوی ټولی ارتیاوی هم له خپلو شتو څخه رفع کولی د مثال په ډول محمد بن عبدالملک الزیات به د خپل کتابتون کاتبانو او ناقلینو ته په هره میاشت کښې دوه زره پونډه ورکول - مامون‌الرشید به د حنین ابن اسحق هر هغه کتاب له سپینو زرو سره تول کا وو چی له غیر عربی ژبی څخه به نوموړی په عربی ژباړلی وو او هغه تول سپین زربه ئی د هغه معاوضه له نوموړی ته ورکوله -

اوس زه غواړم چی د کتابتونونو د تاریخ د راخستلو په ترڅ کی پدی ځای کښې د مثال په ډول د ځینو شخصی او عامه کتابتونونو یا دونه هم وکړم -

**۱ - په قاهره کښې د فاطمی خلفاؤ کتابتون :**

د فاطمی خلفا وو له کتابتونونو څخه یو کتابتون په قاهره کښې هم وو - دایو داسی عجیب کتابتون وو چی په هغه کښې خورانفیس قرآن مجید او کتابونه موجود وو - په دغه کتابتون کښې د قرآنی نسخو او کتابونو مجموعی شمیر د زیاتو مؤرخینو له وینا سره سم شل لکه «د وه ملیونه» وو او مقریزی لیکلي دي چی د دغه کتابتون د کتابونو شمیر شپاړس لکه وو -

Marfat.com

**۲ ـ دارالحکمت ، په قاهره کښې :**

دغه کتابتون حاکم بامر الله د خپل خلافت په دوران کښې په قاهره کښې جوړ کړی وو ، د دغه کتابتون پرالسته « افتتاح » د ۳۶۵ هجری کال د جمادی الاولی په لسمه نیټه وکړای شوه او کله ئې چې د هغه تعمیر پای ته ورسا وو او په ارزښتنا کو مفرو شاتو ئې فرش کړ په کړ کیو او د ورزو ئې پردی وځړولی ـ بیا ئې منتظمین پکښې مقرر کړل او د کـتـابو ترتیبوونکی او نور ماسورین او خدمت گاران‌هم مقرر کړای شول ـ پدی کښې د کتابونو یوه دومره ستره زیرمه غونډه کړای شوه چې له ده نه مخکښې هیڅ یووباچا په هیڅ ځای کښې نوه جمع کړی ـ د دغه کتابتون ځلوینښت برخې وی په هره ونډه کښې ئې اتلس زره ، . . . ۱۸ کتابونه وو چې په هغو کښې د پخوانیو علومو هر ډول کتابونه وو ـ دغه کتابتون ته هر څوک ورتلای سوای ، ځینې به یواځې د مطالعې لپاره هلته تلل ، او چا به نقل کا وو او ځینې به هم یواځې د زدکړې د تحصیل لپاره هلته تلل- او هر چاته به د کتابتون له پلوه قلم، مشوانی، کاغذ او هر ډول د لیکنې رنګ ورکول کیده ـ

**۳ ـ په بغداد کښې ، د بیت الحکمت کتابتون :**

دغه کتابتون په بغداد کښې هارون الرشید جوړ کړی وو او د مامون په زمانه کښې خورا پیاوړی او د عروج بام ته ورسیده ـ دا کتابتون نه بلکه یوستر پوهنتون وو چې په هغه کښې څیړونکی « محققین » مفکرین، مطالعه کوونکی بحث او استفاده کوونکی تول راتول شوی وو ـ پدی کتابتون کښې کاتبان

Marfat.com

او ژباړونکی مقرر کړای شوی وو ـ او دغه وګړی به د هغو کتابونو په ژباړه باندی مصروف او لګیا وو چی هارون الرشید او ماسون له عموریه ، انقره ، او قبرص څخه د سوبی «فتح» په وخت کښی راغونډ کړی وو ، ابن ندیم ویلی دی چی د ماسون او د روم د هغه باچا ترمنځ یوطولانی لیک لیږ نه شوی وه چی په جنګ کښی ئی هغه ته ماتی ورکړی وه ـ او بیا هغه ماسون ته د جوړی روغی پشنهاد کړی وو ـ ماسون ورسره ؤمانه او یوپرو تو کول ئی لاس لیک کړ چی د سولی د شرطونو په ترځ کښی ماسون یو شرط دا هم لیکلی وو چی دی به د هغو ګردو کتابونو د ژباړی اجازه ورکوی چی له دوی سره موجو د دی ـ او ژباړ به هم هغه وګړی کوی چی ماسون ئی ورته ؤ لیږی ـ ماتی خوړلی رومی باچا دغه شرطونه ورسره ؤمنل او ماسون داسی لاړه ژباړونکی ورواستول چی هغوی توله رومی علمی زیرمه عربی ژبی ته انتقال کړه ـ داد تاریخ یوزرین مثال او نمونه ده چی د یوو فاتح په نظر کښی له د څخه بل هیڅ شی دومره ډیرا زښت نلری لکه څومره ئی چی هغه د علوسو او فنون خپل قام ته د هغوی پ ژبه لیږ د ونی ته ورکوی ـ

## ٤ـ په اندلس کښی ، د حکم کتابتون :

دغه کتابتون هم ډیر لوی او پراخه وو ، او ویل کیږی چی پدغه کتابتون کښی څلور لکه کتابونه وو ، او د کتابونو فهر ستونه ئی خورا منظم او مفصل وو ، ان تر دی چی یواځی د شاعرانو هغه کتابونه چی پدغه کتابتون کښی موجود وو ، د هغوی فهرست په څلویښتو ونډ ویشل شوی وو ـ د کتابت

Marfat.com

د فن ماهر وگړی به هلته موجود وو ـ او همدارنګه د پټنې اچوونکې وګړی هم مقرر کړای شوی وو چې په نتیجه کښې د د دغه کتابتون په توسه په اندلس کښې د کتابونو یوه دومره ستره ذیرمه غونډه کړای شوه چې نه له هغه څخه مخکښې وه او نه له هغه نه وروسته د هغه اندول او سیال چا بیا په دغه هیواد کښې ؤ لید .

**٥- په طرابلس کښې ، د بني عمار کتابتون :**

دغه کتابتون په خپل عظمت او پراختیا کښې د الله تعالی له براهینو څخه یو برهان وو . پدغه کتابتون کښې یواځې د هغو کاتبانو شمیر چې کتابونه ئې یو له بل څخه نقلول یوسل او اتیا کسه وو د هغوی د کار وختونه به په شپه او ورځ کښې بدلیدل را بدلیدل ترڅو د کتابونو د لیکنې لړی پرلپسې جاری ؤ ساتلای شي او نه د ورځې او نه د شپې هغه باید منقطع کړای شي . د نوو کتابونو له غونډولو سره د بنو عمار ډیره مینه وه ، هغه څینې سوداګران او منصبداران یواځې د دې کار لپاره مقرر کړي وو چې هغوی مختلفو سیمو ته لاړ شي او په هیواد کښې د ننه او له هیواد څخه له دې باندې نیږدی سیمو نه ددغه کتابتون لپاره د هر فن کتابونه را غونډ کاندي له دغه کتابتون څخه مصر هم په خپلو لیکنو کښې ګټه اخستلې ده او په خپلو ځینو کتابونو کښې ئې د هغه یادونه هم کړې ده . پدې خبره کښې اختلاف دی چې د دغه کتابتون د کتابونو شمیر څومره وو ـ معتدل قول دا دی چې پدغه کتابتون کښې یو ملیون «لس لکه» کتابونه جمع کړای شوی وو .

Marfat.com

**شخصي کتابتونونه :**

د مخصوصو او ځانګړو کتابتونونو په لړ کښې به مونږ یواځې د هغو کتابتونونو یادونه وکړو چې هغوی تاریخي ارزښت لري ' دغسې خو د اسلامي نړۍ لویدیځ او ختیځ ټول له کتابتونونو ډکه وه ، ډیر لږ به داسې یو عالم میندل کیده چې هغه به له زرګونو کتابونو څخه ډکه خپل کتابتون نه درلود ـ له دې ډول ځان ګړو کتابتونونو څخه د فتح بن خاقان چې په ۲٤۷ هجري کال کښې قتل کړای شو ' کتابتون ډیر مشهور دی د نوموړي خورا پراخه کتابتون وو ـ هغه د خپل وخت مشهور عالم او ادیب علي بن یحیی المنجم ته د نده ورکړې وه چې د دغه کتابتون لپاره د کتابو لټه او هغه را عوله کړي . نوموړي عالم د کتابونو په زیرمه کښې داسې کتابونه را غونډ کړل چې په بل هیڅ یوو ځای کښې نه میندہ کیدل .

د ابن خشاب متوفی ٥٦۷ مسیحي کتابتون هم په دغه ډول کتابتونونو کښې شمیرل کیږي ـ نوموړی د نحو په علم کښې ډیرو ارد وو ، او په تفسیر ، حدیث ، منطق او فلسفه کښې ئې هم په زړه پو ادراک درلود وائي چې نوموړی دلیونتوب ترپولې په کتابونو باندې مین وو او دغې لیواله مینې دی مجبور کړ چې هغه د کتابونو په غونډ ولو کښې د ځینې جنایتونو ارتکاب هم وکړي . کله به چې هغه بازارته ته او غوښتل به ئې چې کوم ښه کتاب ؤ پیري نو دوکړو سترګوته به ئې کتل او په پټه سره به ئې د کتاب له منځه یو څو پاڼې وویستلې او هغه به ئې له ځان سره پټې کړې بیا به ئې کتاب

Marfat.com

پلورنکی ته وویل چی دا کتاب خدنیمگړی دی ـ په هم دی ډول به ئی هغه کتاب په نیمه بیه ورځخه ؤ پیرود او کله به ئی که له چا څخه کوم کتاب په مستعار ډول وی وړ بیا به ئی هغه کتاب خپل څښتن ته نه ورکاوو او ورته ویل به ئی چی هغه د کتابونو په ډیری کښی ورک شوی دی او هر څومره ئی چی لټووم نه پیدا کیږی .

د جمال الدین قفطی (متوفی ٦٤٦ هجری) کتابتون هم ډیر مشهور وو ـ نوموړی په خپل کتابتون کښی ډیر کتابونه غونډ کړی وو او د ده د سخاوت له کبله به له هر لوری څخه خلک ورته را تلل ـ او په هغه وخت کښی د ده د کتابتون کتابونه له ټولو څخه زیات منلی وو ، او نوموړی خپل ځان کتابونو ته وقف کړی وو ـ او همدغه لامل وو چی د ژوند تر وروستی شیبی پوری نوموړی واده ونکړ ترڅو له خپلی پورتنی عرفانی د ندی څخه د کهول د اړتیا وو په برابرولو مصروف نشی ـ نوموړی د ځلکدن په وخت کښی د خپل کتابتون په هکله دا وصیت وکړ چی هغه د ناصرته ورکړای شی. د ده د مرگ په وخت کښی د ده د کتابتون مجموعی بیه پنځوس زره پونډه وه.

د حلب د بنی جراده «قبیلی» د عالمانو کتابتون هم ډیر مشهور دی . د هغوی له جملی څخه یوو کس ابو الحسن ابن ابی جراده (متوفی ٥٤٨ ه) په خپله لیکنه باندی د خورا غوره کتابتونونه لیکلی دی . یوه د خپل ځان اپاره ، او یو د خپل زوی ابـو البرکات لپـاره او یـو کتابتون د هغـه د زوی عبدالله لپاره .

Marfat.com

د موفق بن مطران دمشقي (متوفی ۵۸۷ ﻫ) کتابتون هم ډیر مشهور وو. هغه د کتابونو په لاسته راوړو او غونډولو کښې له لوړ همتې څخه کار واخیست. او کله چې دی وفات شو نو هغه وخت د ده د کتابتون د کتابو زیرمه لس زرو کتابونو ته رسیدلې وه. نوسوړی دری کاتبان نیولي وو چې هغوی به هر وخت له دغو کتابونو څخه د تکثیر په تکل نور کتابونه لیکل - او دغو دری واړوته به ئې په زره پوری تنخا ورکوله او هم به ئې د دوی نوری اړتیاوی پوره کولي.

**له دغو کتابتونونو سره د دښمنانو چلن:**

زمونږ د تهذیب د پرمختګ په زمانه کښې که له یوی خوا په اسلامي نړۍ کښې دکتابتونونو په ډیر والي باندې زمونږ زړونه خو شیږی، خو له بل پلوه کله چې مونږ د ارایادوو چې د دغو کتابتونونو پای څرنګه شو؟ له هغه څخه زیات زمونږ زړونه خوږ من او غمجن کیږی، دا څکه کله چې مونږ را په یاد دړو چې دغه عرفاني زیرمی د دښمنانو له خوا څنګه تباه کړای شوی؟ او هغه په څومره زیات قلبي قساوت سندونه او اورته واچولای شول او په څومره بې رحمي وُسوځولای شول؟ او د مودو مودو په زیار دغه غونډی کړای شوی ارزښتناکی زیرمی او د علم او عرفان دغه بې سیاله پانګې څنګه او په څه ډول له منځه یوړ لای شوی؟ چې د علم او عرفان د پالونکو توکونو زړونه د هغه په یادولو باندې کرم کرم کیږی څکه چې دا داسي زیان دی چې تر قیامت پوری هم نشي جبیره کیدلای. زمونږ په دغو کتابترونونو د بربادی او زوال داسي طوفان راغی، چې دهغه په توسه بشریت دهمیشه لپاره له داسي په لکونولکونو

Marfat.com

کتابونو څخه يې برخې شو چې هغه د بشري فکري تخليق او ابتکار تاريخي نموني وې .

هغه وخت چې د تاتاريانو د وران کارې او تباهې سيلاب (د گوبي له دښتې څخه) د بغداد په لور په خپلو مستو څپو راغې نو له هر څه نه لمړۍ دغه کتابتونونه له ځان سره لاهو کړل ، او لکه څنگه چې ټولو ته معلومه ده چې تاتاري بې سواده لښکرو ته په دغو کتابتونونو کښې چې هر څه په لاس ورغلل ، هغه گرد دجله سيند ته وُ غورځول ـ ان ترد ي چې د دغو کتابونو په غورځولو سره د سيند گيډه دومره ډکه شوه چې د تاتاريانو وگړي به پلې پکښې تلل راتلل ـ او په مياشتو مياشتو د دغه دريا د او بورنگ د کتابونو د سياهي له امله تکتور گرځيدلاى وى .

له تاتاريانو څخه وروسته د صليبي جنگونو په څپره کښې دغه علمي تباهي منځته راغله د طرابلس ، معره ، بيت المقدس ، عسقلان او نورو ښارونو ټول ارزښتناک کتابتونونه تباه کړای شو، څکه چې دغه پورتني ټول ښارونه مسيحيانو د فتح کولو په لړ کښې تباه او برباد کړل ـ تاريخ پوهانو ليکلي دي چې يوازې د طرابلس په ښار کښې مسيحيانو دري مليونه ټوکه کتابونه تباه کړل ـ چې د دغه يوو ښارله علمي ضائعې څخه دا اندازه لگولای شي چې دغه صليبي تباهي څومره بېرنوونکې او ستره تباهي وه .

په اندلس باندې د هسپانويانو تسلط چې بشريت له کومو سترو سترو کتابتونونو څخه محروم کړ د هغه داستان ډير لړزوونکې دې ـ دغو مذهبي متعصبو وگړو چې د کتابونو کومې ستري

Marfat.com

زیرمی ؤ سوځولی او تباه ئی کړی ، د هغوی اندازه له د څخه وکړ ئی چی هغوی یواځی د غرناطه په یوو پرا خه ډگر کښی یواځی په یوه ورځ کښی یو ملیون کتابونه ؤ سوځول ـ دا خو یواځی زمونږ د اسلامی نړی دکتابتونونو هغه ستره تباهی وه چی د غلیمانو لهخوا ورته ؤ رسیدله، پدی برسیره هغه عرفانی زیانونه چی د خپل منځی فتنو په توسه زمونږ عملی پنگوته رسیدلی دی‌هغه هم له د نه څه کم نوو ـ د مثال په ډول کله چی په مصر باندی د عبید «مرئی» د کورنی تسلط راغی نود هغه ځای د فاطمیانو د کتابتون سرنو شت دارنگه شو چی د هغه ټول کتابونه ؤ سو ځولای شو د هغوی د وقایو ښائسته خرمنی وو یستلای شوی او له هغو څخه ئی ځپلی او کلوشی جوړی کړی بی شمیره کتابونه ئی د نیل په دریا کښی ؤ غور ځول ـ او ځینی کتابونه خلکو ؤ تبنتول او مختلفو سیموته ئی له ځانونو سره وی وړل او کوم چی پاتی شول نو هغه ئی په ریښ ډگر گذار کړل اوبا د به د هغوی په کنبلو پانولو بی کولی ـ او په همغه وخت کښی ځینی داسی غونډی وی چی د کتابونو په غونډیو باندی مشهوری شوی ـ

په حلب کښی یو مشهور کتابتون وو ـ چی د هغه نوم «خزانة الصوفیه» وو ـ د عاشوره په ورځ د شیعه او سنیانو ترمنځ جنک منځته راغی چی د دغه جنگ په دوران کښی دغه کتابتون خلکولوټ کړ او له یوځوکتابونو څخه پرته نور هیڅ کتابونه پاتی نشول ـ

Marfat.com

د اندلس د حکمران مستنصر دکتابتون پای دا شو که چی د بربر قبائل هلته په فاتحانه ډول ننوتل نوهغوی له هرځه نه وړاندی دغه کتابتون برباد او تباه کړ - او هغه داسی چی ځینی کتابونه د آسونو د تازینی په نرخ لیلام کړای شو او کوم چی پاتی شول هغه ضائع کړای شول -

د کتابتونونو د برباد ولو په لړ کښی یوستره خندوونکی حرکت دامیر «ابن فاتک» ماندنی وکړ - نوموړی د پنځمی هجری پیړی د مصری حکمرانانو له جملی ځخه وو - دده یو ستر کتابتون وو - دده میر من له خورا بدای شتنی او عزات مندی کورنی ځخه وه مگر له د امله چی ابن فاتک د خپل وخت زیاته برخه په دغه خپل کتابتون کښی تیروله ، له همدی امله ددهٔ میرمن له دغو کتابونو سره کینه پیدا شوی وه - او کله چی ابن فاتک وفات شو بیانو دده میرمن او د هغی و ینځی کتابتون ته ننوتلی او کتابونه به ئی را اخستل او داوبو په ستر حوض کښی به ئی غور ځول - او د کتابونو له غورځولو سره به ئی ژړا انگولا هم کوله او ویل به ئی چی ددی میره ددی له مینی ځخه دغو کتابونو ژغورلای وو او هیڅ کله هم هغه زمالورته د مینی مخ نه اړاوو . . . دا وو د هغی میرمنی انتقام چی هغی له کتابونو ځخه د میره د هغی مینی له امله چی ددی پر ځای ئی له دغو کتابونو سره کوله د هغه له وفات ځخه وروسته وا خیست - په اسلامی تاریخ کښی ددیرو داسی میرمنویا دونه شوی ده چی هغوی له کتابونو ځخه هغه ډول کر که کوله لکه ځنکه چی د ابن فاتک میرمنی ور ځخه کوله د امام زهری میرمنی به هر وخت امام زهری صاحب پهکتابونو

Marfat.com

کښي چي ډوب او منهمک ليده نو داسي به ئې ويل :

«په خداى پاک دزماسو گندوى چي دغه کتابونه ماته له دري سوه ښوځخه زيات زيانن دى» -

د اوو زمونږ د تهذيب او تدن په عروجي دور آن کښي زمونږ د کتابتونونو د غم اووير داستان او دهغه خواشيني کونکي انجام -

**په حق باندى اعتراف**

که څه هم دغليمانو په ښه کار کولو باندى اعتراف کول په بشرى نفس باندى خورا گران تماميږى مگر دا زمونږ وجيبه ده چي مونږ پدى خبره په ډاگه اعتراف وکړو چي اروپا په خپلو مختلفو کتابتونونو کښي زمونږ د دغه ميراث له بقايا وو څخه ډير ارزښتناک شيان محفوظ ساتلي دى - او په دغو کتابتونونو کښي اوس هم داسي زيرمى موجودى دى چي د هغو سارى په گرده اسلامى نړى کښي نه ميندل کيږى -

***

Marfat.com

# دولسم باب

**علمي او عرفاني غونډی او مجلسونه :**

«د علمي او عرفاني غونډو او مجلسونو جوړول» زمونږ د بې سياله تهذيب يو عجيب رنگ دی . د ثقافت په ترويج او د علم په خپرولو باندی د دغه عمل خورا ښه اثر شوی وو. له هغه څخه د ټولنيزی سطح د لوړوالی او په علمي مينه کښې له زياتوالی سره سره د ثقافت هم پرمختگ په برخه شوی وو . دا رنگ د هغو علمي غونډو او مجلسونو رنگ دی کوم چې د مسلمانانو په دارالحکومتونو او نورو سترو ښارونو کښې په پراخه پيمانه کيدل . پداسی حال کښې چې د دی غونډو په ځنگ کښې ستری ستری مدرسی ، عرفاني اداری او کتابتونو نه هم ډير زيات وو ، دغه غونډی د خپل ډيروالی او په هغوی کښې د پورته کيدونکو بحثونو د تنوع له نظره ، د اسلامي امت د عزت او شوکت په دور کښې ، د علمي ويښتيا خورا روښانه ځرگندوی وی . څکه کله چې تاسی دا ؤ گوری چې د امت مختلفي پاتکی امیران ، عالمان ، اديبان او شاعران په خپلو خاصو او عامو مجلسونو د مختلفو علمي ، ادبي او فلسفي موضوعاتو د څيړنی او بحث لپاره يو له بل سره مقابله کوی نو تاسی به د هغوی په ليدلو سره يقين وکړی چې اسلامي ټولنه په خپله علمي مينه او د خپلی عرفاني تندی د ما تولو لپاره هغه هسک مقام ته رسيدلی ده چې له هغه څخه په يقيني توگه د هغه په پرمختگ او عظمت باندی به پباوری

Marfat.com

گواه لاس ته درشي

**مختلف ډولونه :**

دغه غونډې او مجلسونه متنوع او په څو ډوله وو ، ځيني به د وخت د خلفا وو تر قيادت لاندې جوړيدل ، او په خپله خليفة المؤمنين به د هغو صدارت کاوو . او په دغه ډول غونډو کښې به د دارالحکومت نو مياليو علما وو ، فقها وو او اديبانو ګډون کاوو . او د اسلامي تهذيب او ثقافت دودې او پرمختګ د دغو غونډو په تياکل شوی هيئت کښې به هم بدلون راته . د راشيدينو خلفا وو په زمانه کښې به په دغو غونډو کښې د واليانو د فعاليت او کار کولو او د مملکت د چارو په هکله بحثونه او څيړنې کيدلې او د دې ډول غونډې حثيت به د يو داسې پارلمان وو چې په هغې به کښې د قام او ملت ستړو ستړو مشرانو په ورته‌د پيښو شو يو مختلفو ستړو او مهمو مسائلو او مشکلاتو په هکله د خيالاتو څرګندونې کولې . د حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه يو ځل د حکومت د يوو خورا مهم کار لپاره يوو څارونکي ته اړتيا پيدا کړې شوه ده په را بلل شوی غونډه کښې د غونډې له‌ګډون کونکو څخه غوښتنه وکړه چې ما ته داسې يو شخص پيدا چې زه هغه ته يوه سمهه د نده وُ سپارم او دې هغه سرته ور سولای شي ، د غونډې ګډونکونکو ورته وويل چې پلانی سړی د دې کارور دی ، حضرت عمر رضي الله عنه ورته وويل چې زه هغه ته اړتيا نلرم . «د غونډې ګډونکونکو ورته وويل چې ته نو بيا څنګه سړی غواړې؟ ؟ حضرت عمر رضي الله عنه

Marfat.com

ورته ؤ فرمایل : «ما ته د داسې شخص ضرورت دی چې که هغه موجود وی او د ملت رئیس نوی نو داسې خلکو ته ښکاره شی چې د ده موجودیت د رئیس د نه موجودیت خلاړ که کړی ده او که د ملت رئیس وی نو بیا هغه د یوو عادی وګړی په څیروی» . د غونډې ګډون کونکو ورته وویل چې داسې صفت یواځې په ربیع بن زیاد حارثی کښې میندلای کیږی ، حضرت عمـر رضی الله عنه ورته ؤ فرمایل چې شاباس ستاسې نظر په یقینی ډوګه په یوو صحیح سړی باندې پرې ووت بیا حضرت عمر رضی الله عنه نوموړی په نظر کښې نیولی منصب باندې مقرر کړ .

دا مویا نو د خلافت په دوران کښې له دغو مجلسونو څخه د علم ادب شعر او حکمت اکادمی جوړه شوی وه . یو ځل عبدالله بن هاشم د امیر معاویـه رضی الله عنه په مجلس کښې حاضر شو حضرت معاویـه رضی الله عنه وویل : «څوک دی چې د سخاوت ، زړورتیا او میړانی صحیح تعریف وکولای شی ؟» . عبدالله رضی الله عنه وویل : «د سخاوت تعریف دادی چې مال او عطیه ، له سوال کولو څخه وړاندې ورکړای شی» . زړورتیا د اقـدام او قـدم ښوئیـدلو په وخت کښې استقـامت او ټینګار ته ویل کیږی» . او میړانه : «په دین کښې اصلاح او تقوی او د خپل حالت سم والی او د ګاونډی ملاتړ ته ویل کیږی» . عبدالملک په یوو مجلس کښې د غونډې ګډونکونو ته وویل هر څوک که له تاسې څخه د انسانی جسم د اعضا وو په هکله داسې الفاظ وړاندې کړی چې د هغو ټولو په سر کښې

Marfat.com

په پیلی «بالترتیب» توگه د هجا حروف موجود وی هغه چی له مانه هر څه ؤ غواړی زه به ئی ورته ورکړم . سوید بن غفلة وویل : «حضور زه ئی ورانـدی کـوم» . عبـدالملک وویل : «ډیره ښه ده وړاندی کړه» . سوید پیل وکړ : «انف «پوزه» بطن «گیډه» تر قوة «توتکه» ثغـر «وړاندنی غاش» جمجمه «د سر کاسه» حلق «ستونی» خد «غمبوری» دماغ «ماغزه» . . .

د مجلس له گډون کوونکو څخه وویل کس یو بل حضور زه د انسانی اعضا وو په هکله داسی دوه دوه توری وړاندی کووم سوید وویل څه زه دری دری وړاندی کوم . او سوید بیا پیل وکړ چی : انف «پوزه» اسنان «غاښونه» اذن «غوږ» او پدی ډول په ب ت او ټولو توریو کښی ئی دری دری خیلونه وړاندی کړل . عبدالملک فی البدیهه یعنی سمدلاسه په دوسره تورو وړاندی کولو حیران پاته شو او بیا ئی نوسوری ته انعام ورکړ .

یوه ورځ یو دیهاتی د عبدالملک مجلس ته لاړ او په دغه مجلس کښی مشهور شاعر جریر هم ناست وو . عبدالملک دغه سارانی سړی ته وویل : «آیا ته د شعر په هکله څه معلومات لری ؟» . سارانی ورته وویل ته چی څه غواړی پدیهکله له ما نه پوښتنه وکړه . عبدالملک وویل : «د مدح په باب کښی له ټولو څخه خورا ښه شعر کوم یو دی ؟» . سارانی په ځواب کښی وویل د جریر دا شعر :

السـتم خیر مـن رکـب المطایـا
واندی العالمیـن بطـون راح

Marfat.com

«آیا تاسی له تولو هغو کسانو څخه غوره نه یاست چي کله کله سواره شوی دی او آیا تاسی له تولو خلکو زیات سخی نه یاست. . .»؟

د سارانی له د شعر ویلو څخه وروسته جریر سر پورته کړ او تر ډیره پوری ئی پورته کتل، عبدالملک پوښتنه ورڅخه وکړه چي په فخریه شاعری کښي له تولو څخه زیات ښه شعر کوم یو دی؟ سارانی ورته وویل چي د جریر دا لاندنی شعر:

اذ غضب علیـکم بنـوتمیـم
حسبت النـاس کلهـم غضابـاً

«هغه وخت چي له تاڅخه بنوتمیم خفه شي نوته به دا فکر وکړی چي گردو گړی تاته په غصه دی» -

جریر د خپل دغه شعر په او ریدلو باندی دومره خوښ شو چي په کالیو کښي نه ځائیده - عبدالملک بیاله سارانی څخه پوښتنه وکړه چي په هجوه کښي کوم یوښه شعردی؟ سارانی ورته وویل، چي د جریر دا شعر:

فغض الطرف انک مـن نمیر
فـلا کـعبـاً بلغـت ولا کلاباً

«سترگی دی کته ؤ نیسه، ځکه چي ته د نمیر له قبیلی څخه ئی - ته نه د کعب سرتبی ته رسیدلای شي او نه د کلاب مقام ته ستارسیدل ممکن دی» -

د جریر څیره له خوښی څخه ؤ ځلیده - مگر عبدالملک بیاور څخه ؤ پوښتل چه په غزل کښي ښه شعر د چادی؟ سارانی ورته وویل چي د جریر دا شعر دی:

Marfat.com

ان العیون التی فی طرفها حور
قتلتنا ثم لم یحیین قتلانا

«هغې چې په برندو ستر ګوکتل سونږ خونی قتل کړو مګر له قتلولو وروسته ئې زسونږ تنې ژوندی نکړی» ،

د خپلو شعرونو په او ریدلو د جریرخو ښی شیبه په شیبه زیاتید له ـ عبدالملک له سارانی ځخه پیاپوښتنه وکړه هغه کوم شعر دی چې په هغه کښې له ټولو ځخه زیاته تشبیه وی سارانی په ځواب کښې ورته وویل چې د جریر پدی شعرکښې :

سری نحو هم لیل کان نجومه
قنادیل فیعض الـذ بال المفتـل

«د شپې له مخې د هغه چاپه لوری لاړچې د هغه ستوری داسې ښکاریدل لکه په لګولی شوی ډیوی کښې چې پلته «بتی» سوه ځی» ـ

جریر د خپل دغه شعر په او ریدلو سره له ډیری خوښی ځخه وویل :

«ای امیر المؤمنین زما برخه مکافات هم دغه سارانی ته ورکړه» عبدالملک په ځواب کښې ورته وویل : هغه ته به همدومره انعام ورکړای شی او ستا مکافات به په خپل ځای پاتی وی سارانی کله چې له دربار ځخه ووت نو په یوو لاس کښې ئې اته زره روپۍ وی او په بل لاس کښې ئې درخت یو بشپړ تان وو.

**د عباسی خلافت په دور کښې علمی غونډی :**

دغه ډول غونډو په‌عباسی دورکښې ارکی‌په ارکی‌پرمختګ‌وکړ او دغه مجلسونه ورځ په ورځ د خپلی پراختیا او د هغو د وسائلو

Marfat.com

د ډير والي او له خپرني لاندې په موضوعاتو د تنوع د علماوو او ادیبانو د کثرت له نظره خورا په زړه پورې او د اهمیت وړ مجلسونه ؤ گرځيدل ـ دغه مجلسونه په هغو غونډو باندې برسيره او له هغوی څخه گوښی وو کوم به چې د ټوټو تقالو لپاره جوړولای شول چې په هغو کښی په علمي بحثونو باندې ادبي رنگ غالب وو د شاعرانو ترمنځ به شعري مقابلی کيدلی په تنگ تکور کښی هغه خاص کلمات تر بحث لاندې راتلل چې هغه به له ټول او سوړنې څخه ويل کيدل ـ هارون الرشید او مامون د عباسي خلفاوو له جملې څخه د خپلو پراخو او لوړو مجالسو د انعقاد له نظره خورا مشهور وو ـ د هارون الرشيد په دربار کښی خو به هر وخت د هر علم او فن ستر ستر پوهان را ټول وو ـ د مثال په ډول هغه درباري نوميالی شاعران دا وو ، ابو نواس ، ابو العتاهیه ، مسلم بن الوليد او عباس بن الاصف او د فقهاوو له جملې څخه ابو یوسف ، شافعي ، محمد بن الحسن او له اهل لغت څخه ابو عبیده ، اصمعي او کسائی ، او د تاریخ پوهانو له جملې څخه مشهور مؤرخ واقدي او د مفسرينو له جملې څخه ابراهیم موصلي او د هغه زوی اسحاق او داسې نورو د ده په مجلسونو کښی گډون کاوو .

پدې ځای کښی مناسبه گڼم د مثال په ډول د یوی عجیبی ادبي مباحثی یادونه وکړم ـ داسی مباحثی به زیاتی په دغو مجلسونو کښی کیدلی ـ د هارون الرشيد په یوو مجلس کښی يوځل کسائی ، سیبویه ، د لغت او ادب ځینی ستراتمه ناست وو ـ کسائی وويل چې عرب یوه محاوره دا ډول استعمالوی : « کنت اظن الزنبور

اشد لسعا من النحله فاذا هو اياه» . «یعنی ما دا گمان کا وو چی
د ډمبرۍ «موچی» لشکه د گبین د مچی له لشکی زیاته تیره او
تیزه ده لکه چی بیا وروسته ثابته شوه چی هغه همداسی ده» مگر
سیبویه وویل چی په استعمال کښی د «فاذا هو اياه» پرځای
«فاذا هو هی» دی - په دغه ادبی محاوره باندی د دوی دواړو
ترمنځ طولانی بحثونه ؤ شول - چی په پای کښی پدی باندی
اتفاق وکړای شو چی پدی هکله باید په یوو داسی سارانی باندی
پریکړه وکړای شی چی هغه په خپل ژوند کښی له کوم ښاری
سره نوی مخامخ شوی ، او د هغه د زړه له کومی غوښتل چی
پدغه مقابله کښی‌باید کسائی ور او سیبویه' پرشی او مقابله کسائی
یو سی- دا ځکه چی دده دخلافت له مودی څخه وراندی‌کسائی
د ده ځانگړی معلم او استاذ وو - هارون الرشید یوو سارانی راؤ
غوښت او له هغه څخه ئی پدی هکله پوښتنه وکړه- هغه پورتنی
جمله داسی ادا کړه لکه څنگــه چی سیبویــه ادا کوله -
هارون الرشید ورته وویل زه غواړم چی ته ئی داسی ادا-کړی
لکه څنگه ئی چی کسائی ادا کوی - سارانی ورته وویل چی د
کسائی په ډول زه دا فقره نشم ادا کولای - په پای کښی
سارانی د ته مجبور کړای شو چی سباته به په مجلس کښی کسائی
او سیبویه دواړه دغه جمله له خپل خپل خیال او فکر سره سم
ادا کړی ' سارانی به د کسائی محاوری ته صحیح ووائی - د
راتلونکی ورځ په غونډه کښی کله چی پدی هکله خبرنه پیل شوه
نو سارانی د کسائی فقری ته صحیح وویل، مگر بیا وورسته سیبویه
ته معلومه شوه چی ده ته دوکه ورکړای شوی ده او خلکو په

Marfat.com

ناحقه د کسائی پلوی کړی ده. د هارون د کار په سیبویه خورا ناوړه اغیزه وکړه او هغه ډیر خواشینی شو او د غم او خفگان په حالت کښې له بغداد څخه ووت. ویل کیږی چی له هغه نه وروسته هغه ډیره زمانه ژوندی پاتی نشو او د همدغه خوا شینی په حالت کښې وفات شو.

همدارنگه د هارون الرشید په مجلسونو کښې به فقهی غونډی هم ډیری کیدلی. د مثال په ډول د هغه په مجلسونو کښې د فقهی مناظرو له جملی څخه یوه دا مناظره هم وه چی یوځل د امام ابو حنیفه رحمة الله‌علیه شاگرد امام محمد بن الحسن وویل چی کسائی په فقه باندی نه پوهیده بلکه هغه یواځی د عربو په کلام او عربی اصطلاح څه نا څه پوه دی. کسائی په ځواب کښې وویل یوځل چی یو سړی په علم کښې وارد شی او پوهه ترلاسه کړی بیا نو هغه په نورو ټولو علومو کښې بصیرت ترلاسه کولای شی او د خپل زده کړی د مخصوص علم په توسه په نورو علومو کښې هم مشکلات رفع کوی. امام محمد د ازموینې په توگه ورته وویل چی داسی ده نوزه له تا

څخه پوښتنه کوم او هغه دا چی که یو سړی په لمانځه کښې د سجده سهوی په دووان کښې سهوه شي نو ایا په هغه باندی د سهوی دویمه سجده لازمیږی ؟» کسائی ورته وویل چی «نه» امام محمد پوښتنه ورڅخه وکړه چی په څه دلیل ؟» کسائی ورته وویل چی د نحو یوه مشهوره قاعده ده کوم لفظ چی مصغر شوی وی هغه بیا نشي تصغیر کیدلای.

Marfat.com

همدارنگه د اسلامی تهذیب او ثقافت په تاریخ کښې د
مامون الرشید غونډی او مجلسونه خورالوړ مقام او حثیت لری
ځکه چی دی په خپله هم یولوړ رتبه عالم وو ، د هغه په دربار
کښې به هر وخت د عالمانو ، ادیبانو ، شاعرانو ، طبیبانو او
سترو ستړو فیلسوفانو خورا لوړ لوړه مجلسونه جوړ یدل ـ او دغه
ټول علمی وګړی مامون د خپل پراخه سلطنت له لری لری
مختلفو سیمو څخه راغونډ کړی وو ـ او ده به له هغوی سره
د جنس او ګروهي د اختلافاتو له په نظر کښې نیولو څخه پرته
یو ډول چلن کا وو ـ کله کله به په مجلس کښې اختلافی بحث ده
په خپله پیل کړ ، چی پدی توګه به ئی علماء په بحث او مباحثه
کښې دبرخې اخستلو لپاره تیار کړل ـ هغه به د بحث په دوران
کښې علماء او فلاسفه له د څخه ژغورل چی هغوی د بحث
په دوران کښې له خپلو مذهبی کتابونو څخه استد لال وراندی
کړی ـ ده به هغوی ته ویل «تاسی په خیر نه کښې له قرآن ،
انجیل او تورات څخه د خپلی مدعی د ثبوت لپاره د لیلونه مه
وراندی کوی بلکه د مسائلو په هکله خپل بحث په منطقی او
عقلی د لائلو پوری محدود کړی » د ده له دی خبری څخه
سوخه د اوه چی په مجلس کښې مذهبی جګړی پیدانشی ځکه
چی د ده په مجلسونو کښې به د مختلفو مذهبونو پوهان راغونډ
وو ـ د فقها وو او محدثینو د خلق قرآن په مسئله کښې او د
هغه په مشهور بحث کښې مامون په خپله برخه اخستلی وه چی
له هغه څخه دابه تره څرګندیږی چی په خپله مامون په شرعی
علومو کښې څومره وار د وو او هغه په نصوصو کښې څومره
معلومات لاره ـ د دغو مجلسونو د مناظر وا و بحثونو لپاره

Marfat.com

هغوی خاص خاص اصول او قواعد وضع کړی وو او تولو وګړو به په هغوی باندی په تینګه سره عمل کا وو ـ د مثال په ډول د هغو اصولو له جملی څخه یو د او وچی په بحث او مناظره کښی به له غصی څخه کارنه شی اخستل کیدلای ، تعجب به نکوی ، شور او شغف به نکوی ـ د بحث په وخت کښی به د خپل سیال خبرونکی پرځای بل چاته مخ نه اړوی ـ او که چی کومه موضوع څیړل کیږی نو په هغه کښی به د بحث د واړه لوری د هغه د حق او صواب له ثبوت او د حقانیت له لټون څخه پرته بل هیڅ هدف او موخه نلری . « بلکه پدی هکله به خپل تول زیار او علمی پنګه د اسلامی تولنی د لارښونی اتحاد او سوکالی په لاره کښی مصرف کاندی ـ

**د فاطمیانو د خلافت دزمانی علمی غونډی :**

همدارنګه له عباسی خلفا وو څخه وروسته که چی مونږ د قاهری د فاطمی خلفا وو مجالس او علمی غونډی ګورونو په هغوی کښی هم همدغه عظمت او همدغه عرفانی میسنه لیدل کیږی، او مونږ ګورو چی په دارالحکومت کښی د پوهانو یوستر جمعیت راغونډ دی ، او هر وخت هلته په علمی موضوعاتو باندی بحث او څیړنه کیږی او زیات وختونه په خپله خلفاء د دغو مباحثو صدارت او مشری کوی ـ

**د وزیرانو او امیرانو علمی مجلسونه :**

په پورتنیو غونډو به برسیره د وزیرانو او امیرانو داسی غونډی او مجلسونه هم کیدل چی په هغو کښی د هرفن پوهان او خبیرو ګړی سره را تولیدل ـ د برامکه وو د مجالسو له حالاتو څخه د ادب او تاریخ کتابونه ډک دی ـ پدغو مجلسونو

Marfat.com

کښی به په علمی موضوع گانو بحثونه او مناظری کیدلی ، د سیف الدو له حمدانی په مجلس کښی د ابو فراس الحمدانی او داسی نورو په څیر له ځلوبنتو څخه زیات یواځی شاعران وو او د دوی په مجلسونو کښی به مشهور شاعر متنبی هم ګډون کا وو - چی پدی توګه ویلای شو د دوی د دغو مجلسونو پر اختیا او وسعت هم د عباسیانو د زرین د ور د وزیرانو د عالی مجالسو یاد تازه کوی - همدغه حالت د وزیر ابن الغرات د مجلسونو هم وو - ابو حیان توحیدی په خپل کتاب «الا متاع والموانسة» کښی د هغو مجلسونو په هکله لنډه یادونه کړی ده چی د نوموړی وزیر تر صدارت لاندی به منعقد کیدل - په دغو مجلسونو کښی به سیراف ، خالدی ، قدامه بن جعفر ، علی بن عیسی الجراح او د دوی په څیر نور مشهور او نوموتیالی فیلسو فانو او منطقیانو به ګډون کا وو - ابو حیان د ابو عبدالله حسین بن سعدان صمصام الدوله له وزیر سره په مجالسو کښی د خپل ګډون هم په خاصه توګه یادونه کړی ده -

**د عامو علمی پوهانو غونډی :**

او کله چی مونږ د خلفا وو ، امیرانو ، او وزیرانو له غونډو څخه تیرشو او د عامو علما وو ادیبانو او نورو علمی وګړو په لور مخ واړ وو نو هلته هم مونږ ته یونوی ژوند لاس ته رادرومی د دغو د قدرور مجالسو له جملی څخه د یوو مجلس حالت په لاندی ډول مطالعه کړی :

یوځل په یوو مجلس کښی د هغه وخت مشهور ادیب مقفع ، او نور علماء او ادیبان سره غونډ شوی وو - ابن المقفع

Marfat.com

چی یو فارسی‌النسل ادیب وو دغو ندی له گډون کونکو څخه پوښتنه وکړی وه چی «په بشری نړی کښی کوم قام ډیر عقلمند او هوښیار دی ؟» هغوی د ده په لحاظ په ځواب کښی ورته وویل چی فارسی ژبی قام اعقل الا مم دی - ابن المقفع ورته وویل چی د نه داسی هر گزنده ، فارسی ژبی قام نه خود نظر د قت، باریکی، لری او نه په هغوی کښی د علم او فضل وگړی شته ، چی پدی توگه نه په هغوی کښی د عقلمندی ظرفیت شته او نه هغوی د افضیلت لری - هغوی لیک لوستونکی وگړی هروبرو دی - د نورو خلکو له لوری څخه خبره پیدا کولای شی او هغوی ته ښودلای او هغوی د ځان تابع کولای شی - مگر په خپله په دوی کښی د استنباط او استخراج ملکه نشته» د ده له دی خبری نه وروسته دغوندی، گډونکونکو وویل چی بیانو د روم وگړی زیات عقلمند دی - مگر ابن مقفع دا هم ورسره ؤنه منله او ورته ئی وویل چی هغوی یواځی غټی تنی او جسمونه لری - په هندسی او تعمیراتی فنونو کښی وار د دی او له دغو دو څخه پرته په بل هیڅ شی باندی نه پوهیږی - بیا یوو کس وویل بیانو د چین قام ډیر عقلمند دی- ابن مقفع وویل چی هغه یواځی په کرهنیزو او صناعتی چارو پوهیږی د هغوی له فکر او ذهانت سره څه کاردی ؟ بیا چا وویل چی د ترک قام له ټولو څخه زیات عقلمند دی ، ابن مقفع وویل ، هغه خوښکار کونکی ځناور دی ، مطلب دا

---

۱ ـ له د نه داسی څرگندیږی چی د ابن المقفع په د ور کښی د مسلمانانو علمی ډلی تپلی او غونډی له اسلامی

Marfat.com

چی هغوی له جنگ څخه پرته په بل هیڅ شی نه پوهیږی ـ بیایو کس وویل چی هند و ستانی قام ډیر هوښیار دی ابن مقفع وویل « هغه خوخور او هم پرست ، او نهائی درجه چالاک ، بی سیاله عیار او شعبده باز « دروهه کره دی،، دغوندی ګډون کونکی ډیر تنګ شو او دتهئی وویل چی ته ووایه چی په بشری نړی کښی له ټولو څخه زیات عقلمند قام کوم یودی هغه ورته وویل چی عرب قام ـ د ده پدی خبره ګډونکونکو پسخند ، غوندی وکړ ـ څکه چی د دوی دا هیله نوه چی یوفارسی ژبی شخص څنګه کولای شی عرب قام ته په نو روګر د وقامونو باندی کوم ډول فوقیت او ترجیح ورکړی ؟ کلی چی ابن‌المقفع د دوی دغه کیفیت ؤلیدنو سخت په غصه شو او داسی ئی وویل : ،،ایاتاسی دا فکر کوی چی پدی خبری کولو سره زه تاسی ته غوړ مالی کووم ـ په الله تعالی د زما سوګندوی چی زه دا خبره ستاسی په خاطرنکووم بلکه زه دا له دی امله وایم چی که زه الله تعالی د عربیت له قام توب څخه محروم کړم نو له دی امله زه باید د حق خبری له منلو څخه محروم نه شم ـ له دی خبری کولونه وروسته هغه په تفصیل سره دا خبره ثابته . کړه چی عرب په نورو قامونو ولی فضیلت لری؟

---

تعلیماتو څخه خوښره لری وی او هغوی په څه ډول یوو قام ته پربل باندی ترجیح ورکوله او د قومیت تو کم او وطن پالنی نظریه خوښره عامه وه ،،چی همدغه مفکوره او روحیه او نظریه،، بیا وروسته د مسلمانانو د زوال عامل وګرځیدله . مولف

Marfat.com

ځکه چې هغوی په داسې سیمه کښې هستېدل چې هلته نه کوم اسماني کتاب وو او نه علمي فنون مروج وو خوله د سره سره هغوی د خپل پنځیز صلاحیت په ځواک په نباتاتو کښې معلومات لاس ته راوړی او داڼې ؤبنود له چې کوم بوټې د مېږو او ؤزو د خوراک لپاره دی او کوم د او ښانو د خوراک لپاره ګټور دی - او همدارنګه هغوی کال د موسمونو د اختلاف په توسه په څلورو فصلونو پسرلی ، ؤړی ، منی او ژمی باندی وویشه او د موسمونو بدلون او دانواء، علم ئې د بارانونو

---

۱ - ''نو'' باران ته هم ویل کیږی او ستور وته هم ویل کیږی یعنی په عربی محاوره کښې - ''نومو'' هم باران ته واٸی او هم د ستوری لویدلو او د هغه پرځای د بل ستوری راختلو ته ویل کیږی یعنی که چې یوستوری ډوبیږی نوبل ستوری په همغه وخت کښې چې له مشرق څخه راخیږی هغو ته انواء ویل کیږی ''انواء'' د نجوم د علم د پوهانو په وړاندی اته «۲۸» ویشت ستوری دی ، او له دغو څخه په هره د ریمه ورځ کښې یوستوری په مغرب کښې ډوبیږی او د هغه په بدل کښې په عین همدغه وخت کښې بل ستوری له مشرق څخه راپورته کیږی او د دغواته ویشت ستورو د غروب او طلوع د تسلسل له پای ته رسیدلوسره سم کال هم پای ته رسیږی - او یا کال بیرته له سره پیل کیږی - د جاهلیت په زمانه کښې د عربو دا عقیده وه چې د یوستوری په لویدلو او د بل دراختلو په وخت کښې هرومرو باران او یا طوفان

Marfat.com

ژرښت څخه واخیست د ستورو د پیژندلو په وجه هغوی په وچه او د ریابونو کښې د سفر کولو سمت او طرف معلوم کړ ـ او همدارنګه هغوی له بدو څخه د ژغورنې او د ښیګنی د کولو لپاره دامی اصول وضع کړل چی د هغوی په تعمیل به مکارم اخلاق وده کوله او له د نائت څخه به ژغورنه کید له ، ان تر دی چی د ډیرو لری سارانیانو او سرګردانو باندی چیانو د اخلاق مکارمو ستاینه او د هغوی په هکله د یوو یووشی تعریف ئی هم کړی دی ـ پدی ډول کله چی هغه د بدیو ناوړتیا بیانوی نو په یقینی توګه د موضوع حق پر ځای کوی ـ د هغوی هر څو سره کلام چی زمونږ په وراندی دی په هغو ګردوکښی د لسو خویونو او نیکی تعلیم دی ، په ګاونډی پا ملرنه ، سخاوت او د ښو اخلاقو د ترلاسه کولو تلقین پکښی شوی دی ـ له هغوی څخه هریو شخص له سابقه زدکړی او تعلیم څخه پرته یواځی د خپل د ماغی لتون او نظری ذهانت په نتیجه کښی د بشریت لوړ مقام ته رسیدلای دی ـ له د امله

---

وی او له همدی امله به د کوم ستوری په دوران کښی چی باران ؤشونو همغه ستوری ته به ئی منسوبا وو ، او د متال په ډول دامی به ئی ویل «مطرنابنوءالثریا» د ثریا دستوری په توسه په مونږ باران ؤکړای شو . مګر داسلام د رڼي سیاوون په راختلو دا عقیده شرک او د نورو جاهلی طاغوتی رسمونو او عقیدو سره یوځای د تاریخ موزیم ته ؤسپار لای شوه او د هغه پر ځای انسان جـوړوونکی توحید پلای کړای شو .

Marfat.com

رماتاسی ته وویل چی عرب په پنځیزه او تخلیقی توګه معتدل مزاج ، صائب الفکرذکی الفهم او عقلمند قام دی .

**څو کتاب پلورونکی :**

بی ځایه به نوی که پدی لړ کښی د څو مسلمانو کتاب پلور ونکو یادونه هم وشی په هغه زمانه کښی به دوی ته «وراق» ویل کیده ـ له دوی سره به هم عالمانو ، ادیبانو او عرفانی وګړو مجلسونه جوړول ، او له د وی سره به د هرچا لپاره له خپل ذوق سره سم د خپل فن په چاپریال کښی ګټوری خبری موجودی وی . او زیات کتاب پلورونکی به ، ادیب او عرفانی وګړی وو ، او هغوی به د خپلی د ندی په توسه خپله علمی تنده هم ماتو له، د دی لپاره چی تاسی ته ثابته شی چی زما دا دعوی رینبتینی ده د ثبوت لپاره دا کافی دی چی د یو دوکتاب پلورونکو یادونه وکړم لمړی د الفهرست لیکونکی او مصنف ابن ندیم او د ویم د معجم الا د باء او معجم البلدان لیکونکی، یا قوت د وی د واړه کتاب پلورونکی وو ـ ابو الفرج اصفهانی چی د الا غانی مصنف دی او ابو نصرالزجاج په کتاب پلورونکو

ته را تال او له د وی سره به ناست وو ـ او دغو دوا ړو به هلته له راتلونکو شاعرانو سره په ادبی او شعری موضوعاتو بحثونه کول یو ځل دغه د واړه د ابوالفتح بن الحراز کتاب پلورونکی دوکان ته لاړل نوپدغه مهال کښی به دوکان کښی یوشاعرچی ابوالحسن علی بن یوسف نومیده هم ناست وو اوابوالفتح بن الحراز د ابراهیم بن عباس صولی اشعار لوستل چی د هغو له جملی څخه یو دا شعر دی :

Marfat.com

رای خلتی من حیث یخفی مکانها
فکانت قذی عینیه حتی تجلت

هغه زمانینه «اوحاجت» پداسی حال کښی ؤلیده چی د هغه ځای پټ وو، نو هغه ترهغه پوری سترګی د هغه په لورنیولی وی چی هغه راڅرګند شو''

کله چی ابو الفتح، پورتنی شعر ؤلوست نو د ابوالحسن هغه ډیر خوښ شو او بیائی غوښتنه ورځخه ؤکړه چی ؤئی لولی ابو نصر زجاج ویلی دی چی ماته ابوالفرج وویل ''لاړشه او ابوالحسن ته ووایه چی تا د دی شعر په تحسین او ستاینه کښی ډیرا فراط کړی دی او په حقیقت کښی ښه شعر هم دی مګر د اراته وو یه چی پدی کښی څه کمال دی؟ یعنی صنعت پکښی څه دی؟ ابو الفرج وائی چی زه هغه ته لاړم او هغه ته می داسی وویل ـ هغه په ځواب کښی راته وویل دا چی په شعر کښی ویل شوی دی چی «فکانت قذی عینیه» پدی جمله کښی ډیر محاسن دی'' ـ زه بیا ابو الفرج اصفهانی ته لاړم او هغه ته می وویل چی ابوالحسن داسی وویل ـ هغه وویل ته بیا هغه ته لاړشه او ورته ووایه چی ته غلط شوی ئی ځکه چی په د شعر کښی کمال صنعت خو په «من حـــیـــث یخفی مکانها» کښی دی ـ

د کتاب پاورنځیو د ګټورتیا په هکله ځینی ادیبانو ویلی دی:

مجالسة السوق مذمومة و منه مجالس قد تحتسب
فلا تقر بن غیر سوق الجیاد وسوق السلاح و سوق الکتب
فهاتیک الة اهل الوغی وهاتیک آلة اهل الا دب

Marfat.com

"په بازارونو کښې کیناستل ناوړه عمل ګڼل کیږی مګر په بازارونو کښې ځینې ناستې ښې هم ګڼل کیږی -

له د امله د بازارونو غوندو وته پرته د آسونو له بازار، وسلې له بازار او د کتابونو له بازار . . . ځکه مه د رومه . . . ځکه چې دا یوتانه جنګی الات د رکوی او دا بل ادبی وسله درته برابروی"

په رښتیا ئې هم ښه خبره کړی ده، ځکه چې انسان خویا د جنګ فنونو او د وسلې علم ته اړتیا لری او یابیانو په علم او ادب باندی مزین د هر هغه شریف او درانده انسان ضرورت دی چې پتمن او عزتمن ژوند تیرول غواړی -

**په تفریحی غونډو کښې هم علمی بحث او خیړنه :**

لنډه دا، هر هغه قام چې د ژوند د لتهون وړوی، هغه باید له هر څه نه وړاندی د ځان لپاره د علم او ادب د غذا په لټه کښې شی - هغه وخت چې اسلامی امت د نړی قامونو ته ژوند ورکا وو نو په هغه وخت کښې هغه د پوهنې او فن په خپرونه او اشاعت کښې یوه شیبه هم تکاسل او سستی نده کړی - بلکه مختلفو اسلامی وګړو له خلیفه څخه نیولی، تر عالم او سوداګر پوری ټولو د علم په ترویج او د خپرونی په لاره کښې د مدرسو په جوړولو کښې او پدی لړ کښې د هر ډول اسانتیا وو د برابرولو په لاره کښې به ئې یو له بل سره سیالی او مسابقت کاوو - په مدرسو کښې به داسی خبری تر بحث لاندی را تللی چې د هغو په او ریدلو سره به د طالبانو ذهن غوړیده او د هغوی پوهه او عقل به زیاتیده - تر دی چې د خلکو د

Marfat.com

شپی د چتیاتو ویلو مجلسونه به هم د علما وو له موجودیت څخه خالی نوو او پدی ډول مجلسونو کښې به هم د یوی مسئلی د تحقیق ، د مشکلاتو د لری کولو او د غلطیو د تصحیح لپاره د علم او ادب ژغ پورته کیده ، د مثال په ډول لکه دا لاندی تاریخی پیښه :

د خلیفه واثق په مجلس کښې یوځل یوی غزل ویونکی دا شعر ووایه :

اظلوم ان مصابکم رجلا     اهدی السلام تحیة ظلم

ای ظالمه! داسی چاته تکلیف رسول چی هغه تاته د سلام تحفه ؤلیږی له بنکاره ظلم دی''

د مجلس له ګډون کوونکو څخه یو شخص د دی شعر په ادبی اړخ نیونه وکړه او داسی ئی وویل چی 'درجلا' پرځای باید ''رجل'' وویل شی ځکه چی دان خبر دی له همدی امله هغه باید په هغه باندی وړاندی وی پداسی حال کښی چی هغه په حقیقت کښې د مصابکم مصدر مفعول وو - مصابکم د اصابتکم په معنی باندی دی او د هغه خبر «ظلم» دی چی هغه مرفوع دی - غزل ویوونکی له د تصحیح څخه انکار وکړ او وی ویل چی زه دا هیڅکله نه منم او نه به زه د هغه په تلفظ کښې ستا له سمون سره بالون را وسم. ځکه چی ما دغه شعر د عثمان مازنی په وړاندی په همدی ډول ویلای دی او نوموړی د بصری له نامتوا د بیانو څخه شمیرل کیږی - واثق با الله ابو عثمان مازنی له بصری نه بغداد ته وغوښت - مازنی وائی کله چی زه د واثق دربار ته حاضر شوم نو هغه له ما څخه زما د نوم په پوښتلو کښې د «ما اسمک»

Marfat.com

پرخای «باسمک» راته وو یل مازنی وائی چی واثق په دی دول تلفظ ماته دابنو د له چی دی پدی باندی خبر دی چی د مازن په لغت کښې د «م» پرخای «ب» ویل کیږی - ما په خواب کښې ورته وویل چی زمانوم بکرین محمد مازنی دی'' واثق راته وویل چی: ''شیبانی مازن ئی او که تمیمی مازن،،؟ ماورته وویل چی: ''شیبانی مازن،، واثق راته وویل دیره ښه ده خو خبری وکړه؟ ماورته وویل چی: ''امیرالمومنین! ستاسی هیبت زما د خه ویلو ژغور ندوی دی'' او را جز ویلی‌دی:

لا تقلواها وادلوها د لوا ان مع‌الیوم اخاه غدوا

''هغه کړندی مه بیا یه په ورو وروئی بیایه له نن سره. د هغه ورور سبا هم دی''

واثق وویل: «تشریح ئی کړه». «یعنی رنها پری باندی واچوه». ما ورته وویل چی د لا تقلواها معنی دا دی چی په تللو کښې په هغه باندی زور مکوه، ویل کیږی قلوته، کله چی ته په سختی سره چلن وکړی او د دلوت معنی دا ده کله چی ته له هغه سره نرمی وکړی. له د نه وروسته بیا واثق قوزی راؤ غوښت. او دا هغه څوک وو چی په مغنیه یعنی غزل ویونکی باندی ئی نیونه «تنقید» کړی وه او دی د واثق په خونه کی موجود وو، د دی نیوونکی خیال د او وچی د ان مصابکم له توری څخه وروسته د رجل، په توری باندی په اخیر کښې نصب «زور» نه بلکه رفع «پیښ دی» څکه چی مصابکم اسم مفعول دی او «رجل» د هغه خبر دی. ما زنی قوازی ته وویل چی دا فقره ته څنګه وائی: «ان ضربک زیداً ظلم». قوزی وویل بس بس زه پوه شوم.

Marfat.com

پدی ځای کښې سونږ د فقها وو ، واعظینو او د محدثینو د مجلسونو یادونه ځکه ؤ نکړه چې د هغوی غونډی او مجالس په هر ښار او هر کلی کښې دومره ډیر کیدل چې شمیرل ئې گران دی او هغه ډیر مشهور هم دی . له پورتنیو یادونو ځخه زمونږ موخه یواځې دا ده چې مونږ دا خبره ثابته کړو چې زمونږ تهذیب د خپل عروج په دور کښې اسلامی نړی د علم او ثقافت په ورانگو روښانه کړی وه . او دغه رڼا په کورونو ، جماتونو ، مدرسو ، مجلسونو او غونډو ، اوان تر بازارونو او دکانونو پوری رسیدلی وه . تر دی چې د لویدیځ و یاړلی سکالر او عالم ډاکټر گوستاولوبون «فرانسوی» د مجبوریت له مخی ویلی دی چې د عربو له علومو سره بې ساری مینه وه . او په ډیره لږ او کمه زمانه کښې ئې خپل فتوحات بشپړ کړل او بیا د تهذیب او ثقافت لوړ مقام ته ؤ رسیدل او داسی تهذیب ئې پیدا او بیائی وده ورته ورکړه چې د هغه علوم او فنون شعر او ادب په مقبولیت او ممتاز توب کښې ساری نلری(۱) .

---

۱- مولف مرحوم ښائی د عدم معلومات په وجه د علم - او ثقافت په ډگر کښې یواځې د عربی نړی د شاعرانو ادیبانو او فیلسوفانو یادونه کړی وی او که نه په اسلامی نړی کښې په عربو برسیره په عجمو کښې هم داسی مسلمان فیلسوفان نوابغ شاعران او عرفانی وگړی شته چې اسلامی تهذیب په هغوی باندی ویاړ او افتخار کوی د مثال په ډول په پښتوژ به کښې خوشحال خان

Marfat.com

# دیارلسم باب

## پای تخت او ستر ستر ښارونه :

اوس څوارلسمه هجری یا شلمه مسیحی پیړی د تیریدو په حالت کښې ده . اوس به مونږ د اسلامی نړی د عروج د زمانی په څو ښارونو او د هغه وخت د لویدیځ په څو سترو سترو ښارونو رڼا واچوو . او ګرانو لوستونکو ته به د مقایسی په صورت کښې په دی دواړو کښې ستر توپیر په نظر راشی . او مونږ به بالکل حیران پاتی شو چی یو پلوته مونږ د ژوند څواک او روښانه بشر دوسته تهذیب ګورو یعنی په اسلامی نړی کښې . . او بل پلوته په لمړنیو زمانو کښې په بشپړه توګه یوه داسی وروسته پاتی سیمه ده چی په هغی کښې نه

خټک ستولد ۱۰۲۲ ه نوموړی دو سوه زخیم اثار لری چی په هغو کښې هم مناجات او هم خرابات هم د دنیا او هم د عقبی په هکله هم د توری او هم د تصوف هم د جهاد او هم د سولی هم د کورنی او هم د تولنیز سیاست په هکله داسی نظمونه او شعرونه شته چی که له متنبی او د عبل او ابو نواس څخه زیات نوی نو کم هم ندی هم دارنګه احمد شاه ابدالی او په فارسی ژبه کښې سعدی شیرازی په اردو کښې مولنا اقبال لاهوری او مولنا ابو الکلام آزاد رحمهم الله د اسلامی تهذیب خورا ځلاند ستوری وو . ژباړونکی

Marfat.com

خود علم کومه نښه لیدل کیږی او نه د تهذیب او ژوند کوم اثار په نظر را دروسی یعنی په لویدیځ کښې. زه غواړم چې د دغو دواړو سترو سیمو د ښارونو تر منځ موازنه وکړو. او پدی لړکښې د لویدیځې نړی د ښارونو حالت تاسی ته وړاندی کړم تر څو دا معلومه شی چې د هغوی ژوند تیرونه څـه ډول وه؟ د هغـوی د ښارونـو پـراخی او وسعت څومره وو او د دغو ښارونو د هستوګنو د ژوند معیار کوم. او څرنګ وو؟

**له ووسی پیړی نه د لسمی پیړی انګلستان :**

لافیس او رامبو پـه خپـل کتـاب تـاریخ عـالم کښې لیکلی دی :

«اینګلو سیکشن یعنی انګلستان له ووسی پیړی څخه نیولی د لسمی پیړی تر ورستیو وختونو پوری یو خورا هغه بی وزلی هیواد وو چې د نړی له نورو ونډو څخه پریکړای شوی وو. په نوموړی هیواد کښې جهالت ناپوهی وحشت او بربریت عام وو. له ځیګو ځیګو ډبرو څخه ئی دختو په ملګرتیا خونی جوړی کړای شوی وی او د خونو غولی تالارونه ئی هم په ختو اخیږ کړای شوی وو. خونی ئی ډیری تنګی کړکی ئی خورا دوچنی، او دروازی ئی بیخی کمزوری او په څنګونو کښې ئی بالکل نړکی نه لرل. څاروی چې د دغه هیواد د پیدایښت او عوائدو یواځینی ذریعه وه په مختلفو ناروغیو او رنځونو باندی مبتلا وو چې د همدغو ناروغیو او طاعون «وبا، هیضه» له امله به مړه کیدل. د هستوګنځیو په لحاظ د خلکو حالت

Marfat.com

له ځارو يو سره بې توپيره وو . د قبيلې مشر او رئيس به له خپلو خادمانو او خپلوانو سره په جونګړه کښې يوځاى هستيده ، او دوى به تول د يوى ستري خونې په تالار کښې سره را تول وو چې د هغې په منځ کښې به دا وردبلولو نغرى جوړ کړاى شوى وو او د نغرى د لوګى د ويستلو لپاره به د کوټې د چت په منځ کښې د ريځه، او سورى جوړ کړاى شوى وه . دغه تول وګړى به د ډوډى د خوړلو لپاره په يوو د ستر خان سره کښيناستل د قبيلې مشر رئيس او د هغه ماندينه به دواړه يو لورى ته ناست وو . په هغه وخت کښې پدغه هيواد کښې چاقو يا چاړه بالکل نوو . پيالى داسې جوړى کړاى شوى وى چې د هغوى لاندنى برخى به څو که لر له چې کيښودل به ئې ممکن نه وو . له دى اسله يا خو به هغه هر سړى په لاس کښې نيولى وه او يا به ئې په يوځل غوندې په خولې کښې تشه کړه . د شپې له ډوډى خوړلو څخه وروسته به د کهول او قبيلې رئيس خپلې خونې ته لاړ او پاتې نورو تولو وګړو به په همدغه ستر تالار کښې شراب ؤ څښل او مست به شو . او بيا به له دى نه وروسته هر يوو خپله خپله توره او خپله خپله بستره اشغال کړه او د دغه ستر تالار په غولې او يا په چوتره باندى به څملاستل او ويده به شول . هر چا به خپله خپله وسله تر خپل سرلاندى کښې ښود له . څکه چې داړه مارى او غلا خورا زياته او غله هم ډير زړور وو چې د هغو له ويرى څخه هر څوک مجبور وو چې په هر وخت کښې له ځان او مال څخه د دفاع په خاطر تيارو او سيږى . تر څو پردوى باندى ناڅاپي يرغل ؤ نه شي.

Marfat.com

ټوله اروپائی مخکه ښاره ښیدیا او د خپل سرو ځنګلونو ځانګو وه ، ګرهنه په خورا ټیټ حالت کښې وه - د ښارونو په ځنور طرفه به د بوی ګنو او خسا او بوډنډونه ولاړ وو او له هغوی څخه به روغتیا ضد او زیان من بویونه لتیدل او بی وزله انسان به د وزونکو ناروغیو په څپو کښې د ګنبت په څیر ابیل ښده - د پاریس او لندن د ښارونو ټولی خونی له لرګیو او خټو څخه داسی جوړی کړای شوی وی لکه څنګه چی له نیمی پیړی څخه را پدی خوا زه‌ونیږ په کلیو او باندو کښی جوړیږی . . . .
نه به ئی کړکی وی او نه دروازه ارونګی کوټی وی - د فرش حوله سره په نوم هم خوران بلدنوو - او دهغوی فرش دا وو چی په غولی به ئی د لاستی او ملاستی لپاره پخالی وابنه او سواری واچولی له نظافت او صفائی سره بیخی اشنا هم نوو - د څارویو خو شانی «فضله» او پخلنځی خس او خاشاک به ئی د کورونو ترمخ کوټه کړی وو او له هغوی څخه به د بویونو توه ګم خوت.
د کهول ټول غړی به په یوه کوټه کښی ویده کیدل - سړی ، ښځی او کوچنیان به ګډوډ سره پراته وو ، او زیات وختونه به سپی پشوګانی کوتی او خوسیان هم ورسره پراته وو ، کوم شی ته به چی هغوی تخت ویلی هغه به له وښو او بوسو څخه یو ډکه کړای شوی ګدله وه دوا ټوټو په دواړو طرفو به به ویانی نوی او نه به ئی واټونه او ارول ، او نه د رڼائی کوم انتظام وو -
د اروپا له ټولو څخه په ستر ښار کښی هم له پنځلس زره هستوګنو څخه زیات نفوس نوو .

داوو ، تر یو لسمی مسیحی پیړی پوری د ګردی اروپا د ژوند ژواک. او د دغه ډول ژوند ژواک اعتراف په خپله د

Marfat.com

**دوی اروپائی مصنفین کوی او کړیٔ ئی دی .**

**او د اسلامی لړی د ښارونو څه حال وو :**

اوس نو د لویدیځی نړی دښارونو له تړیدلی حالت سره سره د خیال په نړی کښی د تصور په عالم کښی لږ غوندی د ختیځ د ښارونو سیاحت هم وکړیٔ ، ترڅو له دغی موازنی څخه وروسته تاسی په خپله پریکړه او فیصله وکولای شی چی په هغه زمانه کښی د اسلامی نړی ستر ښارونه او پای تختونه لکه بغداد ، دمشق ، قرطبه ، غرناطه ، اشبیلیه او داسی نور څنګه وو او په هغوی کښی د تهذیب او تمدن کمیت او کیفیت څنګه وو ؟ پدی لړ کښی مونږ باید د خپلو خبرو پیل د اندلس له ښارونو څخه وکړو څکه چی اندلس د هغی اروپا په ګاونډ کښی پروت دی د کوم په هکله چی مونږ بحث او څیړنه کوو ـ او بیا په اندلس کښی مونږ له قرطبه څخه پیل کوو او مناسبه دا ده چی د هغوی ټول شیان پریږدو او یواځی د هغوی ظاهری ښه وړاندی کړو .

**قرطبـه :**

**قرطبه ، د اُموی حکمران عبدالرحمن ثالث په دور کښی د مسلمان آندلس پای تخت وو ـ دغه ښار به د شپی له مخی له مشالونو او قندیلونو څخه روښانه وو ، خلکو به د لس میله . . . . . په اوږدو کښی (۱٦ کیلومتر) . . . . . د دغو څرا غونو په رڼا کښی سفر کاوو او بیا به هم دغه رڼا پای ته نه رسیدله ـ ددغه ښار ټولی کوڅی سمټ او پخی کړای شوی‌وی او هر ډول څځلی او چټلی له واټونو څخه لری کړای شوی وی**

Marfat.com

گرد ښار له ګڼو ګڼو باغونو څخه ډک ګرځای شوی وو - هر څوک به چې له باندی څخه دغه ښارته را تلل نو هغه به تر ډیر لری پوری په دغو بڼونو او باغچو کښی سیلانی را ته - په دغه ښار کښی دغه نفوس په هغه زمانه کښی وو چې په هغه وخت کښی د اروپا له ټولونه په لوی ښار کښی هم له پنځه ویشت زره څخه زیات نفوس نوو - په قرطبه کښی نهه سوه حماسونه وو او ۲٬۸۳٬۰۰۰ کورونه جوړ کړای شوی وو - د محلو او کوڅو شمیر ۸۰ زره اتیا زره وو - شپږ سوه جماتونه جوړ کړای شوی وو د ښار بهرنی د یوال ۸ فرسخ یعنی دیرش زره گزه وو -

د دی ښار گرد هستوګنی تعلیم یافته با سواده وو - یواځی د ښار په لمر ختیځه برخه کښی یوسل او یا ښځو د قرآن مجید د کتابت کار کاوو - دغو ټولو ښځو به قرآن مجید په کوفی خط باندی لیکه - او دا یواځی د ښار په یوه څنډه کښی وو - په دی ښار کښی اتیا مدرسی وی چې په دغو ټولو کښی به بی وزله وګړو مجانی زده کړه کوله او پنځوس پکښی روغتونونه وو ، پاتی شو د قرطبه جامع جمات هغه خو اوس هم د هغی زمانی له خپل ساختمانی او فنی لحاظه یو ژوندی او جاوید یادګار دی -

د دغه جمات دا ذاتی خو نه د څلویښتو لاسو نو په اندول هسکه وه - د دغی کوټی ساختمانی سبک له ښائسته لرګیو څخه د ګنبذی په څیر جوړ کړای شوی وه - او د دغه جمات چت په یوسل او دری نوی ستنو باندی ولاړ وو او دغه ټولی ستنی د سنګ مرمرو له مختلفو ډولونو څخه جوړی کړای شوی وی او له کوزه څخه نیولی تر سره پوری د شطرنج خانو په څیر مربع شکلی جوړی کړای شوی وی - چې پدی ډول په طول

Marfat.com

کنبې ئې نولس خونې او په پلن والې کنبې ئې اته دیرش خونې جوړې کړاى شوې وې - په دغه جمات کنبې به د شپې له مخې ٤٧٠٠ څلور زره ؤ سوه څراغو نه بلېدل چې په هغو کنبې په يو کال کنبې د ٢٤ څلرويښتو زرو پونډو په بيه زيتون سوه خېدل - د دې جمات په جنوبي لورې کنبې نولس دروازې وې - او هغه ټولې له بنانسته برنجي تختو څخه جوړې کړاى شوې وې او د منځ دروازې ئې د سرو زرو له تختو څخه جوړې کړاى شوې وې - همدارنګه په ختيځ او لويديځ طرفونو کنبې هم نه و دروازې د جنوبي دروازو په څېر جوړې کړاى شوې وې - پاتې شو ددغه جامع جمات محراب د هغه په هکله د انګريز مصنف د دې قول نقل کول کفايت کوي چې ويلي ئې دي - تراوسه پورې بشري سترګو هر څومره شيان چې ليدلي دي له هغوګردو څخه دغه محراب بنانسته او کښلاى دى دا ځکه چې د دغه محراب ساختماني اندول او سازې او د هغه ځلا او ... په ټرغونو او نويو اثارو کنبې بيخي نسې ليدل سوي .

د قرطبه د الزاهراء ماڼې :

قرطبه ته نيږدې او لګيدلاى يو خورا لوى قصر الزاهراء وو - دغه ماڼې د خپلو فني ښکلا وو ، ځلا او ښايست والى له نظره د خپلې زمانې عجوبه ګڼلاى شي - د دې ماڼې په هکله ترکي مؤرخ ضيا پاشا ليکلي دي :

«دغه ماڼې د خپلې زمانې يو دامې حيرانوونکې محل دى چې د بشر له لمړي پيدايښت څخه تر اوسه پورې د هيڅ يو انجنير په ذهن کنبې د هغې د نقشې په څېر تخيل ندى راغلى -

او له هغه وخت څخه چې الله تعالى عقل پيدا کړی دی تراوسه پورې داسې نقشه تياره کړای شوې نده .»

د دې ماڼې ډيوډې «گنبد» په څلور زره درې سوه شپاړس ستنو باندې ولاړه وه او دغه ټولې ستنې د مرمرو له مختلفو ډبرو څخه جوړ کړای شوې وې او په ډول ډول گلانو او نقشو باندې ښايسته کړای شوې وې . د دغې ماڼې په فرش باندې د مرمرو د ډبرو د مختلفو رنگونو تختې لگول شوې وې . او په د يوالونو ئې د ښکلي لاجوردي رنگ چوکاټونه لگولای شوي وو . د ماڼې په ټولو خونو «محلونو» کښې د څلانده او بو ريښې چينې روانې کړای شوې وې ، او بيا دغه او به د مرمرو له سپينو ډبرو څخه په جوړ کړای شويو حوضونو باندې په تيريدلو سره د خليفه د هستوگنځې په خورا حسين او جميل هغه حوض کښې تويدلې . چې د هغه په منځ کښې د سرو زرو يوه مرغابي گرځيدله چې په سر باندې ئې يوه غټه مرغاره لگولای شوې وه چې په هغې کښې په زرگونو زرگونو رنگ په رنگ کبان «ساهيان» وو چې د هغوی لپاره هره ورځ ١٢ دولس زره پخې ډوډې اچولای شوې .

په الزهراء ماڼې کښې د کينا ستلو يو خاص ځای هم وو چې هغه ته «قصر الخلافة» ويل کيده ، او د دغې خونې چت او د يوالونه له سرو زرو او د ځليدونکو صافو د مرمر د ډبرو له مختلفو ځيلونو څخه جوړ کړای شوي وو او په منځ کښې يو ستر حوض چې له سيمابو څخه ډک کړای شوی وو . د دغې ناستې ځای په هر لوري کښې اته محراب ډوله دروازې وې ،

Marfat.com

چې پټونه ئې له سرو زرو او د هاتې له غابونو او د صندل له لرګي
څخه جوړ کړای شوی او ډول ډول ملغلري پرې خړول شوي
وي او بیا هغه په رنګینو چوکاټو او د مرمرو له صافو ډبرو څخه
په ډسکو هسکو ستنو درولای شوی وی ـ له دغو دروازو څخه
به د لهٔ ورانګې خوني ته ننوتلې په د یوالونو او د ناستې پرخای
په نګیدلې ـ او د دغو ورانګو له ننوتلو څخه به داسې خلا پیدا
کیدله چې سترګې به ئې برې بنولې او بیا به خلیفه الناصر کله چې
ؤ غوښتل څوک وویروی نوهلته موجود دوه مرئي ته به ئې اشاره
وکړه چې په حوض کښې موجودو الماسو ته حرکت ورکړی
هغه به چې کله ؤ خو خولای شونو داسې به معلومیله چې ګرد
مجلس د بریښنا «برق» له شاتې او نیونې سره مخامخ شول د
مجلس د ګډون کوونکو زړونه به له ویرې څخه وران وران شول
او هغوی به داسې محسوسوله چې مانې دوی پورته کوی ، او
ترڅو پورې به چې الماس خوځنده وو همدغه حالت به جاری وو ـ
دغه ـ نې په څلور طرفه ګڼو ګڼو باغونو په خپله غیږ کښې
نیولې وه او د دې په څلورو خوا وو کښې ستر ستر ډګرونه
وو ـ او له هغه وراندې خورا ستر د یوال وو چې دغه عظیم
الشان عمارت ئې محاصره کړی وو چې د هغه په څلور طرفه کښې
دری سوه جنګی برجونه وو ـ د الزهراء په مانې کښې د خلیفه
وزیرانو جنرالانو او امیرانو کورونه او هستوګنځې وو ـ او
پدې برسیره ښې داسې تالارونه هم پکښې وو چې د خلیفه د
ناستې لپاره مخصوص کړای شوی وو او په کوم ځای کښې چې
خلیفه کښیناست هغه ته ئې «سطح متمرد» ویله ـ چې په هغه
باندې یوه ډیوډی «ګنبد» وه چې خښتې ئې د سرو او سپینو زرو

Marfat.com

وی - مگر هغه وخت چی د قرطبه په جامع جمات کښی په خلیفه باندی د ټولو خلکو په وړاندی قاضی منذر بن سعید د دغی ډیوډی په توسه سخت انتقاد وکړ نو خلیفه هغه ړنګه کړه او بیا ئی له پخو خښتو څخه جوړه کړه د دغی ماڼی په شاو خوا کښی د جنګی وسائلو او نورو مصنوعاتو مهری ستری کارخانی هم جوړی کړای شوی وی - چی پدی توګه په دغه ماڼی کښی جنګی وسلی هم جوړی دلی مونږ ته لازمه ده چی هغه را په زړه کړو(۱) پداسی حال کښی چی مونږ نوی له سره وسلوال کیدلای شو - هو مونږ باید را په یاد کړو چی یو وخت داسی وو چی مونږ په خپله د خپل ځان لپاره وسله تیارو له او پدی، هکاه مو له هیچا څخه درویزه نکوله. همدارنګه پدغی ماڼی کښی د زینت د کانو یوه کارخانه د ډبرو د جوړولو، د بېړیو د جوړولو او د مجسمو جوړولو کارخانی هم وی - او پدی برسیره هم د هر ډول کسبونو او صنائع کار او بارهم وو- د دغی

---

۱- د ماڼی په طول او عرض کښی د دغه ډول کارخانو انتظام غالباً د دی لپاره شوی وو چی د جنګ په وخت کښی له چیرته غلیم دوی محاصره کړی نو پدی وخت کښی له بهر څخه د وسلی راوړلو ته اړتیا پیدا نشی او د ولاړیدو فوځونو وسله تمامه نشی او دفاع کوونکو ته پرله پسی وسله ورسوکی شی ترڅو د غلیم فوځونه پدی هیله کښی ناکام شی چی دوی به د وسلی په تمامیدلو هغوی ته تسلیم شی خو مره نیک ابتکار دی .

Marfat.com

مانی په جوړولو بانړی خلور کاله لګیدلی وو او هره ورځ به په متوسطه توګه شمېر زره (۶۰۰۰) ډېری جوړولای شوی ، او دا برسېره په هغو ډېرو وی چې هغه د فرش په جوړولو کښې استعمالیدلی - لس زره کار کوونکو هره ورځ په دغه مانی کښې کار کاوو ، ۱٤۰۰ څوارلس سوه کچرو به وسائل چلول - او په هره دریمه ورځ به ۱۱۰۰ یو زر او سل اوښانو چونه هلته راوړله . د الزهراء د مانی په جامع جمات کښې به هره ورځ یو زر فنی کسانو کار کاوو چې د هغوی له جملې څخه ۳۰۰ دری سوه معماران ، ۲۰۰ دوه سوه ترکانان «نجار» ۵۰۰ پنځه سوه مزدوران او نور کار کوونکی وو - د دغه جمات یواځې به ٤۸ ورځو کښې ورځو پوری بشپړ کړای شو - او دا کار دومره به ښه سره وُ شو چې مثال پیدا کیدل ئې ګران دی .

په ۱۵۳م کال کښې خلیفه المستنصر په دغه عظیم قصر کښې مسیحی هسپانوی باچا اردون بن اذخونش ته بنه راغلی ووایه او د هغه استقبال ئې وکړ - او کله چې نوموړی باچا الزهراء ته ننوت او د دغی مانی ښلا او ځلائی وُ لید له په هغی کښی ئې دربه او خدمت ګاران وُ لیدل نو سخت حیران شو - او کله چې بیا د المستنصر مجلس ته وُ رسیده او د هغه په شا و خوائی ناست اعیان او اشراف وُ لیدل چې په هغوی کښې لوی لوی علماء خطیبان فوځی جنرالان موجود وو نو د هغه د حیرانتیا هیڅ پای نوو ، نوموړی هسپانوی باچا کله چې خلیفه ته ښه وړاندی شونو له خپل سرنه ئې تاج لری کړ ، خپل

Marfat.com

ځادړۍ له ځان څخه لری کړ او تر هغه وخته ئی سر تیت تیت نیولی وو چی خلیفه د سر په هسکولو اجازه ورنه ورنکړه ـ او کله چی هغه له خلیفه سره ملاقات وکړنو د یو ساعت لپاره په سجده پریووت ، بیا پورته شو او څو قدمه وړاندی لاړ بیا په سجده پریووت ـ او هغه خلیفه ته تر رسیدلو پوری څو واری داسی وکړل او هغه په رسیدلو سره د خلیفه په لاسونو پریووت او لاسونه ئی چپ کړل او بیا له لاس مخی کولو څخه وروسته بیرته ترخپل ناستی ځای پوری په شاروان وو ترڅو خلیفه ته ئی شانشی ـ او بیا په خپل مخصوص ځای باندی کښیناست او خلیفه ده ته په ښه راغلاست کښی داسی وویل : «تر دی ځایه ستاسی راتلو ته ښه راغلاست وایو ـ ستاسی دا راتلل ستاسی لپاره د خوښۍ باعث شو ، ځکه چی مونږ د تاسی په هکله له هغه څه نه زیات حسن ظن او د قبولیت عقیده لرو چی تاسی ئی تصور کوئ» ـ بیا د خلیفه دا خبری ترجمان د هغه په ژبه نوموړی باچا ته ترجمه کړی او هغه ئی پوه کړ او هغه د خلیفه په خبرو ډیر خوښ شو ، په خپل ځای باندی پر مخی پریووت او قرېښ ئی ښکل کړ او بیا ئی وویل : ‘‘ زه د خپل بادار امیرالمؤمنین یوکو چی مر ی یم، د هغه په مهربانی زه ډاډه یم او د هغه د لادر ناوی او عزت هیله مندیم ، په خبله پرته او د ده په اشخاصوزه پوره ډاډه یم ، او ده چی کوم حدمت ماته سپارلی دی او له خپلی مهربانی څخه ئی چی ماته کوم مقام را کړی دی ، زه هیله مندیم چی زه به په اخلاص او ریښتینی نیت او په نیکمرغی مخ په وړاندی لاړ شم» . . . د باچا د دی

Marfat.com

خبرو په خواب کښې خليفه ورته وويل ''زما په وړاندې تاته د هغه چا مقام در ترای شوی دی د کومو په هکله چې زه به نظر لرم او زه هیله مندیم چې تاته زمونږ په عزت او در ناوی درکولو ستاسې په خپل قام کښې ستاسې د عزت او در ناوی باعث وګرځيږی او تاته به معلومه شی چې زمونږ په لوری ستاتمایل او زما د سلطنت له سوری لاندې ستاسې ؤ سیدل تاسې ته څه او څومره ګټې رسوی،،؟

لیږله فکرو کړی چې د خليفه مستنصر له خولې څخه په وتلو خبرو کښې څومره خواک او عظمت پروت دی او کله چې د هسپانيه باچا د ده په وروستيو خبرو پوهيږی نوبيا سمد لاسه په سجده پريو وځی او بيا خليفه ته په د عا کولو بازدی پيل دوی او دا ورته وائی چې زه د خليفه له ملا تړ او مهربانی څخه مننه کووم او بل دا چې ده ماته پدی هکله ډاډ را کړ -

غرناطه :

بيا کله چې له قرطبه څخه د غرناطه لوری ته راشو ، نو هلته سونږ ته يو عظيم تعمير د الحمراء په نوم او شکل کښې مخ ته را د رومی - او د دی محل په ليدلو سره ليدونکی د حيرانيتيا په وجه ګوته په غاښ کوی او د زمانې له ناخواليو سره سره دغه عمارت اوس هم د ګردی نړی د ګرځند ويانو او ترسيانو مرکز ګرځيد لای دی - دغه محل د غرناطه د هسکو غرونو په لمن کی د پراخه او ښنو کښتونو په منځ کښې جوړ ترای شوی دی او د غوزیږ ورونکو کښتونو له څلور طرفه په خپله غيږ نيولای دی ، چې له همدی امله د مځکی پر کره کښې

دغه تعمير په غوره او خورا ښکلیو تعمیر ونو کښې شمیرل کیږي ـ پدې تعمیر کښې مختلف تالارونه او ستري ستري خوني جوړې کړای شوې وي ـ د مثال په ډول له نورو ډیرو ښخه جوړ کړای شوی تالار ، له نورو او سپینو ډیرو ښخه ښنګ په ښنګ جوړې کړای شوي د وه خونې چې یوه د عدالت خونه او بله د سفیرانو د ملاقات او لیدنې لپاره ـ پدې لنډه ځیړ نه کښې زما لپاره ممکنه نده چې زه د الحمراء د ګردو مزایاو نقشه وړاندې کړای شم ، د دغه تعمیر د عظمت لپاره د اثبوت کفایت کوي چې د فرانس مشهور شاعر «وکټرهوګو» هغه ته په خطاب کښې د هغه په هکله د خپلو ننګیرونو ښرګندونه داسې کړې ده :

''ای حمرا ! ای حمرا ! ! ای هغه قصره ، کوم چې د فرښتو د تخیل له غوښتنې سره سم ښائسته او جوړ کړای شوی دی ، او ته ئې د نظم او سابقې نخښه ګرځولې ئې ، ای د مجداو شرف سمبوله داسې کلا! چې په کښې د ګلانو ښخه ډکې خانګې ئې سرکښنه او ښایست ئې د لیدلو وړ دی ، که چې د سپوږمې په ځیر ځلانده کوچنې کوچنې وړانګې او شغلې سناله لویدیځو منارو او ګمارو ښخه په تیریدلو ، سنا په دیوالونو باندې لویږي نو هغه مهال د شپې په چپه چپتیا کښې داسې ګونګوسې او روی چې زړه لرونکی مسحورو وی،

أشبیلیه :

پاتې شو د اندلس د نورو ښارونو د استان او د هغوی د عظمت او پر تمثیا حالات چې هغه په خپله یوه طولانې قصه او

Marfat.com

ناول دی ، زه پوهیږم نورښارونه خو پرځای پریږده یواځی د اشبیلیه په‌کله د ابیان کفایت کوی چی پدغه ښار کښی یواځی د وریښمینو کالیو د ؤبدلو لپاره ٦ شپږ زره کارګاوی وی ، دغه ښار له هر لوری څخه د زیتون د ونو په باغونو کښی پټ وو او زیتون د ونو د پریما نتیا په توسه په دغه ښار کښی د زیتون د تیلو د ویستلو لپاره بولک « سل زره » ګانی جوړی شوای وی او شپه ورځ به د تیلو په ویستلو او تصفیه باندی بوختی وی ''ترڅو د خپل ښار د هستوګنو او د نورو ښارو نوارړتیاوی او حوائج پوره کاندی د زیتون تیلو به هغه وخت کښی خورا اهمیت لاره ځکه چی هم په غذا ئی موا دو کښی په کار را تلل اوهم دشپی له مخی په څراغونو او ډیوو کښی سوځول کیدل او هم په طبی د رملونو کښی خورا زیات استعمالیدل او دغه تیل د اندلس د نورو ښارونو په پرتله په اشبیلیه کی ډیرو سیتل کیدل» .

**مصنوعات :**

د اندلس ټول ښارونه په عمومی توګه اباد وو او هر یو ښار ئی به خصوصی ډول هم هروس‌و په ګوم امتیازی ښه ـ سره مشهور وو او اروپا ئی وګړو به د هسپانیه له مصنوعاتو سره د ومره مینه لرله چی مثال ئی نشته ـ د هسپانیه جنګی حدول او زغری به هغه وخت کښی ډیری مشهوری وی ـ فولادی چاړونه به هم پکښی جوړیدل ـ ټولی اروپا توریٔ شیان له هسپانیه څخه بیرو دل او د پوړنیو موادو د جوړولو فرمانش به ئی ورکا وو . . . به اوسنی دور کښی بدی خبرو باندی

Marfat.com

مونږته غور او فکر کول خورا ضروری دی . . . او د هسپانیه د ښارونو د مصنوعاتو د ډیر والی اندازه له دی څخه معلومولای شی چی «زینو» په خپل کتاب په فرانسه باندی یرغل» کښی لیکلی دی: ''هغه وخت چی عربو له اندلس څخه د فرانسی په جنوبی برخه یرغل وکړ او عربی لښکرو د سمح خولانی، عنبسه کلبی، او حرثقفی په قیادت د فرانسی رابونه، فرتشونه، افسنیون، او لیون ښارونه فتح کړل نوپدغه مهال کښی هغوی په داسی وسلو سمبال وو چی د هغو ساری او اندول له انګریزانو سره هم نه وو -

**بغداد :**

اوس مونږ د اسلامی نړی ختیځی برخی ته د رومو ترڅو وګورو چی د هغه ځای د سترو ښارونو او د ژوند جوړو ونکی تهذیب څه حال دی - او پدی هکله به زه یواځی د بغداد په یادونه اکتفا وکړم او زیار به وباسم چی دغه ښار د خپل تعمیر له پلمهرنیا څخه وروسته د نړی په تعمیرونو کښی داسی حیرانو ونکی ښار دی چی د هغه ساری په پخوانی تاریخ کښی هډونه مېندل کیږی -

بغداد دخپل تعمیر او پراختیا له نظره لمړی پوړوچنی کلی وو - او په هغه کښی به د هر کال په وروستیو ورځو کښی د

نیز دی او لری ګاونډیان راغونډ یدل - او بیا کله چی د عباسی خلفاوو مشهور خلیفه منصور د هغه د تعمیر او جوړ ولو پریکړه وکړه نو هغه سر ستر انجینیران او د تعمیر جوړونی متخصصین

Marfat.com

راغوند کړل ـ او د دې پرځنګ کښې ئې د رهنمي ، مساحت او د مځکو د ویشلو متخصیصین « جریب کښ » را ؤغوښتل ـ او د هغه د تعمیر لمړی خښته ئې په خپل لاس کښې ښو د نه او د بنسټ کیښېدلو په وخت کښې ئې دا مې وویل : " بسم‌الله الرحمن الرحیم والحمد لله والارض لله یورثها من یشاء من عباده والعاقبة للمتقین ١ ـ له دې نه وروسته نوسوړی ووېل د الله نوم یاد کړی او پیل وکړی ـ د بغداد د ښار د تعمیر ټول لګښت څلور ملیونه یعنی څلویښت لکه روپۍ وو ـ د ښار په جوړ ونه کښې یولک مزدورانو کار کا وو ـ د ښار نه ناوکړی شوی دلاوی د رې وې او ددرې واړودیوالونه یوپر بل پسې نیږ دې وو ـ پدغه ښار کښې په هغه وخت کښې د وه ملیونه وګړی هستیدل او د دغه ښار په ختیځ لوری کښې د واړونو او کوڅو شمیر شپږ زره وو او په لویدیځ لوری کښې ئې په فرات او دجله برسیره یوولس نهرونه بهیدل او څلو رزره واړونه او کوځی وی ـ د نهرونو او به د بغداد هر کورته تللی وی او یواځی د دجله د پوری ولو او راتللو لپاره دری زره کوچنی بیړی جوړی کړای شوی وی ـ په ښار کښې شپیته زره حماموته جوړ کړای شوی وو او بیا د عباسی خلافت په وروستی د ور کښې هغه د ومره کم شوچی شمیر ئې لس زروته راواوید ـ د جماتونو

---

١ ـ د خدای په نوم پیل کوم خدای سره ښادی ، مځکه د خدای پاک دی ، او هغه له خپلو بندګانو څخه هر چانه ئې چې رضا وشی هغه ئې وارث ګرځوی او غوره انجام متقیانو لره دی .

Marfat.com

شمیرنی د ری لکه ته رسیدلای وو ـ پاتی شو د هغه نفوس ، د علماو ، کثرت او د ادیبانو او فیلسوفانو شمیر هغه له خدای پاک څخه پرته بل هیچا ته هم معلوم ندی ـ

مناسبه گنم پدی ځای کښی د بغداد په هکله د ابوبکر الخطیب بغدادی یو اقتباس وړاندی کړم : نوموړی وئیلی دی : ماد بغداد دیا دونی په هکله د هغه ډیر داسی خصوصیات له یادونی څخه پری ښودلی دی، چی هغه په گرده لوید یځه او ختیځه نړی کښی یواځی بغداد تـه ورکړای شوی دی ـ چی د هغو له جملی څخه د هغه ځای د خلکو وېړی او خندنی تندی او ښه خوی، بشر دوسته چاپ خوندوری او خوړی او به ' هر ډول پریمانه میوی ، خوښی ' په هر یووصنعت کښی د هغه ځای د خلکو پوهه ، د هر ډول اړتیا وو په ډیره اسانی سره لری کول ' د بدعتونو له ترویج څخه د خلکو ژغورنه ' د عالمانو، طالبانو ، قانون پوهانو، او فقها وو په زړه پوری ډیر والی ' ستر ستر متکلمین ، حساب دا نان، نخویان' نومیالی شاعران د تاریخ او انسابو راویان، د ادب او ثقافت متخصصین، له اطرافو او لری لری ځایونو څخه د هر علم او فن د متخصصینو رانلل او د غلته میشته کیدل او لنډه دا چی پدغه ښار د هر غریب او عجیبو شیانو پیدا کیدل دیا دونی وړخصوصیتو نه دی ـ پدغه ښار کښی د کال د هر موسم میوی به موجودی وی او د دنیا په هرکونج کښی به چی میوه پیدا کیدله نو هغه به نیولی دلته موجودی وی ـ او بیا په خاصه توگه دوړی او ژمی په منځنی زمانه کښی کیدونکی میوی «په مباورونو د غلته

Marfat.com

میندلای شوی» که په چا باندی به د هستوګی خونه تنګه شوه او غوښتل به ئی چی کوم پراخه کورخان ته پیدا کړی نو په ډیره اسانی سره به ئی ښه پراخه کور پیدا کولای شوای - که د یوکس به د خپل کور په پرتله بل کورخوښ شو نو هغه ته دده لیګدیدنه کوم مشکل او ګران کارنوو - د دغه ښار هستوګنی به د ښار په هر لوری کښی چی هستوګنه غوښتله، هلته ؤسیدلای شوای - دغه ښارته به که چاله دښمن څخه د خلاصون په تکل په راوړه نوبی شمیره خلک به هغه ته د پناه ورکولو لپاره تیار وو - او هغه ئی په ډیره ښه توګه له غلیم څخه بچه ولای شوای، لری به وو که تیږدی، خود غلته به هر چاچی ؤغوښتل ، له یوو کور څخه بل کورته، له یوی کوڅی نه بلی ته، اونه بوو واټ نه بل‌ته ؤلیګدی نوډیر په اسانی سره به لیګدیدلای شوای - لنډه دا چی له وخت او حالاتو سره سم هر چا هرډول بدلون کولای شوای د دغه ښار د سترو سترو سودا ګرانو، باچاپانو او د دنګو دنګو ماڼیو ؤ سیدونکو اشرافو در یخ کړنلاره او عمل دا وو چی هغوی به له هرلوری څخه په بی وزلو او کمزورو وګړو د هر ډول مرستی عاطفی او بشر پالنی بارانونه کول او دغه لړی به هر وخت جاری وه - لنډه دا چی، داد خدای پاک زیرمی او خونی دی چی پرته له الله تعالی څخه بل هیڅوک د هغه په حقیقت باندی نه پوهیږی» .

همدغه مصنف په یوبل ځای کښی لیکلی دی :

«بغداد یو داسی ښار ووچی د جلال او عظمت، د نامتو عالمانو، د رئیسانو د ډیر والی ، دخوا صو او عوامو د تمیز، د

اطرافود وسعت او پراختیا، د تعمیرونو او کورونو ، جماتونو او حمامونو د ډیر والی، د نهرونو او ویالو د پریمانتیا، دکانونو او هوټلونو د زیاتوالی، د ښکلی هوا ، خوندورو او خوږو او سړو اوبو ، یخو سوریو په گرمیو او یخنیو کښی د معتدل والی ، په پسرلی اومنی کښی د روغتیا او د نفوس د ډیر والی له نظره په گرده بری کښی ئی ساری او سیال نه لیدل کیده - د هارون الرشید په زمانه کښی دغه ښار د جوش او مستی معراج ته رسیدلی وو او نفوس ئی له ټولو وختونو څخه زیات وو - په دغه ښار کښی د دنیا ښهترین هستوگنځی او د خوراک خورا عوره انواع او د خوراک څښاک په زره پوری ځایونه «هوټلونه» وو - په هر لوری ښیی او زړه وړونکی باغونه وو - په وانیونو به دوگړو ألهگوله وه - خو له دغو ټولو خوبیو او سوکالیو څخه وروسته په دغه ښار د ویجاړتیا او خرابی دور راغی - هستوگنی ئی په کړ او ونو کښی پریوتل، د ښارو دانی خرابه شوه او بی شمیره کورنی له دغه ښار څخه په هر لوری ولیګدیدلی مګر بیاهم د مونږ له زمانی څخه وړندی داسی حالت نوولکه څنګه چی اوس دی چی په هر لوری کهودی او هلته کور په کور اوس خرابی دی پداسی حال کښی چی په یووخت کښی دغه ښار له ټولو ښارونو څخه ممتاز او له ټولوهستوگنځیو څخه په خورا هسک مقام کښی وو او حالت ئی له ټولوا مصارو څخه مخالف وو -

Marfat.com

**زما پسرلی زما په بن ؤ پیژنه :**

د بغداد په هکله زه خپله خبره د مقتد ربا الله د وخت د دی بنار د ځرنګوالی په یادونه پای ته رسوم ، او ګرانو لوستونکو ته دا ځرګندول غواړم چی پدغه وخت کښی د بغداد حالت ځرنګه وو . او همدارنګه په هغه وخت کښی کله چی د روم د باچا ایلچی د خلافت دربار ته راغی په بغداد کښی د اسلامی خلافت شان او شوکت څه ځیل وو . په بغداد کښی یواځی دارالخلافت «Khilafat House» د خپل وسعت او پراختیا او د هستوګنو د ډیر والی له نظره د اوسنی شام له ټولو ځخه د ستر ښار له نفوس ځخه ډیر او زیات وو . په هغه وخت کښی په دارالخلافت کښی یواځی د ماموریښو شمیر یوولس زره وو . او په دوی برسیره په زرګونو وګړو د خدمت ګارو په صفت کارونه کول . په یو «Hhift» شیفمې یعنی د مزدورانو په بدلیز پوست ځای ځلورزرو هغو کسانو کارکاوو چی د نده ئی د چړاسی توب او خدمت ګاری وه . او هغه وخت چی د روم د باچا ایلچی راغی نو هغه دارالضیافت «میلمستون» ته بوتلای شو . له دارالضیافت ځخه ، تر دارالخلافت پوری فوځیان کربنی کربنی ؤ د رولای شو . او کومو فوځیانو چی په دغو تشریفاتو کښی برخه اخستلی وه د هغوی شمیر یولک او شپیته زره وو . چی پکښی سپاره او پیاده ټول ګډوو . د باچا ایلچی د دوی په منځ کښی روان وو او دارالخلافت ته په بدرګه ؤ رسولای شو . نوموړی خلیفه ته سلام وکړ ، او بیا له سلام ځخه وروسته د خلیفه له خوا فرمان صادر شو چی میلمه دی په دارالخلیفه کښی د ...

Marfat.com

او تفریح لپاره و کرځولای شي . د خلیفه د هستوګنې کور غلبه کړای شوی وو او په هغه کښې له وو زره خدامو وو سوه حاجبو «یاورانو» او څاو زرو تور پوستکو مرئونو څخه پرته بل هیڅوک نوو . پسې ځای کښې د نوځي وسلي او خزانو داسې ښودنه «نمایش» وکړای شوه لکه څنګه چې د ناوکې د جهیز «ورکړې کور» ښودنه کولای شي . او کله چې دغه ایلچي دارالشجرة ته ننووت نو د هغې په لیدلو سره هک حیران پاته شو . دغه ونه له سپینو زرو څخه جوړه کړای شوی وه چې ورتې پنځه لکه د ردمه وو . د دغې ونې انلس ستری څانګې وې چې بیا له هرې یوې څخه ډیرې کوچنې کوچنې څانګې او غوټې غځولای شوی وي . او بیا په دغو ټولو څانګو باندې مختلف ډیونه مرغې ناستې وې . چې ځینې د سروزرو او ځینې د سپینوزرو وې . د دغې ونې پاڼې هم په مختلفو ډبلونو باندې وې او د هغوی مختلف رنګونه وو او داسې به خوځېدلې لکه څنګه چې د ځپانده هوا ورپسې حرکت کوي . دغه ټولې طلائې او زړې مرغې د بادونو د مختلفو نورو په څیروازې او پرانستې خولې جوړې کړای شوی وې چې د بادونو له خو خمسه څپو څخه د مرغیو سار او جنبدا و او زولای شي . دارالشجره ته نږدې د پنځلسو پــه آسو نوباندې سپرو ایلانو مجسمې جوړې کړای شوی وې چې وریښمین ذلې ئې اغوستلې وو . د هغوی په لاسونو کښې کوچنې نیزې وې ، او ددغه ټول بو پرابل پسې د خغاستې په حالت کښې ښودلای شوی وو . او داسې ښکاریدل چې ګواکې یو د بل په نیولو کښې زیار باسي .

او له دی نه وروسته رومی سفیر بیا د الفردوس نومی محل په لو بوتلای شو - چی پدغه محل کښی ی شمیره جنگی وسلی او الات وو - او بیا ددی له لیدلو څخه وروسته نوموړی د هارون د خلافت له یوو محل څخه بل محل ته بوتلای کیده او ۳۳ دری دیرش محلونه پری باندی وُکتلای شو او پدغه دوران کښی نوموړی ووځلی سیاله وکړه - او بیا بیرته د المقتدربالله مجلس ته راوستلای شو - مؤرخینو لیکلی دی چی :

«پدغه وخت کښی کومی غالی چی اواری کړای شوی وی د هغو شمیر ۲۲ دوه ویشت زره وو - او په دغه شمیر کښی هغه غالی نه دی شامل کړای شوی چی څکښی له دی څخه په محلونو او ناستی ځایونو کښی غوړ ولای شوی وی - پدغه وخت کښی په مختلفو محلونو کښی ۳۸ ، اته دیرش زره وریښمنی او طلائی پردی ځړولای شوی وی - او د هغو شیانو په جمله کښی چی په دارالخلافت کښی د روم د باچا سفیر ولیدل «زو» هم شامل وو - په هغه کښی مختلف ډول وحشی او نا مانوسه ځناور وو - سلته د پیلانو یو هستوګنځی هم وو چی په هغه کښی څلور پیلانی وی ، چی د هری یوی پالنی او کویکنی لپاره اته کسه هندوستانی خدمت مقرر کړای شوی وو - د ځیروونکو ځناورو لپاره سل خونی وی، چی په هغوکښی سل مختلف ډوله ځیروونکی ځناور ساتلای شوی وو-دځیروونکودغه‌هستوګنځی اوزو ، ښی او کس لوری ته پراختیا پنځوس پنځوس گزه وو- هر یو سزری او نور ځیروونکی به یو یو سری نیولی وو - د هغوی په غاړو او سرونو کښی دوٌ سپنی ځنځیرونه او زولنی اچولای شوی وی .

Marfat.com

د دارالخلافت له ليدنى ځخه وروسته د روم د باچا سفير هک حيران پاته شو ځکه چى په هغه وخت کښى د مځکى د کرى پرمخ په هيڅ يو ځاى کښى داسى محل او ځاى ده نوو ليدلاى .

زه پوهيږم چى زمونږ د تهذيب د عروج د زمانى د ښارونو، قصرونو مانيو او نورو تعميرونو د عظمت ځواک او شان و شوکت د ځرګندونى او ښودنى لپاره همدومره کفايت کوى -

تمــت بعــون الله

ژبــاړن عفى عنهم

۸-۱۲-۱۳٦۱ه

۲۷-۲-۱۹۸۳م

Marfat.com

Marfat.com

Marfat.com